

# د غازي مير زمان خان

## ژوند او مبارزو ته يوه لنډه کتنه

www.ketabton.com

ډاکتر عبدالرحمن زماني

# د غازي میر زمان خان ژوند او مبارزو ته یوه لنډه کتنه

څېړونکی او لیکوال

**ډاکټر عبدالرحمن زماني**

Downloaded From
**Ketabton.com**

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب پیژندنه


د کتاب نوم : د غازي میر زمان خان میرزمان خان ژوند او مبارزو ته یوه لنډه کتنه

مؤلف : ډاکټر عبدالرحمن زماني

ناشر: د مُسکا خپرندویه مؤسسه

دچاپ زیار: شوکت زماني/ زمان زماني

د چاپ کال: ۱۳۹۲ لمریز هجري کال ژمې (۲۰۱۸ میلادی)

د چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ ځای: اسد دانش مطبعه، کابل، افغانستان

معلومات: Info@ZamaniFamily.com

ویب پاڼه: www.zamanifamily.org

## ډالۍ

دا اثر خپل محترم پلار الحاج محمد ارسلان زماني ته ډالۍ کوم او په تاريخي څېړنو او ليکنو کې، په خاصه توگه د اماني نهضت د تاريخ په برخه کې، د هغوې د لارښوونو او تشويق نه مننه کوم.

## ترون

زما د اروا ښاد تره محمد هاشم زماني په درونډ نوم چې د ژوند تر وروستنۍ شيبې يې د گران هيواد د خپلواکۍ د لارې د شهيدانو د پاکو هيلو او آرمانونو د ترسرکيدو د پاره هڅې او مبارزه کوله.

عبدالرحمن زماني



غازي میر زمان خان کونړی

## د مطالبو فهرست

**ملي قهرمانان ........................................................ ۸**

**د غازي میرزمان خان د لویو چارو روڼ انځور.........................۱۳**

**سریزه ...............................................................۱۵**

### لومړی څپرکی

**د غازي میرزمان خان کورنۍ............................................۱۷**

### دوهم څپرکی

**دځوانۍ دوره او دا نګریزي استعمار په وړاندې مبارزه ..........................۳۲**

دآزاد سرحد د مومند و آزادۍ بخښونکې جګړې.......................................**۳۲**

د ډیورنډ د تحمیلي کرښې دوارو خواوو ته د پرتو قومونو د پاڅون علتونه.......................**۳۳**

په آزاد سرحد کې انګریزانو سره جګړو کې د روحانیونو برخه او رول.......**۳۷**

د امیر حبیب الله خان لخوا په آزاد سرحد کې د افغانانو د حملو مخنیوی **۳۸**

د امیر حبیب الله خان لخوا د ۱۹۰۸ کال د حملو مخنیوې..................**۳۹**

انګریزانو ته د مومندو پر قوم د حملې او یرغل د اجازې ورکول..........**۴۰**

د امیر حبیب الله خان لخوا د افغانانو د (**۱۹۱۵**) کال د حملو مخنیوی........................**۴۰**

د روحانی، پیر، سید، حضرت او پاچا په جامه کې د انګریزانو جاسوسان.........................**۴۲**

د مومندو په آزادي بخښونکو جګړو کې د غازي میر زمان خان ګډون..... **۴۴**

د ۱۹۰۸م کال په سرې غزا ګې ګډون.................................................**۴۵**

د سرې غزا د جریان لنډیز ........................................ ۴۲
د ۱۹۰۸ کال په سرې غزا کې ګډون کوونکې انګریزي قواوې ............ ۵۲
تر ۱۹۱۵م (۱۲۹۴ )کاله په مومندو او آزاد سرحد کې د جګړې سریدل ....... ۵۳
د ۱۹۱۵ م (۱۲۹۴المریز )کال د شبقدر په مشهورې غزا کې ګډون................. ۵۵
د غازي میرزمان خان بندي کیدل .................................. ۶۲
د غازي میرزمان خان د دریم ځل بندي کیدو څرنګوالی ..................... ۶۸
د شهزاده امان الله خان سره د پیژندګلوی او وروری پیل ...................... ۷۴
د غازي میرزمان خان په سر د شهزاده امان الله خان جریمه ...................... ۷۵

## دریم څپرکې

**له زندانه خلاصون او امان الله خان سره واک ته رسیدو کې مرسته ............** ۷۹
د امیر حبیب الله خان وژل کیدل ............................................ ۷۶
انګریزانو نه غوښتل چې شهزاده امان الله خان پاچا شي .......................... ۷۷
له زندانه د غازي میرزمان خان خوشې کیدل ................................ ۷۸
د واکمنی په ترلاسه کولو کې د شهزاده امان الله خان سره مرسته ............ ۷۸
پر خپل تره د امان الله خان بریالیتوب...................................... ۸۲
په مشرقي کي د شهزاده امان الله خان د پلویانو چټک او پراخه فعالیت.. ۸۴

## څلورم څپرکې

**دافغانستان د خپلواکی د بیرته تر لاسه کولو په جګړه کې زړورتیا ............** ۹۴
د افغان غازیانو لنډ مهاله پرشاتګ ........................................ ۹۵
د محمد امین خان کوډاخیل تر مشرتابه لاندې د مومندو د یو ستر لښکر رسیدل ........................................ ۱۰۵

جبهې ته د جنرال عبدالوکیل خان نورستاني رسیدل.................................... ۱۱۰
د چترال د جبهې په هکله د بریتانویانو ملکي هڅې.................................... ۱۱۳
تبلیغات او د تیر ایستونکو خبرتیاوو خپرول.................................... ۱۱۳
د چترال په سیمه کې د آغا خان له مذهبي نفوذ څخه ګټه.................................... ۱۱۷
د بغداد د نقیب صاحب له نفوذ څخه د ګټې اخیستنې هڅې.................................... ۱۱۸
د ډیورنډ د تېل شوې کرښې دواړو لور ته د آزادو قبایلو د ملاتړ د لاسته راوړلو لپاره د پیسو څخه کار اخستل.................................... ۱۱۹
د کامدیش نورستانیانو ته د ځمنو او امتیازاتو ورکول.................................... ۱۱۹
د خبرونو سانسور او د حقایقو د خپریدو مخنیوی.................................... ۱۲۰
بډې ورکول، د امتیازاتو او ځمکې وړاندې کول او د مجاهدینو د امیر پیرودل.................................... ۱۲۱
چترالیانو ته د افغانستان د ځمکو د بخښولو ژمنه.................................... ۱۲۲
د خیبر د محاذ د ماتې په تلافۍ کې د جګړې د څلورمې جبهې اهمیت..... ۱۲۲

## پنځم څپرکی

**په اماني دوره کې د غازي میرزمان خان خدمتونه .................................** ۱۳۰
د دولت د شورا غړیتوب.................................... ۱۲۴
د جلال آباد د هډې د سترې جرګې په جوړولو کې مرسته.................................... ۱۲۴
په جلال آباد کې لومړۍ لویې جرګې کې ګډون.................................... ۱۲۵
په دریمې لویې جرګې کې ګډون.................................... ۱۲۶
غازي میرزمان خان ته ورکړل شوي نښانونه او مکافات.................................... ۱۲۷
د وفا نښان.................................... ۱۲۷
د لوي خان نښان.................................... ۱۲۷

د خدمت نښان........................................................................ ۱۲۸

د صداقت نښان........................................................................ ۱۲۸

د اماني غورځنګ د پوهنې او پرمختیایي پروګرامونو پلویتوب........... ۱۲۸

د فرمانونو نیمګړې لست................................................................ ۱۲۹

## شپږم څپرکې

**د منګلو داړودوړ په کرارولو کې مهمه ونډه.................................... ۱۳۷**

په جنوبي کې د اړودوړ لاملونه........................................................ ۱۳۲

د سولې له لارې د ستونزې د حلولو لپاره هلې ځلې.............................. ۱۳۴

د سولې د خبرو اترو ناکامي.......................................................... ۱۳۶

د قومي جرګې له لارې د جګړې پای ته رسولو کې د غازی میرزمان خان کونړي رول........................................................................ ۱۳۹

د علم او جهل ځلی.................................................................... ۱۴۹

د منګلو په اړودوړ کې د سپه سالار نادر خان لاس لرل........................ ۱۵۱

## اوم څپرکې

**غازي میرزمان خان د انګریزانو د سترګو اغزې .............................. ۱۶۱**

د انګریزانو د فعالیتونو په اړې د کونړ د بدلولو هڅې.......................... ۱۵۴

د کونړ څخه د غازي میرزمان خان د ویستلو دسیسه.............................. ۱۵۷

د جنوبي د اغتشاش تر ختمیدو وروسته د دسیسو شدت.......................... ۱۵۷

په اماني دورې کې د کونړ د حالاتو خرابیدل.................................... ۱۵۸

د کونړ د حالاتو په خرابولو کې د کومو کسانو لاس ؤ؟.......................... ۱۵۹

د غازي میرزمان د کرکټر وژنې د سیسي او کوښښونه............................ ۱۲۱

د اعلیحضرت غازي امان الله خان سره د بد بینۍ او اختلاف پیدا کول.....۱۶۲

اتم څپرکې

د اماني رژیم د ټینګښت دپاره وروستنۍ هلې ځلې ........................... ۱۷۱

د شینوارو شورش.................................................................۱۶۴

د شینوارو د شورش د اور په غلي کولو کې د غازي میرزمان خان هڅې...۱۶۶

والی علی احمد خان د شورش د غلي کولو د ناکامۍ ستر علت.............. ۱۶۷

کونړ ته د غازي میرزمان خان تګ................................................۱۷۰

د جلال آباد تر سقوط وروسته د غازی میرزمان خان پلان..........................۱۷۱

نهم څپرکې

د غازي میرزمان خان شهادت د یوې سترې دسیسې یوه برخه ............... ۱۸۰

د غازي میرزمان خان تر شهادت د مخه د سیمې حالات .........................۱۷۴

د مجروح سره د غازي میرزمان خان لیدل او د هغه کور ته ورتګ ........... ۱۷۶

د غازي میرزمان خان د شهادت پیښه................................................۱۷۷

د غازي میرزمان خان د جنازې وړل................................................ ۱۸۰

د غازي میرزمان خان قاتلین څوک وو؟.............................................. ۱۸۱

قندهار ته د غازي میرزمان خان د زوی عصمت الله خان ورتګ ...............۱۸۲

د شاه امان الله خان غازي د استعفا علت او قندهار ته تګ......................۱۸۳

د غازی امان الله خان په تخت بیا کښیناستنه..........................................۱۸۵

د والی علی احمد خان د پادشاهۍ اعلان..............................................۱۸۶

د علي احمد خان د بخت د ستوري پریوتل..........................................۱۸۸

په پیښور کې د شاغاسي علی احمد خان سره د انګریزانو چلند ...............۱۹۱

## لسم څپرکی

**د غازي میرزمان خان کړه وړه** ........................................ ۲۰۰
د پلارد بیرته راوستلو داستان د انګریزانو سره د فطري دښمنۍ نښه .... ۱۹۴
د هیواد دپاره د ځاني او مالي قربانۍ ورکول .................................. ۱۹۶
د مظلومانو له حقوقو دفاع ........................................................ ۱۹۷
د پښتونولۍ د اصولو او جرګې له لارې د شخړو او جګړو ختمول........... ۱۹۸
لوږو ته د برخې او حق ورکول ...................................................... ۱۹۸
د خلکو د ټولولو او لارښوونې وړتیا ................................................ ۱۹۹
پادشاه څخه د عارض د یوې عجیبې غوښتنې د حل لاره ...................... ۲۰۰
د ځوانانو د زده کړې سره خاصه مینه ............................................ ۲۰۱
د غلو سره د چلند یو روایت ........................................................ ۲۰۱

## یوولسم څپرکی

**د خانداني حکومت په واکمنۍ کې د غازي میرزمان خان د کورنۍ برخلیک** ۲۱۰
دیارلس کاله زندان او اته کاله جلا وطنی.......................................... ۲۰۲
کوم کسان به د حکومت لخوا تېکیدل؟ ............................................ ۲۰۷
له زده کړې او ښوونځي څخه د سیاسي بندیانو د ماشومانو محرومیت.. ۲۰۸

## دولسم څپرکی

**غازي میرزمان خان د مؤلفینو او لیکوالانو له نظره** .......................... ۲۱۹
ځانګړي کتابونه.......................................................................... ۲۱۱
نور بیلابیل کتابونه....................................................................... ۲۲۰
بیلابیلې خپرونې ......................................................................... ۲۲۵

امان افغان.......... ۲۲۵
د حقيقت جريده .......... ۲۲۵
د خيبر جريده.......... ۲۲۵
د افغانانو جريده.......... ۲۲۶
آئينۀ افغانستان (د افغانستان هنداره).......... ۲۲۸
اولسي اشعار، سندرې او سروکي.......... ۲۲۹
د سهار ورځپاڼه.......... ۲۳۵
د خپلواکۍ نامتو مشر غازي مير زمان خان.......... ۲۳۵
غازي ميرزمان خان د مخالفينو له نظره .......... ۲۳۷
د عزيز هندی له نظره (د غازي امان الله خان د زوال کتاب کې)........ ۲۳۸
عزيز هندی څوک او د چا په چوپړ کې و؟.......... ۲۴۲
د پوهاند محمد حسن کاکړ له نظره.......... ۲۴۵
**د سرچينو او زياتو معلوماتو فهرست..........** ۲۶۵
**د نومونو فهرست ..........** ۲۷۳
د ډاکټر عبدالرحمن زماني لنډه پيژندنه .......... ۲۷۸

# ملي قهرمانان

د ملت د جوړېدو لومړنۍ ځښتنه دا ده چې په یوه ټاکلې خاوره کې یو شمېر کسان په خپله اراده را غونډ شي او ګډ ټولنیز ژوند غوره کړي . تر دې راټولېدو وروسته د دوی ګډ کړه وړه د دوی ملي تاریخ جوړوي، راشې درشې یې ملي کلتور جوړوي او راکړې ورکړې یې د ملي اقتصاد ځښتنه ږدي.

افغان ملت همداسې یو ملت دی چې پنځه زره کاله وړاندې یو شمېر آریایي اقوام په «آریانا ویجه» نومي ځای کښې په خپله اراده راغونډ شوي، د یوه ګډ ژوند بنیاد یې ایښې، د «آریک» په ګډه ژبه غږېدلي او ورک ویدي سرودونه یې رامنځ ته کړي دي.

د اوستا وندیداد وایي چې آریانا ویجه اهوره مزدا (لوی خدای) د خلکو د هوسایۍ له پاره جوړه کړه، خو اهریمن (شیطان) هغه ورانه کړه، دلته لس میاشتې یخني وه او یوازې دوې میاشتې ښه هوا وه، نو ځکه آریایان له دې ځایه ولېږدېدل بلخ ته چې دا هم لوی خدای د آریانا د شپاړسو خدایي ځمکو په ترخ کې د څلورمې ځمکې په توګه د خلکو د هوسایۍ له پاره جوړ کړی ؤ. دوی په بلخ کې د یما یا جمشید په مشرۍ د یوه پرمختللي ټولنیز ژوند ځښتنه کښېښوده، کرنه او باغولي یې رامنځ ته کړه، د باختر د مدنیت بنسټ یې کښېښود، د نړۍ لومړی ښار ام البلاد بلخ یې جوړ کړ. لوړ بیرغونه یې پرې ور پول او د ژوند د هوسایۍ ټولې لارې چارې یې پکې سنبالې کړې.

زموږ د اولس پنځزر کلن ژوند له همدې ځایه راپیل شو، د هېواد حساس جغرافیایي موقعیت او ستراتیژیک حیثیت ددې سبب شول چې هر وخت له هرې خوا تلونکي او راتلونکي یرغلګر پردې خاوره تېری وکړي او ددې خاورې د نیولو او تل خوړلو نیت ولري. خو زموږ د ملت دا لومړنی ملي تشکل د ملي وحدت یو داسې پوخ سوک ؤ چې د هر یرغلګر پر مخ یې حواله کړی دی.

له همدې وخته نه دې قهرمان ملت د زمانې په هر واټ او واټن کې قهرمانان زېږولي او د وخت د هر فرعون په مقابل کې راپاڅېدلي او قهرمانۍ یې کړې دي.

ما چې حساب ورته کړی زموږ ددې پنځزر کلن ژوند دوه نیم زر کلونه په جګړو کې تېر شوي چې ددې جګړو نیمایي له پردیو یرغلګرو سره دي او نیمی نور یې د اقتدار خپلمنځي جګړې دي خو جالبه داده چې په دې جګړو کې قومي او خپلي جګړې نشته او د ملت ټولو قومونو د ورونو غوندې ژوند سره کړی او که پردو غوښتي هم چې دوی سره وجنګوي ناکام شوي او نه دی توانېدلي چې افغانان په قومي جګړو کې ښکېل کړي .

د تاریخ په اوږدو کې د ملت ملي اراده پیاوړې او د واکمنانو سلطه کمزورې وه. له همدې امله کله چې پردي یرغلګر له پاچاهانو سره مخامخ شوي بریالي شوي او حتی همغه پاچاهان یې فرمانبردار شوي خو ملت چې د خپل هېواد اشغال او د اولس د غلامۍ وېره لیدلي نو بیا د ملي مشرانو په قیادت راولاړ شوي او دښمن ته یې د غیرت او عبرت درسونه ورکړي دي . لیرې به نه ځو د افغان انګرېز دریو جګړو ته ورځو، د افغان انګرېز لومړۍ جګړه د هېواد تښتېدلي او بې واکه پاچا شاه شجاع د لاهور د دری اړخیز تړون چې په ۱۸۳۸ کال وشو، له مخې رامنځ ته کړه او انګرېزانو د افغانستان تخت ته دده د رسولو له پاره وکړه، چې په خپل مورثی تخت (؟) یې کښېنوي . خو د اولسي مشرانو د جرګې پرېکړې د ۱۸۴۱ کال د نوامبر د دو همې نیټې په قیام سره انګریزي ځواکونه له هېواده سروهلي بروهلي وایستل او ملي مشرانو لکه غازي عبدالله خان اڅکزي، غازي امین الله خان لوګري، غازي میر مسجدي خان او

نورو په خپله قهرمانۍ د انګرېز نه ماتېدونکې ځواک (؟) رسوا او شرمېدلی له هېواده ویوست او مات یې کړ. او د دوی راوستلي پاچا ته یې هم د خپل عمل سزا ورکړه.

د افغان – انګرېز دوهمه جګړه هم همداسې یوه جګړه وه، انګرېزانو د افغانستان له یوه زندان ځپلي او له زندان نه وتلي ضعیف النفس پاچا امیر محمد یعقوب خان سره د ګندمک د تړون له مخې د افغانستان جنوبي خاورې (ړوب، پښین، کوټه او نورې) په ۱۸۷۸ کال د ځان له پاره بېلې کړې، ملي مشرانو او اولسي قهرمانانو په کابل کې له اسمايي غره نه د پاڅون له لارې انګرېزان سخت وځپل او په ۱۸۸۰ کال یې په میوند کې د همداسې مشرانو د غورځنګ له لارې چې مېړنۍ ملاله هم پکې وه په یوه ورځ د انګرېزانو دوولس زره لښکر تس نس کړ او داسې درس یې ورکړ چې بیا یې پرا افغانستان باندې د وسله وال تېري نه کولو پرېکړه وکړه.

په ۱۲۹۸ لمریز کال (۱۹۱۹ع) د افغان- انګرېز د دریمې یا د خپلواکۍ د جګړې په ترڅ کې انګرېزانو دری سوه زره لښکرې د افغانستان پولو ته راوستلې وې خو له وېرې نه یې افغانستان ته د ننوتلو زړه ونه کړ او تر لنډې جګړې وروسته چې دوی د جنوب په جبهه کې ماتې وخوړه، متارکې ته غاړه کېښوده او ټاکلو کرښو ته په شا شول.

په لومړۍ او دوهمه جګړه کې پاچایان له انګریزي ښکېلاک سره مله وو خو ملي قهرمانانو د خلکو په ملاتړ مېړني او بېړني قیامونه وکړل او انګرېزان یې په شرمېدلي ډول مات کړل، د خپلواکۍ په جګړه کې قیادت ملي او صادق ؤ خو حکومتي ځواکونه ناکام وو، د ختیځ له جبهې نه چې د صالح محمد خان دولتي عسکرو د خلکو له ملتیا او خبرتیا پرته جګړه پیل کړې وه، ډېر ژر مات شول او دې او مرستیال یې محمد ګل خان له سنګر نه ننګرهار ته راوتښتېدل او د دوی عسکر د انګرېزانو په ځمکنیو او هوایي بریدونو کې سخت وځپل شول خو په مقابل کې د جنوب جبهه چې د دولتي عسکرو تر څنګ ملي مشران او روحانیون پکې وو او خصوصاً د ملي مشر جنرال یار محمد خان وزیري په

مشرۍ د وزیرو ، مسودو ، دوړو ، زرګونو مجاهدینو انګرېزان سخت مات کړل او په جنوبي جبهه کې یې له انګرېزانو نه پنځوس چونۍ ونیولې.

همدا راز ختیځه جبهه چې انګرېزانو ماته کړې وه. ملي قهرمان غازي میر زمان خان د ځنګېزی څلورمې جبهې (د چترال او د کونړ جبهې) په پرانستلو سره فعاله او کامیابه کړه او انګرېزان یې بشپړ مات کړل.

له دې وروسته هم همدا سې شوي زموږ ټولې مقابلې او مبارزې ملي قهرمانانو ګټلې خو موږ ډېر لږ ددې اتلانو په باب څېړنې او لیکنې کړې دي. څه باندې د پرش کاله وړاندې چې ما پر لوی خان میر زمان خان د څلورمې جبهې د کتاب لیکلو له پاره څېړنه کوله، د ده په باب ډېر لږ معلومات موجود وو، حتی ارواښاد محمد هاشم زماني هڅه وکړه چې په دې برخه کې ماته اسناد تهیه کړي، ډېر څه یې ونه موندل خو دا یې راته وویل چې د غازي میر زمان خان په باب په انګریزي آرشیفونو کې ډېر مواد شته او زه به یې تاته تهیه کوم چې د کتاب په بل چاپ کښې ځای شي خو د ارواښاد هاشم زماني ناروغي زیاته او په پای کښې وفات شو او دا معلومات تر لاسه نه شول.

ډاکټر عبدالرحمن زماني ته دې خدای خیر، ژوند او روغتیا ورکړي چې په دې برخه کې یې ګټور اقدام وکړ، انګریزي آرشیفونه یې وکتل او د لوی خان میر زمان خان په باب یې نوي او ډېر معلومات تر لاسه کړل او دې اسنادو وښوده چې انګرېزان له نوموړي خان نه څومره په ویره کښې وو او څومره توطیې یې ورته جوړې کړې چې د دوی ملي هڅې شنډې کړي.

د میر زمان خان دا هڅې له دې امله نه دي لیکل شوی چې میر زمان خان دده نیکه دی، بلکې دا هڅه یې د هېواد د یوه ملي قهرمان د پېژند ګلوۍ او دده د خدمتونو د سپړنې له پاره ده، ویې لولئ خوند او پند ترې واخلئ!

تاسو ولیدل چې زموږ د هېواد آزادۍ او خپلواکۍ د پاچایانو پر ځای زموږ ملي اتلانو ساتلې او په دې لاره کې یې نه هېرېدونکې هڅې کړې دي. دا زموږ دنده ده چې ملي قهرمانان وپېژنو، کارنامې یې وسپړو او ځوان نسل ورسره آشنا

کړو ځو هېواد پال ځوانان د دوی له قهرمانانه کړنو نه درس، پند او خوند واخلي.

زه ډاکټر زماني ته د دې ګټور د کتاب د ليکلو مبارکي ورکوم او هېوادپالو ځوانانو ته بلنه ورکوم چې دا ګټور کتاب په مينه او علاقه ولولي او د خان ميرزمان خان لوړه ملي څېره پکې ووينې !

په مينه

څېړنوال حبيب الله رفيع ،

کابل ۱۳۹۲/۸/۵

# د غازي میرزمان خان د لویو چارو روڼ انځور

زموږ ملي تاریخ ګواه دی، چې د دې ویاړلې خاورې لویشت لویشت د ملي کارنامو ټاټوبی او د ملي میړونو زیږنځی او زانګو ده او د دې ویاړلي غرني هیواد د غرو سینه د مړانې او اتلولیو له لالونو ډکه راغلې ده .

د ویاړونو او ویاړنو د ډېرو اوږدو وهیو د راسپړلو پر ځای یواځې د خپل ملي تاریخ د شلمې پېړۍ د لومړیو دوو لسیزو د یوه ځپرکې د یو څو پاڼو په را اړونه یوه راڼه او ځلاند انځور ته تمېږو او د هغه غازي د ملي غورځنګونو او ملي غورځو پر ځویو ځرګند جاج اخلو ، چې د همدې لوی کاله د لویې چرګۍ یوې سرې سپرغۍ ځوان مورخ او لیکوال ښاغلي عبدالرحمن زماني په خپل ځواکمن قلم اودلي او پېیلي دی. که څه هم د هیواد د ملي خپلواکۍ د ځلورمې جبهې د سوبمن بولندوی نوم زموږ د ملي تاریخ په پاڼو کې د ملي اتل غازي امان الله شاه د یوه همرزم سپاهي په توګه یو ځلیدلی نوم دی. چې د تاریخ زرین ځپرکي یې په یاد او نمانځه ګواه دي، خو تر دې شیبې یې لا د ځانی (فردي) او ملي ژوندانه پر جزییاتو رانغاړنده او هر اړخیزه څېړنه نه وه شوې. ډاکټر عبدالرحمن زماني بختور او ویاړلی دې، چې له اماني ویاړلي پېر سره په تړاو یې د پېرنګي د تور ښکیلاک له شرمیدلیو یرغلونو پرده لرې کړه او په خپل ځواکمن قلم یې د خپل ملي تاریخ د حقایقو د پیو او اوبو بیلتون کې ښه په ځیرتوب او ناپېیلي دقت ورکړی دی؛ خو دا ځل یې د ملي ویاړونو د داستان یو روڼ انځور وړاندې کړ:

د لوی خان غازي میرزمانخان کونړي د درنې کورنۍ شالید او مخینه یې ښه په زور و زیر د ملي معاصر تاریخ مینه والو ته وړاندې کړې ده. له انګرېزي تور ښکیلاک سره د لوی خان د ډغرو روڼ انځور یې کښلی. له بنده د امان الله خان په راخوشې کیدو د هغه په واکمنولو کې د لوی خان د ملاتړ داستان او د

خپلواکۍ په ملی غزا کې خپل اغیز او رشادت جوتول په امانی پیر کی لوی خدمتونه، د منګلو د سرغړنی په تمبونه کی د لوی خان ونډه، د پیرنګیانو سترګو ته د لوی خان اغزی کیدنه، د امانی نظام د ټینګښت لپاره وروستۍ هلې ځلې، د یوې دسیسې په توګه د لوی خان د شهادت له حقایقو پرده پورته کول، د لوی خان کړه وړه، په نادر شاهی او بیا ورپسې شاهۍ کې د زمانې کورنۍ برخلیک او،

بالاخره !

د غازی میرزمان خان په اړه د شویو خپرونو اوډون .

دا ټول هغه زرچاڼ دی چې زموږ ځوان مورخ د تاریخ له ګنګخرو نه د حقایقو د زربورې په توګه راچاڼلې او د خپلو ملی ویاړونو مینوالو ته یې په مخکې ایښې دې .

ښاغلې مورخ ددې راچاڼلیو حقایقو په چاڼ کې څومره رښتینی، ناپېیلی او بریالی دی؟ بیا هم دده په څیر د یوه سترګور مورخ نقاد فراست ته پرېږدو او ګران لیکوال ته دده د ګاللي زیار پر اجر سر بیره مبارکی وړاندی کوو .

بریمن دې وي

په درنښت

محمد اصف صمیم

۱۳۹۲/۸/۲۸

# سریزه

زموږ د ګران هیواد د تاریخ په اوږدو کې ددې خاورې ګوټ ګوټ که له یوې خوا د پردیو تیري کونکو او استعماري ځواکونو په وړاندې زمونږ د میړنیو او خپلواکۍ غوښتونکو خلکو د مبارزو تود ډګر او سنګر پاتې شوې، نو له بلې خوا زمونږ استعمار ماتوونکي او شهید روزونکي ملت هم داسې ډیر رښتیني بچیان او قهرمانان روزلي چې د خپلې خاورې د ساتنې، آزادۍ، خپلواکۍ او پرمختګ لپاره یې ملاوې تړلې او د بې سارو قربانیو په ورکولو یې نه یوازې دښمن او ښکیلاکګرو ته غاښ ماتونکې ځوابونه ورکړي بلکې د هغو هڅو ملاتړ یې هم کړې چې دا هیواد د سیمې او نړۍ د پرمختللو هیوادونو سره د سیالانو په کتار کې ودروي.

ستاسې په لاس کې دا کتاب د همداسې یوه نومیالي او آزادۍ غوښتونکې شخصیت ژوند او مبارزو ته یوه لنډه کتنه ده. هغه ملي، سیاسي، پوځي او ټولنیز شخصیت چې د امیر عبدالرحمن خان په واکمنۍ کې په یوې مبارزې کورنۍ کې سترګې غړولې، د امیر حبیب الله خان په پاچاهۍ کې د انګریزانو په وړاندې د آزاد سرحد په وسله والو مبارزو کې ځلیدلې، د زندانونو او سیاه چالونو سختې او تنګې یې زغملې، د شهزاده امان الله خان او سردار نصرالله خان تر منځ واک ته د رسیدو په سیالیو کې یې د خپلواکۍ او آزادۍ غوښتنې په روحیې سره د امان الله خان ملا تړلې، د افغان - انګریز په دریمه جګړه کې یې د چترال او کونړ په محاذ کې بریاوې او ویاړونه ګټلې، او په پای کې یې د اماني رژیم او نهضت د بقا د پاره د شهادت جام څښکلې دئ.

دا کتاب یوازې پدې نه خلاصه کیږي چې غازي میرزمان خان څه سوچ درلود، ملي ګټو او هیواد ته د ګواښونو په هکله یې څه درک او احساس درلود، د

ژوند په بیلابیلو پړاوونو کې یې څه کارونه سرته رسولي، او د هغه وخت په تاریخي پیښنو او بهیر یې څه اغیز درلودلې دئ. بلکې د هغې دورې د حقایقو د روښانولو یوه هڅه هم ده.

که څه هم د هیواد د اغیزمنو ټولنیزو شخصیتونو او وطن د اصیلو خدمتګارانو د ژوند لیک لوستل په زړه پورې وي، خو د لوستلو اصلي موخه د هغوی د ژوند نه څه زده کول دي. نو هیله لرم چې ددغه هیواد پاله او زړه ور شخصیت د ژوند لیک لوستل د ګران هیواد د ځوان نسل دپاره هم په زړه پورې او هم د زده کړې وړ وي.

راځۍ چې د خپلو مشرانو تاریخي هلې ځلې د خپلو راتلونکو نسلونو او خپل ملت د روښانه راتلونکي دپاره، ژوندۍ وساتو.

په پای کې باید یادونه وکړم چې د دې کتاب په اوږدو کې د موضوعاتو او پیښنو په تړاو د ځینو کسانو د نومونو د یادونې مقصد په هیڅ ډول د هغوی د توهین او تحقیر او یا د هغوی کورنیو ته په کمه کتل او یا کم راوستل نه دي. هیله لرم چې د تاریخي واقعیتونو لیکل د هغوی د کورنیو او د ملګرو د خپګان سبب نشي.

په درنښت

**عبدالرحمن زماني**

د شمالي کلیفورنیا د ایالت د هیوارد ښار

د ۲۰۱۷ کال د دسمبر د میاشتې ۴مه نېټه

هرگز نمیرد آنکه دلش زنده شد به عشق
ثبت است بر جریدهٔ عـالم دوام ما
حافظ

# لومړی څپرکی

## د غازي میرزمان خان کورنۍ

د کونړ میرزمان خان په ۱۸۲۹ میلادي (۱۲۴۸ هجری لمریز) کال کې د کونړونو د لمتېک په کلي کې د حاجي گلروز خان په کور کې دې نړۍ کې سترگې وغړولې. پلار یې حاجی گلروز خان د محمد عمر خان زوی او د محمد اکرم خان لمسی و. محمد اکرم خان د سپین غره د تیرا د سیمې مشر و چې د قومي شخړو او اختلافاتو په وجه یې خپل کلی "کوټ" پرېښود او د کونړ د لمتېک په سیمه کې میشت شو.

د یوه روایت له مخې ددغو شخړو او اختلافاتو علت د روښاني نهضت په ملاتړ او پلویتوب پخوانۍ قومي دښمنی او رقابتونه وو. څرنگه چې پدې هکله لا تر اوسه کره اسناد او مؤثقه شواهد نشته، نو ځکه یې له تفصیل او جزئیاتو تیریږو [۱].

۱. د روښانیانو د عرفاني او ملي غورځنگ مشر بایزید انصاری وو. بایزید چې وروسته په پیر روښان مشهوره شو، په هندوستان کې د ابراهیم لودي د واکمنۍ تر نسکوریدو وروسته د بابر شاه د واکمنۍ په کال زیږیدلی وو. پیر روشان د بابر د لمسي اکبر په زمانه کې «تیراه» د خپل غورځنگ مرکز وټاکه او د مغلي پاچا په وړاندې یې خپله څرگنده مبارزه او د پښتنو د خپلواکۍ او ملي حاکمیت د پاره جگړه پیل کړه. روښانیانو د روښاني غورځنگ د جنگیالیو او مغولي لښکرو تر منځ یو لړ کوچنیو جگړو نه وروسته په ۱۵۸۱ م کال کې په ننگرهار کې د

غازي میرزمان خان په ختهٔ پښتون او په پښتو او پښتونوالي مین و. هغه د غازي امان الله خان په هغه لاره روان و چې ویل یې «هندو، هزاره، شیعه، سني، احمدزي او پوپلزي نلرو، بلکې ټول د افغان په نامه یو ملت یو». هغه له همدې امله خپل ځان هیڅکله یوه قوم ته منسوب کړی نه و.

غازي میرزمان خان د کونړونو د ټولو قومونو د مشر او لاربنود او غازی امان الله خان د نږدې ملګري په توګه عقیده درلوده چې د افغانستان ټول قومونه د افغان په نامه د یوه ملت برخه ده. هغه د هیواد د خپلواکۍ د نعمت په ارزښت پوره پوهیده او په عمل کې یې هم د استقلال د ساتنې اود اماني نهضت او غورځنګ ملاتړ ثابت کړ او په دغه لاره کې یې خپل سر او مال قربان کړ.

---

یوې لویې جګړې نه وروسته د کابل د والي محسن خان په مشرۍ د مغولي لښکرو نه ماتې وخوړه. تر دې ماتې وروسته پیر روښان د خپلو څو تنو ملګرو سره د صوابۍ د ټوپۍ سیمې ته لاړ او هلته د یوسفزیو لخوا محاصره او په جګړه کې ووژل شو. خو د هغه مریدانو د هغه د مرګ خبر تر ډیره وخته پټ وساته.
د پیر روښان زامنو د خلکو نه مالیه اخیستله او په خپلو نومونو یې سکه وهله. د پیر روښان له پنځو زامنو، څلور تنه د مغولو سره په بیلابیلو جګړو کې ووژل شول. یواځې کشر زوی یې، جلال الدین، چې دیارلس کلن ؤد مغولو لخوا وبخښل شو. هغه هم پاتې روښانیان سره راټول او ګوریلایې جګړې پیل کړې. په یوې جګړې کې د مغولو د شاهنشاه اکبر مشهور جنرال «راجه بیربل» هم ووژل شو. د بیربل تر وژل کیدو وروسته اکبر پاچا تصمیم ونیوو چه د جلال الدین د ټکولو دپاره خپله د لښکرو په مشرۍ وجنګیږي، خو جلال الدین چترال ته وتښتید او هلته په ۱۲۰۱ م کال کې مړ شو. جلال الدین د "جلاله" په نوم یادیدو او خلکو په ننګرهار کې د "آدینه" مشهور ښار د هغه په ویاړ د "جلال آباد" په نوم بدل کړ.
کله چې په ۱۲۱۹ م کال کې د کابل والی مهابت خان په تیراه کې د پیر روښان درې سوه (۳۰۰) پیروان په چل ول مړه کړل، نو د جلال الدین وراره "احداد"، چې د روښانیانو مشري ورپه غاړه وه، د تیراه نه ګردیز ته لاړ شو او هلته یې وسله والې مبارزې ته ادامه ورکړه.
که څه هم د مغلو سره د پیر روښان د پیروانو جګړې په ۱۲۳۸ کال کې پای ته ورسیدې، خو د پیر روښان د پیروانو او مخالفو قبیلو تر منځ وسله والې او عقیدتي جګړې بیا تر ډیره وخته روانې وې.

**محمد اکرم خان**، د غازي میرزمان خان غور نیکه، دوه زامن درلودل چې یو یې محمدعمر خان او بل یې محمد کریم خان نومیده.

**محمد عمر خان** یې مشر زوی و، او د پلار د مرگ نه وروسته چې د «بر نرهنگ» د «لمتک» په کلي کې خاورو ته وسپارل شو، د کورنۍ مشري او سرپرستي ور په غاړه شوه. محمد عمر خان د حاجي گلروز خان، محمد روزخان، محمد افضل خان، تیمور شاه خان او عادل شاه خان په نامه پنځه زامن درلودل.


**حاجي گلروز خان** ته د پلار د مرگ نه وروسته د کورنۍ مسئولیت ورپه غاړه شو. هغه دوه زامن او شپږ لوڼې درلودی. مشر زوی یې میرزمان خان او کشر زوی یې خان محمد خان و. لوڼې یې ذوالحجه، درانۍ، درخانۍ، بخت جانه او گل نامه وې.

**غازي میرزمان خان** اته (۸) زامن او اوه (۷) لوڼې درلودی. د غازي میرزمان خان زامن شیر محمد خان زمانی، عصمت الله خان زمانی، گل محمد خان زمانی، حبیب الله خان زمانی، محمد ارسلان زمانی (مشهور په ارسلان خان)، خیرمحمد خان زمانی، یار محمد خان زمانی او محمد هاشم خان زمانی نومیږي.

لوڼې یې، بی بی مریم، بی بی حاکمه، بی بی حُسنیه، بی بی شاه بوبو، بی بی صندله، بی بی روضة المنتهی (مشهور په بی بی گل) او بی بی سدرة المنتهی دي.

**خان محمد خان کونړي** د حاجي گلروز خان کشر زوی و. ده لس زامن او شپږ لوڼې درلودې. د جنرال خان محمد خان کونړي زامن مسافر خان زمانی، عبدالقادر خان زمانی، محمد نادرخان زمانی، محمد عمر خان زمانی، جان محمد خان زمانی، محمد حسین خان زمانی، شاه محمد خان زمانی، عبدالصمد خان زمانی، عبدالخالق خان زمانی او ظاهرخان زمانی نومیږي.

د جنرال خان محمد خان کونړي لوڼې بی بی شاه جهان، بی بی نور السراج، بی بی لیلا، بی بی عایشه، بی بی نوریه و بی بی گل غوټۍ نومیږي.


غازی میرزمان خان
شیرمحمد خان زماني
لوامشر گل محمد خان زماني
لوامشرعصمت الله خان زماني
حبیب الله خان زماني
محمد ارسلان زماني
خیرمحمد خان زماني
یارمحمد خان زماني
محمدهاشم خان زماني



مرحوم شیرمحمد خان زمانی



مرحوم عصمت الله خان زمانی



مرحوم حبیب الله خان زمانی



مرحوم الحاج گل محمد خان زمانی



الحاج محمد ارسلان زمانی




مرحوم خیرمحمدخان زمانی



مرحوم یارمحمدخان زمانی



مرحوم محمد هاشم زمانی



جنرال خان محمد خان کونړي

اروا ښاد غازی جنرال خان محمد خان کونړي، د غازي میرزمان خان کشر ورور او د جهاد او سنگر یار او ملگرې و. دې په **۱۸۸۵** میلادی **(۱۲۶۴)** هجري لمریز کال کې د مردان د خیرآباد سیمې ته نږدې د «هوسۍ» په کلي کې زیږیدلی و. د ده پلار حاجي گلروز خان پدې وخت کې، چې د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ دوره وه، د لنډې مودې دپاره د وطن نه لرې د تبعید او جلا وطنۍ شپې او ورځې تیرولې، او لږ وخت وروسته د خپل زوې غازي میرزمان خان په تشویق بیرته هیواد ته راستون شو [۲].


غازي خان محمد خان د هیواد د خپلواکۍ د بیا گټلو په جگړه کې د خپل ورور او نورو خپلوانو سره یو ځاې گډون کړې او د چترال او کونړ په جبهه کې یې د زړورو غازیانو د یوې ډلې د مشر په توگه په پوره مړانې او تورې سره ارزښتناکه خدمت کړې دئ. غازي خان محمد خان ته د ده د خدمتونو په بدل

۲. د غازي میرزمان خان د زوې الحاج محمد ارسلان زماني سره مرکه

کې لومړې د ملکي کرنیل او بیا ملکي جرنیل رتبې ورکړ شوي او په بیلا بیلو دندو گمارل شوي و.

جنرال خان محمد خان کونړې د ۱۳۵۹ لمریز کال د لیندې (قوس) / ۱۹۸۰ م کال د نومبر په میاشت کې د ۹۵ کلونو په عمر ددې فاني نړۍ نه سترگې پټې کړې او د نوآباد په کلي کې د خپل ورور غازي میرزمان خان د مقبرې څنگ ته خاورو ته وسپارل شو.




داکتر ظاهر جان زمانی



مرحوم مسافرخان زمانی



مرحوم عبدالقادر خان زمانی




مرحوم محمد نادرخان زمانی



مرحوم محمد عمرخان زمانی



جان محمد خان زمانی




محمد حسین خان زمانی





عبدالصمد جان زمانی




شاه محمد خان زمانی


محمد اکرم خان
محمد عمر خان
محمد کریم خان
عادل شاه خان
سردار خان
څرګند خان
عسکر خان
افسر خان
محمد ګلخان
فردوس خان
محمد روز خان
فقیر خان
پیرمحمد خان
مغل خان
سلطان جان
تیمور شاه خان
لنګرشاه
محمد افضل خان
ګیجان خان
حبیب الرحمن خان
محمد سیفور خان
شیرعلي خان
محمد یوسف خدمتګار مزدوروزوی
مزدور خان
محمد حسن خان
سیف الرحمن خان
حاجي ګلروز خان
غازي میرزمان خان
خان محمد خان


محمد اکرم خان
محمد عمر خان
محمد کریم خان
عادل شاه خان
محمد روز خان
تیمور شاه خان
محمد افضل خان
حاجی گلروز خان
سردار خان
فقیر خان
لنگر شاه
کیجان خان
مزدور خان
خان محمد خان
غازی میرزمان خان


غازی میرزمان خان
حاجی گلروز خان
محمد عمر خان
محمد اکرم خان
محمد هاشم زمانی
یار محمد خان زمانی
خیر محمد خان زمانی
محمد ارسلان زمانی
حبیب الله خان زمانی
عصمت الله خان زمانی
گل محمد خان زمانی
شیر محمد خان زمانی


محمد اکرم خان
محمد عمر خان
محمد کریم خان
شینا خان
گلشن خان
زرگل خان
عبدالحکیم خان
عبدالمتین خان
خیرمحمد خان
گل محمد خان
رحمت گل خان
پردول خان
محمد ناصر
جان آغا
عبدالله
شیرآغا
نادرخان
غلام حبیب
محمد حکیم خان
محمد گلاب خان
غلام قادر خان

# دوهم څپرکی

## د ځوانۍ دوره او دا نګريزي استعمار په وړاندې مبارزه

د افغانستان په جغرافيوي موقعيت سربيره د پښتنو داوسيدو سيمه هم دخپل خاص ستراتيژيک او جغرافيوي موقعيت له امله ددوې په ژوند او تاريخ باندې ژوره اغيزه درلودلې او لري. که افغانستان دتيري کوونکو ګورستان، او افغانان په نړۍ کې د خارجي حاکميت او پوځي تيري په وړاندې د مقاومت اتلان ګڼل کيږي، نو بيا دپردي ښکيلاک په وړاندې د پښتنو قبايلو د مبارزو تاريخ هم ډير اوږد دئ. دوې چې اکثره يې د ډيورنډ د تپل شوې کرښې دواړو خواوو ته پراته دي، د خپلو رواجونو، ژبې، تاريخ، کلتور، قامولۍ او مذهب په مزو سره ټينګ تړل شويدي. ددوې افکار او احساسات، درد او رنځ، او خوشالي اوخپګان سره شريک او پريوبل اغېزه لري.

که افغانستان د تيري کونکو د قبرستان، او افغانان په نړۍ کې د پرديو د تيري او حاکميت په وړاندې د مقاومت اتلان پيژندل شوي، نو بيا پښتانه قومونه هم د استعمار او ښکيلاک په وړاندې د اوږدې مبارزې تاريخ لري.


پښتنو د خپلو سيمو د خپلواکۍ دپاره د مغولو، سکهانو، انګريزانو، روسانو او نورو يرغلګرو په وړاندې مبارزو کې ډيرې قربانۍ ورکړي دي. ددوې د اوسيدو سيمې او په خاصه توګه دآزاد سرحد قبايلي سيمې نن هم دنړيوالو طاقتونو دنوو وسلودآزموينې په لابراتوار، د ذينفعو هيوادونو د جيوپوليتيکو ګټو دټکر، او د مختلفو سيمه ايزو شخړو دحساب د تصفيې په ډګر بدلې شويدي. دغو شخړو اوجګړو نه يوازې په سيمه کې ژوند په ټپه

ودرولای دئ، بلکې په درندې مرګ ژوبلې سربېره یې د دې سیمې په ملیونونو او سیدونکي د بېکوری او نورو انساني ناوړینونو سره هم مخامخ کړیدي.

## دآزاد سرحد د مومند و آزادۍ بخښونکې جګړې

د پښتنو د مومندو (مهمندو) قوم هغه ستر، پیاوړې او مهم قوم دئ چې په آزاد سرحد کې یې، د اپریدو او وزیرو نه وروسته، بریتانوي هند ته تر ټولو زیاته سرخوږي پیښه کړېده. مومند د آزاد سرحد د نورو ټولو قبایلو په نسبت زیات تجرید شوي او پر خپله خاوره یې د پردو د تیري په وړاندې ډیر مقاومت ښودلې دئ.

دانګریزانو په وړاندې د مومندو دبریالي مقاومت په سترو لاسته راوړنو کې، په خپله سیمه کې دډیورنډ دکرښې د ښنبه کیدو مخنیوې او همدا راز




د مومندو سیمه

د سړکونو د جوړولو مخنیوې شامل دي، کوم چې په سرحد کې د استعماري نفوذ نښه ګڼل کیده.

## د ډیورنډ د تحمیلي کرښې دواړو خواوو ته د پرتو قومونو د پاڅون علتونه

دآزادې سرحدي سیمې د قومونو د پاڅون ستر علت په سیمه کې د انګریزي استعمار مداخله او لاس وهنه وه. دا لاس وهنه په ۱۲۰۰ م کال کې د ختیځ هند د کمپنۍ East India Company په جوړیدو سره پیل شوه، او په سیمه کې د پښتنو د تاریخ او ژوند په هکله د ایلفینستون Elphinstone، برنس Burnes، ویلیام مورکرافت William Moorcroft، او چارلس میسن Charles Masson څېړنو هغې ته لاره هوار کړه [۳].

انګریزانو هڅه کوله چې د افغانستان او بریتانوي هند تر منځ پرته سرحدي سیمه تر خپل کنټرول لاندي وساتي. د یوه انګریز څېړونکي او دیپلومات، فریزر – تیتلر په وینا، چې ډیر کلونه یې دبریتانوي هند په شمال غربي ایالت او وروسته په کابل کې د انګریزانو په سفارت کې کارکړی، د افغانان - انګریز په مناسباتو کې د راتلونکو ډیرو لانجو او تاوتریخوالي تخم له همدې ځایه کرل کیږي. خو پر دغو سیمو تسلط ساده او آسانه کار نه و. د آزاد سرحد په هکله د انګریزانو پالیسي مختلف پړاوونه درلودل:

أ. **د«تړلي سرحد» یا "Closed Boarder" پالیسي:** دا د پنجاب د نیولو نه وروسته د سرحد په هکله دانګریزانو تر ټولو محافظه کارانه سیاست ؤ. ددې سیاست ستره خاصه نښه داوه چې د قبایلو د حملو په وړاندې خپلې پولې ټینګې وساتي، دقبایلو په سیمو تیرې ونکړي او د هغوی په چارو کې ګوتې ونه وهي. د آزاد و قبایلو، آزاد سرحد، علاقهٔ غیر، یاغیستان

---

۳. زماني، عبدالرحمن: په آزاد سرحد کې خپلواکۍ غوښتونکې مبارزې، ۳۲ مخ

او نورو اصطلاحاتو استعمال له همدې ځایه رواج وموند [٤].

ب. **د "وړاندې تګ سیاست" یا "forward policy" :** انګریزانو پدې پړاو کې د "تړلي سرحد " خپل دفاعي سیاست پرېښود او دخپلو صنایعو د خاوندانو د غوښتنو سره سم، چې د مستعمرو او جوړوشوو کالو (صنعتي تولیداتو ) د پاره د بازار د پراختیا غوښتونکي و، د "وړاندې تګ سیاست " یا "forward policy" خپله کړه. دوی غوښتل چې د آزادو سرحدي سیمو په لاندې کولو سره افغانستان هم د هندوستان په شان په خپله مستعمره بدل کړي . دوی د ۱۸۴۹ او ۱۸۷۹ م کلونو تر منځ د سرحدي ایالت د نیولو نه وروسته ددیرشو کلونو په موده کې ۳۷ ځله پدې سیمو نظامې تیري وکړ او د آزاد سرحد د قبایلو د سخت مقاومت سره مخامخ شول [٥].

ج. **دشمال غربي سرحد د ځانګړې ایالت جوړیدل:** په ۱۹۰۱ کال کې وایسراې لارد کرزن (Lord Curzon) د سرحدي قبایلو د حملو د مخنیوي دپاره دپراخو نظامي عملیاتواو دغه سیمې ته د زیاتې پاملرنې دپاره دشمال غربي سرحد ځانګړې صوبه جوړه کړه. دغه صوبه په دوو میشت او قبایلي سیمو وویشل شوه. میشتې سیمې د انګریزانو د نیغ په نیغه اداري لاندې وي. خوقبایلي سیمې لکه داوسني پاکستان په شان په مرکزي حکومت پورې تړلې وې او د ارتباط چارې یې د ایجنسیو له خوا سرته رسیدلې [٦].

هیرالد دین " ( Harold Arthur Deane ) د انګریزانو عالي کمشنر عقیده درلوده چې د مومندو د قوم پاځون د هغوی په سیمه د انګریزانو د حملې

---

٤. زماني، عبدالرحمن (۲۰۰۷). ۲۳ مخ.

٥. Fraser-Tytler, W. K. (1967) ۱۸۴ مخ

٦. زماني، عبدالرحمن (۲۰۱۰)، په آزاد سرحد کې خپلواکۍ غوښتونکې مبارزې او د مومندو په مشهورو غزاګانو کې دغازي میرزمان خان ونډه، صفحات ۳۰ تا ۳۵.

دګونګوسي نتيجه وه[۷].

دانګريزانو مشهور صدراعظم او په دوهمه نړيواله جګړه کې ددوې مشر "وينستن چرچل" ( Winston Churchill) چې دپښتنو قبايلو سره يې دبريتانوي قواوو په جګړو کې خپله برخه آخيستې ده[۸]، دانګريزانو په مقابل کې د مومندو دپاڅون علت په سرحدي سيمو کې د مذهبي تعصب توفاني څپې او په مومندو او نورو سرحدي قبايلو دهغوې اغيزه ګڼي[۹]. هغه ليکي دمومندو حالت دسوات او نورو سيمو نه مهم او زيات توپيرونه درلودل. مومند نه خو ځوريدلي وو او نه هم ددوې په چارو کې څه مداخله شوې وه. نه خو ددوې په سيمه کې کوم عسکري سړک غزيدلې و، نه هم پياوړو پوستو ددوې دښمني راپارولې او ددوې خپلواکي تهديد کړې وه.

لويس دين، چې ديوه هئيت په مشرۍ دافغانستان او بريتانوي هند ترمنځ دغلط فهميو دلرې کولو او جوړجاړي دپاره کابل ته تللې و، عقيده درلوده چې دمومندو دپاڅون علت ددوې په سيمه باندې دانګريزانو د حملو داوازو او افواهاتو دخپريدو نتيجه وه. خو لارد مينتو ته بيا د قبايلو د ناکرارۍ اصلي علت يوه معما ښکاريده.[۱۰]

دانګريزانو په مقابل کې د آزاد سرحد د قومونو د پاڅونونو ځينې علتونه په

---

۷. د باندنيو چارو سکرترته د وايسرای د ۱۹۰۸م کال د اپريل د مياشتې د ۱۷مې نيټې تلګرام.

۸. وينستن چرچل (دانګلستان مشهور صدراعظم) په ۱۸۹۷م کال کې دبريتانوي پوځ غړې وو. کله چې هغه واوريدل چې دبريتانوي پوځ درې غونډه دپښتنوقبايلو سره دجګړې دپاره روانيږي، نو په دې جګړه کې يې د ګډون غوښتنه وکړه. هغه د ملکنډ په عملياتو کې دجنرال جيفري تر قوماندې لاندې په دوهم غونډ کې وجنګيده. هغه د مومندو په سيمه کې ناڅاپه د پښتنو جنګياليو سره مخامخ شوي او په وخت دسکهانو د ۳۵مې قوې دمرستې په رسيدو سره ژوندي پاتې شوي وو.

۹. Churchill, Winston S. (1892)، ۸۸ مخ

۱۰. Baha, Lal (1978) ۷۱-۷۲ مخونه

لاندې ډول ذکر کولای شو:

- په سيمه کې د انګريزانو مداخله او په بيلابيلو پلمو قبايلي سيمه کې دورننوتو او يرغلونو بهانه.
- دانګريزانو د وړاندې تګ د سياست په وړاندې پاڅون او مقاومت.
- کابل ته د انګريزانو د هيئت تګ او د ډيورنډ د کرښې د ننبه کولو خبرې او د هغې په تعقيب قبايلي سيمې ته د انګريزي مامورينو د تګ له امله دقبايلو شکمن کيدل او راپاريدل.
- په کافرستان (وروسته نورستان) کې د سپه سالار غلام حيدرخان چرخي په مشرۍ دافغاني لښکر دبرياليو عملياتو نه وروسته د خلکو داسلامي احساساتو راپاريدل او دانګريزانو د محوه کولو په تکل دجهاد دپاره دقبايلو دلمسون په برخه کې د ملايانو د تبليغاتو او خبرو مؤثريت.
- د امير عبدالرحمن خان لخوا د جهاد د کتاب خپرول او دقبايلو دا ګمان چې ګوندې امير په رښتيا جهاد غواړي او د غازيانو مرسته به وکړي۱۱.
- په ملکنډ او چکدره کې د انګريزي قواوو ديره کيدل او آزادو قبايلو ته د نورو قبايلي سيمو د نيولو د انديښنې پيدا کيدل.
- په افغانستان کې د دوهمې مشروطه غوښتنې دنهضت بيا راژوندي کيدل، دسراج الاخبار دوهم ځل تاسيس، دترکانو ملاتړ او دخپلواکۍ غوښتنې د نهضت پياوړتيا.
- په افغانستان کې دننه دخلکو دخپلواکۍ غوښتنې د حس پياوړتيا او دخلکو په نظر دانګريزانو ديوه پلوي او محافظه کاره ګوډاګي په توګه

۱۱. ددی کتاب په نوم کې د تاريخ پوهانو اختلاف دئ، ځينو تقويم الدين، چا تواقيم الدين او ځينو بيا ترغيب الجهاد ذکر کړيدئ. خو دا کتاب "کلمات امير البلاد فی الترغيب الی الجهاد" نوميږي چې د مير محمد عظيم خان په اهتمام چاپ او يوه کاپي يې د نيويارک د پوهنتون "دافغانستان ديجيتال کتابتون" کې موجوده ده.

دامیر حبیب الله خان د حیثیت ټیټوالې، کوم چې وروسته بې له شکه د هغې د مرگ سبب شو.

- لومړۍ نړیواله جگړه او کابل ته د ترکانو او جرمنانو د گډ هئیت راتگ.
- دافغانستان او بریتانوي هند په مسلمانانو باندې دلومړۍ نړیوالې جگړې ژوره اغیزه، او د دې جگړې په موده کې د انگریزانو د کمزورتیا نه دامیر حبیب الله خان گټه نه اخیستل، د خلکو سخت خپگان او په خاصه توگه د ترکیې د ماتې او توهین له امله د خلکو د احساساتو راپاریدل، او د مذهبی مشرانو لخوا د تُرکیې او یونان د جگړې د نتیجې نه د مسیحي قواوو په مقابل کې د مذهبي احساساتو د راپارولو د پاره گټه اخیستل.
- دلوې شلمان یا کابل د سیند په غاړه د اورگاډي (ریل) د پټلۍ د غزولو د کار پیل، کوم چې مومندو د خپلې خاورې نیول گڼل[۱۲].

## په آزاد سرحد کې انگریزانو سره جگړو کې د روحانیونو برخه او رول

د امیر حبیب الله خان د سلطنت په لومړي سر کې د انگریزانو په مقابل کې د کونړ د خلکو په وسله والو مبارزو کې د سیمې مخورو روحانیونو هم ستره برخه درلوده، لکه د اسلامپور شیخ پاچا (میرصاحب جان پاچا)، د سرکانو میا صاحب (میا محمد اکبر شاه) چې د هډې د ملا صاحب میر نجم الدین آخندزاده مریدان او خلیفه گان وو. په دوې کې داسې روحانیون هم وو چې د انگریزانو په خدمت کې وو. او د جاسوسۍ او ورانکارۍ دپاره د مبارزو روحانیونو او غازیانو لیکو کې ځای پر ځای شوي وو.

مرحوم ملا فیض محمد کاتب هزاره د ۱۹۰۸ م کال د اپریل د میاشتې د پیښو په لړ کې د سرکانو میا صاحب ته د شیخ پاچا صاحب د هغه لیک یادونه کوي، په کوم کې چې لیکل شوي وو « که څه هم د عامو خلکو شورش او هنگامه

۱۲. Keppel, Arnold (1911)، ۲۲ مخ.

شرعي جهاد او پاچاهي امر نه بلکې یوه ملکي خبره ده، خو باید چې په میړانې سره کوښښ وکړو تر څو د ملت نوم اوچت او د دین مخالفین پریشانه کړو».
کاتب زیاتوي چې «دغه لیک سره ډېر خلک نور هم جګړې ته روان او د جګړې د اور لمبې یې زیاتې کړې...د کوډا خیلو د جګړې د میدان ننګیالیو په رڼا ورځ د شبقدر په بازار حمله وکړه او د هغو یوسلو اتیا (۱۸۰) تنو وسله والو سپاهیانو څخه یې تر نیمایي زیات د ټوپکو په ګولیو ووژل، کومو چې د هغې د ساتلو او ټینګولو دپاره دفاع کوله، او ټول بازار یې په اور وسیځلو» ۱۳

## د امیر حبیب الله خان لخوا په آزاد سرحد کې د افغانانو د حملو مخنیوی

امیر حبیب الله خان د خپل پلار امیر عبدالرحمن خان په شان د سرحداتو د کنټرول او قبایلي چارو په برخه کې دوه ګونې سیاست پر مخ وړلو- له یوې خوا یې د انګریزانو سره سیاسي سازش ، او له بلې خوا پر هغوې احتمالي فشار. خو هغه د پلار د مړینې نه وروسته دغه کار یوازې ترسره کولای نشو. نو ځکه یې خپل بل ورور نائب السلطنت سردار نصرالله خان ته، چې ملا ډوله و او پټکې به یې اغوستلو، ددغه سیاست د بل اړخ چلولو، یعنی د سرحداتو د چارو کنټرول ته وګمارو. د مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبی په وینا ،دا هغه سیاست و چې امیر او د هغه ورور له خپل پلاره زده کړې و، چې د نرمښت او سازش په څنګ کې د سختۍ او غضب وسله هم په لاس کې ولري.[١٤]

دبریتانوي هند د آرشیف د زیاتو اسنادو څخه یواځې یو څو لاندې بیلګې څرګندوي چې امیر حبیب الله خان تر زیاتې اندازې د آزاد سرحد په سیمو کې پر انګریزي لښکرو د کونړ او ننګرهار د غازیانو مخنیوې کوو. او د فشار او بیلابیلو لارو یې د ډېورنډ له کرښې د وسله والو مبارزینو د تیریدو مخه نیوله:

۱۳ . کاتب، فیض محمد (۱۳۹۰) . سراج التواریخ، جلد چهارم، بخش سوم، انتشارات امیری کابل، ۳۰۲ مخ.
۱٤. حبیبی، عبدالحی (۱۳۷۲)، ۱۱۵-۱۱۷ مخونه.

**د امیر حبیب الله خان لخوا د ۱۹۰۸ کال د حملو مخنیوې**

مرحوم فیض محمد کاتب هزاره د سراج التواریخ په څلورم ټوک کې د برګډ زبردست خان او جلال آباد د سرپرست حاکم عبدالرحمن خان په نوم د امیر حبیب الله خان د جهاد د پرېښودلو احکام رانقل کوي چې «خپله د جهاد په لمسولو او تحریک کې برخه وانخلي او د دې دولت د اتباعو خلک د جګړې نه منع کړي او میرصاحب [جان پاچا] او د تګری [تیرګړو]حضرت ته پیغام ورکړي چې دافغانستان دولت د انګریزانو دولت سره تړون لري، تر څو چې هغه دولت دا تړون مات نکړي او د تیري ونکړي، د پاک شریعت د امر له مخې د غزا او دفاع اجازه نشته، او له حضوره هم پدې هکله کوم حکم صادر شوې نه دئ .نو ځکه تر هغې چې انګریز دولت په خپلو نیول شوو او مستعمره حدودو کې وي، نو پر دوې باید تیرې ونشي، او داسې ناوړه کار تر سره نشي چې بې وځلي او خوار خلک سره راټول او بې موجبه مړه شي» [۱۵].

په یوه بل لیک کې امیر د جلال آباد قایم مقام حاکم ته ولیکل چې « د اعتماد وړ یو تن صوفی صاحب [فقیر آبادی] ته واستوه او خبر ورکړه چې د غزا د پاره د پاچا امر صادر شوې نه دئ، نو تاسې څرنګه جهاد پیل کړی دئ؟ ». او هم ولیکئ «کوم خلک چې راټول شوي دي، پوه کړي چې خپلو کورونو او استوګنځو ته ستانه شي، ځکه چې پرته د خرابیدو به کومه ښه نتیجه ورنکړي . او عمومي شورش او بلوا د وقت د پاچا د حکم او اجازې نه پرته، د احمدي دین د مستقیم شریعت نه انحراف دئ ، ځکه کله چې اسلامي دولت د نصاراوو سره ژمنه ولري او نصرانیان تیرې پیل نکړي، سنت او کتاب د تړون د ماتولو اجازه نه ورکوي ، چې د نصاراوو په نیول شوې مملکت حمله وکړي او ځان ته ځاني او مالي خطر واړوي» [۱٦].

۱۵. کاتب، فیض محمد (۱۳۹۰) شمسی. سراج التواریخ، جلد چهارم، بخش سوم . انتشارات امیری کابل ، ۳۱۱ مخ.

۱٦. کاتب، فیض محمد (۱۳۹۰) شمسی. سراج التواریخ، جلد چهارم، بخش سوم . انتشارات امیری کابل ، ۳۱۸ مخ.

**انګریزانو ته د مومندو پر قوم د حملې او یرغل د اجازې ورکول**

امیرحبیب الله خان نه یواځې دا چې په آزاد سرحد کې د افغانانو د حملې مخنیوې کوو، بلکې د مومندو په سیمه یې د انګریزانو د حملې او یرغل ملاتړ هم وکړ. اروانباد فیض محمد کاتب هزاره پدې هکله لیکي چې «په همدې وخت کې د انګریزانو دولت د خپل شک د معلومولو د پاره، چې ګواکې د سرحد د خلکو شورش او د جهاد امر به د حضرت والا په لمسه شوئ وي، د یوه مکتوب په ترځ کې د حضرت والا نه د مومندو او نورو قبایلو د سزا، ګواخ او غوړ تاوولو په مقصد د خپلو لښکرو د لیږلو اجازه وغوښته. او حضرت والا دهغوې د بدګمانۍ د لرې کولو دپاره ولیکل چې «**د هغوې په دولت پورې تړلو مومندو قبایلو سره په جګړه او د هغوې د غوړونو د تاوولو په برخه کې د هغوې خپله خوښه ده،** خو په افغانستان پورې مربوطو مومندو قبایلو سره کار ونلري، هغوې و نه ځوروي او د هغوې په سیمه تیرې ونکړي»[۱۷].

**د امیر حبیب الله خان لخوا د افغانانو د (۱۹۱۵) کال د حملو مخنیوی**

د شمال غربي سرحدي صوبې (ایالت) عالي کمشنر د ۱۹۱۴ م کال د اکتوبر په (۹) نهمه نیټه د بریتانوي هند د حکومت د باندنیو چارو سکرتر ته خبر ورکړ چې «امیر په یوه فرمان کې د خپل ټول افغان رعیت نه غوښتي دي چې په جګړې کې برخه وانخلي، په جلال آباد کې د کابل د سیند د جنوبي اړخ مومندانو د کوډاخیلو مومندانو بلنه چې د هغوې سیمې ته ورشي، منلې نده »[۱۸].

په کابل کې د انګریزانو عامل هم د ۱۹۱۴ م کال د اکتوبر په ۲۴مه نیټه خبر ورکړې دئ چې «داسې مهم رپوټونه تر لاسه شوي چې د اسلامپور سید میر صاحب جان پاچا پدې وروستیو کې امیر ته ویلي دي چې په ټوپکو او مرمیو سمبال د مومندو اتیا زره (۸۰۰۰۰) جنګیالي جګړې ته تیار او د [بریتانوي]

---

۱۷ . کاتب، فیض محمد (۱۳۹۰) شمسی. سراج التواریخ، جلد چهارم، بخش سوم. انتشارات امیری کابل، ۳۲۷ مخ.

۱۸. د شمال لویدیزې صوبې د پټې استخباراتې روزنامچې ۴۰ مه ګڼه

هند په وړاندې د جهاد اجازه غواړي. خو امير پاچا ته هدايت ورکړې دئ چې مومندانو ته څرګنده کړي چې «تر هغې چې د هغوې پر سيمه تيرې شوې نه وي او د غير اسلامې طاقت له خوا د هغې د تخريش او سکون د خرابيدو دپاره کوم اقدام شوې نه وي، د مسلمانانو دپاره هيڅ داسې قانوني دليل نشته چې دښمنۍ ته لاس وغځوي. د افغانستان دواړو پولو ته دوه عيسوي ځواکونه پراته دي. څرنګه چې په قرآن شريف کې عيسويان اهل کتاب، خير خواه او د مسلمانانو ملګري ګڼل شوي، نو د هغوې سره غزا او مقدسه جګړه قانوني نده[19].

د ۱۹۱۵ م کال د مارچ په ۳۱ مه نيټه هم امير د اسلامپور د پاچا صاحب د تليفون په ځواب کې چه هره ورځ ورته قبايل مراجعه او د غزا د اجازې غوښتنه کوي، د يوه فرمان په ترڅ کې د جګړې پيل ځنډولې او غوښتلې چې د غلې د حاصلاتو د فصل تر رسيدو دې جګړه ونکړي، ځکه چې د جګړې دپاره خوراکي مواد اهميت لري.

د اپريل په مياشت کې هم د امير په لارښونه د ننګرهار چارواکو د افغانستان مومندانو او د هغوې ملايانو ته پيغام استولې او د هغوې نه يې غوښتنه وکړه چې د هر راز ستونزې د پيدا کولو نه ځان وژغوري.

د اپريل په ۱۲ مه نيټه هم د شمال لويديز سرحدي ايالت عالي کميشنر رپوټ ورکړې چې د مومندو سيمې ته ورغلي ټول سرې اوس بيرته په ننګرهار کې خپلو کورونو ته ستانه شويدي[20].

اروانباد فيض محمد کاتب هزاره د امير حبيب الله خان لخوا د فشار او د انګريزانو په وړاندې د جګړې نه د کونړ د مخورو روحانيونو د لاس اخيستلو په هکله ليکلي چې «د بتخاک د حضرت د ليکونو په خلاف، د غزا دپاره د مومندو د غرونو نه د اروانباد نجم الدين آخندزاده دمأذونانو، خليفه ګانو،

---

۱۹. په کابل کې د انګريزانو د ايجنټ (عامل) حافظ سيف الله د اکتوبر د ۲۴ مې نيټې رپوټ.

۲۰. د شمال لويديزې صوبې د پټې استخباراتې روزنامچې د اپريل د ۱۲ مې نيټې ۱۵ مه ګڼه.

سرکاڼو د مياصاحب او تيرګړو د سيد حضرت شاه په نومونو د ميرصاحب جان، مشهور په شيچ پاچا، لمسوونکي ليکونه رسيدلي دي. هغه ليکلي وو چې ټول خلک راغونډ او د جهاد دپاره د مومندو غريزې سيمې ته لاړ شي، اوميا صاحب او د تيرګړو حضرت په سرکاڼو کې سره يوځای او غزا ته د روانيدو تکل وکړ، نو پوځي برګډ زبردست خان د هغوی د تکل او مقصد نه خبر او دواړو ته وليکل چې «د پادشاه د امر او اجازت نه پرته غزا پيل نکړي، ځکه چې د افغانستان او انګريزانو دولتونه سره تړونونه او اړيکي لري، نو دا کار به هغه دولت زمونږ ددولت له لورې د تړون ماتول وګڼي. نو تر څو چې هغه دولت تړون مات کړې نه وي او د اسلام امير امر کړې نه وي، د شرعي لحاظه د انګريزانو سره غزا سمه نده. او هغوی هم د برګد زبردست خان د ليک له امله په سرکاڼو کې تم شول او د مومندو غريزې سيمې ته يې د نورو خلکو د ورتګ مخه هم ونيوله»[۲۱].

## د روحاني، پير، سيد، حضرت او پاچا په جامه کې د انګريزانو جاسوسان

څرنګه چې انګريزانو ته ددينې عقايدو په هکله د افغانانو احساسات څرګند وو، نو ددوی ددغو احساساتو څخه دناوړې استفادې دپاره يې زيار وويست تر څو دروحانيونو په جامه کې افغانستان ته خپل جاسوسان راواستوي. اروانباد غبار پدې هکله ليکي «کله چې دانګريزانو مسلمانه نوکران داباسين څخه تيريدل، نو هريوه به ځانته د ملا، مولوي، مولانا، پاچا او سيد لقب غوره کاوه، او دخلکو دغولونې دپاره به يې د "انګريزانو دمخالفت" بيرغ په اوږه کړې، او د اسلام ديووالي او هندوستان دخپلواکۍ دپاره سينه ډبوله. نو دوی به دافغانستان د خلکو او افغاني دولتونو لخوا په مينه او اعتماد سره قبليدل، او ځينې به دافغانستان دلوړ پوړو نظامي او ملکي مامورينو په ډله

۲۱. کاتب، فيض محمد (۱۳۹۰) شمسی. سراج التواريخ، جلد چهارم، بخش سوم. انتشارات اميری کابل، ۳۱۱ مخ.

کې شامیلیدل»[۲۲].

دآزاد سرحد په سیمو کې هم ، ځینې کسان د روحانیونو په جامه کې د انګریزانو سره په جګړه کې د ښکیل غازیانو په لیکو کې ځای پر ځای شوي وو. خو د هغوی اصلي موخه او هدف د انګریزانو او افغان حکومت دپاره جاسوسۍ او د غازیانو په لیکو کې تخریب او د نفاق اچول و. پدې لړ کې داسې کسان هم وه چې ځانونه یې د کونړ سیدان ښودل. حال داچې د کونړ د سیدانو د نسب شجره، که هغه د سید جمال الدین افغان، سید هاشم پاچا او د اسلامپور د میرصاحب جان پاچا په شان د انګریزي استعمار مخالفین وو، او یا دکونړ د سید محمود پاچا په شان د انګریزانو پلوي او تنخواه خور، ټولو ته معلومه ده. یو شمیر نور کسان د پیر، سید، حضرت او پاچا په نامه د روحانیت په جامه کې د جاسوسۍ او تخریب دپاره د کونړ په بیلابیلو حساسو او مهمو ستراتیژیکو سیمو، لکه اسمارکې استوګنه غوره کړې وه، دوې د روحانیت د پردې لاندې هلته استول شوي وو.

د یوه داسې روحاني شخصیت زوې، چې د اماني دورې نه وروسته په افغانستان کې سترو لوړپوړو مقاماتو ته ورسید، په خپلو سیاسي خاطراتو کې لیکلي چې «زما پلار...د هډې ملا نجم الدین آخوندزاده ته د ارادت لاس ورکړې او د هغه مرید او خلیفه و. آخوند زاده ورته دنده ورکړه چې د کونړ په ولایت کې، چې یوه ګوښه او نا آرامه سیمه وه، اصلاحات او تبلیغات تر سره کړي، او هغه په دریو یا څلورو سیمو کې خانقاه ګانې او مدرسې جوړې کړې او خپل جانشینان او نور عالمان یې د اصلاح او تبلیغ په دندو وګمارل او خپل عمر یې تر ډیره حده د هغه ولایت د بیلابیلو سیمو په ګرځیدو راګرځیدو او یا هم د بریتانوي هند د سرحدي سیمو په جنګ او جګړو کې تیرولو... دا خانقاوې یوازې د عبادت ځایونه نه وو، بلکې د هغې په څنګ کې د خلکو د اداري او لارښوونې مرکزونه هم ګڼل کیدل».

---

۲۲. غبار، میر غلام محمد (۱۳۶۲). افغانستان در مسیر تاریخ، **۴۵۵** مخ

د کونړ خلک او د سيمې پوهان ټول پوهيږي چې په کونړ کې نه پخوا کومه خانقاه وه او نه اوس کومه خانقاه شته ، او د کونړ د خلکو مطلق اکثريت د خانقاه د نوم سره پيژند ګلوي نلري. د يو څو راتلونکو مؤثقه اسنادو په رڼا کې په څرګنده ليدل کيږي چې :

1. دا د خانقاوو د جوړيدو او خلکو د اداري او لاربښــوونې په نوم مرکزونه پرته د «جاسوسۍ د مرکزونو» څخه بل څه نه وو.
2. د موجودو اســنادو او مـدارکو لـه مخې د ملا نجم الـدين آخنـدزاده د خلفاوو او مشهورو مريدانو نومونه څرګند او ښکاره دي، نو ويلای شو چې د ذکر شوو خاطراتو د ليکونکي پلار او تره د هغې د ملا نجم الدين آخندزاده صـــاحب لخوا ، چې د امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ په دوره کې د خپل وخت د انګريزانو مخالف مشهور روحاني و ، هلته ليږل شوي نه و ، بلکې د انګريزانو لخوا به هغې سيمې ته استول شوي و [۲۳].
3. ليدل کيږي چې د دغه روحاني ډوله شخصيت د ندې هم د کونړ په حساسه او مهمې ســيمې کې اصــلاحات او تبليغات نه وو ، بلکې د معلوماتو او اطلاعاتو ټولول به وو.
4. د هغه ولايت په بيلابيلو ســيمو کې د ګرځيدو راګرځيدو او بريـتانوي هند سـرحد [؟] څخه د کتنې مقصـد او هدف هم جنګ او جهاد نه و بلکې د آزاد سـرحد په سـيمو کې د غازيانو د تګ راتګ جاسـوسـی و مخبری وه.

## د مومندو په آزادي بخښونکو جګړو کې د غازي مير زمان خان ګډون

د افغانستان د ختيځ سرحد په قبايلي سيمو کې چې د انګريزانو په ضد د جهاد کوم چاپيريال جوړ او خوځښت پيل شوې و ، دافغانستان په پولوکې دننه

۲۳. د هغې د ملا صاحب د خليفه ګانو او مشهورو مريدانو لست د «واکنش های مذهبی و تحولات اجتماعی در افغانستان» په کتاب کې، چې ميرمنې سنزل نويد ليکلې او ښاغلي محمد نعيم مجددی ژباړلې دئ، په ۲۷۱ مخ کې کتلای شئ.

ميشتو خلکو ته، چې د انګريزانو د ګوډاګې اميرانو تر پنجې لاندې يې ژوند تيراوه، هم دا زمينه برابره کړه چې، په پټه او يا ښکاره، دې مبارزو او پاڅونونو کې برخه واخلي. پدې لړ کې د غازي ميرزمان خان ټولې کورنۍ هم د آزاد سرحد په قبايلي سيمو، خصوصا کونړ سره نږدې سيمه، کې د آزادۍ غوښتونکو جنګياليو سره کلکې اړيکې درلودې او د هغوې د پاڅونونو او مبارزو ټينګ ملاتړ يې کاوه.

پداسې حال کې چې د غازي ميرزمان خان دکورنۍ نورو غړو به د جنګياليو غازيانو دخوراک او آذوقې دپاره خپله شتمني په خاصه توګه د سرکانړو د ميا صاحب په وسيله ددوې په واک کې اچوله، خپله غازي ميرزمان خان به په ښکاره د خپلو جنګياليو ملګرو سره د ډيورنډ د کرغيړنې ليکې تيريده، او د مومندو په وسلوالو مبارزو کې به يې عملي ونډه اخيستله.

## د ۱۹۰۸ م کال په سرې غزا کې ګډون

دلومړي ځل دپاره په صوبه سرحد او افغانستان کې د غازي ميرزمان خان د نوم او شهرت انګازې هغه وخت خپرې شوې کله چې يې په ۱۹۰۸ م کال کې د انګريزانو په وړاندې د مومندو په مشهورې او تاريخې "سرې غزا " کې د غازيانو د يوه وتلي مشر په توګه برخه واخيستله [۲٤]. دا غزا، داقرب په ډاګ کې د بتخاک د حضرت صاحب(عبدالشکور) په مشرۍ سرته ورسيده.

همدغه شهرت او د انګريزانو سره دښمني د ځوان شهزاده امان الله خان (عين الدوله) سره د پيژند ګلوۍ سبب شوه. هغه پيژند ګلوي چه د وخت په تيريدو او ګڼ شمير ازميښتونونه وروسته په کلکې دوستۍ بدله او د ژوند تر پايه يې دوام درلود [۲۵].

---

۲٤. اخلاص، عبدالخالق (۲۰۰۵م)، ۹۳ مخ
۲۵. هماغه ځای

## د سرې غزا د جريان لنډيز

د انګريزانو په رسمي اسنادو کې د ۱۲۸۷ لمريز هجرى/۱۹۰۸ م کال د سرې غزا په هکله دا لاندې معلومات خپاره شوي دي:

«په تيرو څو اونيو کې د پيښور په شمال لويديز کې د مومندو په سيمه کې د خورا زياتو ناکراريو نښې ليدل شويدي. دا سې څرګنديږي چې د 'زخه خيلو ' په سيمه کې د وروستنيو جنګي سفربريو په موده کې ملايانو د مومندو په قبايلو زور اچولې تر څو د حکومت په مقابل کې د زخه خيلو سره يوځاې شي. د دوې هلې ځلې، سيمې ته د يوه کوچني لښکر په ليږدولو کې بريالۍ شوې، خو دوې د عملياتو سيمې ته ډير ناوخته راورسيدل، ځکه چې {زمونږ پوځي} عمليات په ډيرې چټکۍ سره پاې ته رسيدلي وو. څرګنده ده چې راپاريدلو قبايليانو په آسانۍ سره بير ته ستنيدو ته زړونه نه ښه کول، نو سملاسې نتيجه يې د مارچ د مياشتې تر پايه د مومندو او پيښور په سرحدي سيمه د بريدونو يوه لړۍ وه... د دې بريدونو په نتيجه کې د ملکې چاروا کو په غوښتنه په ابازيو او شبقدر کې پرتو پوځي ټولګيو ته مرسته ورسول شوه او د ښارنې (ګزمې) د پاره د پوځي پوليسو د وزګارولو په مقصد د 'متې مغل خيلو ' په سيمه کې يو پوځې لښکر کوټ جوړ شو».

د اپريل ۲۰/۱۹ (د ۱۲۸۷ کال د حمل د مياشتې په ۳۱/۳۰ ) شپه انګريزانو ته خبر ورسيد چې مومند په سرحدي پوستو د حملې تيارې نيسي، د دواړو خواوو ترمنځ ډزې لا پخوا پيل شويدي او په متې کې انګريزي قواوو ته د سرزيان اوښتې دئ. د اپريل د شلمې نيټې په سهار د 'جيمز ويلکوکس ' (James Willcocks) په ملتيا د ټولو وسله والو قواوو په ګډون شبقدر ته د مرستې د پاره لښکرې واستول شوې ، او د نوښار نه پيښور ته د هغو قواوو د ځاې د ډکولو د پاره عسکر واستول شو ، چې اوس يې د مومندو د سرحد د ښارنې دنده ترسره کوله. اټکل شوې وو چې د راټول شوو قبايلو شمير لس زره (۱۰۰۰۰) تنو ته رسيده ، خو دا شمير د افغانستان د خاورې په ګډون هر لورې نه د

جنګیالیو په رارسیدو سره په چټکۍ مخ په زیاتیدو دئ ۲۶.

داپریل په ۲۰-۲۳ مه (دحمل په ۳۱- ثور ۳)نیټه دمومندو سرتیرو ډزې د انګریزانو دشاهي صحرایي توپخانې د اتلسمې او اتیاومې بطریې د توپونو د ډزو له امله له لرې روانې وې، انګریزانو دلومړې ځل دپاره د ۱۸ پونډه چټک ویشتونکو توپونو نه کاراخیستلو. په مختلفو پوستو د شپې لخوا حملې او ډزې روانې وې.

انګریزان لدینه چې مومندو د کال پدې وخت کې، چې د غَلو دانو د حاصلاتو د ټولولو موسم و، داسې ښکاره دښمني پیل کړې وه هک پک شوي وو. د سرحد قبایلو ته د غَلو دانو د حاصلاتو له لاسه ورکول ډیره غټه ستونزه وه، او هغې ته غاړه ایښودل پخپله د جنګیالیو د ټینګ عزم یوه څرګنده نښه وه.

دانګریزانو سره په دې غزا کې د مومندو د ملاتړ دپاره د ننګرهار او کونړ نه هم یو لوې لښکر تیار شو ۲۷. پدې لښکرو کې د کونړ دمیرزمان خان په مشرۍ یوه ستره ډله هم شامله وه. انګریزان پدې خبر اوخپه وو چې ولې د افغانستان د امیر سرحدي مامورین د سرحد نه په تیریدو کې د غازیانو مخه نه نیسي، کوم چې ددوې دښمنانو ته د مادي او معنوي مرستې معنی درلوده ۲۸. دزخه خیلو د عملیاتو په لومړي سر کې امیر حبیب الله خان دیوه فرمان په ترڅ کې خپلو خلکو ته ویلي وو چې د سرحد نه تیر نشي او د انګریزانو سره د سرحدي قبایلو په دښمنۍ کې ګډون ونکړي. خود هغه د ممانعت سره- سره، او دجګړې سیمې ته د هغه د نژدیوالي ، یعنی په جلال آباد کې د موجودیت با وجود ، ګڼ شمیر غازیان د سرحد نه تیر شول او په جګړه کې یې ګډون وکړ ۲۹.

داپریل په ۲۲/۲۳ (ثور ۲- ۳)شپه په 'مَټه' کې یوه عجیبه پیښه وشوه. د

---

۲۶. Nevill, H. L. (1977)، ۳۳۸ مخ.

۲۷. Khalil, Jehanzeb (2000)، ۲۳۹ مخ

۲۸. هماغه ځای

۲۹. Keppel, Arnold (1911)، ۲۹ مخ.

پایونیر (Pioneer) د خپروني د خبریال په وینا [۳۰] په هغه شپه د غازیانو د ډزو له امله د عسکري کمپ د رسالې (سپرو قواوو ) آسونو د ناځاپي ویرې له امله تېیل ناتېیل جوړ کړې او د کمپ نه په چاپېرشوي اغزن سیم ورغلل. په دغه پېښه کې لس (۱۰) آسونه مړه او نور داسې سخت ټپیان شول چې دوې یې په ویشتلو مجبوره شول.

داپریل په ۲۳ مه نېټه د انګریزانو د میچنی–ابازی کرښه دتوپچي او پیاده قوواوو لخوا نوره هم تقویه شوه، او د غازیانو د ډارووونکې طاقت له ویرې انګریزانو د پېښور دوو مکملو غونډونو، دفرقې قواوو، او احتیاط غونډ ته د حرکت امر ورکړ. ډګر جنرال اندرسن، تورن جنرال باریت او تورن جنرال رامزي د غونډونو قوماندانې په غاړه درلوده[۳۱]. دخیبر او ملکنډ دګرځنده پلټنو دقطارونو د بشپړه تیاري حکم هم وشو تر څو د ضرورت په صورت کې چمتو اوسي. د ملکنډ د صحرایي قواوو جوړښت په راتلونکي جدول کې کتلای شئ[۳۲].

داپریل د میاشتې په ۲۴/۲۳ (ثور ۳-۴ )شپه غازیانو د مَتې او سردار ګړهۍ په پوستو باندې سخته حمله وکړه خو د اغزن سیم له کبله یې ونشو کړای چې د جنرال اندرسن د غونډ لښکرو ته ماتې ورکړي، ډزې د نیم ساعت دپاره روانې وې، خو دښې پناه (خوندي پوښښ) ددرلودو له امله د انګریزي قواوو تلفات زیات نه و. تردې وروسته غازیانو د 'مَتې ' شمال لویدیزې ته خپلې مورچلې جوړې کړې او د سهار په شپږنیمو بجو یې د جیمز ویلکاکس قواوو سره سخته جګړه وکړه. د انګریزي رسمې منابعو په حواله په دغه جګړه کې د انګریزانو تلفات ۲۲ تنه او د پښتنو شهیدانو شمیر ۵۰۰ تنه اټکل شویدئ [۳۳].

انګریزي چارواکي اعتراف کوي چې ددې جګړې له امله دبریتانوي هند

---

۳۰. د ۱۹۰۸ کال د اپریل د میاشتې د ۲۵ مې نیټې خپرونه

۳۱. Keppel, Arnold (1911)، ۳۱ مخ

۳۲. Nevill, H. L. (1977)، ۳۳۸ مخ

۳۳. Nevill, H. L. (1977)، ۳۴۰ مخ

دشمالي پوځ ټول هغه منصبداران چې په هندوستان کې دننه یې خپلې رخصتۍ تیرولې بیرته راوغوښتل شول او په لنډه موده کې د یوې سترې قوې د راټولولو ټولې تیارۍ نیول شوې وې. دوې زیاتوي چې که چیرې زمونږ دفاع لږه هم کمزورې وای، یا د مرستیالو قواوو په رسولو کې ځنډ پیښ شوې وای، نو بیا به د [ماتې له امله] ګاونډیانو په وړاندې زمونږ حیثیت او آبرو ته سخت زیان رسیدلای وای[٣٤]. تردې وروسته دځو ورځو د پاره جګړه سره شوه او داسې ښکاریده چې دافغانستان یو شمیر غازیان دخپلو شهیدانو د وړلو د پاره تللې دي.

لارد مینټو دحالاتو نه دافغانستان امیر خبر کړ او دهغې نه یې غوښتنه وکړه چې دافغانستان د خاورې نه هغه راغلي وسلوال جنګیالي بیرته ستانه کړي، کوم چې په جګړه کې برخه لري، او دانګریزانو په خاوره د راتلونکو تیریو مخه ونیسي. امیر د انګریزانو په غوښتنه سخت احکام صادر کړل چې ځوک تردې وروسته د انګریزانو خاورې ته تیریدې نشي او هغه کسان یې بیرته ستنند یدو ته وبلل، کومو چې دمومندو سره په غزا کې ګډون کړې و[٣٥]. ده د افغاني لښکرو د مشرانو په وړاندې سخت اقدامات هم وکړل[٣٦، ٣٧]، ددغو اقداماتو په نتیجه کې، لکه وروسته چې به ولیدل شي، د کونړ غازي میرزمان خان هم د انګریزانو د خوشالولو دپاره بندي کړای شو. انګریزي چارواکي د امیر حبیب الله خان ددې کار نه خوشاله او هغه ته یې د مننې یو لیک واستاوه.

انګریزانو اوس غوښتل چې د قبایلو سره د روغې جوړې کوښښ وکړي. دوې د مومندو د یوې جرګې د راغوښتلو هڅه وکړه، خو د مومندو ملکانو د راتګ نه ډډه وکړه. مینټو بیا دانګریزي لښکرو مشر سر جیمز ویلکاکس ته هدایت ورکړ چې ددې موقع نه په استفادې سره کوښښ وکړي چې دمومندو خاورې

٣٤. هماغه ځای، ٣۴١ مخ
٣٥. Khalil, Jehanzeb (2000)، ٢۴٠ مخ
٣٦. Baha, Lal (1978)، ٧۵ مخ
٣٧. اخلاص، عبدالخالق (٢٠٠۵م) ٩٣ مخ

کې پرمختنګ وکړي، او دوي نه خپله بدله واخلي خو د وې ته د ۱۸۹۷م کال هغه سبق ورپه یاد و، کوم چې د هډې د ملا صاحب په مشرۍ غازیانو د انګریزي اتمې فرقې جنرال ایلیس (General Elles) ته ورکړې و. دوې په ویرې او احتیاط مخ ته تلل، او زړه یې نه ښه کاوه چې په لومړۍ ورځ د "کرَپې" په سخت پیچومې ورشي.

دمې د میاشتې په ۱۱ (دثور دمیاشتې په ۲۱ مه )نیټه، ویلکاکس دیوه لوې لښکر سره په دې نیت روان شو چې د مومندو سره ددوې په درو او غونډیو کې جګړه وکړي. په دې جګړه کې د الوتکو نه هم استفاده وشوه [۳۸].

مې دمیاشتې په ۱۷/۱۲ (ثور په ۲۲-۲۷ ) شپه دانګریزانو د لومړي غونډ په قواووباندې په داسې حال کې یوه سخته حمله وشوه چې هوا سخته توفاني او شدیده باران وریده. پدې حمله کې د پنجابیانو ۲۲ ام کنډک ته زیات تاوان ورسید او انګریزان مجبوره شول چې د شپې د لسو او یولسو بجو ترمنځ ورته مرستیال قوتونه ورورسوي. سخته جګړه تر یوه بل ساعته هم روانه وه. دانګریزانو تلفات پدې شپه نهه (۹ ) تنه مړه او څلرویشت (۲۴ ) تنه زخمیان ښودل شویدي.

دمې دمیاشتې په ۱۸مه(ثور ۲۸ مه ) نیټه کومه جګړه ونه شوه، خو انګریزانو د سیمې دکلو ورانولو، داوبو د ذخیرو له منځه وړلو او دحاصلاتو سیځلو ته دوام ورکړ. جنرال باریت د مومندو په سیمه کې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ او د خویزو د حاصلخیزې سیمې 'بهایي ډاګ' ته ورسید. غازیان ټوله ورځ د جنرال باریت سره په جګړه بوخت وو، د کومې په نتیجه کې چې د انګریزي قواوو تلفات دري دیرش (۳۳) تنو ته ورسید. انګریزانو د پنجابیانو داته ویشتم او وسله وال پنځه پنځوسم کنډک په مرسته د خپل عسکري کمپ شاوخوا غونډۍ دغازیانو نه ونیولې. انګریزي قواوو دمومندو دوه کلي او دوه برجونه ویجاړ کړل، خو ناڅاپه د دولسو تنوغازیانو دیوې ډلې تر سختې حملې لاندې راغلل. ددې حملې او لاس په لاس جګړې په ترڅ کې دانګریزي قواوو څخه درې تنه مړه او دوه تنه زخمیان شول، او په پای کې دولس واړه

---

۳۸. Khalil, Jehanzeb (2000)، ۲۴۰ مخ

غازيانو د شهادت جامونه وڅکل.

دمې دمياشتې په ۲۰/۱۹ (دثور ۲۹-۳۰) شپه دصافو يوې ډلې د 'ناحقي' په کمپ حمله وکړه. پدې مهال جنرال اندرسن د کمپ قوماندانۍ په غاړه درلوده.

دمې دمياشتې په ۲۰ مه (ثور ۳۰مه) نيټه ناحقي کمپ ته د دوهم غونډ په راستنيدو سره جنرال اندرسن د شمال په لورې وخوځيدا او غونډ يې د 'عمرا' په کلي کې د دويزو، صافو او اتمانخيلو د يوې ډلې د سختې مقابلې سره مخامخ شو، کومو چې د يوې غونډۍ په سر مورچه نيولې او مخې ته يې يوه ژوره نالې وه. غازيان چې دښي لورې د اوه پنځوسم وسله وال کنډک، د چپ لورې د سکهانو د دري پنځوسم کنډک او په منځ کې د اتم نمبر غرنې توپچي قواوو تر حملې لاندې راغلې و، د خپل سنگر نه په شا شوو، خو کله چې انگريزي لښکرې بيرته کلي ته ستنې شوې، نو دوې هم ورپسې راستانه او سخته جگړه يې وکړه. انگريزان اعتراف کوي چې که څه هم د دښمنانو (غازيانو) نه دوه سوه تنه مړه شول، خو دوې په ډيرې ميړانې، توري په لاس جگړه کوله، او کله به زمونږ قواوو ته سل گزه نږدې رانتوتل. دشپې لخوا څه نوره جگړه هم وشوه، خو کومه خاصه نتيجه يې ورنکړه.[۳۹]

دانگريزانو درسمي اسنادو په وينا دمې دمياشتې په ۲۳مه (جوزا ۲مه) نيټه دآزاد سرحد دقبايلو يوې دوه زره کسيزې قوې دامبار دسيند ښي لورې ته د انگريزي قواوو په مقابل کې ټينگې مورچلې نيولې وې او د دوې د اوه پنځوسم وسله وال کنډک، يوويشتم سپور کنډک او اتم نمبر غرنۍ توپچي قواوو سره يې جگړه وکړه.

دمې د مياشتې په ۳۱ مه (جوزا په ۱۰مه) نيټه سره غزا هغه وخت پای ته ورسيده کله چې د جيمز والکاکس انگريزي لښکرې په شا تگ او ستنيدو ته مجبوره شوې. د انگريزي قواوو د وروستنيو شلو ورځو تلفات ۵۲ مړه او ۴۲ زخميان او د هندي قواوو تلفات ۴۵ مړه او ۱۷۲ تنه زخميان ښودل شويدي.

---

۳۹. Nevill, H. L. (1977)، ۳۴۵ مخ.

مونږ سره کوم باوري اسناد نشته، خو انګریزان اټکل کوي چې په همدې موده کې ۴۰۰ تنه غازیان وژل شوي او ګڼ شمیر زخمیان شویدي.

### د۱۹۰۸ کال په سرې غزا کې ګډون کوونکې انګریزي قواوې دقواوو قوماندان تورن جنرال سر جیمز ویلکاکس[۴۰]

**دلومړی غونډ قوماندان ډګر جنرال اندرسن :**

- د نارتمبرلین فیوزیلیر لومړې کنډک (وروسته یې د پنجابیانو دوه ویشتم کنډک ځای ونیو)
- دسکهانو دري پنځوسم کنډک
- د وحشي سپرو اوه پنځوسم کنډک
- د ساېند سپرو نهه پنځوسم کنډک

**د دوهم غونډقوماندان تورن جنرال باریت (Major-General Barrett) :**

- د سي فورت هایلیندر لومړې کنډک
- د پنجابیانو اته ویشتم کنډک
- د کوکس پنځه پنځوسم نمبر وسله وال کنډک
- مخکښنه سپاره چې وروسته یې ځای د سکهانو څلورپنځوسم کنډک ونیو

**د دریم غونډ قوماندان ډګر جنرال رمزي (Brigadier-General J. Ramsay):**

- د شاهي منستر فیوسیلر لومړې کنډک (وروسته یې ځای د ویست یوکشیئر لومړي کنډک ونیو)
- د پنجابیانو یوویشتم کنډک
- دپنجابیانو دوه ویشتم کنډک (وروسته یې ځای د پنجابیانو نولسم کنډک ونیو)

---

۴۰. Nevill, H. L. (1977)، ۳۳۹ مخ.

- د پښتنو څلوېښتم کنډک

**د فرقې قواوې:**

- د سپرو يوويشتمه قوا
- د شاهي لښکر کوټ د توپچي اتم نمبر غرنۍ بطريه
- د پيښور درويشتم نمبر غرنۍ بطريه
- اته ويشتم نمبر غرنۍ بطريه
- د کنډر وهلو او ماين ښخولو لومړۍ او شپږم نمبر قوا
- د سکهـ مخکښانو څلوردېرشمه قوا
- يو محلي صحرائي روغتون

ديادونې وړ ده چې د هر غونډ سره د انګريزي صحرايي روغتونونو دوه برخې، يو محلي صحرايي روغتون او دغونډ د لوژستيک قطار ملګري وو.

## تر ۱۹۱۵م (۱۲۹۴) کاله په مومندو او آزاد سرحد کې د جګړې سريدل

د ۱۹۰۸م (۱۲۸۷المريز هجري) کال د سرې غزا نه وروسته د لومړي نړيوال جنګ تر پيله، که څه هم کوچنۍ پيښې او خال خال ډزې کيدې، خو په مومندو او نورو قبايلي سيمو کې وضعه آرامه وه. انګريزي چارواکي وايي چې په دې موده کې د آزاد سرحد دقبايلو د پاڅونونو د خپريدودمخنيوي درې مهم علتونه وو:

۱. دامير حبيب الله خان رويې تر زياتې اندازې پورې دغازيانو دحملو په مخنيوي کې مرسته وکړه. امير د زړه له کومې، که څه هم تل بريالې نه و، زيار وويست چې د خپل قلمرو نه د غازيانو دتيريدو او انګريزانو ته د ستونزو د جوړولو مخه ونيسي[41]. روز کيپل (Roos-Keppel[42])

---

۴۱. Baha, Lal (1978). مخ ۸۷.

۴۲. George Olaf Roos-Keppel لومړې د کرمې او خيبر ايجنسيو د پوليټيکل ايجينټ په توګه کار کړې او وروسته د ۱۹۰۸ او ۱۹۱۹ کلونوو په موده کې درې ځل د شمال مغربي سرحدي ايالت چيف کميشنر وو، او دافغان-انګيس په دريمه جګړه کې ډير شهرت ته ورسيد.

د۱۹۱۵ کال د اپریل د میاشتې په دیرشمه نیټه د بریتانوي هند دچارو د پاره سکرتر ته ولیکل چې «که چیرې امیر په وخت اقدامات ترسره کړی نه وي، نو د جهاد داور لمبې خپریدې، او د ټول ننګرهار، مومند او باجوړ سیمو به پاڅون کړي وای. اعلیحضرت د ملایانو او جهاد دپارتۍ په وړاندې غیر عادي زړورتیا وښوده، خپل محبوبیت ته یې زیان ورساوه، خو دې کار سره یې مونږ ته ډیر لوی خدمت وکړ».

2. بل عامل چې دانګریزانو په ګټه و، د خیبر ایجنسۍ د مرستیال پولیټیکل ایجینټ، صاحبزاده عبدالقیوم خان، په مرسته او بې نظیره کوښښونو په جګړو کې د افریدو دګډون مخنیوې او هغه چلند و، چې انګریزانو ځانته د هغوې وفاداري ګڼله. روزکیپل دبریتانوي هند نائب السلطنه لارد هاردینګ (Lord Charles Hardinge) ته اطلاع ورکړه چې که مونږ ددې ډیر مهم کال نه په خیر سره تیر شو، نو دا به، زما په ګډون، د بل هر چا نه، بلکې د عبدالقیوم خان له برکته وي[٤٣].

3. دانګریزانو په ګټه بل عامل په اوارو سیمو کې د خانانو، اربابانو او نوابانو همکاري او مرسته وه. دوې د قبایلو د جهادي عملیاتو په مقابل کې په خپله خوښه د انګریزانو مرسته کوله. روزکیپل د ۱۹۱۵م کال د اپریل په پنځمه (۵) نیټه دبریتانوي هند نائب السلطنه لارد هاردینګ ته ولیکل چې:

«دپیښور د ولسوالۍ ډیرو وتلو خانانو، لکه څنګه چې ددوې پلرونو او نیکونو د تیرو الو ګولو په وخت کې کړي و، مونږ ته د خدمت دپاره دپَلُو (پیاده) او سپرو د برابرولو وړاندیز وکړ. حالات د ۱۸۵۷ کال راهیسې بدل شویدي. په هغه وخت کې به دوې خپلې وسلې درلودې، خو اوس باید حکومت دوې ته وسلې ورکړي...»

کله چې د ۱۹۱۵ کال د اپریل د اتلسمې (۱۸) نیټې مشهوره جګړه پیل شوه نو

43 .Baha, Lal (1978) مخ ۸۸، (Roos-Kepple to Hardinge, 19 July 1915, R. P.

د پيښور او ډيره اسمعيل خان د ولسوالۍ نوابانو، اربابانو او خانانو په خپله خوښه د انګريزانو مرستې ته راودنګل او د مومندو په مقابل کې د جګړې دپاره شبقدر ته حاضر شول.

د نړيوالې جګړې په پيل کېدو سره دبريتانوي هند سياسي اوضاع بدله شوه. سياسي مشرانو د خپلو سياسي دريځونو په اساس تحريکونه پيل، او غازيانو دجګړې دپاره ځانونه چمتو کول. دترنګزو حاجي صاحب هم د اوارې سيمې نه لومړۍ ملکنډ ايجنسۍ او بيا د مومندو سيمې ته هجرت وکړ او په "لکړو" کې يې د غازيانو مرکز جوړ کړ.

## د١٩١٥ م (١٢٩۴لمريز) کال د شبقدر په مشهورې غزا کې ګډون

غازي ميرزمان خان د د شبقدر د **١٩١٥** م / ١٢٩۴ لمريز کال په جګړه کې مهمه ونډه درلوده. دمارچ په مياشت کې دغازيانو وتلي مشران لکه د چکنور ملا صاحب، د اسلامپور پاچا صاحب (مير صاحب جان) او د بابړې ملا صاحب د مومندو او باجوړ په ټوله سيمه وګرځېدل او خلک يې د انګريزانو په مقابل کې جګړې ته وهڅول.

د اپريل په مياشت کې د افغانستان د پولې د ننه هم ګڼ شمير خلک جهاد ته تيار شول. کله چې غزا ته د افغانانو د تياريو خبر انګريزانو ته ورسيد، نو دبريتانوي هند د خارجي چارو دفتر امير حبيب الله خان ته لاندې تلګرام واستولو:

«مونږ ته خبر رارسيدلې چې د چکنور ملا او نورو ملايانو په پارونه او لمسون ستاسې اعليحضرت په سيمه کې مومندو دهزارناو، لالپورې، چارده، ګوشتې، چکنور او باسول ګڼ شمير سړې په کوډاخيلو کې راټول شوي او د انګريزانو په خاوره د حملې هڅه کوي. زه اطمينان لرم چې که دا خبره رښتيا وي، تاسې اعليحضرت به سمدلاسه ددې قبايلي قواوو د خپريدو، او لمسوونکو ته د جزا اوامر صادر کړی. که چيرې دا قبايلي قواوې د نګريزانو په خاوره تيرې وکړي، نو سخته سزا به ورکړ شي. او زه پوهيږم چې تاسې

اعلیحضرت هم زما په شان د بې ځایه وینو د توئیدو د مخنیوي د پاره پریشانه یاست»[٤٤].

داپریل د میاشتې په (۱۷) اولسمه (حمل دمیاشتې ۲۷مه) نیټه دمومندو لښکر د شاکوتل او ښاپښې تر منځ راټول شوې او په شبقدر باندې د حملې دپاره د کړَپې او ګنداب په لوري روان شو. په لاره کې ورسره دملک ماسل خان (محصل خان) کوډاخیل لښکرې هم ملګرې شوې[٤٥].

داپریل د میاشتې ۱۸ مه (حمل په ۲۸مه) نیټه د مومندو لښکر پر انګریزي قواوو برید وکړ. پدې جګړه کې د انګریزانو سره د ټول صوبه سرحد نوابانو او خانانو هم مرسته کوله. د یوه تلګرام په ترڅ کې چیف کمیشنر ته د حالاتو د تشریح کولو په ترڅ کې پولیټیکل ایجینټ ولیکل چې «نن، د اپریل د میاشتې په (۱۸) اتلسمه نیټه، دبابړې ملا تر مشرۍ لاندې قبایلي قواوو دانګریزانو په خاوره د برید کولو کوښښ وکړ، او ددوې حمله د پیښور د کتارونو له خوا په شا وتمبول شوه. زمونږ د توقع په خلاف، دښمن بې نظیره زړورتیا او تکړه توپ وښود. که څه هم دوې د موقعیت له پلوه برلاسې لري، خو زمونږ په عقیده ددوې تلفات زمونږ په نسبت ډیر زیات دي».

په دې جګړه کې، دانګریزي رپوټونو له مخې، د دواړو خواوو تلفات په لاندې ډول ذکر شویدي:

- دانګریزانو له خوا پنځه(۵) منصبداران او پنځه ویشت(۲۵) عسکر مړه شوي او لس (۱۰) منصبداران او پنځوس(۵۰) عسکر ټپیان
- د غازیانو لخوا یوسلو پنځوس(۱۵۰) تنه شهیدان[٤٦]

دمی او جون (ثور او جوزا) په میاشتو کې چې د جګړې اور په اروپا کې پیل

---

44 .File No. 8-A (1915-1916) Tribal Research Cell Home Department, N.W.F.P., pp..8-10.

۴۵. هماغه ځای۱۹-۲۸-۲۹ مخونه

46 .File No. 8-A (1915-1916) Tribal Research Cell Home Department, N.W.F.P., pp..38-39, 41-42, 51.

شوې و، او سراج الاخبار هم په خپلو خپرونو کې بريتانيا او روسيه د اسلام دښمنان بلل، انګريزانو ځانونه نيکمرغه ګڼل چې امير حبيب الله خان نه يوائې په لومړۍ نړيواله جګړه کې خپله بې طرفي ساتله، بلکې افريدو هم ځانونه نه ښورول.

له نظامي پلوه، روان کال د بريتانوي هند دپاره يو ځورووونکې او ربړوونکې کال و. د بريتانوي هند حکومت د بريتانيا دمرکزي حکومت د هغه پرلپسې غوښتنو په وړاندې مقاومت ښوده چې بهرته د هندوستان نه لښکرې ورولېږي . د هندوستان نه د ځينو لښکرو لېږل په سرحد کې دانګريزي دريو ميشتو فرقو کفايت تر زياتې اندازې پورې هغه وخت متاثره کړې و، کله چې ددوې د ځايونو د ډکولو دپاره ټيټې او ادنا هندې لښکرې استول شوې وې . دهاردينګ په عقيده غازيانو محلي هندوستانې لښکرو ته اهميت نه ورکاوه[47].

دجولاى (اسد ) په مياشت کې د بريتانوي هند نائب السلطنه لارد هاردينګ (Lord Charles Hardinge) او دبريتانوي لښکرو عمومي قوماندان بيوچمپ ډف (Beauchamp Duff) دواړو د سرحد د وضعې په هکله سخته نګراني وښوده او لدې ځايه يې د هر ډول عسکرو د ويستلو سره کلک مخالفت وښود. پدې وخت کې په هندوستان کې دانګريزانو د عسکري قواوو اته(۸) لښکرې موجودې وې چې ټولې په سرحد کې ځاې په ځاې شوې وې. د هاردينګ په عقيده، که دنړيوالې جګړې په هکله سوله منځ ته رانشي، نو د سرحد د حالاتو سره مقابله امکان نلري[48] .

دانګريزانو د استخباراتې رپوټونو په اساس په هماغه وخت د امير حبيب الله خان يو داسې پيغام هم په خلکو کې خپور شو چې ګواکې امير د جهاد اعلان ندې کړې او په دې کمپاين کې بايد د هغه نوم استعمال نشي[49] . د بريتانوي

47 .Baha, Lal (1978)مخ ۸۸ ،(Harding to Chamberlain, 2 Juky, 1915, H. P.

۴۸. هماغه ځاى

۴۹. هماغه رپوټ، ۱-۸ مخونه

هند د پټو استخباراتي اسنادو له مخې دا هم څرګندېږي چې د امير حبيب الله خان د اقداماتو په لړ کې په جګړه کې د کونړي جنګياليو د ګډون د مخنيوي دپاره، دغازي ميرزمان خان بندي کول هم شامل وو.


په کابل کې د انګريزانو د هندوستاني استازي يا عامل د اپريل دمياشتې په رپوټ کې ليکل شوی دي چې «**ويل کيږي ميرزمان خان، د اسمار د درې يو متنفذه مشر، چې د هغې ولسوالۍ د سيمې د قوماندان برګډ [لوامشر] محمد سرور خان لخوا تر څارنې لاندې استول شوې و، کابل ته رسيدلې دئ . پر دغه لاربنود تور لګول شوې چې يو خو يې پر هند باندې د حملې تصميم نيولې، او بل يې د امير پر وړاندې د بغاوت تکل کړی دئ . ويل کيږي چې قوماندان همدا راز د اسلامپور د پاچا صاحب څخه هم شکايت کړی او پر هغه يې تور لګولې چې د خپل نفوذ لاندې قومونو کې خلک د هند پروړاندې غزا او ناکرارۍ ته لمسوي**» [۵۰].

غازي ميرزمان خان دا ځل د لس زره (۱۰۰۰۰) روپيو په نقدي ضمانت ، چې د شهزاده امان الله خان (عين الدوله) لخوا ورکړ شوې ، له زندانه خوشې شو. خو هغه له بنده د خوشې کيدو وروسته هم د انګريزي استعمار سره د دښمنۍ او خپلواکۍ سره د مينې له امله د امير حبيب الله خان د اخطارونو او ګوت څنډنو سره سره بيا هم د انګريزانو په وړاندې خپلې وسله والې مبارزې ته دوام ورکړ [۵۱].

د انګريزانو د هماغه کال د سپتمبر په رپوټ کې ليکل شوي چې «**د اسلامپور مير صاحب جان پاچا د کونړ د ملکي خان، خان [مير] زمان خان ، او ديرش تنو سپرو او تقريباً يو زر کسانو سره پدې اونۍ کې د بابړې د ملا سره د يوځای کيدو دپاره له خپلو کورونو حرکت کړيدئ .د بابړې ملا غواړي چې د شبقدر په پولو کې تازه ستونزې جوړې کړي، خو لا تر اوسه يې له مومندو کومه ستره مرسته ترلاسه کړې نده**».

---

۵۰. په کابل کې د انګريزانو د استازي محرمانه رپوټ (د ۱۹۱۵م کال د اپريل اتمه اونۍ.
۵۱. په کابل کې د انګريزانو د استازي محرمانه رپوټ (د ۱۹۱۵م کال د اپريل اتمه اونۍ.



**CONFIDENTIAL.**

No. 1016-P., dated Peshawar, the 24th September 1915.

From—The Hon'ble Lieutenant-Colonel Sir George Roos-Keppel, K.C.S.I., K.C.I.E., Chief Commissioner, North-West Frontier Province,

To—The Foreign Secretary to the Government of India in the Foreign and Political Department, Simla.

I have the honour to submit the North-West Frontier Provincial Diary No. 38 for the week ending the 18th September 1915.

**North-West Frontier Provincial Diary No. 38 for the week ending the 18th September 1915.**

I.—Afghanistan.

1. The Amir, with his family and several high Afghan officials, is still at Paghman.

2. Some twenty Austrian prisoners, who escaped from their detention camps in Russian Turkistan, are reported to have arrived at Mazar-i-Sharif, and are being detained there by the Afghan Governor.

3. Mir Sahib Jan Badshah of Islampur, accompanied by Khan Zaman Khan, Khan-i-Malki of Kunar, with some 30 sowars and about 1,000 men, is reported to have left his home during the week to join the Babra Mulla. He is trying to raise fresh troubles on the Shabkadr border, but has so far met with no great support from the Mohmands.

امير حبيب الله خان بيا هم د جنګياليو پر مشرانو فشار راوړ چې له جګړې لاس په سر شي او سمدلاسه کابل ته لاړ شي، خو غازی ميرزمان خان بيا هم د فرمان نه سرغړونه وکړه او د انګريزانو سره په جګړې او د لښکر د کمښت د پوره کولو په چارو بوخت شو.

د ۱۹۱۵ کال د سپتمبر (۱۲۹۴ کال د قوس) په مياشت کې د اسلام پور پاچا، ميرصاحب جان (شيخ پاچا) او د کونړ غازي ميرزمان خان د افغانستان نه د غازيانو يو لښکر برابر کړ.

عزيز جاويد د ترنګزو د حاجي صاحب په نامه د خپل اردو ژبې کتاب[۵۲] او ډاکټر جهانزيب خليل[۵۳] په ملکنډ او مومندو ايجنسيو کې د مجاهدينو د تحريک تر

۵۲. جاويد، عزيز (۱۹۸۱)، ۲۴۶-۲۴۷ مخونه

۵۳. Khalil, Jehanzeb (2000)، ۲۵۱-۲۵۲ مخونه

نامه لاندې هغه تحقیقي انګریزي کتاب کې چې د خپلې ډکتورا (پی ایچ ډي) دپاره یې لیکلي، د پېښور په آرشیف کې دچیف (مشر) کمشنر د استخباراتو دروزنامچې (ورځنیو یاداشتونو) د ۳۶ ګڼې د ۲۰۵ مخ، او د مرستیال کمیشنر د استخباراتو دروزنامچې د ۱۵ بنډل د ۳۷ ګڼې د ۲۵۲ مخ په حواله لیکې چې:

«دترنګزو حاجي صاحب د اسلام پور دمیرصاحب جان پاچا او دکونړ ملک میرزمان خان نه غوښتنه وکړه چې دافغانستان نه د غازیانو دلښکر سره ددوې مرستې ته ورشي. ددوې د درخواست په ځواب کې د غازیانو یو لښکر تیار او د سپتمبر دمیاشتې په دوهمه هفته کې دلکړو سیمې ته ورسیدل. د سپتمبر په پنځلسمه (۱۵) نیټه په لکړو کې یوه لویه جرګه جوړه شوه چې په هغې کې د صافو، میټې، موسی خیلو، کوډاخیلو، بئیزو او خویزو مشرانو ګډون کړې و. په دې جرګه کې د انګریزانو په قواوو دحملې فیصله وشوه او د جګړې یو جامع پلان جوړ شو. تر دې وروسته غازیانو د انګریزانو په پوستو متعددې حملې وکړې او انګریزي قواوو ته یې د سر او مال زیات زیان وړورساوه. ددې تلفاتو په بدل کې انګریزانو د برهان خیلو دکلي دبمبارۍ او سملاسي ورانولو حکم صادر کړ. ددې کلي دبمبارۍ په نتیجه کې که څه هم غازیانو ته زیاته ځاني او مالي خساره ورسیده، خو دوې خپل روحیات له لاسه ورنکړل او بله شپه یې د "کانګړې" په سیمه کې دانګریزانو په قواوو سخته حمله وکړه، او د سر او مال زیات زیان یې ورواړاوه. په دې حمله کې د برهان خیلو، منډي خیلو، کمالي او حلیمزو قبیلو فعاله برخه واخیسته. دانګریزانو قواوو ماتې وخوړه ، او شاتګ ته مجبوره شول، خو د تیښتې په وخت کې یې د مومندو کلو ته اور ونه هم واچول».

«غازیان اوس د شبقدر په لورې وخوځیدل. دشاوخوا غرونو نه دالله اکبر د نارو انګازې اوریدل کیدې. انګریزانو چې دغازیانو د طاقت اندازه ولیده، او دا طاقت ددوې د اټکل نه ډیر زیات و، نو پیښور سره نږدې د ابازیو په سړک یې خپلې دفاعي مورچلې ټینګې کړې. په عین حال کې غازیانو د پیښور،

بنو، ديره اسمعيل خان او هندوستان په نورو سيمو کې هم دانگريزانو په وړاندې د پاخون اعلانونه خپاره کړل» [54].

ډاکټر جهانزيب خليل [55] د پيښور په آرشيف کې د مرستيال کميشنر د استخباراتو دروزنامچې د ۱۵ بنډل د ۳۷ گڼې د ۲۵۲ مخ په حواله [56] ليکې چې دغازيانو د وسلو د ضروریاتو د پوره کولو دپاره، پاچا گل، ميرصاحب جان پاچا او د الينگار فقير دکونړ دغازي ميرزمان نه وغوښتل چې په پيسو د وسلو او کارتوسو د اخيستو او ترلاسه کولو دپاره کابل ته لاړ شي. دمومندو او مسحودو قبيلو ددې کار دپاره دولس زره (۱۲۰۰۰) روپۍ هم برابرې کړې وې.

دانگريزانو سره دغازي ميرزمان خان دښمني او دآزاد سرحد په آزادۍ غوښتونکو مبارزو کې دهغه درنده ونډه دانگريزانو څخه پټه نه وه. پدې جگړو کې انگريزانو خپل مخبران او جاسوسان هم د معلوماتو دراټولولو دپاره دغازيانو په بڼه مامور کړي و. دغو مخبرانو به دغازي ميرزمان خان دنقل او حرکت او جهادي فعاليتونو په هکله رپوټونه استول چې اسناد يې اوس هم دانگريزي استخباراتو په آرشيفونو، او دپيښور، اسلام آباد او هندوستان په آرشيفونو موجود دي.

انگريزانو لومړې دغازي ميرزمان خان او دهغه دزامنو او کورنۍ دوتلو غړو دتطميع کولو او جال کې دراگيرولو متعددې ناکامې هڅې وکړې، او کله چې يې دغه آزادۍ غوښتونکي دځان سره ملگري نکړای شول، نو بيا يې د هغوې په وړاندې په راز راز توطئو لاس پورې کړ. [57]

---

۵٤. د پيښور په آرشيف کې د مرستيال کميشنر د استخباراتو دروزنامچې د ۱۵ بنډل د ۳۷ گڼې د ۲۵۱ مخ

۵۵. Khalil, Jehanzeb (2000)، ۲۵۱-۲۵۲ مخونه

56 .Deputy Commissioner diry No. 37, bundle No. 15, p. 252

۵۷. دانگريزانو ددغو دسيسو په هکله مفصل معلومات دزماني دکورنۍ په ويب پاڼه کې د www.ZamaniFamily.org په پته ترلاسه کولای شئ.

## د غازي میرزمان خان بندي کیدل

دانګریزي ښکیلاکګرو سره د غازي میرزمان خان دښمني او د آزاد سرحد په وسله والو مبارزو کې د هغه ګډون د انګریزانو او د افغانستان د ګوډاګي حکومت له نظره پټ و. لکه چې وویل شول پدې جګړو کې د پیرانو، حضرتانو او سیدانو په جامه کې د انګریزانو مخبرانو او جاسوسانو هم د اطلاعاتو د ټولولو دندې درلودې. دې مخبرانو به د غازي میرزمان خان د جهادي فعالیتونو او تګ راتګ رپوټونه لیږل. د انګریزانو دا ډول محرمانه استخباراتي اسناد، چې اوس له محرمیته وتلي، د لندن، هندوستان او اسلام آباد په آرشیفونو کې موجود او مونږ یې په دغه کتاب کې وینو.

که څه هم تر اوسه په چاپ شوو آثارو او اسنادو کې راغلي دي چې غازي میرزمان خان د ډیورنډ د تحمیلي کرښې څخه په تیریدو او د انګریزانو په وړاندې د آزاد سرحد د مومندو د آزادي بخښونکو وسله والو مبارزو کې د ګډون له امله د امیر حبیب الله خان په واکمنۍ دوه ځل نیول شوی او په کابل کې زندان ته لیږل شوی دئ، خوزما څیړنې د انګریزانو د بریتانوي هند په آرشیف کې د موجودو اسنادو له مخې ښودلې چې هغه د انګریزانو په وړاندې په وسله والو مبارزو کې د ګډون له امله دوه ځل نه، بلکې درې ځل بندي شوی دئ.

**لومړی ځل** غازي میرزمان خان په ۱۹۰۸م کال کې د سرې غزا د ګډون نه وروسته د امیر حبیب الله خان د رژیم تر څارنې لاندې راغلې او د یوې دسیسې په ترځ کې زندان ته استول شوې و.

په ۱۹۰۸م کال کې د مومندو د سرې غزا په وخت کې نائب السلطنه لارډ مینټو د مومندو په سیمه کې د ناڅاپي پاڅون په هکله د حالاتو نه امیرحبیب الله خان خبر کړ او دهغې نه یې غوښتنه وکړه چې سمدلاسه دافغانستان د خاورې نه هغه راغلي وسلوال جنګیالي بیرته ستانه کړي، کوم چې په جګړه کې برخه لري، او په راتلونکې کې هم دانګریزانو په خاوره د تیریو مخه ونیسي.

امیر حبیب الله خان د بریتانوي هند دنائب السلطنه داپریل دمیاشتې د څلرویشتمې (۲۴) نیټې د پیغام په اخیستو سره د مې دمیاشتې په پنځمه (۵) نیټه هغه ته ډاډ ورکړ چې خپلو مامورینو ته یې داسې سخت احکام صادر کړي چې خلک د سرحد د تیریدو نه په ټینګه منع کړي، که څه هم د ګڼ شمیر ناپیژندل شوو لارو د موجودیت له امله به په ځینو سیمو کې د دوې د تیریدو قطعي بندیز امکان ونلري[58].

دلیک استولو سره سم امیر دمومندو او افریدو د سیمې نه افغان ملایان بیرته وغوښتل او دوې ته یې په عام محضر کې په ډاګه کړه چې د مومندو سره د هغوې دملګرتوب سره مخالف دئ. امیر همدا شان هغه کسان چې په جګړه کې یې ګډون کړې و، کابل ته واستول او ددوې مهم کسان یې تر څارنې لاندې ونیول[59]. د ډیورنډ د لیکې نه دافغاني غازیانو دتیریدو د ټینګ ممانعت او په جګړه کې د ګډون کوونکو غازیانو د بیرته ستنیدو په وخت کې دهغوی د مشرانو په وړاندې سخت اقدامات د کومو په نتیجه کې چې د کونړ غازي میرزمان خان هم د انګریزانو د خوشالولو دپاره بندي کړای شو، سبب شول چې انګریزي چارواکي د امیر حبیب الله خان ددې کار نه خوشاله او هغه ته د مننې یو لیک هم ولیږي.


**دوهم ځل** غازي میرزمان خان د **۱۹۱۵**،م کال د اپریل په میاشت کې د امیر حبیب الله خان د رژیم لخوا ونیول شو تر څو د هغه کال په جګړو کې د خلکو د مخنیوي او پاڅون مخه ونیسي.

دلته د لندن د بریتانوي هند د آرشیف نه د انګریزي استخباراتو د هغه وخت یو څو رپوټونه په ګوته کوو چې د هغوې له مخې د آزاد سرحد په آزادي بخښونکو جګړو کې د غازي میرزمان خان تر مشرۍ او قیادت لاندې د کونړ داولسونو د پراخه ګډون، د دغو جګړو د مخنیوي دپاره د امیرحبیب الله خان

58 .Summary of the Administration of Lord Minto, No. 16, P.14

۵۹. هماغه ځای

د هلو ځلو او د غازي میرزمان خان د بندي کیدو اصلي علت څرګندوي.



P
1794

**Diary of the British Agent at Kabul for the week ending the 8th April 1915.**

1. Feverish zeal is being displayed in training the troops here. From morn to eve the troops are being moved about in and around the city, accompanied by the band, and the preparation of military uniforms is being pushed on.

2. Mir Zaman Khan, an influential Chief in the Asmar Valley, is said to have arrived under custody at Kabul, having been sent by Birkid (Brigadier) Muhammad Sarwar Khan, the District Commander in the Valley. The chief is charged with having, at one time, declared his intention to raid in India, and at another, of having decided to rebel against the Amir. The Commander is also stated to have made serious complaints against the Badshah Sahib of Islampur, whom he accused of having incited all the restlessness and preparations for *ghaza* against India, reported to exist among the tribes under his influence.

په کابل کې د انګریزانو د هندوستاني استازي یا عامل د پورتني رپوټ په دوهمې مادې کې لیکل شوی دي چې«**ویل کیږي میرزمان خان، د اسمار د درې یو متنفذه مشر، چې د هغې ولسوالۍ د سیمې د قوماندان برګډ[لوامشر] محمد سرور خان لخوا تر څارنې لاندې استول شوې و، کابل ته رسیدلې دئ. پر دغه لاربنود تور لګول شوې چې یو خو یې پر هند باندې د حملې تصمیم نیولې، او بل یې د امیر پر وړاندې د بغاوت تکل کړی دئ. ویل کیږي چې قوماندان همدا راز د اسلامپور د پاچا صاحب څخه هم شکایت کړی او پر هغه یې تور لګولې چې د خپل نفوذ لاندې قومونو کې خلک د هند پروړاندې غزا او ناکرارۍ ته لمسوي**»[٦٠].

لکه چې د مخه وویل شو، غازي میرزمان خان لدې بنده د شهزاده امان الله خان په مرسته او ضمانت ډیر ژر خوشې او بیرته خپلو وسله والو مبارزینو سره یو ځای او د انګریزانو په وړاندې خپلې وسله والې مبارزې ته دوام او د شبقدر په عسکري ښار ګوټي حمله کې برخه واخیسته.


---

٦٠. په کابل کې د انګریزانو د استازي محرمانه رپوټ (د **۱۹۱۵**م کال د اپریل اتمه اونۍ.

د انگریزانو د **۱۹۱۵** م کال د پیښور د استخباراتو د څانگې د سپتمبر په رپوټ کې هم خبر ورکړ شوی و چې «**د اسلامپور میرصاحب جان پاچا د کونړ د ملکي خان، خان [میر] زمان خان، او دیرش تنو سپرو او تقریباً یو زر کسانو سره له خپلو کورونو حرکت کړیدئ.**

امیر حبیب الله خان بیا هم د جنگیالیو پر مشرانو فشار راوړ چې له جگړې لاس په سر شي او سمدلاسه کابل ته لاړ شي، خو غازی میرزمان خان بیا هم د فرمان نه سرغړونه وکړه او د انگریزانو سره په جگړې او د لښکر د کمښت د پوره کولو په چارو بوخت شو.

د انگریزانو د استخباراتو د دسمبر د میاشتې د دریمې نیټې په یوه بل لاندني سند کې هم لیکل شوي چې «د ۴۷ شمیرې د رپوټ د یوولسم پراگراف په حواله چې کوم لښکر ته اشاره شوې وه، هغه لښکر بیرته خپور شوې دئ. **د رارسیدلي رپوټ له مخې د ناوې د لښکر شمیر تر شپږ سوه (۶۰۰) کسانو ته زیات شوې او درې زره (۳۰۰۰) نور کسان هم میرزمان خان سره ملگري کیږي. د اسمار لوامشر ته د جلال آباد نه خبرداري ورکړ شوی چې که ددغه لښکر مخه ونه نیسي نو شخصاً به مسؤل وگڼل شي. هغه هم په تلوار سره د «ساو» سیمې ته تللې او له میرزمان خان څخه غوښتې چې لښکر خپور کړي.**



5

3. Reference paragraph XI (5) of Diary No. 47 of 1915. The full *jirgas* of Agra and Mishta came to Malakand on the 21st instant and were interviewed by the Political Agent, and an offensive and defensive alliance between them and the Swat *jirgas* was arranged. In return for help from Ranizai, when necessary, the Agra and Mishta *jirgas* agreed to prohibit the trans-Swat Utman Khel from coming across the river, and if they come in too great strength, timely warning will be sent to the Political Agent. This agreement is to be ratified in the Pir Baba Ziarat near Totakan, which is the most revered shrine in Ranizai.

4. Reference paragraph XI (7) of Diary No. 47. The *lashkar* referred to has dispersed. It is reported that the *lashkar* at Navi numbered over 600 and that about 3,000 men from the neighbourhood were also about to join Mirzaman when the Brigadier at Asmar received warning from Jalalabad that he would be held responsible for the *lashkar's* acts. He thereupon hurried to Sao and made Mirzaman disperse his following. Badshah Sahib of Shinkorak is said to have warned the Naib Sipah Salar of Jalalabad of Mirzaman's action and himself forbade his *Murids* to join the *lashkar* on pain of excommunication.

XII.—Arms Traffic.

*Nil.*

XIII.—Miscellaneous.

*Nil.*

Peshawar;
*The 3rd December 1915.*

E. H. KEALY,
*Secretary to the Chief Commissioner,*
*North-West Frontier Province.*

**ويل کيږي چې د شينکوړک پاچا د ميرزمان خان د فعاليتونو څخه د جلال آباد نائب سالار ته خبر ورکړې او خپله يې هم خپل مريدان د کفر د عذاب [!!!] دغه لښکر سره د ملګرتوب نه منع کړيدي».**

د يادونې وړ ده چې اروابناد سيد شمس الدين خان مجروح د غازي ميرزمان خان دغه بندي کيدل سياسي نه بلکې جنايي ګڼي. هغه د «سرنوشت من» تر نامه لاندې خپلو خاطراتو کې په ضد و نقيض ډول له يوې خوا تور لګوي چې «غازي ميرزمان خان د امير حبيب الله خان په واکمنۍ کې د يوې جنائي واقعې په اتهام بندي شو» او له بلې خوا بيا ليکي چې «د امير حبيب الله خان د مرګ نه وروسته د امان الله خان لخوا د نورو سياسي بنديانو او قومي مشرانو سره له بنده خوشې او د خپلواکۍ جګړې ته واستول شو»[٦١].

خو د پورتني اسنادو له مخې په ډاګه څرګنديږي چې د امير حبيب الله خان په وخت کې د غازي ميرزمان خان بندي کيدل يوه سياسي قضيه او د انګريزي استعمار سره د دښمنۍ، خپلواکۍ سره د مينې، د امير حبيب الله خان د اخطارونو نه منل، د آزاد سرحد په آزادي غوښتونکو جګړو کې فعاله برخه اخيستل او د شبقدر پر عسکري چونۍ حملې وي.

په پورتني سند کې دا هم ليدل شوي چې **د شينکوړک پاچا صاحب به د انګريزانو په وړاندې د غازي ميرزمان خان د فعاليتونو او حرکاتو نه لږ تر لږه د امير حبيب الله خان رژيم او د جلال آباد نائب سالار ته اطلاع ورکوله او خپل مريدان به يې د غازي ميرزمان خان د لښکر سره د يوځاې کيدو څخه ځکه منع کول چې هغه د خپلواکۍ دپاره د انګريزانو سره جګړه کفر ګڼلو، او هغوې به يې د کفر د عذاب نه ويرول.**

که د شينکوړک پاچا صاحب د انګريزانو سره په جګړه کې ګډون کفر ګڼلو، نو بيا د اروابناد سيد شمس الدين مجروح صاحب لخوا د جنايت په نامه د داسې مبارزو غندل څه د حيرانتيا وړ ځکه نه ده چې هغه د شينکوړک د پاچا صاحب زوی و.

---

٦١. مجروح، سيد شمس الدين. سرنوشت من، ۴۱ مخ.

پر دې سربېره، لکه چې وروسته به ولیدل شي، په اسمار پورې مربوط د شیګل د سیمې د شینکوړک کلي هغه ځای دئ چې غازي میرزمان پکې د غازي امان الله خان د رژیم د بقا د پاره د خپلو وروستیو هلو ځلو په ترڅ کې، په جومات کې د ماخستن د لمانځه د ادا کولو په وخت، په شهادت ورسید.

دا چې امیر حبیب الله خان ولې غازي میرزمان خان نیغ په نیغه د انګریزانو په ضد د وسله والو جګړو په جرم نه بندي کولو او د هغې د پاره به یې نورې غیر سیاسي پلمې او بهانې لټولې، علت یې هغه ویره وه چې د خلکو د اعتراض او مخالفت او خپل رژیم په وړاندې یې د هغوی د پاڅون نه درلوده. اروابناد کاتب هزاره پدې هکله د «آګاه شدن حضرت والا [امیر حبیب الله خان] از محاربات مذکوره و هدایت به محمد اکبرخان کرنیل، مقیم موضع سرکانی» یا «د دغو ذکر شوو جګړو په هکله د امیر حبیب الله خان د خبریدو او په سرکانړو کې میشت کرنیل محمد اکبر خان ته لارښوونه» تر عنوان لاندې لیکي چې «توجه او کوښښ وکړي چې هیڅ یو ځي کس پرینږدي د غازیانو سره جګړه کې ګډون وکړي، ځکه چې په جګړه کې د سپاهیانو ګډون ، دولت تر نیوکو لاندې راولي او ستونزې پیښوي ، او **کومو ملکي افراد و ته چې په خپل سر او پرته له اجازې یې په جګړه کې ګډون کړې او یا کوي، او د حکومت نصیحت او لارښوونې ته غوږ نه نیسي، او د ژمن او دوست دولت [انګلیس] سره یې له جګړې لاس ندئ اخیستلې او نه اخلي، که تر دې زیات منع او وکړول شي، د هیواد دننه به غوغا جوړه شي د دولت سره به د مخالفت او عداوت لاره خپله کړي.** نو ځکه د هغوی مخنیوې مه کوئ». [٦٢]

**دریم ځل** غازي میرزمان خان د ۱۹۱۷ م کال د اګست په میاشت کې پر چترال باندې د حملې او پر انګریزانو باندې د جندول د اروابناد عمرا خان د کورنۍ د بریدونو د ملاتړ په جرم لومړې د یوې قومي جرګې او سر د امن په ضمانت د مومندو نه کونړ ته راستون او بیا د شوې ژمنې په خلاف ځنځیر او زولانه د کابل د شیرپور زندان ته واستول شو.

٦٢. ملا فیض محمد کاتب، سراج التواریخ، جلد چهارم، بخش سوم، ۳۰۷ مخ.

## د غازي میرزمان خان ددریم ځل بندي کیدو څرنګوالی

پیښور ته نږدې د شبقدر په پوځي چوڼۍ د جنګیالیو تر حملې وروسته، غازیانو د پیښور، بنو، دیره اسمعیل خان، او هندوستان په نورو ښارونو کې هم د انګریزانو په وړاندې د پاڅون اعلانونه خپاره کړل. پدې وخت کې د غازیانو د وسلو او کارتوسو د اړتیا د پوره کولو دپاره، چې د هغه وخت یوه ستره ستونزه وه، د غازي میرزمان خان نه وغوښتل شول چې افغانستان ته لاړ شي. «مومندو او محسودو (مسعود) قبایلو هم ددې کار دپاره دولس زره روپۍ برابرې کړې وې»[٦٣].

د بریتانوي هند د آرشیف د استخباراتي دوسیو د اسنادو له مخې تر هغې وروسته پیښنو، یعنی د مومندو د لښکر خپریدل، د غازیانو د فعالیتونو په مخنیوي کې د امیر حبیب الله خان هلې ځلې، کابل ته د اسلامپور د پاچا ورتګ، د امیر حبیب الله خان له احکامو دغازي میرزمان خان سرغړونه او په پای کې د چترال په خاوره کې د انګریزانو په خلاف د غازي میرزمان خان د وسله والې مبارزې د دوام تکل او بیا بندي کیدل په لنډ ډول لیکو:

- روزکیپیل د شمال مغربي سرحدي ایالت ستر کمشنر په خپل ۱۰۱۲ ګڼه رپوټ کې په شیمله کې د بریتانوي هند د باندنیو چارو سکرتر ته لیکلي چې «ارندو [ارنوی] ته د رسیدلو رپوټونو له مخې په شبقدر کې د قبایلیانو د مرګ ژوبلې شمیره یو زر تنه ښودل شوې ده. میرزمان خان په کونړ کې دئ او د ... په استول شوو دولس زره روپیو د انګریزي حکومت په خلاف استفادې د پاره د مومندانو او ماموندو نه د کارتوسو په اخیستلو بوخت دئ».
- د عالي کمشنر د ۱۹۱۵ م کال د اکتوبر د رپوټ له مخې، شاغاسی علی احمد جلال آباد ته استول شوی دئ تر څو د هغو کسانو په وړاندې اقدامات وکړي، کومو چه د امیر لخوا د مومندو سره د مرستې د نه کولو

63 .Deputy Commissioner diry No. 37, bundle No. 15, p. 252

د اوامرو څخه سرغړونه کړېده.

- د عالي کمشنر د اکتوبر د اومې نېټې د رپوټ له مخې د دې اونۍ په سر کې د اسلامپور پاچا صاحب په «برې پنډیالی» کې د بابړې د ملا سره یوځای شوی دی. د ساتونکو او خدمتګارانو د یوې کوچنۍ ډلې پرته د هغه د مریدانو لویه برخه خپلو کورونو ته ستانه شوي دي. په پنډیالۍ کې د غه لاندې مهم کسان هم شته:

1. د کونړ میرزمان خان
2. د جندول د خان عمرا خان دوه تنه زامن
3. محمدشاه خان، د جندول د خان عمرا خان ورور
4. زړور خان د ناوګۍ د نواب زوم
5. بازوان، کوډا خیل، بئیزی
6. محصل خان، کوډا خیل بئیزی
7. د کامې شیخ عبدالمحمد مرتالی.

- د عالي کمشنر د اکتوبر د اتمې نېټې د رپوټ له مخې ، عباس جان د اسلامپور د پاچا صاحب زوی ، چې کابل ته د راتګ خبر یې په تیر رپوټ کې ورکړ شوی و ، د جهاد د حمایت په کوښښونو کې پرته د بریالیتوبه، په مات زړه خپل کور ته بیر ته ستون شوی دئ. و یل کیږي چې علیا حضرت [د غازی امان الله خان مور] عباس جان ته یو پټ لیک ورکړی چې په هغه کې د جلال آباد د نظامي دیپوګانو د مسئول مامور نه هیله شوې چې د مقدس جهاد د پاره هغه ته یو اندازه مهمات ورکړ شي. معین السلطنه [سردار عنایت الله خان] د دې موضوع نه په خبرېدو سمدلاسه ذکر شوي مامور ته یو مکتوب استولی او هغه ته یې خبرداري ورکړې چې که د علیا حضرت خبره ومني، نو د ډیرو سختو پایلو سره به مخامخ شي.

- د عالي کمشنر د اکتوبر د ۱۵مې نېټې د رپوټ له مخې ، د جلال آباد حاکم کلان ته سخت خبرداري ورکړ شویدئ چې د افغانستان د رعیت

ځخه هيڅ چا تـه اجازه ورنکړي چې د تنـګ نظرو او متعصــبينو [دانګريزانو د مخالفينو] سره يوځای شي.

- د عالي کمشــنر د اکتوبر د ديرشــمې نيټې د رپوټ له مخې ، ويل کيږي چې د کونړ ميرصــاحب جان پاچا د کابل نه نوې امر تر لاســه کړې، خو د هغې د منلو ځخه يې انکار کړيدئ. خو په ورته وخت کې په پيښــور کې د هغه د کابل د تګ آوازه خپره شويده.

- د عـالي کمشــنر د نومبر د ۱۳مې نيټې د رپوټ لـه مخې ، نور رپوټونـه وايي چې ميرصاحب جان پاچاد کابل نه ليدنه کړې، او هلتـه ورتـه سردار نصرالله خان يو آس، زر روپۍ او يو زر کارتوس وربخښلي دي.

په هماغه رپوټ کې دا هم راغلي چې د کونړ ميرزمان خان د کوډاخيلو محصل خان تـه يو ليـک استولې او د هغه نه يې غوښتنه کړې چې د کافرستان د يوې سرکښې او باغي قبيلې د يوې ځانګې د ټکولو په لښکرکې ورسره مرسته وکړي. ددغه حملې اصلي موخه معلومه نه ده. په ځينو کړيو کې ويل کيږي مقصد يې د چترال خاورې ته ننوتل دي [٦٤].

- په کابل کې د انګريزانو اســتاځي، حافظ ســيف الله خان ، د نومبر د ۱۵ مې نيټې په رپوټ کې ليکلي چې د ارندو (ارنوۍ) د رپوټونو له مخې د اســمار لوامشــر محمد ســرور خان له خپلې دندې لرې شــوې او د هغه ځـاې نـاســتي، کرنيـل محمـد عثمـان خـان، زمونږ [بريتـانوي هنـد د حکومـت] پر وړانـدې د ملګرتوب ډير ښــه دريز غوره کړيـدئ ، او پـه اطمينان سره د چترال پر خاوره د حملو مخنيوې کوي.

- روزکيپيل، د انګريزانو عالي کمشــنرد ۱۹۱۵ م کال د نومبر په ۲۷مه نيټه خپل مرکز ته وليکل چې ميرزمان خان په دې اونۍ کې د «نصــرت» په سيمه کې چې د ارندو ځخه د يوه مارش په واټن پرته ده، يو لښــکر راټول

٦٤. د شمال لويديځ سرحدي ايالت د عالي کمشنر، روزکيپيل ۱۲۸۰ شميره محرمانه پيغام چې د ۱۹۱۵م کال د نومبر په ۲۲مه نيټه استول شوې دئ.

کړې دئ. احتمال لري چې هغه د چترال په خاوره کې په «ارندو» او یا «ارتزان» د حملې مقصد ولري. ددې رپوټ د استولو تر وخته په لښکر کې د برخه اخیستونکو کسانو شمیر په قطعي توگه معلوم ندئ، خو ویل کیږي چې په بریکوټ کې د مخکښې ډلې شمیر یو سلو پنځوس (۱۵۰) او اصلي لښکر شمیر یو زر او پنځه سوه (۱۵۰۰) کسانو ته رسیږي . ویل کیږي چې د اسمار لوامشر، میرزمان خان «ساو» ته وربللې او د هغه نه یې غوښتلي چې لښکر لرې کړي. [په چترال کې] امنیتی تدابیر نیول شوي، او تر دې دمه د کومې ستونزې احتمال نه لیدل کیږي.

- د انگریزانو د استخباراتو د دسمبر د دریمې نیټې په یوه بل محرمانه سند کې پدې هکله راغلي چې « د رپوټونو په اساس د ناوې د لښکر شمیره شپږسوه (۲۰۰) کسانو ته رسیدلې او تمه کیږي چې درې زره (۳۰۰۰) نور کسان د میرزمان خان سره یوځای شي. له جلال آباد څخه د اسمار لوامشر ته خبرداري ورکړ شوې دئ چې که د لښکر مخه ونه نیسي، نو شخصاً به مسؤل وپیژندل شي. هغه [داسمار لوامشر] تر هغې وروسته په تلوار د «ساو» سیمې ته ورغلې او د میرزمان خان نه یې د لښکر د خپرولو غوښتنه کړېده. ویل کیږي چې د شینکوړک پاچا صاحب د جلال آباد نائب سالار ته د میرزمان خان د فعالیتونو خبر ورکړې او خپل مریدان یې هم د کفر د عذاب [ ! ! !] د لښکر سره د یو ځای کیدو نه منع کړي دي» [٦٥].

- د عالي کمشنر د ۱۹۱۵ کال د دسمبر د نهمې نیټې د رپوټ له مخې میرزمان خان جلال آباد ته غوښتل شوې تر څو د دغه لښکر د جوړولو په هکله ځواب ورکړي.

- د روز کیپل د ۱۹۱۲ کال د فبروري د ۱۸مې نیټې د رپوټ له مخې، د تیرې جمعې په ورځ میرصاحب جان پاچا د اسمار د کرنیل لخوا غوښتل شوې

٦٥. د ۴۷مې شمیرې یادداښت ، یوولسم پاراگراف.

او هغه ته ويل شوي چې د امير د جهاد د تياريو د امر په اړوند بايد کابل ته لاړ شي. يو بل رپوټ وايي چې هغه د سرکانو د ميا صاحب او دوو نورو ملايانو په ملګرتيا کابل ته تللې دئ. امير غواړي چې د هغوې سره د ترکيې د سلطان د غوښتنې او جهاد د قانونيت په هکله سلا مشوره وکړي.

په همدې رپوټ کې راغلي چې امير حبيب الله خان، ميرزمان خان ته د يو زر او دوه سوه (۱۲۰۰) روپو مستمرې تنخواه د بخښلو حکم کړې دئ.

- د روز کيپل د ۱۹۱۲ کال د مارچ د ۱۱مې نيټې د رپوټ له مخې، د کابل څخه ميرزمان خان ته د ميرصاحب جان پاچا يو ليک رسيدلي دئ. په ليک کې راغلي چې هغه [ميرصاحب جان پاچا] د امير لخوا په بيسارې درناوي منل شوې او يو ټوپک او د کارتوسو دوه غاړکۍ يې هم قبولې کړيدي. د کونړ ميرزمان خان کابل ته بلل شوې، خو هغه هلته د تللو اراده نه لري.

- د انګريزانو د عالي کمشنر روز کيپل د ۱۹۱۲ کال د جولای د ۱۵مې نيټې په رپوټ کې د مومندو جنګياليو د مشرانو تر منځ د اختلافاتو او اسلامپور د ميرصاحب جان پاچا صاحب د ليک يادونه شوې ده. پدې ليک کې د ترنګزو په حاجي صاحب تور لګيدلي چې دا مهال چې امير حبيب الله خان د ټولو قبايلو د غلي کيدو امر کړې دئ، نو هغه [د ترنګزو حاجي صاحب] د ستونزو د پيدا کولو کوښښ کړې دئ. پاچا صاحب همدا شان ليکلي چې افغان چارواکو ترې ضمانت اخيستلې، او هغه حاجي ته کومه مرسته رسولې نشي، خو د دغې ټولې پيښې رپوټ يې امير ته ورکړې او د هدايت په انتظار به پاتې شي.

- د شمال لويديزې سرحدې صوبې د عالي کمشنر د سپتمبر د ۱۲ مې نيټې د رپوټ په اساس، غازي ميرزمان خان د تسليميدو پر ځاې د مومندو سيمې ته تللې دئ. د کونړ چارواکي زيار باسي چې هغه خپل کور ته په راستنيدو اړ کړي. خو د وروستنې رپوټ له مخې هغه د ژمنې او سر د خونديتوب په ضمانت خپل کور ته ستون شوې، او بيا د کرنيل عثمان

خان لخوا نيول شوې او ځنځير او زولانه جلال آباد ته استول شوې دئ.

- د شمال لويديزې سرحدي صوبې د عالي کمشنر د سپتمبر د ديرشمې نيټې د رپوټ په اساس، د کونړ ميرزمان خان تر څارنې لاندې د جلال آباد نه ماماخيلو ته استول شوې دئ.
- د کابل څخه د انګريزانو د استاځي د ۱۹۱۲ م کال د نومبر د مياشتې د **۱۵**مې نيټې درپوټ له مخې، پدې وروستيو وختو کې د شينوارو تر منځ ناارامۍ د ګڼو رپوټونو رسيدل، امير وارخطا کړيدئ. ويل کيږي چې شينواري د اسمار د حاکم په وړاندې مقاومت کوي او د هغه احکام نه مني. د هغوې ددې چلند علت، د اسمار د او سيدونکو ملاتړ دئ، کوم چې پدې وروستيو کې د اسمار د تر ټولو مخور شخصيت، ميرزمان خان د بندي کيدو په د سيسې خپه شويدي.
- د کابل څخه د انګريزانو د استاځي د ۱۹۱۲ م کال د سمبر د مياشتې د ۱۲مې نيټې درپوټ له مخې، د ميرزمان خان کورنۍ، چې خپله داوخت د کابل په زندان کې دئ، تر څارنې لاندې کابل ته ليږدول شوې او ټوله منقوله شتمنې يې ضبط شوې ده.
- د کابل څخه د انګريزانو د استاځي د ۱۹۱۷ م کال د جنوري د مياشتې د اتمې نيټې رپوټ د غازي ميرزمان خان د بندي کيدو او شيرپور زندان ته د استولو په هکله د زياتو معلوماتو په لړ کي ليکي چې دجندول د مرحوم خان ، عمرا خان يو وروراو دوه زامن د نايب السلطنت په لمسون چې هغوې ته يې دوه سوه ټوپک او يو شمير مهمات ورکړي وو ، د کونړ د دري او اسمار له لارې باجوړ ته ځي. غازي ميرزمان خان په لومړې سر کې په پوله د هغوې د پرمختګ مخه نيسي، خو وروسته د هغوې سره ملګرې شوې او ژمنه کوي چې د غزا او بريتانوي هند پر حکومت د حملې د پاره به ورسره د څلور سوه (۴۰۰ ) جنګياليو مرسته وکړي. د مومندو يو متنفذه ملا او د مومندو څو کسه مشران هم ورسره ملګري شوي دي. د اسمار د ګارنيزون قوماندان، محمد عثمان خان، د هغوې

په دغه نقشې خبرېدو سره سم، د هغوی د مخنیوي د پاره دوه ډلې استوي . د وې د یوې کوچنۍ شخړې نه وروسته چې دواړو خواوو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې، د باجوړو او مومندو د پاڅون د نقشې عاملین نیسي او تر څارنې لاندې یې کابل ته استوي. میرزمان خان لدې نیتې وروسته د شیرپور په زندان کې تر څارنې لاندې ساتل کیږي، او د محاکمې انتظار باسي. د عمرا خان کورنۍ هم میمنې ته جلا وطنه کیږي.

## د شهزاده امان الله خان سره د پیژندګلوۍ او ورورۍ پیل

مخکې وویل شول چې د انګریزانو په خلاف وسله والومبارزو کې د غازي میرزمان خان ګډون، په خاصه توګه مشهورې سرې غزا کې دهغې ستره برخه سبب شوه چې د امیر حبیب الله خان د رژیم او انګریزانوتر څارنې او تعقیب لاندې راشي، او زندان ته واستول شي.

غازي امان الله خان چې میرزمان خان لا دمخه پیژندو، او تیر ځل یې په کابل کې د هغې سره لیدلي او دانګریزانو په وړاندې د هغه د فعالیتونو نه خبرؤ، د هغه قدردانی کړې او علیا حضرت «سراج الخواتین» د غازي امان الله خان مور ورته زوې ویلي و، د غازي میرزمان خان سره مرسته وکړه چې د یو کال بند نه وروسته د لس زره روپیو په ضمانت خوشې شي.

که څه هم ځوان شهزاده عین الدوله امان الله خان د خپل پلار امیرحبیب الله خان دواکمنۍ په وخت کې د نورو سیاسي بندیانو سره هم لیدل کتل او غمرازي کوله، او د هغوی د ستونزو د حل کولو کوښښ یې کوو، خو د انګریزانو سره د غازي میرزمان خان د دښمنۍ او شهرت له امله یې د هغه سره خاصه مینه درلوده ، کومه چې د وخت په تیریدو او بیلابیلو تاریخي ازمیښتونو نه وروسته په کلکې دوستۍ او ورورګلوۍ بدله شوه، او د ژوند تر پایه یې دوام وکړ.

## د غازي ميرزمان خان په سر د شهزاده امان الله خان جريمه

دمخه ذکر شو چې غازي ميرزمان خان د دريم ځل دپاره هم بندي او ځنځير او زولانه کابل ته واستول شو. هغه دا ځل د يوې اوږدې مودې دپاره د شيرپور په زندان کې پاتې شو. کله چې امير حبيب الله خان په ژمي کې جلال آباد او لغمان ته لاړ او عين الدوله امان الله خان په کابل کې د هغه په وکالت د حکومت چارې پر مخ بيولې. ده غازي ميرزمان خان او د هغه ملګري له بنده خوشې کړل. ددې پيښې خبر اميرحبيب الله خان ته ورسول شو، او وويل شول چې ميرزمان خان دده په کورنۍ کې درزونه اچوي او امان الله خان بيا له بنده خلاص کړيدئ. ددې اطلاع په اوريدو امير حبيب الله خان، امان الله خان ته فرمان صادر کړ چې ميرزمان خان دې زما تر درتلو پورې د شيرپور د جرثقيل په سياه چال کې (چې په اعدام د محکومو کسانو ځاې و) واچول شي او عين الدوله دې د ميرزمان خان د بند نه د خلاصولو په وجه د دولت خزانې ته پنځلس زره روپۍ جريمه تحويل کړي. غازي امان الله خان، ميرزمان خان ته د تښتيدو سلا ورکړه، خو هغه قبوله نکړه او سياه چال ته واچول شو.

په سياه چال کې د غازي ميرزمان خان شپږ ورځې وتلې وې چې امير حبيب الله خان د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو.. غازي امان الله خان د خپلو لومړنيو اقداماتو په ترځ کې نه يوازې داچې غازي ميرزمان خان له بنده خلاص کړ، بلکې د هغې څخه يې وغوښتل چې د خلاصون دپاره د نورو بنديانو لست هم ورته ورکړي.

# دریم څپرکی

## له زندانه خلاصون او امان الله خان سره واک ته رسیدو کې مرسته

### د امیر حبیب الله خان وژل کیدل

امیر حبیب الله خان لکه چې هرکال ژمي کې خپل دربار سره د مشرقي ولایت ته تلو، د ۱۹۱۸ م کال د دسمبر په میاشت کې هم جلال آباد ته لاړ، او د ۱۹۱۹ کال د فبروري په میاشت کې د ښکار په نیت د کابل له سینده تیر او د لغمان په «کله گوش» کې خیمی ووهلی. د همدې سفر په ترخ کې، د فبروري د ۲۰/۱۹ شپې په ۳ بجو، دتمانچې په یوه ډز، د دغه امیر د ژوند څراغ مړ شو، کوم ته چې د ملت او دین د څراغ (سراج الملت والدین) لقب ورکړ شوي ؤ.

د لندن ټایمز معتبرې ورځپاڼې د سه شنبې په ورځ د ۱۹۱۹ کال د فبروري په ۲۵مه نیټه د وژل شوي امیر په هکله ولیکل چې «د افغانستان امیرحبیب الله، په [لومړۍ نړیواله] جگړه کې زمونږ ښه ملگرې ؤ. په جگړې کې زمونږ د برې په هکله د هغه په عقیده کې هیڅ کمې پیدا نشو».

دغه انگریزي ورځپاڼې د هماغه گڼې په سرمقاله کې د وژل شوي امیر د شخصیت او مقام په هکله د «متحد ینو د ملگري» تر عنوان لاندې ولیکل چې «د افغانستان د امیر حبیب الله وژل کیدل، څوک چې د جگړې په دوران کې د لویې بریتانیا وفاداره ملگرې او متحد ؤ، پرته له شکه د منځني ختیځ د نړیوالې اوضاع دپاره د اندیښنې وړ دئ. په تیرو څلورنیمو کلونو کې، افغانستان د یوه رښتیبې حائل [سپر] دولت په توگه، د ایران له لارې د هند پولو ته زمونږ د دښمن د مزدورانو د رسیدلو د ټولو هڅو مخنیوې کړې دئ.

که چیرې د کابل پر تخت ناسته پرته له کومې دعوې او جګړې هم حل شي، ګمان نه کیږي چې نوې امیر به د پخواني وژل شوي امیر په شان په متانت حکمراني وکړای شي. حبیب الله د خپل پلار، عبدالرحمن، په شان سختګیر او ظالم نه و، خو د وخت د غوښتنو سره سم یې هیڅ وخت هم د سختو ویروونکو سزاوو په ورکولو کې شک لرلای ندئ».

د امیر حبیب الله خان د وژنې له امله د اصلاح غوښتونکو ملت پالو او زوړ خیالو محافظه کارانو تر منځ د واک د لاسته راوړلو مبارزه پیل شوه، او د هغه د ځای ناستې په سر د یوې لنډې شخړې وروسته، په پای کې عین الدوله امان الله خان، د امیر تر ټولو ځوان زوی او د ملت پالو د ډلې مشر بریالي شو چې د زوړ خیالو محافظه کارانو مشر، خپل تره نائب السلطنه سردار نصرالله خان له میدانه لرې او د سلطنت تاج و تخت لاس ته راوړي.

## انګریزانو نه غوښتل چې شهزاده امان الله خان پاچا شي

انګریزانو د امان الله خان واکمنی د خپلو موخو د رسیدو په لاره کې خنډ ګڼلو، او نه یې غوښتل شهزاده امان الله خان، چې یو ملت پال، خپلواکۍ غوښتونکې او ستر اصلاح غوښتونکې و، د امیر حبیب الله خان پر ځای د واک پر ګدۍ کښیني.

انګریزي مامورینو حتی د ۱۹۱۷ کال له پیله داسې رپوټونه ترلاسه کړي وو چې د ملت پالو د مبارزو د ښه زور، د شهزاده امان الله خان د خپلواکۍ غوښتنې او استعماري ضد افکارو او نظریاتو، د هغه د مخ په زیاتیدونکي محبوبیت او سره لدې چې ولیعهد نه ؤ او د امیر د ریم زوې ؤ، واک ته رسیدو د احتمال پوره خبرتیا یې ورکوله.[٦٦] که څه هم د امیر حبیب الله خان مرګ ناڅاپي او غیر مترقبه و، هغوې پوهیدل چې امکان لري د امیر وژنه د یو ډول قدرت غوښتنې د مبارزې پایله وي. هغوې پیشبینی کوله چې د نصرالله خان د پلوي ملایانو

---

٦٦. Adamec, L. W. (1967)، ص۱۰۸.

او روحانيونو د قواوو او امان الله خان د پلوي ملي گرا قواوو تر منځ د ټکر په صورت کې به برې او برلاسې ملت پالو ته ورپه برخه شي.[٦٧] هغوې له همدې امله د نصرالله خان د نوي امير په توگه په رسميت پيژندل و ځنډول.

## له زندانه د غازي ميرزمان خان خوشې کيدل

د امير حبيب الله خان تر وژل کيدو وروسته نه يوازې دا چې غازي ميرزمان خان له زندانه خلاص او ځنځيرونه ترې لرې کړای شو، بلکې امان الله خان ورته وويل چې کولای شي د خپلو دوستانو بنديانو لست راوړي چې د بخښنې فرمان يې صادر شي. هغه زندان ته لاړ او د يوسلو پنځوس تنو هغو مبارزينو او قومې مشرانو لست يې جوړ کړ چې تير حکومت ترې ويره احساسوله او زندان ته يې اچولي وو. ددوې د عفوې فرمان صادر شو او ټول له زندانه راووتل. په دوې کې هغه کس هم ؤ چې يو کال مخکې يې په زندان کې په خنجکې (کروشنيل) د غازي ميرزمان خان د پاره د جهاد يو بيرغ اوبدلې و. له دې تاريخې ورېښمين بيرغه چې قرآني آيتونه او د ميرزمان خان نوم پکې اوبدل شوي و، ځو مياشتې وروسته د استقلال د گټلو د جگړې په څلورمې جبهې کې استفاده وشوه او تاسې يې انځور د همدې کتاب په پای کې کتلای شئ. امان الله خان وروسته غازي ميرزمان خان د هماغه بيرغ سره د چترال جبهې ته واستولو چې زيات معلومات به يې په راتلونکي څپرکي کې وړاندې شي.

## د واکمنۍ په تر لاسه کولو کې د شهزاده امان الله خان سره مرسته

د امير حبيب الله خان د ځاې ناستي د استحقاق په هکله، د دود دستور له مخې، معين السلطنه عنايت الله خان د امير د مشر زوې په توگه د پلار تر مړينې وروسته لومړنې مستحق کس گڼل کيدو. نائب السلطنه نصرالله خان تمه درلوده چې د امير عبدالرحمن خان د وصيت او امير حبيب الله خان د

---

٦٧. آدمک، لودويک، دبليو (١٣٧٠)، ص ٢۴.

موافقت له مخې د خپل ورور ځای ونیسي ( اود امیر د وژل کیدو د خبر په اوریدو سره، پداسې حال کې چې د امیر د خیمې دباندې ناست ؤ، او معین السطنه ته یې تسلي ورکوله، وویل چې «دا وخت تاسې ته په کار ده چې زما سره هماغسې یو چلند وکړئ لکه څنګه چې ما د ضیاء الملت والدین د مړینې په وخت کې ستاسې د پلار سره کړې او د زړه له کومې خدمت وکړ[٦٨] ). عین الدوله امان الله خاند خپل دوهم مشر ورور عضو الدوله حیات الله خان څخه وروسته په څلورم کتار کې ځای درلود.

سردار نصرالله خان د امیر په توګه د خپلې ادعا د پاره د ښه ملاتړ خاوند و. هغه سربیره پردې چې سنت ګرا او د مذهبي ډلې مشر ؤ، د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په وخت کې تر امیر وروسته له ټولو د زیات قدرت خاوند ؤ.

د هغه په پلویانو کې د حبیب الله خان مشر زوې عنایت الله خان، شاه آغاسی علی احمد خان، د مصاحبانو متنفذه کورنۍ، حاجی عبدالرازق خان اندړ(چې د سرحد د قبایلو سره یې نږدې اړیکې درلودی)، د اسلامپور میرصاحب جان پاچا (مشهور په شیخ پاچاچې د هډې د ملا نجم الدین آخندزاده خلیفه او د لنګر مسئول) ګڼ شمیر د سلطنتي کورنۍ غړي او هغه ملکي او عسکري درباریان شامل وو، کوم چې په جلال آباد کې د امیر حبیب الله خان سره ملګري وو.

د دیني مشرانو لخوا صادره شوې فتوا چې «شهید امیر باید د شهیدانو د سنت سره سم، ژر تر ژره، پرته لدې چې تشریفاتو او خاصو مراسمو ته وځنډول شي، د هغه د ځای ناستي لخوا په هماغه جامو کې چې د شهادت په وخت کې یې اغوستلې وي، خاورو ته وسپارل شي»، نائب السلطنه نصرالله خان ته د واک د انتقال سملاسي لاره هواره کړه.[٦٩] سردار عنایت الله خان، د امیر مشر زوې چې د پلار د شهادت په وخت کې هم هلته حاضر و، خپل تره نصرالله خان

---

٦٨. غبار، میر غلام محمد (١٣٦٢) ص ٧۴١.

٦٩. نوید، سنزل (سنځل) /ترجمه مجددي، نعیم (١٣٨٨)، ٢١ مخ.

سره بیعت وکړ، او د هغه په پیروۍ د امیر دوهم زوي، عضد الدوله حیات الله خان هم چې یو پوځي جگ پوړي افسر ؤ، نائب السلطنه سره خپل بیعت اعلان کړ. د انگریزانو د استازي، حافظ سیف الله خان په وینا چې خپله په هغه ځای کې حاضر ؤ، د لونگۍ د تړلو (تاجپوشی) مراسم د چهار باغ د نقیب سید حسن گیلانی په مشرۍ او حکم، د چهار باغ د حضرت صاحب میر محمد معصوم، اسلامپور د پاچا صاحب سید جان [میر صاحب جان پاچا] د مشرقي د ولایت د وتلو دینو مشرانو لخوا تر سره شول.[۷۰]

د جمعې په لمانځه کې خطبه د امیر نصرالله خان په نوم ولوستل شوه. نوي امیر د افغانستان ولایاتو ته د فرمانونو د لیږلو او بیعت د غوښتلو په څنګ کې د بریتانوي هند وایسرای ته هم یو لیک استولې او خبر ورکړ چې «د پنجشنبې د شپې په ۳ بجو اعلیحضرت سراج الملت و الدین د لغمان د درې په کله گوش کې د یوه نا پیژندل شوي شخص په تمانچې شهید شو او زه د ټولو لخوا د سلطنت د پاره وټاکل شوم. که د خدای رضا وه نو د دواړو هیوادونو تر منځ اړیکي به د پخوا په شان وساتم.

خوعین الدوله امان الله خان چې د پلار په نه موجودیت کې په کابل کې د سلطنت نیابت په غاړه درلود، او د انگریزانو د استاځي د رپوټ له مخې په حقیقت کې د ژمي د سختو سړو په موسم کې جلال آباد ته د امیرحبیب الله خان او د هغه د دربار د دغه آسانتیا څخه محروم او په جزائي توگه کابل کې پاتې شوی ؤ[۷۱]، د پلار د مرگ د خبر په اوریدو سره، په کابل کې د چارو اداره او عسکري مهمات په لاس کې واخیستل او سمدلاسه یې په جلال آباد کې د پادشاهۍ په تخت د نصرالله خان کښیناستل ونه منل. هغه په دربار کې د فبروري د یویشتمې نیټې د غونډې په جوړولو سره، نصرالله خان د خپل پلار په وژنه کې شریک وبللو او اعلان یې وکړ چې د خپل پلار د قتل مجرم سره به بیعت ونکړي. امان الله خان همدا شان ادعا وکړه چې د هغه دوو مشرانو

۷۰. هماغه ځای ۲۲ مخ.

۷۱. د انگریزانو د استخباراتو د سیاسي او امنیت څانگې د ۲۰/۲۸۹ شمیرې رپوټ دوهم مخ.

ورونو د نصرالله خان لخوا د سلطنت د غصب سره د موافقې په کولو د سلطنت تاج او تخت ته د رسيدلو خپل حقوق له لاسه ورکړي دي. هغه د خپل پلار قاتلينو ته د سزا د ورکولو په غوښتنې سره د پوځ د افسرانو او شهيد امير ته د وفادارو مخورو ملاتړ هم ترلاسه کړ.[۷۲]

ارواښاد فيض محمد کاتب هزاره د سراج التواريخ په څلورم ټوک کې خپل تره سره د امان الله خان د بيعت د نه کولو علتونه، لکه چې امير نصرالله خان ته د ملا غلام محمد خان د کابل په احوال کې راغلي، داسې ليکي:

«لومړی علت، دهغه لخوا د فراش باشي شجاع الدوله خان په استولو او د امارت د ليک راوړلو سره راته جوته شوه چې د ورورۍ د هغې زياتې مهربانۍ او لطف سره سره چې پلار يې د ده تره سره کړې، هغه خاورو ته د پلار د سپارلو تروخته هم يو ځل د هغه مخ او څيره ونه ليدله.

دوهم علت دا چې، د پلار د قاتل په لټولو او موندلو پسې ونه ګرځيد، او که څه هم د پلار ځينو خدمتګارانو يې د قاتل په پيدا کولو ټينګار وکړ، خو هغه د اوريدلو ډډه وکړه او د لټولو په هکله يې کوم اقدام ونکړ...

دريم علت، د باغ شاهي پر ځای چې د هغه د ښخولو مناسب ځای ؤ، د شاهي بن په هديرې د بدلولو د مخنيوي په نامه يې هغه په سپکه د ګلف د لوبې په ميدان کې ښخ کړ، تر څو خلکو ته معلومه او څرګنده شي چې هغه په ژوند کې لوبو او عياشۍ ته زياته ليوالتيا درلوده، نو ځکه په لوبغاړي کې ښخ کړای شو.

څلورم علت، په خپلو ځينو ويناوو کې يې ملوکانه ذات په ناوړو او نا مناسبو الفاظو سره ياد کړې دئ.

پنځم علت، د ملکي ايشک آقاسي علی احمد خان په وينا يې سمدلاسه، پرته لدې چې د کار د پايلې اړخونه سنجولي وي، امارت ومنلو او زمونږ د مشر

۷۲. نويد، سنزل /ترجمه مجددي، نعيم (۱۳۸۸)، ۲۳ مخ.

ورور معين السلطنت او شهيد اعليحضرت د نورو زامنو د تسليت او همدردۍ د پاره هيڅ تم نشو او انکار يې ونکړ.

شپږم علت، زه يې پردې او مخالفه ګڼلې، سمدلاسه يې د جلال آباد او کابل ترمنځ تليفون بند کړ».[۷۳]

ښاغلې مجددي، د کاکا خيل له قوله د پلار په وژنه کې د نصرالله خان د تورن کولو په هکله ليکي چې د سردار نصرالله خان لخوا په چټکۍ د سلطنت قبلول، هغه هم د قبايلو د مشرانو، سلطنتي کورنۍ او مشورتي شورا د غړو د بللو پرته، امان الله خان شکمن کړ[۷۴].

## پر خپل تره د امان الله خان برياليتوب

د خلکو په زړونو کې د امان الله خان محبوبيت، په کابل کې امان الله خان ته د عسکري لوړپوړو افسرانو تسليميدل، د دولت پر خزانې کنټرول، په مشرقي کې د غازي ميرزمان خان په ګډون د امان الله خان د پلويانو چټک او پراخه فعاليت، د جلال آباد د عسکري قواوو شورش، د امير امان الله خان په نوم د خلکو، او ملکي او نظامي مامورينو د بيعت ليکونو رسيدل، نصرالله خان ته د شجاع الدوله لخوا په شفاهي توګه د کابل د وضعيت تفصيل، د امان الله خان لخوا د خپلواکۍ اعلان او نورې کورنۍ او باندينۍ ستونزې سبب شوې چې نصرالله خان د ديني متنفذو مشرانو د وعدې او حمايت سره سره، د وينې د تويدلو او کورنۍ جګړې د مخنيوي دپاره د فبروري په ۲۸مه نيټه د افغانستان د سلطنت د غوښتلو څخه د لاس اخيستلو اعلان وکړي.[۷۵]

اروانباد غبار ليکي چې نائب السلطنه د وينې تويول نه غوښتل او د خپلو پلويانو د جګړې نقشه يې ونه منله. ددې نقشې له مخې په نظر کې وو چې ناظم

۷۳. کاتب، فيض محمد (۱۳۹۰) سراج التواريخ، څلورم ټوک، دريمه برخه، ۲۷۳مخ.
۷۴. مجددی، فضل غنی (۱۹۹۷)، افغانستان در عهد اعليحضرت امان الله خان، ۳۳ مخ.
۷۵. د نائب السلطنه د استعفا متن (د ۱۳۳۷ هجري قمري کال د جمادی الاول په ۲۵ مه / د ۱۹۱۹ کال د فبروري ۲۸مه) د امان افغان د جريدې په دوهمه ګڼه کې چاپ شوې دئ.

دوست محمد خان د ګرديز د نظامي قواوو په ملاتړ د جنوبي له لورې، معين السلطنت د تګاو د خلکو او مستوفی الممالک [د شاعر استاد خليل الله خليلي پلار] د شمال له لورې، او خپله سردار به د مشرقي د نظامي قواوو سره د شرق له لورې په کابل حمله وکړي. د کونړ شيخ پاچا [د اسلامپور پاچا صاحب] هم، پرته لدې چې بريالې شي، هڅه وکړه چې د نصرالله خان د استعفا مخنيوې وکړي. هغه حتی وعده وکړه چې د لس زره وسله والو مومندانو سره پر کابل حمله او عين الدوله ونيسي. سردار نصرالله خان وويل چې زه له هغې پادشاهۍ تير يږيم چې بنسټ يې د وينې په توئيدو ولاړ وي. نو بيا يې خپل منشي ميرزا محمد خان ته امر وکړ چې د امير امان الله خان په نامه خپله بيعت نامه وليکي.[76]

خوښاغلي محمد طاهر قدوس، د خپل نيکه په روايت چې د ارواښاد ناظم دوست محمد خان زوی ؤ، د غازي امان الله خان سره د ناظم دوست محمد خان مخالفت نه تائيدوي او هغه سم نه ګڼي.[77]

ښاغلي عزيزالدين وکيلي پوپلزي، پدې هکله ليکي چې دوست محمد خان مشهور په ناظم او د هغه ورور خواجه محمد خان، چې د ميرداد خان بارکزي د زوې امير محمد خان زامن وو، او دواړو ورونو د اماني سلطنت نه اوه کاله مخکې په جنوبي کې حکمرانان او د ښه رسوخ او شهرت خاوندان وو، د نورو کسانو په شان د پنجشنبې په ورځ د جلال آباد په شاهي باغ کې حاضر او د امير نصرالله خان سره بيعت وکړ[78]. هغه زياتوي چې خواجه محمد خان، چې د اميرحبيب الله خان په واکمنۍ کې د نائب السلطنت سردار نصرالله خان د حضور ايشيک آقاسي ؤ، په جلال آباد کې د نصرالله خان د امارت د اعلان په

---

۷۶. غبار، مير غلام محمد (۱۳۶۲) ص ۷۴۳.

۷۷. د محترم محمد طاهر قدوس (شاغاسي) سره په کليفورنيا کې د ليکوال د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر د مياشتې تليفوني مرکه.

۷۸. عزيزالدين وکيلي پوپلزي (۲۰۱۷). سلطنت امان الله شاه و استقلال مجدد افغانستان/لومړی ټوک، ۲۳۱ مخ.

سبا د جمعې په شپه، امیر نصرالله خان ته وړاندیز وکړ چې خپل زوی سردار عزیزالله خان ته اجازه ورکړي چې زما سره د شینوارو د سیمې خواته لاړ شي، تر څو د شینوارو د خلکو یو لښکر جوړ او مرسته وکړم، خو امیر نصرالله خان موافقه ونکړه.

ښاغلي مجددي په جلال آباد کې سیاسي پیښو ته، چې د نصرالله خان د سلطنت د سقوط سره یې نیغ په نیغه تړاو درلود، په اشارې سره لیکي چې «د امیر نصرالله خان استعفی یوائې د وینې د توئیدو او یا اسلام او مسلمانانو سره د مینې له امله نه وه. امیر نصرالله خان یو هوښیار، عاقل او سیاسي سړی ؤ، د خپل چاپیریال د احوال نه ښه خبرؤ او پوهیدو چې جنرال نادر خان او د هغه ورونه په پټه د امان الله خان سره اړیکې لري او شجاع الدوله هم د اطمینان وړ ندئ.[۷۹]

## په مشرقي کې د شهزاده امان الله خان د پلویانو چټک او پراخه فعالیت

لکه چې د مخه ذکر شو، واکمنۍ ته په رسیدلو کې، د سردار نصرالله خان د ادعا څخه مذهبي او محافظه کارو ډلو، د امان الله خان ورونو، د مصاحبانو کورنۍ، د ناظر صفر محمد خان کورنۍ، حاجی عبدالرازق خان اندر[۸۰]، د کونړ د اسلامپور میرصاحب جان پاچا، د سلطنتي کورنۍ ګڼ شمیر غړو، او هغو ملکي او عسکري درباریانو ملاتړ کوو، کوم چې د وژل شوي امیر سره په جلال آباد کې یوځای وو.

که څه هم د نصرالله خان او امان الله خان ترمنځ د واکمنۍ د ترلاسه کولو د

۷۹. مجددی، فضل غنی (۱۹۹۷)، ۳۲ مخ.

۸۰. حاجی ملا عبدالرازق خان اندړ د امیر حبیب الله خان ددربار امام او دکابل د سلطانیه مدرسې رئیس ؤ. هغه د سردار نصرالله خان اعتباري سړی او د سرحد د قبایلو د مشرانو سره ټول اړیکې د هغه لخوا ترسره کیدل. د امیر حبیب الله خان د وژل کیدو نه وروسته هغه د خپلو دوو زامنو سره د کامې له لارې مومندو ته لاړ، او دا کار یې د نصرالله خان په ګټه کمپاین وګڼل شو. وروسته د غازي امان الله خان لخوا کابل ته وبلل شو او د آزاد سرحد د قبایلو د تبلیغاتو د رئیس په توګه وټاکل شو.

کشمکش او مجادلې په ترڅ کې هر چیرې چه د امان الله خان سره مخالفت احساس شو، د هغه ځاې عسکرو د هغه ملاتړ وکړ (د بیلګې په توګه په قطغن کې یې والي ناظر محمد صفر خان، چې د نائب السلطنت دپاره بیعت پاڼه برابره کړې وه، له کاره لرې او کابل ته واستولو، په میمنه کې جنرال عبدالغفار خان د امان الله خان د پلویانو لخوا ونیول شو، او دا کار بیا وروسته په هرات او مزار شریف کې هم تکرار شو)، خو په جلال آباد کې د سیاسي پیښو جریان د نصرالله خان د سلطنت په ړنګولو کې نیغ په نیغه مهم تاثیر درلود، او پدې برخه کې د غازي میرزمان خان هلې ځلې او کوښښونه، چې د امیر حبیب الله خان د وژول کیدو په لومړنیو شیبو کې له زندانه خلاص شوې ؤ، له ورایه درک کیدلاې شي.

د سردار نصرالله خان د استعفی د علت څخه هم څرګنده ده چې هغه د امان الله خان د پلویانو په کلک مقاومت پوهیده، او ګواکې د وینې توئیدلو د مخنیوي دپاره له خپلې ادعا څخه لاس په سر او امان الله خان ته خپله بیعت پاڼه واستوله.

د ښاغلي مجددي په کتاب کې لوستل کیږي چې «جنرال نادر خان د افغانستان د سلطنت څخه د امیر نصرالله خان تیریدل، د امیر امان الله خان د پلویانو پراخه حرکت ګڼي او وایي چه د امان لله خان پلویان د عسکري فرقو منځ ته ننوتلي، شبنامې یې خپرې کړې وې او عسکر یې د جلال آباد د دولت په خلاف شورش ته بلل. ښاغلي مجددی زیاتوي چې د نصرالله خان د سلطنت تر اعلانیدو شپږ (۲) ساعته وروسته د امان الله خان پلویان جلال آباد ته ورسیدل، د بریښنا په شان هرلورې ته خپاره، د امان الله خان فرمانونه یې وویشل او هم یې خلک د پیسو په ورکولو د امان الله خان بیعت ته وبلل»[۸۱].

د جنرال محمد نادر خان په ژوندلیک یا بیوګرافۍ کې، چې په ۱۳۱۰ کال کې د برهان الدین کشککي لخوا د «نادر افغان» تر عنوان لاندې نشر شویده، راغلي

۸۱. مجددی، فضل غنی (۱۹۹۷)، ۳۶ مخ.

چې « له یوې خوا د افغانستان د خبر رسولو ټولې ذریعې تر سانسور لاندې نیول شوې وی، او د نصرالله خان د امارت د اعلانولو او مشرقي شاهي فرمانونو زیاته برخه د لارې په منځ کې ونیول شول، اوټولې لارې او ګودرونه تر سخت عسکري نظارت لاندې ونیول شوې، او له بلې خوا د پاروونکو اعلانونو او تبلیغاتو له لارې د پروپاګند ګڼ شمیر ډلې هرې خوا په خاصه توګه موټرو سره جلال آباد ته واستول شوې چې د شپږو ساعتونو په موده کې فتح آباد ته رسیدلي او هلته ښکته شوي... تر څو سمدلاسه د یوې بلوا د جوړولو او قیامت ته ورته شور او غوغا په راپیدا کولو لاس پورې کړي. د امیر نصرالله خان ټول ملګري هیئت تالا ترغۍ او د سلطنت پخې ستې او مهم غړي ونیسي. د اماني حکومت د همدغه مهمو هڅو او مؤثره اقداماتو په وجه نه یوازې دا چې د نصرالله خان حکومت سقوط وکړ، بلکې په ټوله مشرقي کې یو سخت اړودوړ خپور شو. ستر اشخاص او د سراجیه حکومت لوې مشران چې په هغوې کې د سردار یحیی خان او امیر نصرالله خان کورنۍ او د سردار عنایت الله خان معین السلطنه منسوبین او متعلقین هم شامل وو، یو تر بل وروسته بندیان او کابل ته واستول شول.» [۸۲]

د امان الله خان د پلویانو د فعالیت په هکله، په کابل کې د انګریزانو د وکیل د رپوټونو یوې نمونې ته پام وکړئ. هغه لیکي: «ویل کیږي چې د بټیکوټ سید مختار پاچا ځکه بندي او په ځنځیرونو وتړل شو چې هغه د نصرالله خان د پلویتوب او د خپل نوي امیر وراره سره د جګړې د کولو په صورت کې، د پنځه زره قومي لښکر د تیارۍ اعلان کړې ؤ» [۸۳].

ریه تالی سټیوارټ په خپل معروف کتاب «اور په افغانستان کې» لیکي چې «بیا د جمعې ورځ راورسیده، او نصرالله خان، چې تل به یې د جمعې لمونځونه په جومات کې په جمع کول، د امیر امان الله خان په نوم د خطبې په لوستلو حیران شو. ملا دغه خطبه د سرنیزې د فشار له امله لوستلې وه. دا حرکت حتی

---

۸۲. کشککی، برهان الدین (۱۳۱۰)، ۹۴ – ۹۵ مخونه.

,, .Oriental and India Office Collections, L/P&S/10/203

د نصرالله خان د مذهبي ملګرو دپاره هم ډیر چټک ؤ. د قبایلي جنګیالیو څو ډلو د هغې د مرستې دپاره جلال آباد ته د ننوتلو کوښښ وکړ، خو د ساتونکو لخوا بیرته تګ ته اړ شول. نصرالله خان چې بله چاره نه درلوده، دجومات پرېښودلو ته مجبور شو، تر ټولو مهم کسان یې راټول کړل، او د امان الله خان په ګټه یې استعفی وکړه». [۸٤]

دامان الله خان د تاجپوشی مراسم په کابل کې په رسمي توګه په هماغه ورځ تر سره شو، په کومه چې نائب السلطنت خپله استعفا اعلان کړه. حضرت فضل محمد مجددی، چې وروسته په شمس المشایخ مشهور شو، د آخوند زاده حمید الله، مشهور په تګاب ملا صاحب سره د لونګۍ (پګړۍ) د تړلو مراسم د کابل د عیدګاه په جومات کې سر ته ورسول.



په لنډ ډول ویلای شو چې شخصي محبوبیت، نیک اخلاق، د مظلومانو، او ملکي او عسکري مامورینو سره په رحم او مروت چلند، د بیوځلو سره سخاوت او د مشروطه غوښتونکو سره صمیمیت غازي امان الله خان ته د

۸۴. Stewart, Rhea Talley (1973)، ص ۳۵.

رعیت پلویتوب ترلاسه کړ.

په کابل کې پر اردو او د دولت پر خزانې د کنټرول په څنګ کې، په مشرقي کې د امان الله خان د پلویانو چټک او پراخه فعالیت د هغه د بریالیتوب د پاره لاره هواره کړه. هغه بریالیتوب چې په هغه کې «د جلال آباد اردو د خپلو لیکو له منځه د غلام رسول خان په نامه یو هراتي عسکر د وکیل او قوماندان په توګه وټاکلو. دې نوي قوماندان پر خزانې، ګودام، جبه خانې او ټولو دولتي ادارو محافظ وګمارل، خطبه یې د امیر امان الله خان په نوم ولوستله، د نائب السطنه شاهي بیرغ یې د ودانۍ له بامه ښکته او نائب السلطنه یې په درناوي سره تر نظارت او حفاظت لاندې وساتلو. سپه سالار سردار محمد نادر خان او د هغه کورنۍ یې د میرزا محمد حسین خان مستوفی الممالک سره بندیان او د کنړ کمشر شاه علیرضا خان تر قوماندې لاندې د ساتونکو قواوو په وسیله کابل ته استولي او د عسکري قواوو بیعت یې د خپل استازي په لاس د کابل دربار ته واستولو»[۸۵].


د انګریزانو د سفارت د ختیځو چارو د سکرتر په استخباراتي رپوټ کې پدې هکله لیکل شوي چې «امان الله خان د پیښو د عادي بهیر په ترڅ کې د افغانستان تاج او تخت ته د رسیدو چانس ځکه نه درلود چې هم یې تره نصرالله خان او هم یې میرني ورور عنایت الله خان لا له پخوا دا ډول ادعاګانې درلودلې».

پدې رپوټ کې زیات شوي چې «**نصرالله خان او عنایت الله خان دواړه د ډیر اثر رسوخ خاوندان وو. نو ځکه امان الله خان د خپل بري او خپل تره او ورور د نفوذ د کمزوري کولو دپاره یو پلان جوړ کړې ؤ، او په افغانستان کې د قدرت او نفوذ د خاوندانو د ملګرتوب د لاسته راوړلو دپاره یې ، هغوې ځانته جذب کړل، تر څو د افغانستان د تخت او تاج د وراثت د حق په سر د رقابت د فرصت د پیداکیدو په صورت کې په یوه ښه موقعیت کې ځاې ولري.**

۸۵. غبار، میر غلام محمد (۱۳۶۶) ۷۴۴ مخ.

**له همدې امله امان الله خان د ټولو هغومخورو سرو سره چې له مرکزه لرې ولاياتو څخه کابل ته راتلل، پېژندګلوي ترلاسه کوله او د هغوې د ستونزو حل کول يې خپله دنده ګڼله . که چيرې د سفر مقصد خپله امان الله خان سره کتل ؤ، خپله به هغوې ته رسيده، او مخکې لدې چې هغوي خپلو کورونو ته ستانه شي، هغوې ته به يې د توجه وړ سوغاتونه تقديمول .**

**امان الله خان په يوه لنډ وخت کې و توانيده چې شور بازار د حضرت او قلعهٔ قاضي د شاه صاحب په شان روحاني مشرانو، مهمو ملايانو، او د کونړي ميرزمان خان په شان قومي مشرانو پلويتوب لاس ته راوړي »[٨٦].**



Both Nasrullah Khan and Inayatullah Khan, had, in consequence, considerable influence and, therefore, Amanullah schemed to undermine the influence of both his uncle and his brother and to win over to his side and to gain for himself the friendship of men of influence and power in Afghanistan so that, should the opportunity occur, he might be in a favourable position to contest with the rightful heirs the throne of Afghanistan. Amanullah, therefore, ingratiated himself with all men of influence coming to Kabul from the outlying Provinces and made it his business to smooth away any difficulties for them. If the object of their visit was with Amanullah himself then he personally attended on them and before they left for their homes he would present to them substantial gifts. In a short space of time Amanullah had won over to his side spiritual leaders of the calibre of the Hazrat of Shor Bazaar, Shah Sahib of Kala Qazi and other important mullahs as well as tribal leaders men like Mir Zaman of Kunar:

کونړي غازی ميرزمان خان د خپلو خدمتونو په پاس د غازي امان الله خان لخوا د وفا په نشان ولمانځل شو.

٨٦. د «امان الله د سقوط په نامه د انګريزي استخباراتو محرمانه يادداشت چې د شيخ محبوب علي د فارسي رپوټ څخه تورن رابرت نوئل ګيرلينګ سکات، په انګريزي ژبه ترجمه او د باندنيو او سياسي چارو څانګې د ۱۹۳۰ کال د مارچ په مياشت کې خپور کړې دئ. د دوسيې شميره L/P&S/20/B289

# څلورم څپرکی

## دافغانستان د خپلواکۍ د بیرته تر لاسه کولو په جګړه کې زړورتیا

### د خپلواکۍ د څلورمې جبهې قوماندانې (د چترال جبهه)

د افغانانو او انګریزانو د دریمې جګړې څلورمه جبهه د چترال او کونړ ، د بریکوټ او ارنوۍ او همدارنګه د چترال د محاذ په نامه هم یاده شوې ده . په بریتانوي رسمي اسنادو (لاسوندونو ) ، د افغان - انګریز د دریمې جګړې په رپوټونو (راپورونو )، محرمانه (پټو ) ټلګرامونو او د انګریزانو په استخباراتي رپوټونو کې د شمالي چترال د جبهې محاذ ، د شمالي چترال د جبهې او د ۱۹۱۹ کال د مې څخه تر جولای پورې پر چترال د افغانانو د تیري په نامه یاده شوې ده .

پر محافظه کارو د ملت پالو د بریالیتوب، او د خپلواکۍ د جګړې د پلان د تیاریدو وروسته، غازي امان الله خان د هغې پیژندګلوۍ او هغه ډاډ پر بنسټ چې پر غازي میرزمان خان یې درلود ، هغه ته د چترال د جبهې د قوماندانۍ دنده وسپارله.

په نوموړې جبهه کې ولسي رضاکارو او پوځي ځواکونو ګډون درلود. یو شمیر لیکوالانو غازي میرزمان خان کونړې د چترال د جبهې د قومي ځواکونو مشر او جنرال عبدالوکیل خان نورستاني یې د پوځي ځواکونو قوماندان ښودلی دی، خو دا خبره ربښتیا نه ده. جنرال عبدالوکیل خان نورستاني، چې د افغان پوځ د تکړه او روزل شوو جنرالانو څخه وه او وروسته بیا د نایب سالار

رتبې ته رسيدلی وه، د جګړې د پيل څخه ۴۲ ورځې وروسته د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲۳ د دې جبهې پر لورو خوځيده، او دنده يې درلوده چې د دوکلام او ارنوۍ په سيمو کې تر لاسه (فتح) شوې ځايونه تسليم او د هغه ساتنه وکړي. د دې ټکي په پام کې نيولو سره چې د خپلواکۍ د جګړې اوربند د ۱۹۱۹ کال د جون په ۳ نيټه اعلان شوی، نو ښکاره خبره ده چې جنرال عبدالوکيل خان نورستاني د اوربند د اعلان څخه درې اونۍ وروسته جبهې ته رسيږي او شوني نه ده چې دی د هغې جبهې قوماندان وو اوسي.

تاسو به يې وروسته وګورئ، چې د اوربند د اعلان خبر ناوخته و رسيد، او حتی له هغه وروسته بيا هم د غازي ميرزمان خان کونړی ځواکونو نه يوازې دا چې د انګريزانوانو په غوښتنه له خپلو سنګرونو شاته نه شول، بلکې د هغه وروسته يې هم د اسمار د ځواکونو په ملتيا چې د جنرال عبدالوکيل خان نورستاني تر قوماندانۍ لاندې وې، خپلو عملياتو او پرمختګ ته دوام ور کړی دی. د دې جبهې په اړه بشپړ معلومات کولای شئ "د افغانستان د خپلواکۍ د بيرته ترلاسه کولو جګړه: د چترال او کونړ له ياده وتلې جبهې" د کتاب څخه چې همدې مولف ليکلی دی، تر لاسه کړئ. دلته د دې جبهې د پيښو په اړه په لنډه توګه يادونه کيږي.

## د څلورمې جبهې د جګړې لنډيز

د ۱۹۱۹ کال د مۍ په ۵مه نيټه، کله چې د افغانستان او بريتانيې تر منځ اړيکې خړې پړې شوې، په چترال کې د انګريزانو د سياسي استازي مرستيال (Assistant Political Agent)[۸۷] او جګړن ريلی (Major Reilly) د برتانيې د پوځ د چترال د سکاوټ آمر دريو ټوليو ته د تيارسئ امر ور کړ.[۸۸]

۸۷. Noel Edmund Reilly د ۱۹۱۵ کال څخه د انګريزانو د سياسي استازي د مرستيال په توګه د دير، سوات، او ملاکنډ په سيمو کې دنده تر سره کوي.

۸۸. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۲ مخ، Robson, Brian (2004) ۳۴ مخ، او Government of India. (1926)، ۸۹ مخ.

بریتانوي ځواکونه د سفر په وسایلو سمبال وو. په ورته وخت کې، د دروش د کلا ګارنیزون (Drosh Kala) د ډګروال سامبورن پالمر ( Lieutenent Colonel Sambourn-Palmer)[۸۹] تر قوماندې لاندې، دفاعي حالت ونیوه او د تیارسۍ حالت یې غوره کړ.

د ۱۹۱۹ کال د مې په ۸ (د ۱۲۹۸ د غوایي ۱۷) غازي میر زمان خان د خپلو څلور سوه (۴۰۰) اولسي جنګیالیو سره د اسمار له لارې د بریکوټ لورې ته و خوځید. د په شمال لویدیز سرحدي ایالت کې د انګریزانو عمومي کمیشنر په هند کې د بریتانوي هند د حکومت سکرټر، د انګلستان نائب السلطنه او د انګریزانو د ځواکونو عمومي قوماندان ته د ۱۹۱۹ کال د مې په لسمه له چترال څخه د انګریزانو د استازي د یوه ټلګرام نقل استوي، چې متن یې په دې ډول و: «د ارندو څخه را رسیدلي رپوټونه[۹۰] څرګندوي چې **له سرکاڼو څخه ټول پوځي ځواکونه ،د بریکوټ د پوستې د پیاوړتیا لپاره د میرزمان خان تر مشرتابه لاندې، پر چترال د برید په موخه ځانګړي شوي دي . میر زمان خان د می په اتمه د شپې په اته بجو اسمار ته و رسید. د یو رپوټ له مخې به برید، په ۱۵ مه نیټه پیل شي. بل رپوټ وايي چې هغوی به د ټوپکو تر رسیدلو پورې چې له جلال آباد څخه به و رسیږي، انتظار و باسي... مهتر مونږ سره د مرستې ژمنه کړې او د وفادارۍ پیغام یې استولی دی**».[۹۱]

د ټلګرام د انګلیسي متن څخه را اخستل شوې برخه:

"Report received from Arandu that all regular troops from Sarkanni reinforcement to Barikot Thana five regiments have been allotted for an attack on Chitral under Mir Zaman Khan, who reached Asmar, May 8th, at 8 P.M. Attack will, according

---

۸۹. Frederick Carey Stukely Sambourne-Palmer د ۱۹۱۲ او ۱۹۲۰ کلونو تر منځ چې وکړی د راجپوټ د ځواکونو مشري په غاړه لرله او بیا یې د راجپوت د ۱۰ او ۷ کنډک مشري په غاړه لرله.

۹۰. هغه نوم چې انګریزان او چترالیان یې د ارنوۍ لپاره کاروي.

۹۱ . د انګریزي استخباراتو محرمانه اسناد ، د ۱۹۱۹ د می ۱۱ نیټه، په شمال لویدیځ سرحدي ایالت کې د انګلیسانو دعمومي کمشنر ۱۳۰۹ ګڼه ټیلګرام، بریتانوي هند د حکومت سکرټر، په هند کې د انګلستان نائب السلطنه او د انګلیس د ټولو ځواکونو قوماندان

to one report begin on the 15th instant, another report is that they will await rifles which are expected from Jalalabad".

غازي ميرزمان خان په دې سيمې کې د انګريزانو د نوکرانو او جاسوسانو عملياتو څخه د خبريدو وروسته، په اسمار کې له ځنډ پرته، د ناړی پر لور خپل حرکت ته دوام ورکړ او د جمعې د ورځې د سهار په ۸ بجو، د ۱۹۱۹ کال د مې په ۹ نېټه (چې د ۱۳۳۷ کال د شعبان ۸ او د ۱۲۹۸ کال د غوايي ۱۸ سره سمون لري) بريکوټ ته ورسيد.

پوهاند رازقي نړيوال د «لرغوني او اوسني کونړ» کتاب په ۲۰۹ مخ کې دې موضوع ته داسې اشاره کوي: «بايد و ويل شي چې د چترال په جبهه کې چې هرڅومره انګريزي جاسوسانو فعاليت وکړ بيا يې هم کومه نتيجه ورنکړه».

غازي ميرزمان خان له هغه وروسته چې سرحد ته نږدې د ارنوۍ په سيمه کې ځای پرځای کيږي، د پوله ساتو ځواکونو د قوماندان کرنيل خورشيد خان سره يو ځای جهاد او پر بريتانيايي تاسيساتو بريدونو ته ځان چمتو کوي.

د ۱۹۱۹ کال د مې په ۹ نېټه، (د ۱۲۹۸ کال د غوايي په ۱۸)، بريتانويانو د چترال د سکاوټانو څخه دوه ټولي د چترال د سيند په کينه غاړه (کونړ) کې د ګله پيچ(Galapach) سيمې ته چې د ميرکهنۍ (Mirkhani) د کښتنۍ برخې په ۲ مايله واټن کې پرته ده، استوي، تر څو د سيند د غاړې لاره و ځاري.

د چترال مهتر هم يو لښکر چمتو کوي او د دوه شهزادګانو، دوه ترونو او يو مشر زوي يا وليعهد تر مشرۍ لاندې يې د افغانستان پولو ته استوي. د دې لښکر دوه ډلې، چې زره کسه لري، د بدخشان د غاښو د ساتلو لپاره ټاکل کيږي. يو د شهزاد غازي الدين تر مشرتابه لاندې د "دو راه" د غاښي او بل يې د شهزاده محمد مظفرالملک تر مشرتابه لاندې د "بروغيل" غاښي ته استول کيږي. بله ډله د هغه د مشر زوی او د مهتر د ځای ناستي، شهزاد نصيرالملک[۹۲]، او د مهتر ورور چې "دستګير" نوميږي، تر مشرۍ لاندې د

۹۲. نصيرالملک په ۱۹۴۰ کال کې د چترال مهترۍ ته ورسيد.

نورستان لوري ته د غاښو د ساتنې او د افغانانو د برید د مخنیوي لپاره پر دندو ګمارل کیږي.

د ۱۹۱۹ کال د مې د میاشتې په ۱۲مه نیټه (د ۱۲۹۸ کال د غوایي د میاشتې ۲۱ چې د ۱۳۳۷ د شعبان د میاشتې ۱۱مې) سره سمون لري، د غازي میرزمان خان تر مشرۍ لاندې شاوخوا درې سوه اولسي جنګیالي د پولې څخه تر تیریدو وروسته، د بریکوټ سمیې ته مخامخ، د چترال تر واکمنۍ لاندې سیمو "ارنوۍ"، "دوکلام"، "لمبربټ" او "ګډ"، باندې برید وکړ او تر خپلې ولکې لاندې یې راوستلې. د دغو سیمو د نیولو وروسته، افغان جنګیالیو خپل پرمختګ شمال ته، د میرکهنۍ پر لور چې د کونړ د سیند د شمال په اوږدو کې پرته ده، دوام ورکړ.[۹۳]

د ۱۹۱۹ کال د مې په ۱۳ د (۱۲۹۸ کال د غوایي په ۲۲) په چترال کې د بریتانیا استازی جګړن ریل خبریږي چې د غازي میرزمان خان کونړی لښکر د کونړ د سیند ختیځې غارې ته "دمرنثار" او "کاوټي" چې د "میرکهنۍ" سره د ۸ مایلو په واټن کې پرتې دي، تر ولکې لاندې راوستي دي او د جنوب لورې ته یې د چترال د سکاوټ د ځواکونو په ۲ مایله واټن کې مورچې نیولي دي[۹۴]. په ورته وخت کې، د میرکهنۍ په لویدیځې برخه د پیټاسن یا پاټکون په غاښي (Patkun) کې د ځارونکې اور رڼا لیدل کیږي. دا نښې یا شفر د افغان ساتونکو د پوستو د لویدیځ لورې څخه د غازیانو د برید خبر ور کوي. بریتانوي قوماندانانو داسې و انګیرله چې د افغان پوځ قوماندان غواړي په دروش برید وکړي. د دې خبر په ترلاسه کیدو، جګړن ریلی، د چترال د دوه ټولیو سکاوټانو او د مهتر دیو سل او شل (۱۲۰) تنو ساتونکو سره د دروش څخه د میرکهنۍ پر لور حرکت وکړ، تر څو د ګله پیچ له پورتنیو برخو څخه و کولای شي هم د پاټکون د غاښي څارنه وکړي او هم د کونړ د سیند په ختیځو

۹۳. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۲ مخ، Robson, Brian (2004) ۳۵ مخ، او Government of India. (1926) ، ۸۹ مخ.

۹۴. هماغه ځای

برخو کې د افغان ځواکونو پرمختګونه و ځاري. هغه دیرش (۳۰) تنه د نغر په سیمه کې، د ۲ مایلو په واټن د میرکهنۍ په شمال کې ځای پر ځای کړل، خو له هغه وروسته يوه شو چې د لویځ له لورې د افغانانو د برید خبر رښتیا نه وه.

د ۱۹۱۹ کال د می په ۱۴مه (د ۱۲۹۸ د غوايي ۲۳ مه) نیټه د افغان اولسي ځواکونو او بریتانوي ځواکونو تر منځ سخته جګړه پیل کیږي، افغانان بریالي کیږي چې انګلیسي ځواکونو ته ماتې ورکړي او "ګله پیچ" تر ولکې لاندې راولي.

د ۱۹۱۹ کال د می په ۱۵مه (د ۱۲۹۸ د غوایي ۲۴مه ) نیټه جګړن ریلي "میرکهنۍ" ته د رسیدو سره سم خبر تر لاسه کوي چې افغانانو د کونړ د سیند په دواړو غاړو کې د شمال پر لور پرمختګ کړی دی او د انګریزي ځواکونو یو ټولی چې په "ګله پیچ" کې یې ماتې خوړلې د "میرکهنۍ" پر لور د تیښتې په حال کې دی. جګړن ریلي د چترال د سکوټانو یو تازه دمه ټولی د مهتر د ځینو سړیو سره د کونړ سیند لویدیځو غاړو ته لیږي او خپله د سیند په ختیځه غاړه کې، د تښتیدلي لښکر مخه نیسي او د "ګله پیچ" د بیرته نیولو لپاره چمتو کیږي.

تر دې مهاله د چترال په جبهه کې افغان ځواکونه، د غازي میرزمان خان د څلور سوه (۴۰۰) اولسي جنګیالیو او د خورشید خان دیوه ټولی پوځیانو څخه جوړ شوي دي.

## د افغان غازیانو لنډ مهاله پرشاتګ

د ۱۹۱۹ کال د می په ۱۶مه (د ۱۲۹۸ د غوایي ۲۵ مه) نیټه د انګریزانو د تازه دمو او افغان لښکر تر منځ د "ګله پیچ" او "کاوټي" په محاذونو کې لاس په لاس جګړې دوام درلود. "کاوټي" د سیند ختیځې لورې تر برید او د توپخانې تر اور لاندې راځي په یوه سخته او نا برابره جګړه کې، انګریزان د افغانانو پر مورچلو حاکمې نقطې تر ولکې لاندې راوستلې شي او له هغه ځایه افغان غازیان د غرني توپ د ګولیو تر اور لاندې نیسي. افغانانو له "کاوټي" څخه

شاته تګ وکړ او د شاته تګ پر مهال یې یو ازې یو سټنډرډ توپ چې له کاره لویدلی و، پر ځای پرېښود. دا توپ وروسته چترال ته استول کیږي او د بریکوټ په جګړه کې د نیول شوي توپ په نامه، د چترال د شاهي کلا په مخ کې د ننداري او ښکلا لپاره ایښودل کیږي.

د ۱۹۱۹ کال د مې په ۱۷ مه (د ۱۲۹۸ د غوایي ۲۸مه ) نیټه د "دمرنشار" و "کاوټي" په محاذونو کې سخته جګړه نښلي چې د سختو تلفاتو سبب کیږي. انګریزان په دې مورچل کې د افغانانو مرګ ژوبله دیرش (۳۰) شهیدان او څلویښت (۴۰) ټپیان په ګوته کوي.

یوه ستره ستونزه چې د جبهې قوماندان، غازي میرزمان خان، ورسره لاس او ګریوان ؤ، د مهماتو په لړ والي سربیره، د جګړې د ټپیانو درملنه وه. هغوی نه شو کولای چې خپل شهیدان او ټپیان د جګړې په ډګر کې پرېږدي. که چیرې دا کار حتی په تصادفي توګه هم پیښ شوې واې، نو د شپې په تیاره کې به د ځیرونکو او وحشي حیواناتو تر برید لاندې راتلل.[۹۵] نو له همدې امله پریکړه کوي چې د شهیدانو او ټپیانو د لیږدولو لپاره په مؤقت ډول پرشا تګ وکړي او "ارنوۍ" او "بریکوټ" ته بیرته ستون شي.

بریتانویانو د افغانانو دا شاته تلل یوه ستره بریا و ګڼله د پېښور عالي کمیشنر، د بهرنیو او سیاسي چارو سکرتر او په شیمله کې د بریتانوي هند د حکومت سیاسي استازي ته د شمال څخه تر جنوب پورې د وضعې په اړه رپوټ ورکوي "چې د چترال د رپوټ له مخې، د دښمن درې سوه (۳۰۰) کسان یې د چترال د سیند شاوخوا په دوو سیمو کې د "میرکهنۍ" په لس مایله واټن کې نیولي دي. جګړن ریلي د چترال د درې سوه سکاوټانو او د مهتر د ساتونکو په مرسته پر هغوی برید کړی دی، له دواړو سیمو څخه یې شاته شړلي دي او یو سټنډرد توپ یې ترې نیولی دی. دښمن په میدان کې لس مړي پریښودل او ښایي ډیر شمیر په سیند او نهرونو کې ډوب او نور د ارنوۍ پر

۹۵. Molesworth, G. N. (1963). ۹ مخ.

لور تبنتیدلي وي. مورږ هیڅ زیان نه درلود. د دیر، سوات، او تورو غرونو سمیې آرامې دي. مومندان رپوټ ور کوي چې د کابل په سیند کې د ډیرو آسونو، قچرو او فیلانو جسدونه لاهو شوي دي. مومندان او شلمانی ارامه دي. شینواري او ملاګوري فعال دوستان او زمونږ په چوپړ کې دي.[۹۶] "

برتانویان پوهیدل چې دا پر هغو افغانانو باندې یو ازمایښتي فشار دی چې تر اوسه پورې یې خپل اصلي ځواک په کار نه دی اچولی.[۹۷]

دیکشنبې په ورځ، د ۱۹۱۹ کال د می ۱۸ مه (د ۱۲۹۸ کال د غوایی مه۲۹) نیټه انګریزانو د خپلو جاسوسانو له خوا خبر تر لاسه کړ چې غازي میر زمان خان، د "کله پیچ" د شاته تګ پر مهال پریکړه کړې وه چې د بریکوټ د پوځي ځواکونو څخه د سرتیرو څو ډلې د کرنیل خورشید خان تر قوماندې لاندې د "ارنوی" پر حاکمو څوکو د یو مایل په واټن د "باشګل (لنډې سیند) " په کیڼه غاړه او د "شوټ درې" او د "ایستور" دسیند د فرعي ښاخ تر څنګ، د "ایستورز" په مورچلونو کې ځای پر ځای کړي او خپل کشرورور خان محمد خان کونړې، د مومندو د تازه دمه لښکر د چمتو کولو لپاره مومندو او باجوړ ته و استوي. له همدې امله هغوی د نوو ګامونو پورته کول غوره وګڼل او په لاندې جګړه ایزه نقشه یې کار وکړ:

څنګه چې د واخان او بدخشان غاښې لا هم د واورې له امله تړلې وو او د شمال لویدیځ څخه د برید ګواښ نه بریښیده، او دا روښانه وه چې د افغانانو لیږد یوازې د نورستان او کونړ څخه شونی دی، سامبورن-پالمر د "دروش کلا" د دفاعي کرښې تر بشپړتیا وروسته د هغو دوه زره چترالي ځواکونو چې له هغه غاښې څخه ساتنه کوله، وغوښتل چې د ارنوی پر لور حرکت وکړي.[۹۸]

---

۹۶. د انګریزانو د استخباراتو محرمانه اسناد، ۱۳۵۲ ګڼه ټیلګرام، د ۱۹۱۹ کال، د افغان - انګلیس د دریمې جګړې اړوند لومړۍ برخه مراسلات، L/P&S/10/819; FileP.1953/1919 ۱۷۲ ګڼه سند.

۹۷. Robson, Brian (2004) ۳۵ مخ.

۹۸. هماغه ځای

انګریزانو د کامدیش نورستانیانو او د باشګل (لنډې سیند ) د کینې غاړې او سیدونکو ته د بیلابیلو ژمنو له لارې چې په هغه کې د افغانستان د حکومت څخه د هغوی خپلواکي هم وه، د ځان سره ملګري کړي، هغوی هڅوي چې په جګړه کې ګډون وکړي او له هغوی سره یو ځای د افغانانو په مورچلونو بریدونه وکړي.

د انګلیسي ځواکونو قوماندان سامبورن – پالمر، په خپله هم د (۱۱/۱) لمبر راجپوت ځواکونو سره ځان د جبهې لومړۍ کرښې ته و رساوه.[۹۹] هغه پوهیده چې د غازي میرزمان خان د اولسي لښکر سره د نوو غازیانو یو ځای کیدو سره بیا هم د افغان جنګیالیو شمیر د شپږو (۲۰۰) تنو څخه ډیر نه دی او انګلیسي ځواکونو شمیر څو ځله تر هغوی ډیر دی، د ۱۹۱۹ کال د مې په ۱۹ مه (د ۱۲۹۸ د غوایي ۳۰ مه ) نیټه د انګلیسي ځواکونو قوماندان سامبورن-پالمر پریکړه کوي چې له دې فرصت او زرین چانس څخه ګټه واخلي، د خپلو ټولو ځواکونو سره د افغانانو په مورچلوبرید وکړي . هغه په بشپړ چمتوالي او ډاډ خپل ځواکونه په څلورو برخو و ویشي او د "میرکهنۍ " څخه ور ته حرکت ورکوي:

— لومړۍ ډله کې د چترال د سکاوټ د ټولي، د مهتر د ساتونکو زر (۱۰۰۰) تنه او یو شمیر نورستانیانو ګډون درلود چې د پولې څخه نوي رسیدلي وو. د دې ډلې مشري نصیرالملک، د مهتر مشر ځوی په غاړه درلوده چې دوه ترونه، د مهتر ورونه، چې دستګیر او دلارام خان نومیدل د هغه سره ملتیا کوله. هغوی دنده درلوده چې د پولې ښـي لورې څخه د "پاتکون " له غاښـي سره نژدې تیر شـي، د "ایسـتور" د سـیند په غاړه کې کښـتنۍ لورې ته د "باشګل (لنډې سیند ) " د یو ځای کیدو ځای پورې مخته ولاړ شـي. هغه ځای ته له رسـیدو وروسـته، باید هغوی پنځوس (۵۰) تنه د "باشـګل " د پل د سـاتنې لپاره ځاي په ځای کړي او د لویدیځې څنډې د لوړو غونډیو څخه د "بریکوټ " په قرارګاه برید وکړي.

---

۹۹. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۴ مخ؛ Robson, Brian (2004) ۳۷ مخ؛ او Government of India. (1926)، ۹۰ مخ.

- دوهمه ډله کې باورز[۱۰۰] تر قوماندې لاندې د چترال د سکاوټانو دوه ټولي د سیند د لویدیځې څنډې څخه باید کښته راشي او د باشګل (لنډې سیند) پل د باشګل او کونړ د دوه سیندونو د یو ځای کیدو په نقطه د "ارنوی" په شمال کې تر لاسه کړي. پر دې سربیره د چترالیانو یو دري سوه (۳۰۰) کسیزه ایله جاري لښکر همدارنګه د نده درلوده چې حرکت وکړي او د سمیې څخه د کوزیدو سره سم چې د "ایستور" او "چترال" د اوبو ترمنځ یې موقعیت درلود، د دې دوو ځواکونو اړیکې د چترال سکاوټ ځواکونو سره تامین کړي.
- دریمه ډله، یا اصلي (خوځښت) د سامبورن- پاملر تر شخصي قوماندې لاندې لارښوونه تر لاسه کړې وه چې د چترال د سیند ختیځې څنډې څخه د را کوزیدو وروسته، "ارنوی" تر ولکې لاندې را ولي. په دې ځواک کې د چترال سکاوټ چې د ریلی تر مشرۍ لاندې و، د راجپوت (۱۱/۱) ځواک له یوه ټولي پرته، د مدراس ټولې کنده کیندونکي ځواکونه، یو ټولی ماین خښونکي ځواکونه او د بطریې یوه برخه ۲۳ ګڼه غرنۍ توپچي ځواک ګډون درلود.
- څلورمه ډله (د کینې لورې) کې د چترال سکاوټ دري ټولي شامل وو چې د کپتان کریمین[۱۰۱] تر قوماندې لاندې په یوه پراخه ښه نیمه دایروي حرکت د "دمرنثار" څخه باید خپل ځان د افغانانو ښي اړخ ته ورسوي. ټولې ډلې باید د می تر ۲۳ مې نیټې پورې خپلو ټاکلو موخو ته ځان و رسوي.

د ۱۹۱۹ کال د می په ۲۲ مه (د ۱۲۹۸ کال د غوایي ۳۱ ) نیټه نصیرالملک د افغانانو له یوې کوچنۍ ډلګۍ سره له ټکر وروسته له باشګل (لنډې سیند)

---

۱۰۰. Tomas Ivan Bowers د ۱۱/۱ راجپوټ پلی ځواک مرستیال قوماندان د بوپال د ۹ نمبر پیاده پوځي ځواک څخه وه.

۱۰۱. Charles Clarence Crimmin چې ۱۹۱۸ کال څخه د دوهم ځل لپاره د چترال د پیش آهنګانو ځواک کې یې دنده ترسره کوله.

ځخه تیر شو او ځان د لویدیځ بریکوټ لوړو سیمو ته و رساوه. د می په ۲۲ او ۲۳ شپو د چترالیانو یو څو کسو هغه پل و غورځاوه چې "بریکوټ" یې د "ارنوۍ" سره تاړه. په دې وسیله هغوی وکولای شول د "ارنوۍ" د افغان مدافعینو اړیکه د بریکوټ سره پرې کړي، او هغوی ته د مرستې د رسیدو خنډ شي.

د ۱۹۱۹ کال د می په ۲۳مه چې (د ۱۲۹۸ کال د غبرګولي ۱) او (د ۱۳۳۷ کال د شعبان ۲۲ ) سره سمون لري سامبورن-پاملر (Sambvrn-PamIr) خپل حرکت ته دوام ورکوي، خو په لاره کې، د "ارنوۍ" په پنځه میلۍ کې، د رنګ شوي پل سره مخ کیږي، چې د هغه د پرمختګ خنډ شو. خو د هغه سره مل جګړن ریلي، د خپلو یو شمیر ځواکونو سره په ډیروخواریو له دې خنډ ځخه تیریږي او د "ارنوۍ" شمال سره نژدې، د افغان غازیانو سره مخامخ کیږي. سهار شپږ بجې، د انګلیسي جګړن ریلي او افغان غازیانو تر منځ درنه جګړه پیل کیږي. غازي میرزمان خان او د هغه زړور لښکر، سره له دې چې د شمیر او مهماتو له پلوه په هیڅ ډول د انګلیس د ځواکونو سره نه شوې پرتله کیدی، له خپله ځانه ډیره لوړه میړانه وښوده او مقاومت یې وکړ. هغوی د ډیرو کوچنیو ډلو په بڼه په څو محاذونو لکه "انګارپتۍ پاری"، "ملک هور" او "لمبربټ" کې په جګړه بوختیږي. د سهار په ۷ بجو او ۴۵ دقیقو د ۲۳ بطریه توپچي غونډ په غرهار راځي. د جګړن ریلي تر قوماندې لاندې د چترال د سکاوټانو او د راجپوت د (۱۱/۱) قوا ته هم لارښوونه کیږي چې پر "دوکلام" برید وکړي. د "دوکلام" نیول شوو مورچلونو د دفاع لپاره درنه جګړه پیل کیږي. هغه ډله چې د کریمین تر قوماندې لاندې ده "انګارپتۍ پاری" ، "ملک هور" و "لمبربټ" په سخته جګړه کې د دوکلام د نیول شوو پوستو دفاع پیل کوي. د کریمین د قوماندې لاندې ډله هم هڅه کوي چې د ښي لورې څخه د ریلي د ځواکونو سره یو ځای شي، خو د افغانانو له سخت مقاومت سره مخ کیږي. افغان جنګیالي د ماسپښین د ۲ بجو او ۱۰ دقیقو پورې مقاومت کوي او د انګریزانو د دوا ړو ځواکونو د پرمختګ مخه نیسي، خو له هغه وروسته چې مهمات ور سره ختمیږي، د جنوب لور ته د کونړ سیند څنډو ته په شاتګ کوي.

(۱۱/۱) راجپوتې ځواکونه د افغانستان د مقاومت ځواکونه په اصلي او مرکزي برخه کې تر برید لاندې راولي، غواړي پرمختګ وکړي، خو دوی د افغانستان د میړنیو د ډزو د سخت مقاومت سره مخامخ کیږي او درانه تاوانونه ور ته اوړي.[۱۰۲] بریتانویانو ته معلومات ورکړل شوي وو چې د افغان ځواکونو قوماندان، میرزمان خان، په خپله د ارنوی د کلا په قرارګاه کې موقعیت لري. هغوی د سهار له ۱۰ بجو او ۵ دقیقو څخه تر ۱۱ بجو او ۱ دقیقو پورې نوموړې کلا د توپخانې تر کلکو بریدونو لاندې نیسي. غازیان بیا هم د انګریزانو د پرمختګ مخه نیسي. سامبورن-پاملر د ډیرې نورې مرستې غوښتنه کوي، او نور پنځه بلوکه(۲۵۰ کسه) د هغه مرستې ته استول کیږي.

په داسې حال کې چې افغان غازیانو په زړورتیا د خپلو مورچلو څخه دفاع کوله، "باورز" تر قوماندې لاندې د چترال د سکاوټ د ځواکونو دوه ټولي ځانونه د باشګل (لنډې سیند) پل ته رسوي او د سیند غاړې لوید یځې لورې ته د شهزاده نصیرالمک چترالي ځواکونو سره یوځای کیږي او بریکوټ ته ننوځي. کله چې دوی بریکوټ ته ننوتل، د مهتر د ساتونکو په مرسته نورستانیان او چترالیان د بریکوټ د کلي او د خلکو د مالونو په لوټ پیل کوي. نورستانیانو تر بل هر چا ډیر د بریکوټ د اوسیدونکو د مالونو په لوټ کې ونډه ولرله.

په داسې حال کې چې د ارنوی د کلا دیوالونو ړنګ شوي وو او دننه کلا په اور کې سوځیدله، انګریزانو، خپل طرحه شوي پلان سره سم، خپلو ټولو ځواکونو ته د ارنوی د وروستي برید لپاره د خوځیدلو امر کوې، خو د تمې پر خلاف، جګړې د د ماسپښین د ۲ بجو او ۳۰ دقیقو پورې دوام وموند. په دې جګړه کې د مهتر یو ورور هم ووژل شو. افغان غازیان پر شاتګ پیل کوي، خو د نخښې ویشتونکو یوه ۲۵ کسیزه ډله د یوه غټ ګټ شاته، چې د راجپوتې ځواکونو پر لاره یې حاکمیت درلود، کمین نیسي او د دښمن ځواکونو ته ډیر درانه تاوانونه اړوي. انګریزان د چترال سکاوټ ځواکونو او د راجپوتانو یو

---

۱۰۲. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۲ مخ.

بلوک ته چې د جمعه دار رام سنګ تر قوماندې لاندې دي امر کوي چې د افغان سربښندونکو سره مقابله وکړي، او خپله په ډېره چټکۍ تښتي. د افغان سربښندونکو مقاومت او د راجپوتانو سره لاس په لاس جګړه تر هغې دوام مومي، کله چې د هغوی وروستی کس هم د لاسي بمونو د بريدونو له امله د شهادت جام څښي.

غازي ميرزمان خان د ارنوۍ د کلا د خالي کولو له لارې د جګړې کړنلاره بدله کړه، پريکړه يې وکړه چې د هغه د ورور خان محمد خان تر رسيدو پورې چې د محمد امين خان کوډا خيل تر مشرۍ لاندې د مومندو تازه دمه لښکر به ور سره وي، د مخامخ جګړې پرځای غلچکي بريدونه وکړي.

د بريتانوي پوځ قوماندان، ډګروال سامبورن-پالمر، په داسې حال کې چې مرکز ته يې خپل رسمي رپوټ کې ادعا وکړه چې افغانانو ماتې خوړلې او د چترال مهتر لپاره يې د مکافاتو غوښتنه وکړه، خو پوهيده چې هره ګړۍ به د افغانانو تر نوي بريد لاندې راشي، نو له همدې امله يې خپلو ځواکونو ته امر وکړ چې ډېره ژر، د شپې د تياري څخه د مخه، د سيند ختيځ لورې تخليه کړي او د ارنوۍ د شمال ختيځ په هواره ځمکو کې يو لنډ مهاله کيمپ جوړ کړي. خو دا تخليه د انګريزانو لپاره بې تاوانه نه وه. هغوی يو ځل بيا د افغان غازيانو د ټوپکو تر اور لاندې راغلل، چې په هغه کې خپله د سامبورن–پالمر په ګډون د جګړن ريلي دوه تنه انګليسي انظباطان هم ټپيان شول.[۱۰۳]

بريتانويانو خپل تلفات په دې څو ورځنيو عملياتو کې شپاړس (۱۶) تنه مړي او اته څلويښت تنه ټپيان وښودل. هغوی دا ادعا هم وکړه چې د افغانانو تلفات دوه سوه پنځوس (۲۵۰) تنه شهيدان او پنځه پنځوس تنه بنديان وو[۱۰۴]، خو دا ادعا په بشپړه توګه مبالغه ده. په دې جګړه کې د افغان شهيدانو اصلي شمېره، د غازي ميرزمان خان د ورور سردار خان په ګډون، يو سل او شپږ ويشت (۱۲۶)

۱۰۳. Robson, Brian (2004) **۳۷** مخ.

۱۰۴. Molesworth, G. N. (1963)، **۱۳۶** مخ.

تنه او د ټېپيانو شمير ۱۸۰ دی.[۱۰۵]

د می میاشتی وروستۍ اونۍ د کومې برخه ليک ټاکونکي جګړې پرته تيريږي او دواړه لوري افغانان او بريتانويان د مهماتو په راټولولو او د خپلو ځواکونو په پياوړي کولو بوختيږي.

د پيښور لوې کميشنر او د انګريزانو استازی خپل مرکز ته د دير له لارې د چترال او کونړ په جبهو کې د انګريزانو د ځواکونو د ټېپيانو د لیږد سره د مخالفت يادونه کوي او ليکي چې: "د ملکنډ سياسي استازی ( Political Agent ) "رپوټ ورکړی چې د دير له لارې يې د چترال د ټېپيانو د لیږد وړانديز تر لاسه کړی دی. سياسي استازی په دې پريکړه نيوکه کوي، او وايي چې دا عمل (يعنې د ګڼ شمير بريتانوي ټېپيانو د لیږلو کتل به) د سيمې د خلکو د هيجان سبب شي[۱۰۶]".

د ۱۹۱۹ کال د می په ۳۰ نېټه د ګلګت سياسي استازی په خپل ټلګرام کې[۱۰۷] شيملې ته خبر ورکوي چې "له چترال څخه د رسيدلي خبر له مخې ښايي يو افغان جنرال د پنځه سوه (۵۰۰) تنو سره او نور زيات شمير نور د "بروغيل" [غاښي] ته راشي، هغوی د ګلګت څخه (۳۹۹) ټوپک غوښتي دي. ما د سکاوټ يو بل ټولي ته امر وکړ او همدارنګه مې د "مستوج" او "ياسين" د امنيت ترتيبات نيولي دي. ما د اکسوس په وادۍ کې د ښنتې په صورت کې، د سکاوټ د نورو ځواکونو د حاضريدلو امر هم کړی دي".

د ۱۹۱۹ کال د می په ۳۱ مه نېټه د غازي محصل خان مومند د ځوی، محمد امين خان کوډاخيل تر مشرۍ لاندې، چې دغازي ميرزمان خان ورور، خان

---

۱۰۵. اخلاص، عبدالخالق. (۲۰۰۵م) ۲۰۵ مخ.

۱۰۶. د انګريزانو د استخباراتو پټ اسناد، ۱۴۷۰ ګڼه محرم تلګرام، د می ۲۷ نېټه، د ۱۹۱۹ کال د ليکونو دوهمه برخه، د افغان-انګليس دريمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۳۲۹ ګڼه سند.

۱۰۷. د انګريزانو د استخباراتو پټ اسناد، د ۱۹۱۹ کال د ليکونو دوهمه برخه، د افغان-انګليس دريمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۳۲۲ ګڼه سند.

محمد خان هم ورسره و، د مومندانو يو لس زره کسيز ستر لښکر د باجوړ څخه د بريکوټ پر لور حرکت کوي. "

د پېښور عالي کمشنر او په شمال لويديځ سرحدي ايالت کې د بريتانوي هند د حکومت استازي خپلو آمرينو ته د اوضاع په اړوند بشپړ رپوټ کې د نوموړي ايالت په اړه داسې ليکي چې: "د خبر له مخې، د سالارزيو او مومندو قومونو يو لښکر د سرکاڼيو ملا سره يو ځای[۱۰۸] اسمار ته نژدې را رسيدلی دی". د رابرتسن (Robertson) يو ملګرې، د کافرانو [نورستانيانو] "چاندلو تيراګ"، دمې په ۲۳ مه نيټه د باشګل (لنډې سيند) پر پل په يوه زړور بريد کې وژل شوی دی. د چترال څخه يو بل رپوټ وايي چې "غلام خان"، د اسمار پخوانی خان چې اوس په چترال کې اوسيږي[۱۰۹]، شاوخوا درې زره (۳۰۰۰) کسيز لښکر پر اسمار د بريد لپاره چمتو کړی دی، چې د هغوی اته سوه (۸۰۰) تنه "دانګام" ته چې د "اسمار" د ختيځ په څلور مايله واټن کې پروت دی، رسيدلي دي. هغه زمونږ نه غوښتې دي چې که حکومت پر اسمار بريد وکړي، نو د هغه د حمايت ضمانت وکړو. د خبر له مخې اسمار ته د عثمان خان د ځواکونو د دريو ډلګو رسيدلو سره، د اسمار د ګارنيزون د سرټيو ټول شمير اوس دوه زرو (۲۰۰۰) کسانو ته رسيږي. د سالارزيو يو لښکر هم د اسمار د سقوط پر مهال له حکومت څخه مرسته غوښتې ده. په دې ډول داسې ښکاري چې درې ډلې د اسمار د لاس راوستلو لپاره سيالي لري. ما "ريلی" ته لارښوونه کړې چې د حکومت له خوا په راتلونکې کې هيڅ ژمنه ور نه کړي، خو ويلي مې دي چې د امکان تر حده مرسته وکړي".[۱۱۰]

---

۱۰۸. د سرکاڼو ملا څخه مقصد، د سرکاڼو ميا صاحب، د انګليسانو ضد يو نامتو روحاني دی.

۱۰۹. د اسمار د پخواني خان يوه لمسی، عبدالله خان، د اسمارۍ خونزا (شاهدخت اسمار) په نامه د چترال يوه متنفذه ښځه وه چې لومړی يې د مهتر محترم شاه، چې په آدم خور پيژندل کيده، سره واده کړی وه او وروسته يې د مهتر ورور امان الملک سره واده وکړ، د مهتر شجاع الملک مور وه چې په ۱۹۱۹ کال کې د چترال مهتر وه.

۱۱۰. د انګريزانو د استخباراتو پټ اسناد، ۱۵۰۴ ګڼه محرم ټيلګرام، د ۱۹۱۹ کال د ليکونو دوهمه برخه، د افغان-انګليس دريمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۳۲۴ ګڼه سند.

## د محمد امين خان کوډاخيل تر مشرتابه لاندې د مومندو د يو ستر لښکر رسيدل

د ۱۹۱۹ کال د جون په لومړۍ نیټه چې (د ۱۳۳۷ قمري کال د روژې ۲ او يا د ۱۲۸۹ لمريز کال د جوزا ۱۰) سره سمون لري، اولسي لښکر ته د نوو ځواکونو رسيدلو سره، غازي ميرزمان خان يو ځل بيا د جګړې کرښلاره د غلچکي څخه جبهه ايزې ته بدله کړه. هغوی د ارنوۍ په سيمه کې د انګريزانو په کيمپ چې مشري يې په خپله سامبورن-پالمر په غاړه درلوده، بريد کوي . انګريزي ځواکونه د اور د بل ساتلو له لارې د شپې د تيارې څخه په ګټه، تښتي او خپل ځانونه ميرکهنۍ ته رسوي. افغانان يو ځل بيا بريالي شول چې په دوه-درې راتلونکو ورځو کې د مهتر د ساتونکو او چترالي ځواکونو سره، چې مشري يې نصيرالملک او د مهتر ځوی کوله، د خورو ورو جګړو له لارې د "ګډ" او "لمبر بټ" سيمې يو ځل بيا تر خپلې ولکې لاندې را ولي او د چترال په خاوره کې خپل پرمختګ ته دوام ورکړي.[۱۱۱]

ځينې انګليسي سرچينې او د چترال دشاهنامې ليکوالان د انګليسانو دا تيښته د هغوی ماتې نه بلکې مصلحتي پر شاتګ ګڼلی دی. "په سرحد کې بحران: د افغان دريمه جګړه او د ۱۹۱۹ -۲۰ پورې د وزيرستان کمپاين"[۱۱۲] "د کتاب ليکونکې ليکي "سره له دې چې دا کوچني عمليات هڅونکي وو، په هغه کې د افغان ځواکونو يوه کوچنۍ برخه په جګړه اخته وه. په اسمار کې ډير ډارونکي ځواکونه د راټوليدو په حال کې وو او د بدخشان د غاښو پر لور مخ په حرکت وو . ښښو پر دې دلالت کاوه چې ډير ژر به د چترال کوچنی ګارنيزون لږ تر لږه د دريو لورو له ګوابښ سره مخ شي. سامبورن-پالمر پريکړه کوي چې په دې شرايطو کې، د افغانانو سره د ښښتې پر ځای د دروش کلا پر لور شاتګ وکړي، او د ښمن وروستي حرکت ته ستر ګې پر لار پاته شي. هغه د جون په لومړۍ نيټه يو باوري خبر تر لاسه کړ چې درې پياده کنډکونه د يوې ډلې افغان

۱۱۱. اخلاص، عبدالخالق. (۲۰۰۵م) ۱۸۲ مخ.
۱۱۲. Robson, Brian (2004) ۳۷ مخ ۷.

سپرو سره د "ساو" په سیمه د ارنوۍ د جنوب په ۱۲ میلۍ کې را ټول شوي دي. پر دې سربیره له دیر څخه شپږ زره (۲۰۰۰) قبایلیان... د ارنوۍ په ختیځ کې را ټول شوي دي. د سامبورن-پالمر ځواکونو د شپې په تیاره کې د جون په لومړۍ نیټه له کومې لارې څخه چې راغلي وه په داسې حال کې پر شاتګ کوي، چې د کیمپ اوریې د افغانانو د تیرایستلو لپاره بل پرېښي وه".

د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲، د انګریزانو ټول پاتې ځواکونه هم د ګله پیچ څخه تښتي او تر میرکهنۍ پورې رسیږي. انګریزان پریکړه کوي چې د چترال د سکاوټ څخه څلور سوه (۴۰۰) تنه د مهتر د څلور سوه (۴۰۰) ساتونکو سره یو ځای د میرکهنۍ دفاع ته واستوي او د "ګله ټک" په سیمه کې یې پریږدي، چې د میرکهنۍ او "دروش" تر منځ نیمایي لاره کې ده، او نیمایي نور ځواکونه د دروش کلا ته و رسوي او د دروش په جنوب کې نورې مورچلې جوړې کړي.

د ۱۹۱۹ کل د جون په **۵** مه نیټه د پیښور لوی کمشنر او په شمال لویدیځ سرحدي ایالت کې د بریتانوي هند د ګورنر جنرال استازی د "ریلې" د جون د ۴ مې نیټې د ټلګرام له مخې، مرکز ته خبر ورکوي چې «زمونږ ګرځنده ځواکونه میرکهنۍ ته رسیدلي دي. رپوټونو کې راغلي دي چې په داسې حال کې چې څلور ډلې پوځي سرتیري او یوه ډله د احتیاطو پنځم ټولی د یو نامعلوم شمیر قومي جنګیالیو سره یو ځای پر مونږ د برید په نیت له "اسمار" څخه مارش پیل کړی دی، سکاوټان او د مهتر ساتونکي هم د میرکهنۍ کرښې او پیتاسن غاښې ته د رسیدو په حال کې دي. د نن ورځې رپوټ وایي چې د "دیر"، "جندول"، "خار" او "براول" قومي جنګیالي هم د "اسمار" ځواکونو سره یو ځای کیږي، چا چې "بریکوټ" او "ارندو" [ارنوۍ] اشغال کړي دي، تر څو د باشګلیانو غوږونه تاو کړي، کومو چې له مونږ سره د لوټ پر برخه کې مرسته کړې وه. باشګلیانو د چترال پر لور تیښته پیل کړې ده. رپوټونه همدارنګه د شیشی پر غاښې د دیر د قومونو د برید د چمتووالي خبر ورکوي، خو زه فکر

نه کوم چې دا دې يو لوی بريد وي[۱۱۳]".

د ۱۹۱۹کال د جون په ۹مه، د پېښور لوی کمشنر او په شمال لويديځ ايالت کې د بريتانوي هند د ګورنر جنرال استازي د "ريلی" د جون د۴ مې نېټې د ټلګرام له مخې مرکز ته وليکل چې « چې افغان ډګروال ، د کامديش کافرانو ته په هغه صورت کې د بخښنې وړانديز کوي، چې که هغوی رنګ شوي پلونه بيرته ورغوي».[۱۱٤]

د ۱۹۱۹ کال د جون په ۱۰ مه نېټه د پېښور لوی کميشنر[۱۱٥] خپل مرکز ته د ميرکهنۍ په اړه د "ريلي" د ټلګرام خبر ور کوي، چې په هغه کې د چتراليانو د مورال پياوړتيا او د نورو ټوپکونو او مهماتو د استولو يادونه شوې وه. «څرنګه چې په اوسني وضعيت کې د دير له لارې د ډيرو وسلو او مهماتو استول شوني نه دي، او يوازې د ګلګټ له لارې امکان لري چې لږ تر لوه دوه مياشتې وخت به ونيسي، هغه له حکومت څخه غوړي چې هغوی ته يو څخه تر ۲ زرو پورې ميله (M. L. E.۳۰۳ ) ډوله ټوپک او د هر ټوپک لپاره پنځه سوه (۵۰۰ ) مرمۍ وليږي. په ورته وخت کې به د وخت د ضايع کيدو د مخنيوي په خاطر، د ګلګټ د سکاوټانو څخه وغوښتل شي چې ژر تر ژره خپل ټول اضافي ټوپکونه چترال ته و استوي. د کشمير له دربار څخه بايد هم و غوښتل شي چې خپل اضافي ټوپکونه چترال ته و استوي».

خو د پېښو لوری ډير ژر بدلون مومي. د تمې پر خلاف، نه يوازې د اسمار د

۱۱۳. د انګريزانو د استخباراتو پټ اسناد ، ۱۵۲۳ ګڼه محرم ټيلګرام، د جون ۵، د ۱۹۱۹ کال د ليکونو دوهمه برخه، د افغان-انګليس دريمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۴۲۰ ګڼه سند.

۱۱٤. د انګريزانو د استخباراتو پټ اسناد ، ۱۰۰۳ ګڼه محرم ټيلګرام، د جون ۹(د جون په ۱۰ رسيدلی)، د ۱۹۱۹ کال د ليکونو دوهمه برخه، د افغان-انګليس دريمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۴۵۳ ګڼه سند.

۱۱٥. د انګريزانو د استخباراتو پټ اسناد ، ۲۱۱۱ ګڼه محرم ټيلګرام، د جون ۱۰، د ۱۹۱۹ کال د ليکونو دوهمه برخه، د افغان-انګليس دريمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۴۲۱ ګڼه سند.

احتمالي سقوط په اړه د انګریزانو ټولې خوش بینۍ او هیلې په ناهیلۍ بدلې شوې، بلکې افغانانو د چترال په جبهه کې، د اوربند هغه غوښتنه چې د جون په ۳مه نیټه د انګریزانو او افغانانو تر منځ تصویب شوې وه، و نه منله، او خپل پرمختګ ته یې د چترال په خاورې کې دوام ورکوي. د انګریزانو ویره هغه مهال ډېریږي چې د بدخشان د ځواکونو څخه د افغاني ځواکونو شپږ کنډکونه راټولیږي، او واخان ته د هغوی د لیږلو او د "بروغیل" او "مینجان" د غاښو له لارې پر چترال د برید له هوډ څخه خبر ترلاسه کوي. په اسمار کې هم جنرال عبدالوکیل خان نورستاني، د پوځي ځواکونو قوماندان د ۷ کنډکونو د راټولو له لارې پر چترال د برید چمتووالی نیوه. بالاخره د چترال په جنوب ختیځ کې، په سوات کې هم، د "سنډاکۍ ملا په نوم[۱۱٦]" د اور تونه هڅه کوي د یوسفزی د جنګیالیو یو ځواک تیار کړي چې پر چکدره برید وکړي، کوم چې د چترال سره د ارتباط لپاره د ملا د تیر په څیر ډېر حیاتي ارزښت درلود.[۱۱۷] انګریزان اعتراف کوي چې که چیرې دې ګوابنونو د عمل جامه اغوستې وای، د انګریزانو لپاره ډیره خطرناکه ثابتیدلای شوه. په دې وخت کې د مرکز د احتیاط ځواکونو شپاړسمه فرقه چې په سوات کې د ګډوډیو سره د مقابلې لپاره ټاکل شوې وه، د مرستې لپاره "ټل" ته ولیږل شوه، او د بلوچستان د ځواکونو پیاوړتیا ته په پاملرنې، هیڅ بل ځواک د کشمیر ایالت څخه چترال سره د مرستې لپاره شتون نه درلود. یوازې کومه وروستۍ احتمالي مرسته چې شونې وه د هغوی مرستې ته ورسیږي د ګلګت څخه د امپراتوری د کشمیر د ایالت د کنډک سرتیري وو[۱۱۸] چې باید په یوه اوږده او ستونزمنه منډه یې، د دوه سوه څلویښت(۲۴۰) مایله یو واټن د ختیځ غاښي له لارې، هغه ځای ته ځانونه رسولای وای[۱۱۹]. انګریزان

---

۱۱٦. ملا ولي احمد چې په سنډاکۍ ملا یا سنډاکۍ بابا د سوات په یو کوچني کلي کې زیږیدلی او یو اصلاح غوښتونکی فعال ملا او د تحریک جهاد د فعالینو او د انګلیس د ښکیلاک پر ضد وه. د دې شخص په اړه د لا ډیرو معلوماتو لپاره د ضمایمو برخو ته پاملرنه وکړئ.

۱۱۷. Robson, Brian (2004) ۳۸ او ۳۹ مخونه.

118 .Kashmir Imperial State Troops

۱۱۹. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۷مخ.

اعتراف کوي چې د نیکه مرغه نه "ملا سنډاکی" بریالي شو او نه هم د بدخشان له لوري د برید ګواښ د عمل جامه واغوستله.[۱۲۰]

د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲۱ مه لوی کمشنر او په شمال لویدیځ ایالت کې د انګریزانو استازي مرکز ته ولیکل چې «د "ریلي" د جون د مې۲۰ نیټې د رپوټ له مخې، جنرال وکیل خان چې په دې وروستیو وختو کې اسمار ته رسیدلی دی له ځان سره زر (۱۰۰۰) کسه پلي او دوه سوه (۲۰۰) سپاره کسان را وستي دي، چې په وسله ښه سمبال دي. وکیل خان د هغو کافرانو له جملې څخه دی چې د اسلام دین ته اوښتی، او باور دا دی چې باشګل (لنډي سیند) په کافرانو د برید تکل لري. ناتایید شوي رپوټونه په ګوته کوي چې د "رامګل"، "ویران" او "ورګل درې "کافرانو د افغانانو پر وړاندې په بغاوت لاس پورې کړی دی. د "لوت ده" "شککګلیان" هم افغانانو ته د جرګې د لیږلو څخه د ځان ساتلو په برخه کې له "کامدیشییانو" سره ملګرتوب کړی".[۱۲۱]

د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲۲ مه لوی کمشنر او په شمال لویدیځ سرحدي ایالت کې د انګریزانو استازي د جګړن ریلي د ټلګرام پر بنسټ له دروش څخه خبر ورکړه او ویې لیکل چې « د رامګل"، "دره ویران" او "ورګل" د کافرانو د بغاوت خبر تائیدوي. د معلوماتو له مخې، په اسمار کې د وکیل خان د پلو ځواکونو ډیره برخه د رامګل له درې هغه نورستانیان دي چې اوس نوي د اسلام په دین مشرف شوي دي. ریلی اجازه غوښتې ده چې افغانانو سره خبرې اترې وکړي. ما هغه ته و ویل چې اوس مهال داسې یو کار و نه کړي. "[۱۲۲]

---

۱۲۰. Robson, Brian (2004) ۳۸ مخ.

۱۲۱. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد، ۱۷۲۱ ګڼه محرم ټلګرام، د جون ۲۱، د ۱۹۱۹ کال د لیکونو دوهمه برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۵۳۲ ګڼه سند.

۱۲۲. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد، د ۱۹۱۹ کال د لیکونو دوهمه برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۵۵۳ ګڼه سند.

## جبـــهې ته د جنرال عبدالوکیل خان نورستانی رسیدل

د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲۳ مه د دوشنبې په ورځ (د ۱۳۳۷ کال د روژې ۲۴ او یا ۱۲۹۸ کال د چنګاښ لومړۍ)، د چترال په جبهه کې د جګړې له پیل څخه شاوخوا دوه ځلویښت (۴۲) ورځې وروسته، جنرال عبدالوکیل خان له اسمار څخه حرکت وکړ او د جون په ۲۳ نیټه بریکوټ ته و رسید.[۱۲۳] هغه د غازي میرزمان خان د فاتح اولسي لښکر څخه د "دوکلام" او "ارنوۍ" د مورچلو د تسلیمیدو او خپلو سرتیرو یو کنډک ته د دې مورچلو د ساتلو د دندې ري سپارلو وروسته، د غازي میرزمان خان او مهتر عبدالرحمن خان سره یو ځای [۱۲۴] (د چترال د مهتر شجاع الملک ورور چې د انګلیسانو او ورور له مخالفینو ګڼل کیده)، د خپلو سرتیرو د درې کنډکونو او شاوخوا یو زر او پنځه سوه (۱۵۰۰) کسه اولسي لښکر په ملتیا هغو نورستانیانو ته چې انګریزانو سره یې مرسته کړې وه، د سزاء ورکولو په موخه، له بریکوټ څخه د شمال لور ته حرکت کوي. انګریزان له دې امله چې هغوی کولای شول له نورستان څخه په آسانۍ ختیځ لورې ته را وګرځي او چترال تر برید لاندې راولي، په ډار کې اوسیږي.[۱۲۵] د مهتر ساتونکي چترالیان له کامدیش څخه ۱۳ مایله د بریکوټ په شمال لویدیځ کې د "پټیګل" په لویدیځ کې د "برمبولا" له غاښي څخه، هغه ځای ته چې یو ټولی سکاوټان هم له هغوی سره یو ځای کیږي، تیښته کوي.

افغاني لښکر د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲۹ مه خپل پرمختګ ته دوام ورکوي او په یاده نیټه "لوت ده" (په چترالي ژبه لوی کلي) ته د باشګل (لنډې سیند) په

---

۱۲۳. جنرال عبدالوکیل خان نورستاني د جګړې د پیل څخه ۴۲ وروسته دې جبهې ته رارسیدلی دی او د هغه دنده دا وه چې دوکلام او ارنوۍ فتحه شوې مورچلونه چې د غازي میرزمان خان د لښکر له لورې ور ته سپارل شوي وو، وساتي.

۱۲۴. مهتر جو (شهزاده) عبدالرحمن خان، دخان پلار چې په جلاله پیژندل کیده، ارواښاد عبدالملک خان او د ښاغلي امان الملک نیکه او ښاغلی شجاع الملک جلاله وه.

۱۲۵. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۷ مخ ؛ Robson, Brian (2004) ۳۸ مخ؛ او Government of India. (1926)، ۹۳ مخ.

پورتنۍ برخه کې رسیږي، سزاء ورکونکي ګامونه تر سره کوي او هغه مشران بندیان کوي کومو چې په تیري کې ونډه اخستې وه.[126]

له دې بریا وروسته، پریکړه و شوه چې غازي میرزمان خان د یو زر کسانو اولسي لښکر سره د "بمبوریت" له لارې په "آیون" برید وکړي او د چترال د ښار او دروش کلا مواصلاتي او ارتباطي لیکه پرې کړي، او جنرال عبدالوکیل خان د پوځي ځواک او مهتر عبدالرحمن خان سره یو ځای د بریکوټ له لارې د دروش پر کلا برید وکړي.[127]

انګریزان د شمال ختیځ لور ته د افغانانو د پرمختګ د مخنیوي لپاره، چې غوښتل یې د ډیر شمیر غاښو ځخه د تیریدولو، د "بمبوریت" د سیند حوزې ته د رسیدلو وروسته پر چترال برید وکړي، د مهتر د ساتونکو ځواکونو څخه د چترال د سکاوټانو دوه ټولي د "ایون" سیمې ته چې د چترال د ښار او دروش کلا تر منځ په لږ تر لږه لس میله واټن کې واقع دي، استوي. دا سیمه د چترال (کونړ) او "بمبوریت" د سیندونو په منځ کې موقعیت لري.

د ۱۹۱۹ م کال د جولای په لومړۍ نیټه (د ۱۲۹۸ لیږدیز لمریز د چنګاښ په ۹مه) انګلیسي ځواکونه په "پټیګل" کې ماتې خوري او "اورتسن" ته چې د میرکهنۍ په شمال لویدیځ کې د دوه نیم میله په واټن موقعیت لري پر شاتګ کوي. د انګلیسي ځواکونو قوماندان سامبورن-پالمر په دروش کې پر ته له دې چې د کلا دننه د خپل برخه لیک او وروستیو پیښو په انتظار پاتې شي، بله چاره نه درلوده. هغه چې د بدن ټپ یې لا په بشپړه توګه روغ شوی نه و، د افغان جنګیالیو زړورتیا د سر په سترګو لیدلې وه. ډګروال سامبورن-پالمر پریکړه وکړه چې په دوه بیلو جبهو (یوه د غازي میرزمان خان جنګیالیو او بله د جنرال عبدالوکیل خان ځواکونو) کې د جګړې پر ځای د دروش کلا څخه دفاع وکړي. هغه پوهیږي چې د هغه د خلاصون یوازینۍ لاره دوه عناصر یعنې پر وخت

۱۲۶. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۸ مخ.

۱۲۷. اخلاص، عبدالخالق. (۲۰۰۵م) ۱۵۲-۱۵۸ مخونه.

استخباراتي معلومات او چټک خوځښت [چټکه تیښته] دي.[۱۲۸]

د ۱۹۱۹ کال د جولای په ۱۰ مه نیټه د انګریزانو لوی کمشنر، په چترال کې د سیاسي استازي مرستیال(Assistant Political Agent) ته لیکي چې: «د مهتر د پیغام په اړوند د چترال او د سولې د خبرو اترو په اړه، هغه ته و وایې چې په دې کړکیچن وخت کې ناشونې ده چې هغه تاسې او یا هم سامبورن-پالمر سره یو ځای چترال پریږدي. زه په شیمله کې یم او د چترال نظریات مې د بهرنیو چارو دفتر ته تشریح کړل. هغه ته د چترال د سیمې د پراخوالي هیڅ ډول وعده مه ورکوئ، ځکه چې داسې یو شئ ببخو امکان نلري. د سولې د خبرو د پایلو تر څرګندیدو، هغه د کافرانو [نورستانیانو] او افغانانو د لمسولو څخه لرې و ساتئ. [د انګلستان] پاچا هغه ته د والاحضرت لقب[۱۲۹] او د توپ د ۱۱ ډزو سلامي ور کړې ده. هغه ته د رسمي خبر تر رسیدو پورې په دې اړه څه و نه وایاست.»[۱۳۰]

د ۱۹۱۹ کال د جولای په ۱۷مه نیټه د غازي میرزمان خان تر مشرتابه لاندې د افغان جنګیالیو یوه اته سوه (۸۰۰) کسیزه ډله د "شاوي" د غاښې څخه تر اوښتلو وروسته د "بمبوریت" په اوږدو کې د "ایون" پر لور د "بمبوریت" د کلي تر یو میل واټن پورې وړاندې ځي. په هغه درنه جګړه کې چې د "بمبوریت" د کلي سره نژدې چې د دروش کلا شمال لویدیځ ته د (۱۰) میلی په واټن کې نښلي، دواړو خواوو ته تاوانونه اوړي، انګریزان د افغانانو د لس (۱۰) کسه شهیدانو یادونه کوي.[۱۳۱]

---

۱۲۸. Robson, Brian (2004) ۳۹ مخ.

۱۲۹. His Highness یا د سلطنتیي کورنۍ د غړو لقب

۱۳۰. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد، ۱۹۱۱ ګڼه محرم ټیلګرام، د ۱۹۱۹ جولای ۱۰، د ۱۹۱۹ کال د لیکونو ټلورمه برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۴۲۱ ګڼه سند.

۱۳۱. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۸ مخ؛ Robson, Brian (2004) ۳۹ مخ؛ او Government of India. (1926)، ۹۴ مخ.

د ۱۹۱۹ کال د جولای په ۱۹مه نیټه افغانانو، په شمال کې د "زیدیګ" څخه په جنوب کې تر "برمبولا" پورې، ټول هغه غاښي چې د افغانستان او چترال تر منځ واقع وو، خپلې ولکې لاندې راولې. له دې وروسته افغانان د سولې په خبرو اترو کې د انګریزانو د پلاوي د فشار او شکایت له امله، په خپلو جګړه ایزو تاکتیکونو کې بدلون راولي او یوازې اولسي ځواکونه په جګړه کې برخه اخلي.[۱۳۲]

د خپلواکۍ د څلورمې جبهې د لیکوال په وینا شاه امان الله غازي، غازي میرزمان خان ته د یو فرمان د لیږلو له لارې د سولې د خبرو اترو په اړه خبر ورکوي او غواړي چې تر بل امر پورې د پوځي او اولسي ځواکونو د برید او پرمختګ څخه ځان و ژغوري[۱۳۳]

د ۱۹۱۹ کال د آګست په ۸ مه چې د ۱۹۹۸ کال د زمري د ۱۲ مې نیټې سره سمون لري، د انګلستان او افغانستان د سولې د تړون له لاسلیک کیدو وروسته د چترال او کونړ په دې جبهه کې جګړه پای ته رسیږي، خو د سولې د تړون سره سره بیا هم، ارنوی او دوکلام د ۱۹۲۲ کال د جنوری میاشتې تر ۱۷ پورې د افغانانو په لاس کې پاته کیږي.

## د چترال د جبهې په هکله د بریتانویانو ملکي هڅې

جګړه ایز ماشین او وروستني تخنیکونه او پوځي انکشافات چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې آزمویل شوي وو، یوازینۍ وسیله نه وه چې انګلیسانو ترې په چترال او نورو جبهو کې کار اخسته. د لنه د هغوی د ناوړه هڅو او شیطاني دسیسو یو څو بیلګې په لاندې توګه وړاندې کیږي:

### تبلیغات او د تیر ایستونکو خبرتیاوو خپرول

انګلیسان پوهیدل چې د اماني دولت پیاوړتیا او ځواکمنتیا، د هغوی

۱۳۲. Molesworth, G. N. (1963)، ۱۳۸ مخ؛ Robson, Brian (2004) ۳۹ مخ؛ او Government of India. (1926)، ۹۴ مخ.

۱۳۳. اخلاص، عبدالخالق. (۲۰۰۵م) ۱۲۰-۱۲۴ مخونه.

واکداری ته د افغانستان له تنې څخه جلا شوې سیمې له ګوابښ سره مخ کوي.
نو له همدې امله د افغان - انګلیس دریمه جګړې په اعلان سره د غازي امان الله خان پر وړاندې ناوړه پاروني، تبلیغات او پټ او ښکاره تخریبونه هم ډیر زیات شول. لږ تر لږه د انګلیسانو ټولو رسمي سرچینو کوښښ کړی چې د افغانستان د خپلواکۍ یا د افغانانو –انګریزانو دریمه جګړه کم اهمیته و ښایي. هغوی نه یوازې په بې شرمۍ دعوی وکړه چې د جګړې پایله د سترې برتانیې په ګټه پای ته رسیدلې، بلکې وایي چې ګنې د جګړې اصلي لامل د امان الله خان کورنۍ ستونزې وې، چې د کورنۍ د غړو او یا مصاحبانو او یحیي کورنۍ د ژغورنې په موخه، چې د حبیب الله خان په وژنه کې تر شک لاندې وو او همدارنګه نصرالله خان د محکومیت څخه پیل کیږي. ځینې مغرض او متعصب افغانان او د هغوی شاګردان هم چې د خپل مخ ننداره د پردیو په آئینه کې کوي، د انګریزقنو دغه ادعاګانې تکراروي، او وایی چې وروستۍ پیښې، د افغانانو او انګریزانو اړیکې او د جګړې اعلان د امان الله خان د مستقیمې کمزورتیا نتیجه وه. یعنې دا چې ځوان امیر مجبوره ؤ د انګریزانو پر وړاندې د جهاد اعلان وکړي، ترڅو د خلکو د قهر او عامه افکارو توجه له ځان څخه بل لورې ته، د خپل پخوانی دښمن انګلیس لورې ته، واړوي.

د افغانستان د ځوان او خپلواکۍ خوښونکي پاچا پر وړاندې د وایسرای او بریتانوي هند ګورنر جنرال لاندینی اعلان د دې ډول تبلیغاتو یو بیلګه ده. نوموړی سند د ۱۹۱۹ کال د می په ۱۰مه د "وایسرای (نائب السلطنه) او د بریتانوي هند ګورنر جنرال"، چیلمسفورد، هغه تبلیغات دي چې انګریزانو د غازي امان الله خان پر خلاف د آوازو خپرولو او د لاسوندو د جعل کارۍ پیل ګڼل کیږي او ګمان کیږي د هغو تبلیغاتو یوه برخه ده چې ګنې پاچا د عامه افکارو د تیر ایستولو او امان الله خان د خپلو کمزورتیاوو د پټولو لپاره په جګړې لاس پورې کړ.

«اعلان

له جانب د سرکارانګریزی په طرف د دیانتدار اوبهادرخلقودافغانستان!

تاسو خبرشئ چې له قدیمې زمانې نه سرکار انګریزی او د افغانستان سلطنت په منځ کې

دوستی او اتحاد موجود دی او ستاسو د نیکونو په وقت کښ چه روس په افغانستان ظلم کول شروع که، سرکار انگریزی د امیرعبدالرحمان په درخواست مداخلت وکه ، او ډیرتکلیف اوخرڅ سره روس لره یی دجنگ ویره ورکړه اوهغه یی ظلم نه اودافغانستان په آزادۍ کې له مداخلت کولو نه منع که ، په دي شان سره افغانستان او سرکارانگریز په منځ کې دوستي مضبوطه شوه ـ چنانچه دخپلې دوستۍ په ثبوت کې سرکارانگریز امیرعبدالرحمان خان لره توپی او ټوپک او کارتوس او یو لوی امداد د رپو ورکه ، دپاره ددې چې هغه خپل ملک مضبوط ولی ، او روس په خلاف دافغانستان آزادي قایمه وساتی ، هرکله چې امیرعبدالرحمان خان په سرکار انگریزي اعتباروکه اومعلوم یی وکه چې د سرکار دښمنان دهغه دښمنان دي ، هغه سرکارسره د دوستۍ عهد نامې وکړې چې هغوی په ذریعه هغه خپله پادشاهی مضبوطه کړه اوخپل ملک دپاره یی امن پیداکه اوهرکله چې هغه لره څه تکلیف پیښیده هغه به له سرکارنه مدد وغوښت . دهغه زوی امیرحبیب الله خان هغه عهد نامی چه پالریی کړې وې صداقت سره مضبوطی کړې اوهغه دوستی چه سرکار سره قایمه شوې وه جاری وساتله ، په هغه وقت چه ټوله دنیا په جنگ کښ مبتال وه هغه د سرکار عاقالنه نصحت باندی عمل وکه اوخپل رعیت یی دجنگ له خطر بچ که ، اگرچه په هغه وقت کی هم شریرو مفسدانو افغانستان لره په جنگ کښ د مبتلا کولو کوشش کړی و ، چه دهغه نتیجه دافغانستان اود افغانستان دخلکو تباهی وه ـ په عوض دهغې وفادارۍ چه امیرحبیب الله خان خپلې عهد نامی پابندۍ په ذریعه قایمه وساتله ، سرکار دهغه نقدی امداد زیات که ، اوهغه لره یی یو کروړ روپۍ په طور دانعام ورکړی او امید پیدا شو چه جنگ نه پس دا دوستۍ به نوره هم مضبوطه شي . په هغه جنگ کښ چه ډیرقومونه ورکښ پرله پسې تباه شو ، سرکار فتحیاب شه او له وړاندی نه زیات طاقتور ثابت شه .چه امیرحبیب الله خان په غدارۍ ووژلی شو ،سرکار ډیرزیات افسوس وکه ، اوپه ټول هندوستان کښی دغم اظهار دپاره حکمونه جاري شو. چه امان الله خان خپله تخت نشینی مشهوره کړه ،هغه لره سرکار تحریرپه ذریعه دخپلې دوستۍ یقین ورکه او نصیحت یی وکه چه که دخپل پلار اونیکه په لار روان شی اوخپل ملک دپاره د امن او د اقبال باعث وشي په اول کښ امان الله خان دباهمی دوستۍ اظهار وکه اوهندوستان ته یی یو نوی سفیر سره دیوې مراسلې چه د دوستۍ خیالاتو نه ډکه وه ،ولیکلو ، لیکن لږ مده [موده] پس چه امان الله خان دخپل پلار قاتلانو دبریت په باب کښ او د نورو خلقو سزا په متعلق شریعت نه مخالف کاروایی وکه ،په رعیت کښ یی نا راضگي پیدا شوه اوددې ناراضگي د دفعیه دپارهغه دسرکار انگریزي په برخالف جنگ شروع که اود افغانستان دخلقو ځانونه اومالونه یی محض خپل غرض دپاره اودخپل تخت ټینگولو دپاره

په خطر کښې واچول ، علاوه له دې نه هغه د قرآن شريف دحکمونو چه (ان الله يآمر بالعدل واالحسان و ذالقربى وينهى عن الفحشاء والمنكر والبغى بعضكم لعكم تذكرون.ط واوفو بعهد الله اذاعاهدتم والتقضو االيمان بعد لوكيدها وقد جعتم الله عليكم كفيآل ان الله يعلم ما تفعلون .ط ) مخالفت نه هم هيڅ پرهيز ونه که، که چيرى خداى ناخواسته دافغانستان خلقو امان الله خان لره په دى ليونى کار کې مدد ورکه نوهغوى به خپله ځانونو[ځانونو] باندې تباهى راولي ځکه چه سرکار بدعملو خلقو په خالف به مجبوراً څه سنګين کاروايى وکى ، داخبره چه ددي سپيره زلمي خواهشونه بى بنياد دي ، اوس هم ډکه سخه ثبوت ته رسيدلى دى ځکه چه فوځونو لره يى شکست ورکړى شوى دى اودهغوى ډيرو فوځونو پيش خيمې چه سرکار جمع کولو کې لګيا دى هغه نه توپى اخستى دي . آيا داسى به وى چه دافغانستان خلق دى نا تجربه کارزلمي لره چه خپل شهيد شوى پلار د يادګار نه او دخپل ملک د فايدى نه اود قرآن شريف حکمونو نه برخالف دى ، ددې خبرې اجازت به ورکوي چه هغه دخدا نخواسته د افغانستان ښايسته ملک اود افغانستان بهادر خلقو باندى مصيبت راولي .

اودافغانستان بهادر خلقو اوس ددي خبرې فيصله تاسو سره تعلق لرى چه آيا يو سرکښ زلمى دتاسو لره هغو بى شماره نعمتونونه چه عبدالرحمان خان او جبيب الله خان ستاسو دپاره حاصل کړى دى محروم وکى ، دهندوستان د دوستي په وجه سره ستاسو زرګونه سوداګران او لکونه پوندګان تجارت اومال خرڅولو دپاره هندوستان ته تراوسه راتلل اوهغوى يى به دسرکار حفاظت لاندې دتګ راتګ اوخپل دين پوره آزادى لرله ـ تاسو غواړئ چه اوس ستاسو سوداګران تباه شي اوتاسو او ستاسو عيالونه بى له جامو او نورو ضرورى څيزونو چه هندوستان نه به راتله زندګى بسر کړي او ستاسو اوښان هغو ميرو نه چه په کوم کښې هغوى د ژمي په موسم کې څريدل بند کړي شي اوتباه شي ، دا فيصله په تاسو منحصره ده ځکه چه سرکار انګريزي دا خواهش لري چه افغانستان ډيرعقلمند امير لاندي چه هغه عبدالرحمان اوحبيب الله خان مرحومين په شان دخپل ملک دبهبودي خواهان وي اوسرکار انګريز سره دوستي لري ، بيا با امن او با اقبال او آزاد اوخود مختارشي. خداى تعالى د افغانستان خلقو لره توفيق ورکى چه هغوى زر سمى لارې ته راشي.

لاردچمسفود

وايسراى او ګورنرجنرال دهندوستان»[١٣٤]

---

١٣٤. د پروفيسور عبدالخالق رشيد څخه په منني

## د چترال په سیمه کې د آغا خان له مذهبي نفوذ څخه ګټه[۱۳۵]

وز-کیپل، په پېښور کې د شمال لویدیځ سرحدي ایالت لوی کمشنر او د ګورنر جنرل استازي، د بریتانوي هند د حکومت د بهرینو او سیاسي چارو سکرتر او د بریتانوي هند حکومت او په هند کې د بریتانوي هند یعنې د انګلستان نایب السلطنه (وایسرای) ته لیکي چې[۱۳۶]: «زه وړاندیز کوم چې باید له آغا خان څخه وغوښتل شي تر څو یوه اعلامیه خپره کړي او خپلو پیروانو ته لارښونه وکړي چې انګلیسانو ته وفادار او د هغوي په چوپړ کې و اوسي. یو شمیر ستر مولایي (هغه نوم چې سنیان یې د اسماعلیه فرقې پلویانو ته کاروي-ز) په چترال او ګلګت، او یو شمیر هم په کابل (بدخشان او بغلان) او پېښور کې شته دی».

شهزاده سلطان محمد آغا خان ثالث د انګریزانو دې غوښتنې ته مثبت ځواب وایي او د هند لپاره د بریتانوي هند د حکومت سکرتر د **۱۹۱۹** کال د مې په **۲۴**مه، له لندن څخه د هند وایسرای (بهرنۍ او سیاسي څانګې) ته ټلګرام استوي چې د هغه متن په دې ډول و: «مهرباني وکړئ اړین ګامونه پورته کړئ

۱۳۵. آغا خان د اسماعلیه فرقې د مذهبي او عمومي امام میراثي لقب دی. نوموړی لقب د لومړي ځل لپاره د ایران د شاه، فتح علي شاه قاجار، له لورې، د اسماعلیانو **۴۶** امام، آغا حسن علی شاه ته ورکړ شو. د اسماعلیانو مذهبي فرقه په **۷۶۵** کال کې هغه مهال رامنځته شوه، چې شیعه ګانو د امام جعفر صادق له شهادت وروسته، د هغه د ځای ناستي پر سر، په دوه ډلو و ویشل شول. یوې ډلې د امام اسمعیل ابن جعفر پیروي، او بلې ډلې د اثناو عشره په نوم، له امام موسی کاظم پیروي وکړه. آغا خان په **۱۸۷۷** کال کې هم د انګلیسي مقاماتو سره د یو محلي بغاوت په آرامولو کې مرسته وکړه او د هغوی دې لومړني مذهبي مشر د همدې مرستې له امله وه چې انګلیسی مقاماتو ور ته د سلامۍ د امتیاز په دود د توپ په ډزو د هغه هر کلی و کړ. د افغان – انګلیس د دریمې جګړې په مهال، **۴۸** امام، پرنس سلطان محمد یا آغا خان ثالث د اسماعلیه فرقې مشري به غاړه درلوده.

۱۳۶. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد، **۱۴۰۱** ګڼه محرم ټیلګرام، د **۱۹۱۹** کال د مې **۲۰** نیټه، د **۱۹۱۹** کال د لیکونو دوهمه برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: **۲۳۴** ګڼه سند.

تر څو د آغا خان ليږل شوي پيغام و ژباړئ او په سرحد کې خپور شي:

**د معقول دليل د وړاندې کولو پرته، څنګه چې دا مهال ټينګه سوله حاکمه ده، د يو څو ګمراهو، شوخو او ناپوهه کسانو له لورې، د مقدس تړون ماتول، د ستر عبدالرحمن د عاقلانه واکدارۍ،او د حبيب الله د پاچاهۍ ښايسته بيلګې هيرول دي، چې پر بريتانوي هند بريد وشي. له شک پرته چې فرمان وركونكى سلطان(امپراتور) يعنې هغه څوک چې پراخه پوځي ځواکونو يې جرمنيان له پښو و غورځول، کولای شي دا ډول اشخاص و ځپي. خو زمونږ لپاره، زمونږ مقدسه دنده داده چې فرمان وركونكى سلطان سره مرسته و کړو، ځکه چې هغه په حقه دی، ځکه چې تړونونه مقدس دي. مونږ هر يو د خپلو دندو د تر سره کولو له لارې، که کوچنيان يا غټان يو، کولای شو د مذهبي او مدني آزاديو د بريا له لارې سوله، نيکمرغي تضمين کړو. زه هيله لرم، زما ټول ګران ځامن، زما په څير، نه يوازې په رښتوني توګه وفادار وي، بلکې ډيره هڅه وکړي چې د نورو ستر ګې د خپلې او هم د انسانيت د ګټې لپاره، و غړوو.** آغا خان.

د آغا خان له لورې يو پيغام، په هندوستان کې د هغه د پيروانو تر منځ د خپرولو لپاره، په مستقيمه توګه په بمبيي کې د اسماعليانو د شورا رئيس ته ليږل کيږي».

## د بغداد د نقيب صاحب له نفوذ څخه د ګټې اخيستنې هڅې

انګريزانو هڅه وکړه د بغداد د نقيب اشرف، سيد عبدالرحمن ګيلاني څخه، چې ورور يې سيد حسن ګيلاني[۱۳۷] په افغانستان کې و، هم ګټه واخلي. د بريتانوي هند د حکومت د بهرنيو او سياسي چارو د څانګې سکرتر د فارس په خليج کې د انګليسانو سياسي استازي ته چې په بغداد کې ميشت و، ليکلي

۱۳۷. سيد حسن ګيلانی د سيد علي ګيلانی ځوی او سيد سلمان ګيلانی لمسی او په بغداد کې زيږيدلی، او په ۱۹۰۵ کال کې افغانستان ته راغی. هغه ته د حبيب الله خان او د طريقت د پيروانو له لورې هرکلی و ويل شو. امير حبيب الله خان ورته د مياشتې درې زره او پنځه سوه (۳۵۰۰) روپۍ مرستند ويه معاش و ټاکه او د جلال آباد په چارباغ کې يې ورته د ژمی يو استوګن ځای جوړ کړ، او هغه په دې ډول د چارباغ د نقيب صاحب په نوم و پيژندل شو. د ملي محاذ پخوانی مشر اروا ښاد پير سيد احمد ګيلانی او سيد علی ګيلانی د نقيب صاحب ځامن وو.

چې «په هندوستان کې به ځینو مسلمانو معززینو ته د نقیب د تلګرامي پیغام اغیزې، ډیرې لوړې وي. که چیرې شوني وي، نوموړی پیغام دې هندوستان، سرحد او افغانستان ته د تبلیغاتو په چوکاټ کې په پام کې ونیول شي».

د دې غوښتنې په ځواب کې نقیب وویل[۱۳۸]: چې «د رسمي اعلامیې صادرول به، پرته لدې چې له هندوستانه یې غوښتنه شوې وي، د هغه د پاره یو غیر عادي کار وي... هغه ژمنه وکړه چې د شرعي قوانیو په اړه به د هند د ټولو علماو پوښتنو ته ، مثلا دا چې آیا د جهاد د اعلان لپاره د امیر هڅې، شرعي دي که نه، هرور مرو هغوی ته ځواب ووایي».

## د ډیورنډ د تپل شوې کرښې دواړو لور ته د آزادو قبایلو د ملاتړ د لاسته راوړلو لپاره د پیسو څخه کار اخستل

د قبایلو د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره د پیسو ورکول یوه بله وسیله وه چې انګلیسانو له هغې څخه کار اخیسته، د بیلګې په توګه، په هندوستان کې د انګلستان نائب السلطنه په لندن کې د هندوستان د چارو وزیر ته ولیکل[۱۳۹] «... قبیلوي دود او چلند یو له مهمو عواملو څخه دی او مونږ روز-کیپل (په شمال لویدیځ سرحدي ایالت کې لوی کمشنر) ته صلاحیت ورکړی دی چې د هغوی د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره د پیسو ورکولو باندې هیڅ سختي و نه کړي».

## د کامدیش نورستانیانو ته د ژمنو او امتیازاتو ورکول

انګریزانو هڅه وکړه چې د کامدیش نورستانیانو ته د امتیازاتو د ورکولو له

---

۱۳۸. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد ، ۲۳۹ ګڼه محرم ټیلګرام، د می ۱۲ نیټه، د ۱۹۱۹ کال د لیکونو لومړۍ برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; :FileP.1953/1919 . ۱۸۹ ګڼه سند.

۱۳۹. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد ، ۵۷۲ ګڼه محرم ټیلګرام، د می ۲، د ۱۹۱۹ کال د لیکونو لومړۍ برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; :FileP.1953/1919. ۴۲ ګڼه سند.

لارې، چې د چترال د جبهې سره نژدې يې موقعيت درلود، هغوی د چترال او ارنوی د ملي مجاهدينو د لښکر په مقابل کې را وپاروي او مرسته ترې تر لاسه کړي.

په شمال لويديځ سرحدي ايالت کې لوی کمشنر، په هندوستان کې د انګلستان نائب السلطنه ته د چترال د سياسي استازي د مرستيال (Assistant Political Agent) د ټلګرام په اړه خبر ورکړی او ليکلي[۱۴۰] چې «آيا کولای شو د کامديش کافرانو[۱۴۱] او د باشګل (لنډې سيند) د کيڼ لورې سيمو خلکو[۱۴۲] سره ژمنه وکړو چې زمونږ سره د مرستې په صورت کې به، نور د افغانستان د واک لاندې نه وي؟ که مونږ همداسې وکړو، فکر کوم، هغوی به افغانانو ته سرخوږي جوړ کړي، او مونږ سره به د هغوی پر ضد پر بريکوت او دوکلام د بريدونو لپاره مرسته وکړي. که حکومت چمتو وي، داسې ژمنې به د پام وړ اغيزې ولري».

## د خبرونو سانسور او د حقايقو د خپريدو مخنيوی

انګريزانو د آوازو خپرولو او ناوړه تبليغاتو تر څنګ، نه غوښتل چې په انګلستان کې يې خپل خلک له هغه څه څخه چې په بريتانوي هند او د جګړې په جبهه کې تيريدل، خبر شي. د بيلګې په توګه روز-کيپل، د شمال لويديځ ايالات لوی کمشنر په شيمله کې د بريتانوي هند د حکومت سکرتر، په هند کې د انګلستان نائب السلطنه او د پوځي ځواکونو عمومي قوماندان ته و ليکل

۱۴۰. د انګريزانو د استخباراتو پټ اسناد، ۲۳۹ ګڼه محرم ټلګرام، د می ۱۲، د ۱۹۱۹ کال د ليکونو لومړۍ برخه، د افغان-انګليس دريمې جګړې پورې اړوند ۲۰۰ ګڼه سند.

۱۴۱. مقصد يې هغه نورستانيان دي چې په ۱۸۹۲ کال کې د امير عبدالرحمن خان په لاس په زور د اسلام په دين مشرف شول او د انګليسانو د ۱۹۱۹ کال په پوځي اسناد او نقشو کې لا اوس هم د کافر او کافرستان په نامه ياد شوي دي.

۱۴۲. لنډې سيند په کنړ کې د مانول پاس (غانښي) سره نژدې د هندوکش له جنوبي برخې څخه سرچينه اخيستې او د جنوب او جنوب لويديځ پر لور بهيږي او د کنړ سيند ته توييږي. دا سيند د ارنوی د سيند په نوم هم ياديږي.

چې [۱۴۳] « د پیشګام (Pioneer) او لندن ټایم د ورځپاڼې ځانګړی خبریال، ښاغلی سنډرز (Sanders) رارسیدلی او و یې ویل چې [د خبرونو د لیږلو] اجازه لري. که خبره داسې وي، زه په سیاسي موضوعاتو کې د هغه ټلګرامونه او ټلګرافونه سانسور کوم، او د پوځي موضوعاتو د سانسور لپاره، به هغه پوځي مقاماتو ته ولیږم».

روز کیپل، یوه ورځ وروسته [۱۴۴] د شیملې څخه دا لاندې ځواب تر لاسه کړ: «سندرز اجازه لري، [خو] مهرباني وکړئ، د وړاندیز سره سم، د هغه سیاسي ټلګرامونه سانسور کړئ. هغه ټول به د عمومي قوماندان تر اجازې لاندې و لیږل شي».

## بډې ورکول، د امتیازاتو او ځمکې وړاندې کول او د مجاهدینو د امیر پیرودل

هغه مهال د هندوستان د مسمانانو دوه ډلو د انګریزانو پر خلاف د آزاد سرحد په سیمه کې فعالیت درلود. له دې ډلو څخه یوه د «جماعت مجاهدین» ډله وه چې مرکز یې د بنیر په علاقه کې د سمڅې (Smatsa) یا (Asmas) په کلي کې و. دا جماعت ، چې څو تنو هندوستانیانو یې د یوه جګړه ایز تشکیل په توګه، د غیر اسلامي حکومت څخه د آزادۍ لپاره بنسټ ایښی و ، د نړۍ د پرمختګونو او د زماني له یون څخه ناخبره پاتې او د یوې طفیلي او کمزورې ډلې په بڼه راټول شوي وو او د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره یې د هندوستان د مسلمانانو په مرستو اړخ لګولی وه او د افغانستان د حکومت څخه یې هم تنخواه لاسته را وړله. د مجاهدینو د جماعت دوهم مرکزد مومندو سیمې سره

۱۴۳. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد ، ۱۳۱۰ ګڼه محرم ټیلګرام، د می ۱۱ نیټه، د ۱۹۱۹ کال د لیکونو لومړۍ برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۱۱۰ ګڼه سند.

۱۴۴. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد ، ۴۴۲ ګڼه محرم ټیلګرام، د ۱۹۱۹ کال د لیکونو دوهمه برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند. L/P&S/10/819; FileP.1953/1919: ۲۸۰ ګڼه سند.

نژدې په چمرکنډ کې وه، چې مشري یې چمرکنډ ته د مولوی فضل الهي د کډوال کیدو وروسته د مولوی بشیر په غاړه وه او هلته یې بنسټ ایښودل شوی وه. نو موړی مرکز وروسته د محمد حسن یعقوب په مرسته د چاپ د یوه ډیره ساده ماشین (سایکلوستایل)، په وسیله تبلیغاتي خپروني درلودې او د انګلیسانو پر خلاف یې د المجاهد په نامه یوه میاشتنۍ خپرونه، چاپوله.

د بریتانوي هند حکومت لپاره سکرتر له شیملې څخه د شمال لویدیځ سرحدي ایالت د لوی کمشنر د غوښتنې په ځواب کې اجازه ورکړه[١٤٥] چې «هغه کولای شي څنګه چې لازمه وګڼي متعصب امیر و بخښي او په انګلیسي سیمو کې و رته ځمکې ډالۍ کړي، په دې شرط چې هغه او د سمڅې کالوني د جګړې په مهال آرام پاته شي. خو د هغې ځمکې ځای، اندازه او ارزښت مه ټاکئ. که چیرې هغه زمونږ سره ښه وکړي، مونږ به هم هغه جبران کړو».

## چترالیانو ته د افغانستان د ځمکو د بخښولو ژمنه

د افغانانو پر وړاندې په جګړه کې د چترالیانو د پاملرنې د لاسته راوړنې او ونډې اخستلو لپاره انګریزانو، ژمنه وکړه چې که چیرې انګریزانو له لورې د جلال اباد او کابل د نیولو څخه د مخه چترالیان، د ناړۍ (ناری یا نارست) او د نورستان باشګل (لنډې سیند) سیمې و نیسي، نو دا سیمې به چترال ته و بخښي او په راتلونکي کې به د هغوی د خاورې برخه وي[١٤٦].

## د خیبر د محاذ د ماتې په تلافۍ کې د جګړې د څلورمې جبهې اهمیت

د چترال او ارنوۍ د څلورمې جبهې اهمیت یوازې په دې کې نه دی چې ۱۲۶ کسه شهیدانو د وارثانو لپاره د کونړ ولایت په "اسمار" او "کوټکي" کې پنځه-پنځه جریبه ځمکه ورکړل شوې، یا د یو فرمان له مخې دا وارثان له مالیې څخه

---

١٤٥. د انګریزانو د استخباراتو پټ اسناد، ۷۲۰ ګڼه محرم ټلګرام، د ۱۹۱۹ کال د می ۳۰ نیټه، د ۱۹۱۹ کال د لیکونو لومړۍ برخه، د افغان-انګلیس دریمې جګړې پورې اړوند ۴۲ ګڼه سند.

١٤٦. میرزا محمد غفران او میرزا شیر احمد خان (۱۹۴۱) ۱۵۲ مخ.

معاف شوي ، یا د نورو جبهو د شیهدانو په څیر د نوموړې جبهې د شهیدانو نومونه هم د پغمان په طاق ظفر کې کیندل شوي، یا د هغې رسمي اسناد د امان افغان په جریده کې خپاره شوي، بلکې د تاریخي مدارکو، اسنادو او نخښو له مخې، نوموړې جبهې د خیبر په جبهه کې د سپه سالار صالح محمد خان د ځواکونو ماتې جبران کړه. اصلاً په دې محاذ کې د افغاني غازیانو پرمختګ او د "ارنوی" نیول او د دروش تر کلا پورې د افغاني ځواکونو پرمختګ د دې لامل شو چې انګریزي ځواکونه چمتو شول د هغې په بدل کې د تورخم او ډکې څخه په شا شي او د "دوکلام" په سیمه کې د افغانستان د ملکیت د حق مشروعیت تثبیت شي.

د مراتبو د پوړیو له پلوه، د دې بریالۍ جبهې سرلښکر، غازي میرزمان خان، د خپلواکۍ د جګړ ي د اعلی قوماندان، غازي امان الله خان سره نیغ په نیغه اړیکې درلودې او د هغه کورنۍ د اسې تاریخي مهم اسناد او یادښتونه په لاس کې درلودل، چې د اماني دورې پر ناځرګندو او تتو اړخونو یې رڼا اچولای شوه. خو نوموړي اسناد، کتابونه، یاددښتونه، فرمانونه او د "غازي میرزمان خان" په کورنۍ پورې اړوند نښانونه د آل یحیی دکورنۍ د رژیم له لورې ضبط او له منځه وړل شوي دي.

د خپلواکۍ د جګړې د څلورمې جبهې د سرلښکر د اتلولۍ د یاده ویستلو د مهمو عواملو له جملې څخه د همدغه رژیم له لورې په تاریخ کې تقلب او بدلون او تر ټولو جبهو د جنوبي د جبهې د سترې ښودنې او سپه سالار محمد نادرخان څخه د خپلواکۍ د جګړې د یوائیني او ستر اتل د جوړولو په موخه په فرمایشي توګه تاریخ لیکنه، د اماني غورځنګ د نوم او نښان د له منځه وړلو هڅې، د استبداد او اختناق شرایط او هغه محدودیتونه یادولې شو، کوم چې د تاریخ لیکونکو په وړاندې پراته دي.

# پنځم څپرکی

## په اماني دوره کې د غازي ميرزمان خان خدمتونه

### د دولت د شورا غړيتوب

غازی ميرزمان خان د دولت د شورا غړی ؤ. غازی امان‌الله خان دا شورا د مشروطيت د غورځنگ د اهدافو د پلي کولو او هيواد کې د قواوو د بيلتون او وظيفو د ويش په موخه جوړه کړه. د قواوو دبيلتون او وظيفو د ويش موضوع د ۱۳۰۱ کال په تصويب شوي «نظامنامه تشکيلات اساسی دولت» کې مطرح شوې او په هغې کي د دولت د شورا جوړيدو او اختياراتو ته هم اشاره شوې وه.

دغه قانون جوړوونکې شورا، چې د خپلواکۍ د ترلاسه کولو وروسته ځوان پاچا ته د سلا مشورې او نوو قوانينو د تسويد، تعديل او تصويب دپاره رامنځ ته شوې وه، د ۱۳۰۰ کال د زمري د مياشتې په ۱۱مه نيټه د اعليحضرت غازي امان الله خان لخوا د ارگ په شمالي برج کې پرانستل شوه.

د دولت شورا د غازي امان الله خان د اروپا، پخواني شوروي، ترکيې او ايران د اوږده سفر تر راستنيدو وروسته د ۱۹۲۸/۱۳۰۷ کال د پغمان په لويه جرگه کې د خپلو يوسلوپنځوس غړو سره په ملي شورا بدله شوه.

### د جلال آباد د هډې د سترې جرگې په جوړولو کې مرسته

د جلال آباد د هډې ستره تاريخي جرگه د اتحاد مشرقي د تاريخي جرگې په نوم هم ياده شويده. دا ستره تاريخي غونډه دافغانستان د خپلواکۍ تر گټلو وروسته د ۱۲۸۹ کال د حوت (۱۹۲۰ کال د جنوري) په مياشت کې د سپه سالار محمد نادر خان په مشرۍ اود غازي ميرزمان خان په بې سارو کوښښونو او اهتمام د حکومت لخوا رابلل شوې وه.

په دې لويه غونډه کې د مشرقي (او سني لغمان، کونړ او ننګرهار) او سرحد د دواړو خواوو نږدې پنځه زره (۵۰۰۰) د بيلابيلو قومونو مشران او سپين ږيري، عالمان، سادات، مشايخ او نور مخور د فرضي کرښې د دواړو خواوو قومونو د اتحاد او يووالي د ټينګښت، او خپلواکۍ، آزادۍ، خاورې د تماميت او هيواد د آبادۍ په برخه کې پريکړې وکړې. په دې جرګه کې انګريزانو ته اخطار ورکړ شو چې د افغانستان په کورنيو چارو کې د لاس وهنې او د هيواد په سرحداتو کې د ورانوونکو تحريکاتو څخه لاس واخلي، او که نه نو يو ځل بيا به د افغانانو د ټولو قومونو د قهر او مقاومت سره مخامخ شي.

د بريتانوي هند د شمال لويديز ايالت د استخباراتو دفتر په خپل پنځمه ګڼه رپوټ کې د مومندو او فريدو قومونو په ګډون د دغې سترې قومي جرګې په هکله خبر ورکړې او بيا يې د خپل اوم رپوټ په دوهمه برخه کې ليکلي چې «د کونړ د ميرزمان خان پيغامونه د باجوړ او دير خانانو ته استول شوي دي. ويل کيږي چې د کوډاخيلو محمد امين [د غازي ماسل خان زوې] او د چهارمنګ د خان زړه ور خان يو استازې او د باجوړ يوه جرګه د ميرزمان سره يوځاې د جلال آباد په لورې حرکت کړيدئ»[147].

## په جلال آباد کې لومړۍ لويې جرګې کې ګډون

د افغانستان د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته، د دولت د شورا، د کابل او شاوخوا سيمو، ننګرهار، لغمان او کونړونو د خلکو په ګډون لومړنۍ لويه جرګه د ۱۹۲۱/۱۳۰۱ کال په ژمي کې په جلال آباد کې جوړه شوه. د دې جرګې د غړو شمير ۸۷۲ تنو ته رسيدلو، او خپله پاچا يې ځارنه او مشري کوله. د دې جرګې اصلي هدف ټولنيز اصلاحات و، او اساسي نظامنامه يې چې د افغانستان لومړنې اساسي قانون ګڼل کيږي، تصويب کړ. په دې نظامنامه کې د مرئيتوب له منځه وړل، د ملي يووالي استحکام، د شخصي آزاديو ورکول، د اتباعو د حقوقو

---

۱۴۷. د بريتانوي هند د محرمانه اسنادو ارشيف، د شمال لويديز سرحدي ايالت د استخباراتو دفتر، دوهمه برخه، ۱۳۹ بند.

مساوات، د عایداتو په اندول د مالیې ترل او داسې نور شیان شامل وو.

څرنګه چې دا لویه جرګه د ژمي په موسم کې جوړه شوې وه، نو د ټولو ولایتونو استازو پکې ګډون ونشو کړای. پدې جرګه کې فیصله وشوه چې راتلونکې لویه جرګه به په یوه مناسب موسم کې په کابل کې چې پایتخت او د هیواد مرکز دئ، جوړه شي. د اماني دورې ددغې لومړنۍ لویې جرګې بشپړ جریان ثبت شوې ندئ، او د هغې په هکله زیات معلومات په لاس کې نشته.

د جلال آباد د لومړۍ لویې جرګې نه وروسته، دوهمه لویه جرګه د ۱۹۲۴/۱۳۰۳ کال په دوبي کې په پغمان کې جوړه شوه، چې ډیره توجه یې اقتصادي اصلاحاتو ته وه.

په دغه لویه جرګه کې چې لس ورځې یې دوام درلود، ګډون کوونکو، چې شمیر یې ۱۰۵۴ کسانو ته رسیدلو، په بشپړې آزادۍ سره خپل نظریات ویل، او کله به یې د پاچا د نظریاتو سره مخالفت هم ښودلو. په همدې جرګې کې د ۱۳۰۱ کال په اساسي نظامنامې بحث وشو او د جرګې په پای کې د پاچا لخوا تائید شوه. که په آزاده توګه د نظریاتو د څرګندولو او کله هم انتقادي نظریاتو له پلوه ورته وکتل شي، نو دغه لویه جرګه په ټولو لویو جرګو کې یوه بې سارې لویه جرګه وه.

د یادونې وړ ده چې غازي میرزمان خان د ۱۳۰۳ کال په دغه لویه جرګه کې د جنوبي د شورش د ټکولو په عملیاتو کې د مصروفیت له امله ګډون ونکړ او پر ځای یې زوی، عصمت الله خان ګډون کړی ؤ.

## په دریمې لویې جرګې کې ګډون

د کال ۱۹۲۸/۱۳۰۷ م دغه لویه جرګه، په پغمان کې د دوهمې لویې جرګې د تصویب شوې اساسي نظامنامې د تعدیل او بیا کتنې په مقصد جوړه شوې وه. پدې جرګه کې، چې د ګډون کوونکو شمیر یې یو زر (۱۰۰۰) کسانو ته رسیدلو، د دولت شورا، چې یو سلو پمځوس غړي یې درلودل، په ملي شورا بدله شوه، د سزا او مجازاتو بخښل د پاچا حق وپیژندل شو، د عسکرۍ دوره درې کاله وټاکل شوه او رسمي او تشریفاتي القاب لغو شول.

## غازي ميرزمان خان ته ورکړل شوي نښانونه او مکافات

داعليحضرت غازی امان الله خان دواکمنۍ په دوره کي دهيواد دصادقو او خدمتگارو شخصيتونو دتقدير او ددوې دخدمتونو د نمانځنې دپاره ددولت لخوا راز راز نښانونه جوړ او دخاصو امتيازاتو په ملتيا به دخاصو مراسمو او تشريفاتو په ترڅ کې ورکول کيدل. پدې ترڅ کې دکونړ غازي ميرزمان خان ته هم ددوې د بې ساروخدمتونو او سربښندنو په وياړ لاندني څلور مډالونه ورکړ شوي دي چې هر يو سره نقدي او د ځمکو امتيازات هم ملگري ؤو:

### د وفا نښان

دوفا نښان هغو کسانو ته ورکړ شوې چې واکمنۍ ته دغازی امان الله خان په رسيدو او دهيواد دخپلواکۍ په گټلو کې يې دهغوې سره دملگرتوب او وفادارۍ ملا تړلې، او وفا او اخلاص ښودلاې و. دوفا نښان وروسته په دريو درجو تقسيم شوې وو، چې لومړۍ درجې سره يې سل(۱۰۰) جريبه ځمکه، دوهمې درجې سره يې پنځوس (۵۰) جريبه ځمکه او دريمې درجې سره يې شل(۲۰) جريبه ځمکه ورکول کيده.



### د لوې خان نښان

دلوې خان نښان هغو افغانانو ته ورکول کيده چې د هيوادپالنې په ولولو سره به يې دهيواد د لوړتيا دپاره لوې کارونه سر ته رسولي او دافغانانو تر منځ دوروروليۍ او يووالي په برخه کې يې ځانونه ستړې کړې وو. دلوې خان دنښان سره څلويښت(۴۰) جريبه ځمکه او د لوې خان لقب هم ملگري و.





## د خدمت نښان

ددولتي نښانونو، افتخاري رتبو، تقدیرنامو او تشویقي جایزو په لړ کې د خدمت نښان هغه بل نښان و چې هیواد ته د بیسارو خدمتونو د سرته رسولو په مقابل کې د غازي میرزمان خان دتقدیر دپاره ورکړ شوې و. دغه نښان سره نغدي مکافات هم مل و.



## د صداقت نښان

په صداقت سره دخپلو مسئولیتونو دسرته رسولو اوپه مهمو ټولنیزو چارو اومهمو دولتي ماموریتونو کې دبریالیتوب په ویاړ دصداقت نښان یو بل هغه نښان و، چې غازي میرزمان خان ته ورکړ شویدئ.

## د اماني غورځنګ د پوهنې او پرمختیایي پروګرامونو پلویتوب

غازی میرزمان خان په مشرقي کې د اماني غورځنګ د پرمختیایي او پوهنې د پروګرامونو یو ټینګ پلوي ؤ. د حکومت د ۱۹۲۳ (۱۳۰۲ هجری لمریز) کال د پوهنې د پروګرامونو د پلي کولو د تصمیم څخه وروسته، چه د نجونو د ښوونځیو تاسیس یې هم یوه برخه وه، غازي میرزمان خان پدې هکله د سرکاڼو د میا صاحب په ذریعه، چې یو وتلې مبارز روحاني او د هغه د سنګر ملګرې ؤ، د کونړ د مشرانو او روحانیونو ملاتړ ترلاسه کړ.

د اتحاد مشرقي جریدې د ۱۹۲۳ کال د جنوري د ۱۳مې نیټې په ګڼه کې د سرکاڼو د میا صاحب د ملاتړ یوه اعلامیه خپره کړې چې د کونړ د مشرانو لخوا امضا شوې وه.[۱۴۸]

---

۱۴۸. د انګریزانو د استخباراتو د سیاسي او سري څانګې د محرمانه رپوټ، ۱۰/۱۰۸۱ ګڼه، ۱۰۵۴ مخ، د ۱۹۲۴ کال د فبروري د میاشتې د اومې ۷ مه شمیره.

## د فرمانونو نیمګړې لست

د غازي میرزمان خان کورنۍ د اسې مهم اسناد او تاریخي یادداشتونه درلودل چې د اماني دورې پر ډیرو تتو زاویو یې رڼا اچولای شوه. که څه هم د غازي میرزمان خان په کورنۍ پورې اړوند ټول اسناد، کتابونه، یادداشتونه، فرمانونه او نښانونه د آل یحیی د خانداني رژیم لخوا ضبط او له منځه وړل شویدي، دا مؤلف بریالې شوې چې د انګلستان په کتابتون کې د بریتانوي هند د اسنادو د آرشیف څخه د «استقلال امانیه» بشپړه کاپي لاس ته راوړي. دا کتاب په اصل کې د مولانا عبدالخالق اخلاص د «شمشیر افغان» او سید عبدالغفار د «ګلشن رنګین» له دوو رسالو جوړ شوې او په منظومه پښتو ژبه یو شمیر فرمانونه، اسناد او لیکونه پکې ثبت شوي دي.

د استقلال امانیه په کتاب کې د غازي میرزمان خان په نوم دغه لاندنې فرمانونه او لیکونه هم ثبت شوي دي:

1. د متارکې په هکله د غازی امان الله خان فرمان
2. د وفا د نښان د ورکولو فرمان
3. د لوې خان د نښان د ورکولو فرمان
4. د خدمت او صداقت د فرمانونو او دوه سوه جریبه ځمکې د بخښلو فرمان
5. د کونړ ملکانو ته د خدمت د نښانونو او استقلال د جګړې د شهیدانو وارثینو ته د پنځه-پنځه جریبه ځمکې د ورکولو فرمانونه
6. د کونړ او آزاد سرحد د قومې مشرانو، مشایخو او ساداتو د بیعت د فعالیتونو په اړوند فرمان
7. د ښه خدمت او صداقت په اړوند فرمان
8. د ارنوۍ د جګړې د احوال په هکله فرمان
9. د مجاهدینو د احوال د استولو د سپارښتنې فرمان
10. د مشورې د رسیدلو د اطمینان په هکله فرمان
11. د دریمې رتبې د منصب او عزت مآب د القابو فرمان
12. د دوهمې رتبې د منصب او عالیقدر د القابو فرمان

13. د دولتي شورا د غړيتوب د مقررۍ فرمان
14. د حربیه وزیر عبدالعزیز خان او امیرنظام میرهاشم خان لیک
15. د عدلیه ناظر (وزیر) محمد ابراهیم خان او ایشک آغاسي محمود خان لیک
16. د حربیه ناظر صالح محمد خان لیک
17. د علیاحضرت سراج الخواتین لیک
18. دهډې د جرګې په هکله د حربیه ناظر سپه سالار محمد نادرخان لیک
19. د حربیه ناظر سپه سالار صالح محمد خان د زخمي کیدو په هکله د هغه لیک.

# شپږم څپرکی

## د منګلو دارودوړ په کرارولو کې مهمه ونډه

د اماني رژیم پر وړاندې لومړی بلوا د ۱۹۲۴ کال په پسرلي کې د پکتیا ولایت د منګلو د سیمې څخه د ملا عبدالله چې په ګوډ ملا پیژندل کیده او د هغه د زوم ملا عبدالرشید تر مشرۍ لاندې پیل شوه.

په پکتیا کې د دې اړودوړ پیلول له ډیرې مودې راهیسې په پام کې نیول شوي وو، مګر د هغه د پیل لامل د منګلو د قوم د یو تن یوه دعوی وه. دې سړي دعوی لرله چې په کوچنیوالي کې یې د یوې نجلۍ سره کوژده شوې وه، مګر د دې سړي مخالف لورې اعلی حاکم او قاضي ته شکایت وکړه. اعلی حاکم امرالدین خان، د نوې نظامنامې له مخې د کومې پر بنسټ چې د صغیر کوچني واده کول منع شوي و، د نجلۍ د نظر او خوښې د تر لاسه کولو وروسته، د لومړي کس دعوا و نه منله.



ملا عبدالله (ګوډ ملا)

ملا عبدالله چې د کوژده شوي سړي څخه لا پخوا بډې اخستې وې، او باید د دې شخړې پریکړه یې کړې وای، د حاکم په پریکړه نیوکه وکړه او و یې ویل چې دا کار د شریعت څخه سرغړونه ده.[۱۴۹]

---

۱۴۹ . کاتب، فیض محمد ، تذکرالانقلاب ۵۰ او ۵۱ مخونه (ژباړه. مکچیسنی، کابل تر کلابندۍ لاندې ۱۳ او ۱۴ ) مخونه.

هغه د ملا عبدالرشید په مرسته، چې په یوه لاس کې قران کریم او بل کې یې د جزاء قانون نیولي و، د قبایلو په منځ کې تبلیغ کاوه او چیغې به یې وهلې چې تاسې کوم یو منئ؟ قرآن کریم که دا قانون؟ څرګنده خبره وه چې خلکو ویل « مونږ قرآن کریم منو». هغه پدې توګه خلک بلوا ته را بلل.

میرمن ریه تالي ستیوارت، د بلوا کونکو د مشر په اړه په خپل مشهور کتاب "اور په افغانستان کې" لیکلي چې: "هغه یو شنه چپنه اغوستله، چې د پیغمبر (ص) د چپنې رنګ ته ورته وه. هغه په دودیزه تولنه کې په یو شخصیت بدل شو. په وروستیو کلونو کې د هغه د ناوړه ګټې اخستنې په اړه خلکو داسې ویل چې هغه ته له آسمان څخه الهام راته. هغه د منګلو ولسونو ته ویل چې: " لاړ شئ د هغې پلانۍ ونې لاندې ولټوئ، تاسو به هلته پیسې وموم‌ئ "، البته له شک پرته دا پیسې انګریزانو هلته ایښودلې، ځکه چې هغوی غوښتل چې د منګلو ولس په ګوډ ملا باور او د هغه ملاتړ وکړي".[۱۵۰]

## په جنوبي کې د اړ و دوړ لاملونه

د سید قاسم رشتیا په وینا، "د پکتیا په سیمه کې یو شمېر ملایان را و پاریدل. هغوی د هغې نظامنامې او قوانینو په هکله چې د امان الله خان له خوا طرحه شوي وو، ویل چې امان الله خان د قران څخه لیرې شوی او د خپله ځانه یې قوانین او مقررات جوړ کړي دي".[۱۵۱]

د امان افغان جریدې د دې اړودوړ په اړه داسې لیکي "د عبدالله او عبدالرشید په نامه دوه کسه ملا ډوله ګردیزیان، د یو شمیر مغرضو وطني کړیو او ځینو پردیو خاینینو د ناوړه تبلیغاتو په پایله کې، پاچا ته عریضه کړې وه چې د نظامنامې ځینې مواد د شریعت د حکم سره سمون نه لري. شاهانه حضور چې پاک اسلامي شریعت او الهی احکامو او د پیغمبرو سنتو سره بې

---

۱۵۰. Stewart, Rhea Talley (2000). (په افغانستان کې اور)، ۲۵۹-۲۲۰ مخونه.
۱۵۱. طنین، ظاهر، افغانستان په شلمه پیړۍ کې، مخکینی ۴۵ مخ.

کچې مینه درلوده ... د هغو ملایانو په ځواب کې ویلي و چې" نوموړې نظامنامه په مرکز کې ډیرو سترو ملایانو او قاضیانو تیاره او تصویب کړې ده او د هغوی د لاسلیک او تصویب له مخې پلې شوې ده. که چیرې تاسې د کومې مسئلې او د هغې د حکم په اړه چې د شریعت سره به سمون و نه لري، شک لرئ نو مرکز ته راشئ او د نوموړو ملایانو سره خبرې اترې او بحث وکړئ او خپل شک مو لیرې کړئ. " د عریضې ځواب او شاهي فرمانونه د خوست اعلی حکمران ته استول شوي.

د خوست اعلی حاکم ښايي د دې لپاره چې د پاچا حکمونه هغوی ته بیان کړي، نوموړي ملایان خوست ته رابولي. د لارې په اوږدو کې هغوی ته دا ویره پیدا کیږي چې د خوست حاکم د هغوی په اړه کوم ناوړه نیت و نه لري، او غواړي چې په همدې پلمه هغوی ونیسي او سزاء به ور ته ور کړي. د همدې ډار له امله هغوی له تلو څخه ډډه کوي. څرنګه چې حکومتي چارواکي د هغوی په تلو ټینګار کوي، ملایان د یوه منګلي کور ته پناه وړي او داسې ور ته وایي چې لکه څرنګه چې د شریعت څخه سرغړاوی شوی دی، مونږ دا خبره کړې او اوس حکومت غواړي چې مونږ یوسي او بندیان مو کړي او سزا را کړي. نوموړی منګلی د ملا د ښې له لیدو او د شریعت د نوم د اوریدلو سره سم د هغوی په ملاتړ پاڅون کوي ، او پدې ترڅ کې د قبایلو او ټبرونو تر منځ د اختلافاتو له امله، ځینې خلک د دې ملایانو پر وړاندې ډلې ټپلې جوړوي، اود ملایانو ملاتړي له خپلې لورې د یو ډول بلوا او سرغړاوي څرګندونه کوي ".

د برتانوي استخباراتو په رپوټونو کې، د دې اړودوړ لامل، د قبیلوي نوبتي بغاوت څخه لوړ، او دیره دون د سردارانو لاس لرنې ته ګوته نیول شوې ده. [۱۵۲] یو رپوټ وایي چې "داسې نښې نښانې شته چې په خوست کې دا ځواکمن پاڅون یو ناڅاپي قومي پاڅون نه دی، بلکې د یوې ژورې د سیسې یوه برخه ده

۱۵۲. د انګلیس د استخباراتو پټ رپوټونه (د ۱۹۲۳ کال د جولای د لومړۍ څخه د ۱۳۲۴ کال د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې د پیښو لنډیز ۹۲۴ ) L/MIL/17/14/1613

چې د هغه زړی په کابل، ګردیز، هند یا نورو ځایونو کې ایښودل شوې وي.[۱۵۳]

امان افغان په خپله یوه ګڼه کې و لیکل چې ستره بریتانیا د پردې شاته د افغانستان اصلي دښمنه ده.[۱۵۴] نورو خپرونو لکه په کابل کې *حقیقت*، په جلال آباد کې اتحاد مشرقی او په قندهار کې طلوع افغان همدا رنګه ور ته مطالب خپاره کړل او عبدالکریم یې د انګلیس د لاس د یوې آلې په توګه خلکو ته ور پېژنده، چې د کفارو د وطن څخه افغانستان ته راغلی او د کوچنیوالي څخه د دښمن د ګټو سره سم په خوځښت کې وه. امان افغان په هند کې په شاهي کورنۍ پورې اړوند افغان کډوالو کورنیو سره بې خرته سخاوتمندانه مرستې د بریتانیا د حکومت انګیزه تر پوښتنې لاندې راوستې او داسې یې لیکلي دي: «**اروپائیان په ډیره هوښیارتیا او د راتلونکې په اړه د فکر کولو له لارې داسې چارې تر سره کوي چې مونږ ختیځوال تر هغې پورې چې د هغوی رښتوني موخې نه وي روښانه شوي، د نوموړو خوځښتونو په پټو رازونو نه پوهیږو. نن ورځ زمونږ پر وړاندې ډیر ناوړینونه پراته دي او مونږ د هغوی په ژورتیا هغه مهال پوهیږو چې د هغوی په پایله کې رامنځته شوو ستونزو سره لاس او ګریوان شو**»[۱۵۵]. په ورته ډول د حقیقت جریدې عبدالکریم ته د مالي مرستو سرچینې تر پوښتنې لاندې راولي او د هغوی ملاتړو ته، چې د انګریزانو څخه عبارت دی ګوته نیسي.[۱۵۶]

## د سولې له لارې د ستونزې د حلولو لپاره هلې ځلې

نوموړې اړودوړ له یوه کال څخه ډیردوام و موند، ورو ورو د هغو سره د نورو قومونو د یو ځای کیدو له لارې تر لوګر پورې خپور شو. دواړو ملایانو د منګلو او ځدرانو د خلکو د ملاتړ پر بنسټ له پاچا څخه وغوښتل چې د جزاء د عمومي قانون ځینې مواد چې د هغو په اند یې د شریعت سره سمون نه

۱۵۳. هماغه ځای **۵**. مخ

۱۵۴. امان افغان، ۱۳۰۳ کال د سنبلې ۱۷ چې د ۱۹۲۴ زیږدیز کال د سپتمبر د میاشتې د ۲ سره سمون لري.

155 FIBD, IOR, L/P&S/10/1081, P137, No. 46, Dec. 18, 1924.
156 FIBD, Ibid, P4757, No. 41, Nov. 6, 1924.

درلود ، تعدیل کړي. پاچا ځواب ورکړ چې نوموړی قانون پخوا د دیني علماو له لورې تصویب شوی دی او له هغوی څخه یې و غوښتل چې له دې علماو سره د خبرو اترو لپاره کابل ته راشي. البته ملایانو دا بلنه و نه منله او د اسلامي شریعت د ساتنې په نامه یې په پکتیا کې پاڅون وکړ. د پکتیا بزګران چې د دولتي چارواکو او اعلی حاکم د چلند څخه ځوریدلي وو، د هغوی په ملاتړ را پورته شول، او ځینې مغرض خانان هم د هغوی سره مل شول.[۱۵۷]

امان الله خان هڅه وکړه چې د منورو او رسوخ لرونکو علماو په مرسته دا ستونزه حل کړي. نوموړو علما د لوګر په بیدک سیمه کې د بلواګرو ملایانو سره لیدنه وکړه او ډیر ژر پوه شول چې ګوډ ملا د مذهبی خبرو اترو تکل نه لري او دښمنانه چلند څخه کار اخلي او په ځرګنده توګه د واک څخه د امان الله خان لیرې کیدل غواړي او اعلان یې وکړ چې نوی امیر یې ټاکلی دی. د دې لیدنې په پایله کې دولت دا پریکړه وکړه چې مصالحه شوني نه ده او اړودوړ یوازې د بلواګرو ځواکونو د ماتولو له لارې له منځه وړل کیدای شي. د علماو پلاوی هم دا رنګه پوه شو چې د ګوډ ملا غوښتنې یوه سیاسی موضوع ده او د مذهب سره اړیکه نه لري. د امان الله خان مذهبي سلاکارانو داسې سپارښتنه وکړه چې مذهبي شکایتونو ته د ځواب پیدا کولو په موخه لویه جرګه را و بلل شي. جرګې د امان الله خان وړاندیزونه په عمومي ډول و منل، خو د جزاء د قانون په اړه یې ځینې اصلاحات رامنځته کړل.[۱۵۸]

د لویې جرګې له خوا د اصلاحاتو د پروګرام تعدیل شوې برخې، د حضرت فضل محمد (شمس المشایخ) په مشرۍ او حضرت فضل عمر (نورالمشایخ) [۱۵۹]، محمد ابراهیم، د عدلیې وزیر، ملا عبدالرحمن، د تمیز د محکمې رئیس، سردار محمد عثمان خان او یو شمیر نور د پلاوي د غړو په توګه د

۱۵۷. غبار، میر غلام محمد (۱۳۲۲)، ۸۰۷ مخ.
۱۵۸. Poullada L. B. (1973) ۱۲۲ مخ.
۱۵۹. القاب شمس المشایخ او نورالمشایخ ته دا لقبونه د اعلیحضرت امان الله خان غازی له لورې د خپلواکۍ په جګړه د هغوی د ونډې له امله ورکول شول.

خبرو اترو په موخه بلواګرو ته و استول شول تر څو هغوی ته يادونه وکړي چې د قانون ټولو موادو ته د اسلامي شريعت سره سمون ورکول شوی دی او هيڅ داسې ماده نشته چې د اسلام سره توپير ولري، مګر بيا هم د بلواګرو سره خبرو اترو زړه پورې پايله تر لاسه نه کړه. استاد فضل غنی مجددی د سردار محمد عثمان خان د لور (د حضرت صبغت الله مجددي مور) له خولې کيسه کوي او ليکي چې د هغه ځانګړې خبرې اترې چې د حضرت نورالمشايخ او سردار محمد عثمان خان او ملا عبدالله تر منځ تر سره شوې، حضرت نورالمشايخ د ملا عبدالله ډير نظريات تاييد کړل، خو شمس المشايخ په پايله کې د ملا عبدالله ټول وړانديزونه رد کړل.[160]

حضرت محمد صادق المجددی د الطودالشامخ فی مناقب الشيخ فضل محمد المجددی الملقب بشمس المشايخ قدس سره» يا حضرت شمس المشايخ ژوند ليک کې، د ملا عبدالله او ملا عبدالرشيد او بلواګرو سره د سردار محمد عثمان خان او د مرافعې د رئيس ملا عبدالرحمن خان د يو ځای کيدو د پټو اړيکو په اړه يادونه کوي، او د اماني رژيم له رانسکورېدو وروسته د سردار محمد عثمان خان واک ته د رسيدلو او د نومورې طرحې سره د حضرت شمس المشايخ د مخالفت څخه پرده پورته کوي.[161]

**د سولې د خبرو اترو ناکامي**

کله چې د يوې سوله ايزې پريکړې لپاره د دولت ټولې هڅې له ناکامۍ سره مخامخ شوې، امان الله خان پريکړه وکړه چې اړودوړ بايد د پوځې ځواک په مرسته غلې شي. د دوبي په پای کې دولتي سرتيري په څلورو جبهو کې له بلواګرو سره په جګړه بوخت وو: د ګرديز جبهه د حربيې وزير محمد ولی خان، د جلال آباد جبهه د کابل د والي علی احمد خان، د غزنی جبهه د حربيې وزارت د مرستيال عبدالعزيز خان تر قوماندې او د وردکو جبهه د اعتمادالدوله

۱٦٠ . مجددی، فضل غنی (۱۹۹۷)، ۲۳۹مخ.
۱٦۱. المجددی، محمد صادق، ۱۷۸ تر ۱۸۱ مخونو پورې

عبدالقدوس خان، سردار شاه ولی خان، غلام نبی خان چرخي او جنرال عبدالوکیل خان نورستاني تر ګډې قوماندې لاندې رهبري کیدله. په جګړه کې د دې مهمو اشخاصو ګډون اړودوړ ته د پای ټکي ایښودلو په موخه د دولت د ټینګ او کلک هوډ ښکارندویي کوي.

د اړودوړ او د پکتیا د جګړو پر مهال دولتی ځواکونو او بلواګرو ته ډیر تاوانونه وا وښتل. زیاتره دا جګړې د بلواګرو په ګټه پای ته رسیدلې. اروانښاد غبار لیکي چې د دغو جګړو څخه په یوه کې «کله چې د حربیې وزیر محمدولی خان په ګردیز کې د بلواګرو له لورې کلابند و، د کابل څخه یوه ۷۰۰ کسیزه ځواک د «عسکر جان فدا» یا ځان قربانونکي سرتیري په نامه د دوه غنډمشرانو سره د حربیې وزیر د ژغورنې لپاره د ګردیز پر لور و استول شول، مګر دا ځواک د لوګر بیدک په سیمه کې د شپیني تاړاک لاندې راغلل او تر وروستي کسه د مخالفینو تر چړې تیر شول.[۱۶۲]

د اړودوړ په سخت مهال کې د خوست عسکري چونۍ کلابنده شوه، د غزني څخه د ګردیز پر لاره د دولت په خزانه برید و شو، د لوګر د واخجان تنګی د بلواګرو له لورې یوه نابېره برید کې و نیول شو او پایتخت مستقیما د ګواښ لاندې راغی. څه وخت وروسته بلواګرو د غزني ښار هم کلابند کړ، احمدزیو او طوطاخیلو هم د کابل سره د پکتیا اړیکه پرې کړه، بلواګرو د غزنی له استقامت څخه د کابل پر لور تر شیخ آباد او د وردکو تکیه سیمې ته و رسیدل او ملا عبدالاحد او ورور یې سبحان د دولت خزانه د شیخ آباد په سیمه کې ولوټله.

په همدې کال محمود طرزی د پاریس د سفارت څخه بیرته کابل ته را ستون شو او د بهرنیو چارو وزارت دنده یې په غاړه واخیسته، او په همدې کال کې و چې شاه امان الله خان پر حضرت نورالمشایخ مجددی شکمن شو او و یې غوښتل هغه زندان ته واچوي، خو حضرت شمس المشایخ چې یو مجاهد سړی او د ښکیلاک ضد و او د انګریز د نفوذ څخه د سرحداتو د آزادۍ پلوی و، د دې کار

---

۱۶۲ . غبار، میر غلام محمد (۱۳۶۲)، ۸۰۸ مخ.

مخه و نیوله. پاچا د هغه درناوي له امله چې نوموړي روحاني شخصیت، شمس المشایخ ته یې درلود ، د نورالمشایخ د بندي کولو څخه په دې شرط تیر شو چې هغه باید له افغانستان څخه وځي. حضرت نورالمشایخ په همدې توګه د خپلې کورنۍ سره یو ځای د افغانستان د پولې څخه تیر شو او د حج د مراسمو د اداء کولو وروسته یې په برتانوي هند کې سکونت غوره کړ.

په هر حال جنرال محمد عمر خان چې په سور جنرال مشهور وه، د پکتیا د بلواګرو له خوا د غزني کلابندي ماته کړه، او د پکتیا د جګړه مارو د ماتې وروسته یې چې شیخ اباد او تکیه یې اشغال کړي وو، کابل ته ور پیښې ګواښ له منځه یووړ. غنډ مشر محمد امین خان هم د لوګر د نظامي چونۍ دفاع وکړه او د پکتیا برید کونکو ته یې ماتې ورکړه. غلام نبي خان څرخي د لوګر د واخجان تنګي کې ټولو اړودوړ کونکو ځواکونو ته ماته ورکړه، او غنډ مشر محمد غوث خان مات شوي ځواکونه پسې و څارل. سردار شاه ولي خان په لوګر کې د اړودوړ کونکو سره خبرې اترې پیل کړې او میرزمان خان کونړي او جنرال عبدالوکیل خان نورستانی هم د لوګر د جګړې په میدان کې ډیره زړورتیا وښودله. د انشاأتو د قطعې کندک مشر رجب علي خان او ټولی مشر جان محمد خان نورستاني د لویو پوځی افسرانو د پام وړ وګرځیدل. بهرام خان سرخابی د دولت په ملاتړ د لوګر ټولې لارې خوندي او په امن کې و ساتلې. د احمدزیو خلکو هم د بلواګرو لیکې پریښودلې.

په پای کې، پکتیا ته د دولتي افسرانو او چارواکو داخلیدل، د کابل او پکتیا تر منځ د ارتباطي لارې پرانستل کیدل، د بلواګر و څخه د تیرې د غاښې پاکیدل، په زرمت او نیکه ځدران سیمو کې د بلواګرو ماتیدل، او په میرزکه کې د منګلو بلواګرو ناکامي، او په پکتیا کې د اړودوړ کونکونو د ورستې ځواک ماتیدل، هند ته د عبدالکریم خان تښتیدل، د بلوا جوړونکو مشرانو لکه ملا عبد الله او ملا عبد الرشید او نورو ۲۵ تنه بلواګر مشران ملایان چې په دې بلوا کې یې لاس درلود، نیول او اعدامول او په کابل کې د یو شمیر بندیانول، او د هغوی یو شمیر دې ته اړ کول چې د هیواد په شمال کې و

اوسیږي، د پکتیا ستر اړودوړ پای ته و رسید. مشهور غازي، ببرک خان ځدران، چې د مرکزي دولت ملاتړی و، هم د دولت په ملاتړ په همدې جګړه کې و وژل شو.[۱۶۳]

میرغلام محمد غبار لیکي چې "**د ځدرانو اولس ملا عبدالله او ملا عبدالرشید چې غرونو ته تښتیدلي وو، ونیول او دولت ته یې وسپارل** او هغوی د کابل په یوه پوځي محکمه کې په مرګ محکوم شول او د **۲۵** تنو بلواګرو مشرانو سره یو ځای د **۱۳۰۴** کال د جوزا د میاشتې په **۴**مه (**۱۹۲۵** زیږدیز) په ګولیو ویشتل شول"[۱۶۴].

## د قومي جرګې له لارې د جګړې پای ته رسولو کې د غازي میرزمان خان کونړي رول

د جنوبي د اړودوړ په موده کې د عبدالکریم په نامه یو سړی چې ځان یې د امیر یعقوب خان ځوی باله، د برتانوي هند له لارې د جګړې ډګر ته داخل شو او د امارت دعوا یې وکړه. دا خبر په ډیره چټکۍ په ټول افغانستان کې خپور شو.

د برتانوي هند څخه د تاج او تخت یو مدعي راتلل چې د بلواګرو مشري وکړي، د بلواګرو پر وړاندې د ولس ملي او اسلامي ولولې را وپارولی. لکه څرنګه چې د اګست په میاشت کې، کله چې د دې سړي هویت خلکو ته څرګند شو، حکومت د وخت د ضایع کولو پرته خلکو ته خبرداری ور کړ چې انګریزان غواړي د پخوا په څیر د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي.


د غبار د وینا له مخې سره له دې چې اولس د دولت د ناوړې اداري څخه ناخوښه و، د پکتیا په جګړه کې یې لږ تر لږه خپل ناپیلتوب ساتلی و، **همدا چې یوه شول د پکتیا اړودوړ مذهبي نه، بلکې سیاسي بڼه لري او دا چې انګریزان پکې لاس لري، ټول د دولت په ملاتړ راپورته شول او د پردیو د نفوذ پر وړاندې یو لاس**

---

۱۶۳. غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ (۱۳۲۲)، د ۸۰۲ څخه ۸۱۱ پورې مخونه.

۱۶۴. هماغه ځای، ۸۱۰ مخ.

**شول.**[١٦٥] د شمال، مشرقي، قندهار، کاپيسا او پروان، هزاره جاتو، او کابل د خلکو د چمتو کيدلو او ملاتړ وروسته، دولتي ځواکونه په جبهو کې د دفاعي پړاو څخه را و وتل او په تيري يې لاس پورې کړ. په پکتيا کې هم عمومي احساسات په خوځښت راغلل، د ځائيو او ځمکنيو خلکو د دولت لوری غوره کړ او د خوست هندوانو دولتي سرتيرو ته د خوړو رسولو دنده په غاړه واخيسته. د کابل ښار هم لوګر ته د استول شوو دريو پوځي کنډکونو تنخواه ګانې و منلې، د کابل د مدرسو زده کونکو د وسلې او په جګړه کې د ونډې اخستلو غوښتنه وکړه، او د کابل ځينو ښځو خپلې ګاڼې دولت سره د مرستې په موخه وسپارلې. غازي مير زمان خان هم د اړودوړ په سياسي بڼې او انګريزانو د لاسوهنې پر پوهيدلو د دولت په ملاتړ را پورته شو او د يو نيم زر کسيز ځواکمن لښکر سره يو ځای کابل ته راغی او د دفاع وزارت له هر کلي سره مخ شو.


جريدهٔ (١)   (امان افغان — سال پنجم)   نمارهٔ (١٠٠٩)

قيمت ساليانه
از وزراء واعيان دولت بقدر معارف دوستی شان
برای مکاتب ملی وکتب خانهای ملی ومعاونين ووقائع نگاران (فخری) رايگان
از عموم خريداران در داخله (١٢) روپيهٔ کابلی در خارجه نيم پوند انگليسی با محصول پوسته
از طلاب ومحصلين نصف قيمت
ششماهه
داخله (٨) روپيه — خارجه (٧) شلنگ

درين جريده از هر گونه علوم ووقايع سياسی و منافع دولتی وفوائد ملی بحث ميشود

امان افغان
١٣٣٧ ع

از ابنای وطن هر که اهل ديده شد بدون خواهش جريده برايش فرستاده ميشود
قيمت اين شماره يک قران

اداره فرستاده شود
اداره دراختصار واصلاح مقالات واورده مختار است
درهر هفته يکبار نشر ميشود

تاريخ شمسی (١٤) سنبله ١٣٠٣ هجری   (شنبه)   تاريخ قمری (٧) صفر سنه (١٣٤٣) هجری

فهرست مندرجات

١) اوضاع وطن — (٢) داو طلبان سرکوبی اشقيا — (٣) اعلان رسمی درباب اصلاح نظامنامه ها —
(٤) مجلس وداعيه دو نفر طياره چی افغان در روما — (٥) حوادث داخليه —
(٦) حوادث خارجه — (٧) تبصره —

(امان افغان — سال پنجم)   (شمارهٔ ٩ و ١٠)

— (داو طلبان سرکوبی اشقيا) —

سمت شمالی: بعد ازان که واقعهٔ بغاوت وعصيان اهالی ... منتشر ... ازين قبيل ... آن ميرسد.

سمت مشرقی: ... جمع آوری ...

زرک که بکابل آمده ... بمقابل اشقيا ... بعض خوانين سمت مشرقی داوطلب سرکوبی اشرار ... ميرزمانخان ملقب بلوی خان ... زرک که قريب بدو هزار ... وارد کابل گرديد.

کابل ته د غازي ميرزمان خان د رسيدلو خبر د امان افغان په (۱۰، ۹) ګڼه جريده کې خپور شو.[١٦٦]

امان افغان د اماني دورې (پير) تر ټولو مهمه دولتي اونيزه جريده وه چې د هغې لومړۍ ګڼه د ۱۲۹۸ کال د وري د مياشتې په ۲۸ مه نيټه چې د ۱۹۱۹ کال د اپريل د مياشتې له ۱۲ مې سره سمون لري، خپره شوه. د "امان افغان" خپرونې د محمود طرزي د سراج الاخبار افغانيه هماغې مهمې موخې يعنې خپلواکۍ، ملت پالنې، پرمختګ غوښتنې، د ښکيلاک پر وړاندې درېدلو او د اسلامي هيوادونو يووالي او ترقۍ پر لاره روانه وه. يوازې په يو توپير چې د سراج الاخبار څخه د بشپړې خپلواکۍ غوښتنې لپاره د يوې وسيلې په توګه کار اخستل کېده او امان افغان د خپلواکۍ د ساتلو او د افغانستان پرمختګ او ترقۍ لپاره تبليغ کاوه.


شماره (۹) جلد اول

ورود لویخان با هزار و چند صد سربازان

روز شنبه ۱۳ سنبله جناب میرزمانخان لویخان کنری ...

فدا کار کنرها بیک جوش و خروش ...

کابل شدند از طرف وزارت حربیه پذیرائی ...

مورد شده اند این فداکاران اسلامیت و مملکت ...

برای تعمیل همه گونه اوامر اعلیحضرت غازی ...

۱۶۶. د امان افغان جريدهٔ، پنځم کال، (۱۰، ۹) ګڼه، ۳ مخ، د سنبلې ۱۴، ۱۳۰۳ کال «داوطلبان سرکوبی باغیها».

د حقیقت جریده، چې د دفاع د وزارت له خوا خپریده، په خپله (۹) ګڼه کې یې کابل ته د غازي میرزمان خان په اړه ولیکل چې «د شنبې پر ورځ د سنبلې په ۷ ښاغلی میرزمانخان د کونړ لویخان کونړي، یوازې د لوی ښتن د اوامرو د پرځای کولو او په جنوبي سیمه کې د بلواګرۍ د ماتولو په موخه د یو زر او څو سوو سرښندنې ته چمتو سرتیرو سره په یوه اسلامي افغاني مینه او ولوله کابل ته راغلي او د حربیې وزارت له لورې یې تو هرکلي وشو»[۱۶۷].


حقیقت
۱۳۰۳
جلد اول کابل چهارشنبه (۱۱) سنبله ۱۳۰۳ شمسی مطابق (۳) صفر المظفر ۱۳۴۳ قمری شماره (۱۰)
صورت شرفیابی مجاهدین کنری و میرزمانخان لویخان بحضور اعلیحضرت معظم غازی و متانت نشان عطر حم همایونی


د شاه امان الله خان سره د غازي میرزمان خان کونړي د لیدنې کتنې بشپړ خبر چې د دلګشا په ماڼۍ کې تر سره شوی، د حقیقت په (۱۰) ګڼه کې خپور شوی دی.

۱۲۷. د حقیقت جریده کابل، (۹) ګڼه لومړی جلد، ۹د سنبلې ۹، ۱۳۰۳ لمریز (۳۱ اګست، ۱۹۲۴ زیږدیز)

غازي مير زمان خان ته د لوامشرۍ رتبه ور کړل شوه، د هغه وسايل او تجهيزات تيار شول او د بلوا د آراموولو لپاره لوګر ته و استول شو. د لوګر په بره کی را جان کې د اړودوړ کونکي د ماتې ځخه وروسته يې د عبدالکريم، د امير محمد يعقوب خان د زوی، څخه چې د تاج و تخت دعوا يې لرله، يو ليک تر لاسه کړ په کوم کې چې يې د غازي مير زمان خان څخه غوښتې و چې د هغه ملاتړ وکړي، خوغازي مير زمان خان هغه ته کلک ځواب ورکړ او د اشرارو پر وړاندې يې جګړې ته دوام ورکړ او په زرمت او ځدرانو کې د اړودوړ کونکو د ماتې وروسته، ځان خوست ته و رساوه.


شکست اشرار در شاه مزار

نه يوازې کورنيو جرايدو لکه د حقيت ۱۷ او ۱۸ ګڼې چې د سنبلې په (۲۸ او ۳۰ ) نيټه د "لوی خان ميرزمانخان ميړانه" او "په شاه مزار کې د اشرارو ماتې" او د امان افغان پنځم خپرنيز کال په ۱۴/۱۳ ګڼو کې "د لوګر جګړه او د اشرارو تيښته" تر عنوان لاندې د غازي ميرزمان خان کونړي د زړورتيا، ميړانې او برياو څخه يادونه شوې ده، د دې تر څنګ په کابل کې د انګليس د سفارت د چارو ځارونکي، مکوناچی هم په خپل ۷۱ ګڼه پټ رپوټ کې د افغانستان د کورني وضعيت په اړه وايي په دې سترګې نه شو پټولای چې د خوست بلواګرو و نه شو کولای د غازي ميرزمان خان تر مشرۍ لاندې جنګياليو د بې سارې زړورتيا پر وړاندې ودريږي.[۱۶۸]


مردانگی میرزمانخان لوی خان

د جنوبي اړودوړ د يو کال څخه ډير دوام وکړ او د بلواګرو سره د جګړې

---

۱۶۸. د انګليس استخباراتو پټ ستراتيژيک لاسوندي، ۱۲۴ ګڼه پيغام د ۱۹۲۴ کال د سپټمبر ۳۰ نيټه، د مکوناچی له لورې مک ډونالد ته.


سختوالي بيلابيل پړاونه درلودل او د بلواګرو ورستۍ ماتې او د منګلي بلواګرو مشرانو نيول، د جګړې د پای په معنا نه و. د جګړې له امله پېښې شوې مالي او ځاني تاوانونه، د جنوبي د بيلابيلو قومونو مخالفت او دښمني او د دولت څخه د غيږ اخستنې ډار د پښتونولۍ د يو دود په توګه هماغسې تر ډيره دوام درلود. دې ستونزې ته د پای ټکي ايښودلو لپاره، ناجګړه ايزه حل لاره او قومي جرګه تر ټولو ښه وسيله وه. خو د ځدرانو د قومي جرګې مشران د فرقه مشر شير احمد خان سره پايلې ته و نه رسيدل، او د خوست څخه د لښکر تر راستيدو وروسته، د ځدرانو جګړه له سره بيا پيل شوه.

د جګړې په موده کې د ځدرانو ملکانو په دې شرط خبرو اترو ته غاړه کيښوده، چې غازی ميرزمان خان کونړي چې خپله يو قومي مشر وه، په دې جرګه کې ونډه واخلي. دا وړانديز و منل شو او قومي مشرانو جرګې ته غاړه کيښوده، له دولت څخه غنيمت شوو وسلو بيرته ورکول يې و منل او د ميرزمان خان کونړي په ضمانت کابل ته راغلل تر څو د پاچا سره پخلا شي. د پيښې بشپړ معلومات او د غازي ميرزمان خان د کړنو ټوله کيسه د سيف الامان په قلمي نسخه کې، چې د مولانا عبد الخالق اخلاص ليکنه ده، او خپله يې هم د غازي ميرزمان خان تر مشرۍ لاندې په دې جګړه ونډه اخستې ده، ذکر شوي دي.

د دې جرګې د پريکړې په پايله کې د ځدرانو د قوم تر ۱۵۰ کسو زياتو ملکانو په داسې حال کې چې د غازی ميرزمان خان دوه ځامن ګل محمد خان او عصمت الله خان په ځدرانو کې پاته شول، د ميرزمان خان کونړي سره يو ځای کابل ته راغلل او د غازی امان الله خان سره يې ليدنه وکړه او جګړه پای ته ورسيده.

په کابل کې، انګليس وزيرمختار همفريز، د ۱۹۲۴ کال د ډسمبر په ۲۲ مه نيټه په خپل شفري ليک کې د بهرنيو چارو وزارت ته رپوټ ورکړ «چې ميرزمان خان کونړي پرون د څلور زره قومي وګړو او د ځدرانو د ۱۵۰ ملکانو سره کابل ته را ورسيد. ځدرانو د فارسي ژبو چارواکو سره خبرې اترې او تړون و نه مانه او ويلي يې وو چې د افغانستان د حکومت سره يوازې د يو پښتون منځګړي

له لاري خبرو اترو ته حاضریږي. میرزمان خان خپله د ضمانت او خوندیتوب دنده په غاړه واخسته».



AFGHANISTAN.

Decypher. Sir F. Humphrys (Kabul).
December 22nd 1924.

D through Peshawar December 24th 1924.

R. 12.noon. December 25th 1924.

No 298 (sic?208).

********** ** **

Khost rebellion. Mir Zaman of Kunar arrived at Kabul yesterday from Khost with about four thousand tribal levies and 150 Zadran Maliks. Zadrans refused to trust any Persian speaking official and agreed to treat with Afghan government only, through Pathan intermediaries. Mir Zaman has made himself personally responsible for their safe conduct to Kabul. It is (? corrupt group) reliable (sic) reported (1) that Zadrans have already surrendered considerable quantity of Afghan government rifles and are ready to surrender the balance on promise of pardon, (2) that many Wazirs and Mahsuds have been fighting against the Amir on the side of the Zadrans, (3) that Abdul Karim pretender and (Lame) Mulla talk of seeking refuge in Mohmand country.

A truce has been agreed upon pending the result of the negotiations now in progress.

د انګلیس د سفیر د ریوټ د لاسوندونو (اسنادو) له مخې یوه باوري سرچینه زیاتوي چې «(۱) ځدرانو یوه د پام وړ شمیر دولتي وسلې دولت ته وسپارلې او تیاری یې وښود چې د دولت د بخښنې د ژمنې پر بنسټ به پاتې ټوپکونه هم دولت ته سپاري. (۲) د وزیرو او مسعودو یو ډیری شمیر د ځدرانو جګړه مارو څخه ملاتړ کوي، او (۳) عبدالکریم او ګوډ ملا په داسې حال کې چې د مومندو په سیمه کې پناه اخستې بوخت دي. د هغوی سره د خبرو اترو د پایلې تر معلومیدو پورې، پر اوربند موافقه شوې ده».

د امان افغان جریدې، په ۲۲ ګڼه کې د جنوبي سیمې څخه د غازي میرزمان کونړي د را ستنیدلو خبر خپور کړ چې متن یې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

**«د جنوبي د سیمې څخه د مشرقي د زړورو بیرته راستنیدل**


امان افغان
ورود دلاوران سمت مشرق
از محاربهٔ سمت جنوبی
قارئین وطنی مسبوقند که . جناب (لوی خان) لوامشر میرزمان خان کنری که با هزار وچندصد نفر متعلقین خویش ومردم (کنر) برای دفع وطرد متمردین سمت جنوبی . ازسمت مشرق آمده . ودر منطقهٔ لوگر منتهای جلادت وشهامت را ابراز داد . ودرمعیت جناب شهامت نشان آقای عبدالوکیل خان فرقه مشر فرقهٔ بزرگ اشرار را از لوگر کشیده متفرق ساخت . ودر جنگهای زرمت وجدران نیز حمیات قومیه را بمعرض شهود گذارده . از سمت جنوبی بامتعلقین خویش وارد کابل وبحضور شاهانه مشرف گشته نوازشها دیده.
خدمات این مرد غیور وکلیه دلاوران سمت مشرق را که هم از طرف لوگر وزرمت وجدران . وهم از طرف جاجی وچکنی بر گروه اشرار حملات دلیرانه نموده متمردین را مغلوب ومطیع گردانیدند ووظیفهٔ محبت بوطن وفریضهٔ دوستی بحکومت را بجا آوردند . با کمال افتخار تقدیر وتحسین مینمائیم وبفیروزی وفتوحات قیتمدار شان تبریک میگوئیم واز سلامتی شان تشکر آلهی را بجا می آوریم .

خبر بازگشت غازی میرزمان خان کنری از سمت جنوبی

لوستونکي خبر دي چې ښاغلی (لوی خان) لوامشر میرزمان خان کونړي چې د خپلو یو زرو او څو سوو خپلوانو او کونړیانو سره یو ځای د باغیانو د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره د جنوبي لورې ته تللی و او په لوګر کې یې تر اندازې ډیر شهامت او جلادت او زړوتیا ښکاره کړه، او د ښاغلي فرقه مشر عبدالوکیل خان سره یو ځای یې اشرار د لوګر څخه و شړل او خواره یې کړل، د زرمت او ځدرانو په جګړو کې یې خپلې قومي ځانګړتیاوې په کار واچولې، له جنوبي څخه د خپلو ملګرو سره یو ځای بیرته کابل ته راستون شو او د پاچا په حضور مشرف او و نازول شو.

د دې زړور سړي او د مشرقي ټولو باتورانو چې د لوګر، زرمت، ځدرانو او هم د ځاځیو او څمکنیو له لورې یې د اشرارو په ډله زړور بریدونه وکړل، یاغیان یې مات او تسلیم کړل، او د وطن سره د مینې دنده او حکومت سره دوستي یې تر سره کړله، په ډیر ویاړ ستایو او قدر یې کوو او هغه ته د دې بې ساري بریا مبارکي وایو او دا چې روغ سلامت بیرته راستون شو د لوی خدای ډیر شکر آداء کوو».[۱۶۹]

۱۶۹. د امان افغان جریده، پنځم کال، ۲۲ ګڼه، یکشنبه د مرغومي ۷، ۱۳۰۳ لمریز کال.

د حقيقت جريده په **۵۸** ګڼه کې «صورت شرفيابی نفری ميرزمانخان لوامشر لويخان بحضور شهريار افغان» تر عنوان لاندې يو بشپړ رپوټ خپور کړ او وېې ليکل چې «د سه شنبې په ورځ د مرغومي (۲) د دلګشا په ماڼۍ کې زړه ورو سرتيرو او فاتحو کسانوچې د ښاغلي ميرزمانخان لوی خان د مخلصانه مشرتابه لاندې يې د جنوبي په سيمه، د لوګر په شاوخوا، شاهمزار او سپين تخت، زرمت او زاهو او نورو ځايونو کې مهم فعاليت تر سره کړې وو، او له ځانه يې زړورتيا ښودلې او د خپلې ميړانې په ښودلو يې تکړه توب سره جګړه کړې، د هغه ځای د صاحب منصبانو د خوښۍ سبب شوی او زمونږ د خلکو په زړونو کې د ځای درلودونکي غازي د سرلوړۍ او خوښۍ سبب ګرځيدلی، په ټولو مهمو جګړو او بريدونو کې يې لږ تلفات ورکړي او د شهيدانو او ټپيانو شمير يې د (۲۰) تنو څخه لږ دی، په خپل ډول او سورني يې لکه څرنګه چې په لومړۍ ورځ د اعليحضرت غازي سره ليدنه کوله په يو ډير زيات شوق او ولولې سره ليدنه کړې وه – خپل ځان ثابت کړ ... په دې اړه د پاچا له خوا بيانيه او د دفاع د وزير ځای ناستي حضرت عالي عبدالعزيز خان ، بې ساري ولوله انګيز او زړه پورې وې...».[۱۷۰]


صورت شرفیابی نفری میرزمانخان بحضور شهریار افغان

۱۷۰. د حقيقت جريده، **۵۸** جريده، لومړی جلد ، د مرغومي ۲



د حقيقت جريدې په خپله (۲۱) مه ګڼه کې د "تعليق نشان خدمت" تر عنوان لاندې خبر ورکړ چې: "د سه شنبې پر ورځ د مرغومي په ۹مه، حضرت عالی ښاغلي عبدالعزيز خان د حربيې وزارت ځای ناستي د خدمت هغه ښبانونه چې باهرالنور اعليحضرت معظم غازي د لوامشر ميرزمان خان لوي خان فاتح او لوړ همته کسانو ته د هغې پيسو سره ... د هغه هوښيارتيا او زړورتيا له امله چې د هغه صادقو ملګرو د جنوبي سيمې په جګړه کې، کومه چې په اصل کې د پوهې او جهالت جګړه وه، څرګنده کړه، د هغو رښتينو سرتيرو په سينو ولګول او ځوړند کړل. نوموړی ښاغلي هغه پيسې چې د اعليحضرت د افغان ملت ژغورونکي له خوا وکالتا ډالۍ او مهرباني وکړه. ه دې ورځ د ولولو ډکې ويناوې و شوې او دواړو لورو يو بل ته مخلصانه دعاګانې کولې او ټولو د اعليحضرت غازي د عمر د اوږدوالي او د افغان مملکت د پرمختګ او لوړتيا او د دې اسلامې ملت د ښيرازۍ غوښتنه کوله، په داسې حال کې چې د هغو ويناو اوريدلو په زړونو او په سرونو کې خوشحالۍ رامنځته کولې"[۱۷۱].

۱۷۱. د حقيقت جريده، ۲۱ ګڼه.

## د علم او جهل څلی

د «علم او جهل» څلی د دهمزنګ په سیمه کې د پل آرتل، توپ غونډۍ، د شیر دروازې د غره تر څنګه، د افغانستان د خپلواکۍ د ساتلو د لارې د سرغندویانو په یاد ، د کابل په لویدیځه سیمه کې د ۷ متره په لوړوالي د مرمرو پر ډبرې، د تیرې په یوه غونډۍ د ۱۳۰۴ کال د جوزا په ۲۳ نیټه جوړ شوی دی.



په دې څلي کې د پکتیا د جګړې تاریخچه او د هغو ټولو سرتیرو او قومي مشرانو چې د اماني دولت د دفاع په لار کې یې ځانونه قربان کړي وه، په لاندې توګه حک شوي دي.

"د هیواد د هوښیار او غیور ملت د زمریانو اولادونو د لوړ ارزښت لرونکو سرښندنو په یام کې نیولو سره چې د جنوبي د سیمې د تارکیو خوښونکو یاغیانو سره یې په جګړه کې و کړې، کومه چې په حقیقیت کې د پوهې او جهل سیالي وه، او په ۱۳۰۳ لمریز هجري کال کې د اعلیحضرت، الغازي (امیر امان‌الله خان) د افغان ملت ژغورنکي یعنې د افغانستان پرمختګ غوښتونکي پاچا د ملي ودې او د علم او تمدن د لوړتیا غوښتنې د

پروګرامونو پروړاندې را پورته شوي وو ، په ټینګ هوډ او تکل د خپل دولت د شرف او درناوي د ساتنې په موخه د بغاوت شعارو اشرارو بې لاروجګړه مارنو چې ناوړه ارادې یې درلودې، د مخ نیولو کوښښ وکړ او د اسلامی همت او غیرت له مخې یې د مقابلې شعار ور کړ او خپل ژوند یې د مملکت د پرمختګونو او د اولوالامر د پاکو هیلو ځار کړ او د ځان لپاره یې تلپاته ژوند او تاریخي نیک نامي تر لاسه کړه. نوموړې نیکمرغه یادګار او ویاړ د ۱۳۰۴ لمریز کال د جوزا په ۲۳ جوړ شو ، تر څو د وطن راتلونکی نسل د حقیقت د لارې د هغو وطن‌دوستانو او پوهه خوښوونکو سربښندنو ته په درنده سترګه وګوري او افغان بیدار او حق پلو ه وګړي د خپل ویاړ لامل او لارې مشال و ګرځي ".



د افغانستان د پوهې او پرمختګ د لارې شهیدان د لوګر حاکم محمدعمر د احمدشاه خان خواجه زاده زوی، ملکي غونډمشر ببرک خان د مزک زوی، ملکي کنډک مشر قومی خان عبدالکریم د سردار عباس خان ځدران زوی، ملکي کنډک مشر جان علی خان د حاجی محمد خان هزاره زوی، ملکي ټولی مشر جان محمد خان د مهرعلی خان هزاره زوی، د تڼیو د قوم خان وریښمین خان د بازګی زوی، قومی ملک مکرم خان د زمبر خان وزیری زوی، نیاز میرخان د ولی خان وزیری زوی، ملک محمد خان د ولی دادخان وزیری زوی، او داسې نورو څخه عبارت دي.

د ديوال په کېښتنۍ برخه کې د اماني دولت نښان چې د ۱۳۰۱ لمريز کال راهيسې د دوه تورو او تاج لرونکې خولۍ چې د غنمو وږي ترې را چاپېره شوې دي، په ديوال رسم شوي دي.



## د منګلو په اړودوړ کې د سپه سالار نادر خان لاس لرل

د حربيې وزارت له دندې څخه د سردار محمد نادر خان ليرې کول د ۱۳۰۲ کال د لېندۍ د مياشتې په لومړيو ورځو کې د جنوبي د سمېې د اړودوړ سره اړيکه درلوده. په بل عبارت سړی ويلی شي چې د اماني رژيم سره د اختلافاتو نښې له همدې ځايه را څرګندېږي. ځيني خلک دې اختلاف ته د بلواګرو سره د چلند په کړنلاره کې ويني، د بېلګې په توګه، چې ښايي هغه د جنوبي د سيمې ټکول نه وي منلي. همدا بيلوالی وه چې پايله يې د محمد ولي خان دروازي (وروسته د حربيې وزير او د سلطنت د کفيل) له لورې د بلواګرو د ټکولو د عملياتو د قوماندانۍ په منلو، د حربيې وزارت څخه د محمد نادر خان له دندې څخه د ګوښه کولو ، او په فرانسه کې سفير کولو، يا د سفارت څخه د هغه د استعفا سبب شوی وي.

د شمال لويديځ سرحدي ايالت جاسوسۍ اداري محرم رپوټ کې راغلي چې "په جنوبي سيمه کې شخړې د منګل ټبرونو او نورو قومونو ترمنځ سياليو پورې محدودې پاتې شوې، خو د اعلي حاکم واک په دوامداره توګه مسخره کيده او ننبې ننباني چې زياتره په يوه بدګمانۍ ولاړې دي داسې څرګندوي چې نادر خان په دې پيښه کې ښکيل دی ځکه چې هغه دا منلې ده چې امير الدين خان ته چې جنرال محمد عمر ته يې، چې د هغه له خوا په ډيرو هڅو پر دنده ګمارل شوي، ستونزې پيدا کړي، ډير په قهر دی".[۱۷۲]

د شمال لويديځ سرحدي ايالت جاسوسۍ اداري يوه بل محرم رپوټ کې راغلي چې "چې ټول شواهد يوې پايلې ته ګوته نيسي او هغه دا چې امير سره اوس مهال د خلکو مينه لږه شوې چې هغه يې ډير زيات انديښمن کړی دی..... د منګلو خلکو په دې وروستيو وختو کې په هغه تور لګولی چې يا خپله قادياني دی او يا دې مذهبي ډلې ته تمايل لري.... پر دې سربيره يو ه ټوليزه بدګماني هم شتون لري چې امير خپله قبيله هم له پامه غورځولې ده چې [موخه يې پر يو شمير تجربه لرونکو سردارانو باندې د امتيازونو بندول دي] که چيرې دا رپوټونه رښتيا وي، نو له دې احساس څخه به جنرال نادرخان ښه ګټه واخلي. هغه چې خپله د استراحت دوره په جبل السراج کې تيروي، د نه همکارۍ يو ډير سخت موقف يې غوره کړی دی. "

د جاسوسۍ اداري د نومورې ياد داښت په ضميمه کې چې په خوست کې د منګلو د اړودوړ تر نامه لاندې يې يادونه شوې، راغلي چې " داسې ښکاري چې بلوا ډيره سخته ښه غوره کړې ده. د خوست نوی حکمران نه شي کولای چې د متون په سيمه کې خپل حکومتي مرکز ته ولاړ شي او تقاعد شوی حکمران هم بهر نه شي وتلای؛ د اړودوړ کونکو د شکايت اړوند خبرو اترو لپاره وړاندې شوې طرحه هم داسې نه بريښي چې کوم پرمختګ پکې رامنځته شوی

۱۷۲. ۳۸۰ ګڼه پراګراف، د شمال لوديځ ايالت د جاسوسۍ اداري (۲۹) ګڼه پټ يادداښت، هغه اونۍ چې د ۱۹۲۳ کال د آګست په ۹ پای ته رسيږي.

وي .... د یادونې وړ ده چې داسې برېښي د اړودوړ سره مهم مرسته کونکې لامل – او یا د هغه بیا را ژوندي کول، له دندې څخه د نادرخان د لیرې کولو پر سر د قبایلي وګړو شکمن کیدل دي، چې په کابل کې د دوی اتل ګڼل کیږي. د هغوی ګمان سره له دې چې اغراق امیزه دی، د موخې څخه ډیر لیرې هم نه دی؛ ځکه هغه په پاریس او ورور یې اوس د مسکو لپاره ټاکل شوی دی. د لاسلیک ځای ډ. ټ. مونټیټ. ۲۴/۴/۲۴ "[۱۷۳]

په خوست کې د ناامنۍ په اړه په کابل کې د برتانیې د پوځي پلاوي د رپوټ له مخې ویل کیږي چې "سردار نادر خان لا تر اوسه نه دی تللی، خو دا شونتیا چې ژر تر ژره به په خوست کې شخړې (جنجالونه) تصفیه شي، د هغه د استعفاء او پوځي خدمت ته د بیا راستنیدلو چانس ډیر کم کړې دئ. خو تر هغې پورې چې هغه او د هغه ورونه، شاه ولي او شاه محمود په افغانستان کې وي او رسمي دنده و نه لري، د جنجالونو امکانات تل شتون لري. داسې آوازې شته چې ژر تر ژره به دوه وروستیو کسانو ته دندې ور کړل شي»[۱۷٤]

---

۱۷۳. یاداشت محرمانهٔ شماره پانزده (۱۵)، مؤرخ ۱۷ اپریل ۱۹۲۴ ادارهٔ استخبارات تحت عنوان اغتشاش منگل در خوست، تلگرام های ۷۲۳۸ و ۷۹۷۸ ایالت سرحدی شمال غربی برای هفتهٔ که به تاریخ ۱۰ اپریل ۱۹۲۴ ختم میشود،

۱۷۴. یادداشت محرمانهٔ شماره (۱۷) مؤرخ ۱۲ می ۱۹۲۴ آتشهٔ نظامی نمایندگی بریتانیا در کابل.

# اوم څپرکی

## غازي میرزمان خان د انگریزانو د سترگو اغزی

غازي میرزمان خان د ۱۹۱۹ م کال د استقلال د گټلو په جگړه کې، د چترال (اسمار، ارنوی، دوکلام او لمبربټ) د جبهې د مشر په توگه د انگریزي استعمار په وړاندې بریالیتوبونو او فتوحاتو کې ستره برخه درلوده. هغه همدا راز د (۱۹۲۴/۱۳۰۳) کال دجنوبي د شورش په ختمولو کې اساسي رول درلود او د شینوارو د بغاوت په ټکولو کې یې د ارزښت وړ تاریخي خدمتونه وکړل.

البته ددې شورشونو شاته دانگریزانو لاس ؤ. او څرنگه چې غازي میرزمان خان د انگریزي استعمار یو ستر مخالف مبارز او د اعلیحضرت امان الله خان او اماني غورځنگ یو ټینگ پلوي و، نو بې له شکه چې د انگریزانو د سترگو اغزي گڼل کیده او د انگریزانو او هغوې د کورني گوډاگیانو د دسیسو څخه خوندي نه و.

### د انگریزانو د فعالیتونو په اړه د کونړ د بدلولو هڅې

کونړ تل د انگریزانودپاره خاص اهمیت درلودلې دئ. دا سیمه، چې د گران هیواد په شمال ختیځې برخې کې د ډیورنډ د فرضي کرښې سره موازي پرته ده، د آزاد سرحد د مومندو، باجوړ او دیر سره په گاونډ کې موقعیت لري، او د تاریخ په ټولو دورو کې یې خپل خاص جغرافیوي، اقتصادي، فرهنگي او سوق الجیشي اهمیت ساتلې دئ. د سکندر او بابر په شان جهانگشایانو لښکرې هندوستان ته تر رسیدو دمخه د کونړ د سیمې څخه تیرې شوي او لاهور او ډیلي ته تر رسیدو دمخه، حتی مخکې لدې چې د مومندو او یوسفزو سیمو ته

ورسيږي، د کونړ د غرنيو سيمو قبايلو سره پنجه وهلې ده.

مخکې لدې چې کونړ او چترال سره جلا او د افغانستان او نني پاکستان په دوو ځانګړو هيوادونو پورې وتړل شي ، دواړه د سيمې د وريښمو د لارې د يوې ځانګې په اوږدو کې پرتې وې، چې مهم تاريخي او تجارتي ارزښت يې درلود او د پامير د پيچومو څخه د تيريدو او هند د نيمې وچې پراخو ميدانونو ته د رسيدو تر ټولو آسانه لاره وه. د کونړ دا موقعيت، چې د مرکزي ايشيا او لويديز چين د لارې په اوږدو کې پروت و، په شمال کې يې بدخشان او د روسيې سرحدونه د باجوړ له لارې پيښور او اباسين تر غاړې نښلول، هم د بريتانوي هند دپاره ځانګړې ستراتيژيک ارزښت درلود. کونړ د پيچ درې له لورې پنجشير ته هم لاره لري، د کومې څخه چې د شوروي اتحاد د تيري په وړاندې زمونږ د خلکو د مقاومت د جګړې په وخت کې مجاهدينو کار اخيستلو.

کونړ همداشان د امير حبيب الله خان او غازي امان الله خان د واکمنۍ په وخت کې انګريزانو ته د امنيتي لحاظه څکه اهميت درلود چې د چمرکنډ په سيمه کې، چې د مومندو او کونړ د سرکانو د سيمو تر منځ يو کوچنې سرحدي کلې دئ، د انګريزي استعمار په وړاندې د هندوستاني مسلمانانو د جنګياليو يو مرکز موجود ؤ. او انګريزانو ته له يوې لورې له دې ځايه د پيښور په شاوخوا کې پرتو امنيتي پوستو باندې د جنګياليو د حملو مخنيوې، او له بلې لورې د جنګياليو د مقاومت ماتول او ټکولډير زيات اهميت درلود.

څرنګه چې د سرحدي سيمو کنټرول د انګريزانو د خارجي سياست بنسټ جوړولو، نو له همدې امله د انګريزانو د ستراتيژيکو پلانونو جوړونکو د خپلې امپراتورۍ په اوږدو کې د ډيورنډ د کرښې دواړو خواوو، په ځانګړې توګه کونړ او مومندو ته خاصه توجه درلوده.

څکه خو په کونړ کې د انګريزي چارواکو لخوا د جاسوسۍ د ځالو او نفوذ او ټينګې اډې د درلودلو هڅې اوږده سابقه لري، او اميردوست محمد خان او امير شيرعلي خان تر وخته رسيږي.

د حیرانتیا خبره نه ده چې سردار محمد نادر خان هم، انګریزانو ته د کونړ د سیمې د اهمیت په پوهیدو، د غازي امان الله خان د واکمنۍ په وخت کې، د خپلو راتلونکو پلانونو د پاره د هغوی د ملاتړ د لاسته راوړلو په مقصد د کونړ د خاورې د یوې زیاتې برخې د ورکولو وړاندیز وکړ.

سپه سالار محمد نادر خان د **۱۹۲۲** م کال د جنوري د میاشتې په لسمه نیټه، په مسکو کې د انګریزانو د سفیر "رابرت هوجسن" سره د لیدلو په ترڅ کې (چې هغه وخت یې له فرانسې کتنه کوله) ، له هغه وغوښتل چې د یوه داسې کس سره ورته د خپلو نظریاتو د طرح کولو فرصت ورکړ شي، «کوم چې د بریتانوي هند د دفتر د اعتماد وړ وي».

د هغه نظریات بریتانیا سره د لا نژدیوالي او روسیې سره د مخالفت په هکله وو. هغه وویل چې «د یوه طبیعي سرحد دپاره د ملګرتوب له لارې د سرحداتو د حدودو د ستونزې حل به په ځواکمنه توګه د ډیرو اختلافاتو د علتونو له منځه وړلو سره مرسته وکړي». هغه پدې اړوند د افغانستان او بریتانوي هند تر منځ د طبیعي سرحد په توګه د کونړ د سیند د پیژندلو او د انګریزانو په سیمه کې د کونړ د خاورې د یوې لویې برخې د شاملولو وړاندیز وکړ. هغه وویل چې «**غواړي د کونړ سیند دې د بریتانوي هند سره د افغانستان شرقي پوله اوسي**»[۱۷۵].

انګریزانو په هغه وخت کې تبصره وکړه چې که سپه سالار محمد نادرخان دا خبره په ټینګه کړې وي، نو د افغانستان د خاورې د یوې لویې برخې وړاندې کول شاید د یوې اتکل شوې کودتا په اړوند د بریتانیې د ملاتړ د ترلاسه کولو یو کوښښ وي[۱۷٦].

۱۷۵. د لندن د آرشیف محرمانه اسناد، د افغانستان په اړوند د **۱۹۱۹** کال د فبروري د میاشتې څخه د **۱۹۲۷** کال د سپتمبر تر میاشتې پورې د رپوټونو لنډیز L/P&S/20/B285. همداشان Stewart, Rhea Talley (2000). Fire in Afghanistan, 1914-1929; faith, hope, and the British Empire. Garden City, N.Y., Doubleday. (اور په افغانستان کې)، **۳۰۵** مخ.

۱۷٦. هماغه ځای.

## د کونړ څخه د غازي میرزمان خان د ویستلو دسیسه

د غازي میرزمان خان په وړاندې انګریزانو او د هغوې کورنیو ګوډاګیانو له راز راز دسیسو څخه کار واخیست . پدې هکله د قومي مشرانو سره د اختلافاتو او سیمه کې د ناآرامۍ د پیداکولو د هڅو، د غازي میرزمان خان او د هغه د زامنو د وژلو کوښښونه، هغوې ته د وفادارۍ په بدل کې پیښور ته نږدې د ځمکو او مادي امتیازاتو د ورکولو وړاندیزونه، د کونړ څخه د هغه د ویستلو او هلته د خان په توګه د واحد شینواري یا مستر وید آسترالیایی د ټاکلو هلې ځلې، د غازي امان الله خان سره د سئو تفاهم د پیدا کولو او حتی د هغه د شخصیت د بدنامولو او ترور کوښښونه یادولاې شو .

په پای کې د انګریزي استعمار سره د هغه همدا دښمني او په اماني لس کلنې دورې کې د ثبات او بدلون د راوستلو په لاره کې د غازي میرزمان خان ارزښتناکه خدمتونه سبب شول چې غازي میرزمان خان د اعلیحضرت غازي امان الله خان د حکومت په وروستیو ورځو کې د انګریزي ګوډاګیانو د یوې دسیسې د بریالیتوب په ترڅ کې په شهادت ورسیږي.

## د جنوبي د اغتشاش تر ختمیدو وروسته د دسیسو شدت

د جنوبي د شورش تر ختمیدو وروسته، چې یو کال یې دوام وکړ، کونړ او غازي میرزمان خان ته یو ځل بیا د انګریزانو توجه زیاته شوه . داځل کوښښ وشو چې عبدالواحد شینواري (آسترالیایي مستر وید ) د کونړ د لرګو څخه د استفادې او هندواستان ته د هغې د صادراتو او قیمې کاڼو د استخراج په پلمه په کونړ کې ځای پر ځای او کونړ د انګریزانو د فعایت په یوې مهمې اډې بدل شي.

د بریتانیې وزیر مختار یا لوې سفیر په کونړ کې د ګډوډ یو د جوړولو ، حالاتو د خرابولو او عبدالواحد شینواري د نصبولو په هکله ولیکل چې « امیر په چوپتیا سره په جلال آباد کې اوسیږي . که څه هم د هغه [روغتیایي] حالت دومره ښه نه دئ چې بهر ته ووځي، بیا هم د محلي ادارې د چارو د تفتیش څارنه کوي... فکر کیده چې امیر به د میرزمان خان پر ځای عبدالواحد وټاکي، **خو د**

**عبدالواحد تاریخچې ته په کتنې سره تمه نشته چې د روحانیونو د ملاتړ سره سره دې هغه د کونړ خلکو ته د منلو وړ وي.** که څه هم مامورینو عبدالواحد د خپلې پانگې د زیاتې برخې څخه محرومه کړیدئ، خو هغه اوس هم دومره کافي پیسې لري چې د کونړ د لرگو څخه په خپله گټه کار واخلي. د کونړ اداره یوه ډیره حساسه موضوع ده، او په سیاست کې یوه تیر وتنه هم د کونړ د صافیو په انقلاب ختمیدلاې شي، او امکان لري چې ځایي مومند هم ورسره ملگري شي»[۱۷۷].

## په اماني دورې کې د کونړ د حالاتو خرابیدل

د کونړ د شیگل سیمه، چې د او سیدونکو اکثریت یې د شینوارو په شریفه قوم پورې تړلي دئ، **هم د خپل ستراتیژیک موقعیت د اهمیت له امله، او هم د عبدالواحد سنگوخیل شینواري د قومي او استخباراتي اړیکو له امله، چې د انگریزانو یوه مهمه مهره گڼل کیدله، د انگریزانو او د هغوې د کورنیو گوډاگیانو د فعالیت دپاره یوه مناسبه سیمه پیژندل شوې او ټاکل شوې وه.**

**عبدالواحد شینواري یا آسترالیایي مستر وید** د آزاد سرحد د هغو افغانانو له ډلې ؤ چې په ۱۸۸۰ م کال کې خپلو اوښانو سره د فیض محمد او تاج محمد لخوا آسترالیا ته یوړل شول، او هلته یې د یوې آسترالیایي ښځې سره واده وکړ. هغه په ۱۸۹۵ م کال کې د «بورک کیمل کیرئینگ» د کمپنۍ د مدیر په توگه د هغې کمپنۍ د منشي سره یوځای د اوښانو د اخیستلو او اوښبنو د استخدام په مقصد څو څو ځله د بریتانوي هند د کراچۍ ښار ته سفرونه وکړل. هغه په لږه موده کې د زیاتې پانگې په ټولو سره خپله د اوښانو د اخیستلو، واردولو او اوښانو د ساتونکو افغانانو په استخدام لاس پورې کړ او د آسترالیایي مستر وید په نامه مشهوره شو.

د انگریزي استخباراتو د محرمانه اسنادو له مخې، عبدالواحد د لومړي ځل دپاره د افغانستان د خپلواکۍ تر گټلو **وروسته د یوه داسې با احساسه افغان په**

---

۱۷۷. د بریتانوي هند د آرشیف محرمانه اسناد، په کابل کې د بریتانیې د نمایندگۍ د نظامي آتشې یادداشتونه (د ۱۹۲۲م کال د مې ۲۱مه نیټه).

**توګه چې غوښتل یې خپله پانګه او تجربه د افغانانو خدمت ته وقف کړي**، معرفي شو، او غوښتنه یې وکړه چې **د قندهار د سرو زرو د کان د استخراج او کونړ د لرګو د تجارت امتیاز ورته ورکړ شي. او ددغه کار د پاره یې د امتیاز د حق د تر لاسه کولو په مقصد د لس زره طلایي پونډو د ورکولو وړاندیز وکړ.**

د بلوچستان د استخباراتو د څانګې په رپوټ کې راغلي چې «**د میر عبدالواحد په نوم یو تن سید ته د قندهار د سرو زرو د کان په اړوند د کتلو وعده ورکړ شوې ده**». که څه هم د هغه وړاندیز په زړه پورې ؤ، **خو ډیر ژر څرګنده شوه چې د پردې تر شا د انګریزانو لاس دئ، د هغه اصلي شریکان انګریزي مؤسسې دي، هغه یې یواځې استازولي کوي او اصلي هدف هم د افغانستان حساسو سیمو ته د نفوذ د لارې موندل دي.**[178]

مستر وید یوځل بیا د جنوبي د شورش په وخت کې د سید پر ځای د شینواري په نوم افغانستان ته راغئ. د بلوچستان د استخباراتو د اداري په یوه محرمانه رپوټ کې لیکل شوي دي چې «په دې وروستیو وختو کې عبدالواحد خان شینواری او یو تن آسترالیائی له قندهاره کوټې ته ورداخل شوي دي. هغوې د قندهار د سرو زرو د کان لیدلو ته تللي وو»[179].

څرنګه چې د میرمن ستیوارت د «اور په افغانستان کې» د کتاب د **۴۵۲** مخ څخه څرګندیږي، نوموړي مستر وید په **۱۹۲۵** کال کې په کابل کې د انګریزانو د سفارت نظامي آتشې ته لیکلي چې اوس یې هم یواځینۍ هیله د انګریزانو د دولت خدمت دئ، او ډاډ لري چې پدې لاره کې به سردار نادر خان، چې تیر کال یې په پاریس کې ورسره کتلي و، هم مرسته او ملګرتیا وکړي.

## د کونړ د حالاتو په خرابولو کې د کومو کسانو لاس ؤ؟

په کونړ کې د ګډوډیو په پیدا کولو کې ګمارل شوو روحاني ډوله کسانو او د

---

۱۷۸. د بلوچستان د استخباراتو د څانګې (**۴۳**) مه شمیره محرمانه رپوټ (د **۱۹۲۱** کال د مارچ دوهمه نیټه).

۱۷۹. د بلوچستان د استخباراتو د څانګې (**۱۸۲**) مه شمیره محرمانه رپوټ (د **۱۹۲۴** کال د اپریل د میاشتې **۱۲**مه نیټه).

اماني رژیم مخالفو سیمه ایزو روحانیونو لاس درلود. د شیګل د او سیدونکي اروابناد سید شمس الدین خان مجروح په وینا ، د هغه کورنۍ د کونړ د شیګل په دره کې د شینوارو د ځینو قومي مشرانو په لمسولو ، او په سیمه کې د امنیت په خرابولو کې لاس درلود. ترڅو چې اماني دولت مجبوره شو په سیمه کې د امنیت د بیا راوستلو په مقصد څو تنه محاکمه او اعدام کړي.

ښاغلي مجروح خپله لیکي «**حکومت فکر کولو چې دا کسان په کونړ کې د قدرت او نفوذ د پیدا کولو په موخه سره مشغول دي. عام خلک یو د بل په وړاندې لمسوي او په سیمه کې ناآرامي منځ ته راوړي. په دوې کې زمونږ تره سید زیورشاه، زمونږ د پلار خلیفه ځای ناستې او زمونږ د کورنۍ مشر او رئیس، هم و، څوک چې کابل کې جلاوطنۍ ته مجبور شو. هغه د امان الله خان سره د هغه د واکمنۍ نه مخکې هم پیژندګلوي درلوده، خو په وروستیو وختو کې د هغه څخه ناراضه شوې ؤ. یو بل علت د امان الله خان د بې دینۍ شهرت هم ؤ، او زمونږ تره د دولت څخه په ناراضو کسانو کې وشمیرل شو. په کونړ کې دغه اخ و ډب څو کاله کونړ ناآرامه کړ، خو په پاې کې د حکومت په وروستي تصمیم سره په سیمه کې حالات او امنیت بیرته ښه شو. د کونړ د شینوارو څو تنه مشران اعدام شول، چې د هغې له امله د نوموړي خان [غازي میرزمان خان] په وړاندې کینه او انتقام زیات شو او پایله یې د خان دپاره ښه نه وه**».[۱۸۰]

په همدې هکله په کابل کې د انګلستان د سفارت شارژدافیر په خپل رپوټ کې د جلال آباد څخه د اعلیحضرت امان الله خان د لیدنې او هغو کسانو د اعدامولو خبر ورکړې چې اکثره یې غله وو، خو په هغوې کې د علی خان، تاج محمد او وافید خان [مفاد خان] په نومونو درې تنه نسبتاً مهم کسان شامل وو، چې دریواړه د کونړ د شیګل د درې شینواري وو.[۱۸۱]

---

۱۸۰. مجروح، سید شمس الدین (۱۳۹۱) سرګذشت من، ۴۲-۴۳ مخونه. ښاغلي مجروح پدې ځای کې داسې وایي چې ګوندې کومو کسانو چې د غازي میرزمان خان په شهادت کې لاس درلود، دا کار یې د اعدام شوو کسانو د انتقام له عمله تر سره کړیدئ.

۱۸۱. د بریتانوي هند د محرمانه اسنادو آرشیف، د ۱۹۲۲ کال د جون د میاشتې د لسمې نیټې ۴۲ مه شمیره رپوټ.

## د غازي ميرزمان د کرکټر وژنې د سيسې او کوښښونه

انگريزانو څو - څو ځله کوښش وکړ چې غازي ميرزمان خان، د هغه زامنو او د کورنۍ وتلو غړو ته د ځمکې او نورو مادي بډو په وړانديز سره د هغوې د مخالفت له کړاوه ځان خلاص کړي، خو کله چې يې دا هڅې کومې نتيجې ته ونرسيدلې، بيا يې په بيلابيلو دسيسو او توطئو لاس پورې کړ.

د هغو کسانو په لړ کې چې د غازي ميرزمان خان په وړاندې يې د دسيسو د جوړولو سخته هڅه کوله، يو هم سردار محمد هاشم خان، د سردار محمد نادر خان ورور ؤ. ده د غازي امان الله خان د سلطنت په لومړيو کلونو کې د ننگرهار د نائب الحکومه په توگه کار کوو. محترم لوستونکي کولاې شي پدې هکله د کونړ دهغه وخت د لوې حاکم ، دمحترم ډاکټر سيد خليل الله هاشميان د پلار اروابناد محمد سرور خان کونړي په زړه پورې هغه مستند روايات او خاطرات ولولي، کوم چې د آئينۀ افغانستان د مجلې د ۲۰۰۹ م کال د اگست دمياشتې په ۱۱۵مه گڼه کې خپاره شويدي، او د انگريزانو لخو د اماني دولت دولت د نسکورولو په دسيسو پورې اړه لري.

افغان ليکوال او تاريخ ليکونکې محترم سيستاني صاحب ليکي چې «په آئينۀ افغانستان کې د ۱۹۲۰ او ۱۹۲۱ کلونو دکونړ، خوگيانيو او شينوارو د حاکم ، ډاکټر سيد خليل الله هاشميان دپلار، سيد سرور خان د خاطراتو خپريدل، دا واقعيت ځرگندوي چې انگريزانو د خپلواکۍ تر گټلو وروسته سمدلاسه د اماني رژيم نسکورولو ته ملا تړلې وه . هغوې دغه مقصد ته رسيدلو دپاره د شاه امان الله خان د ملاتړو شخصيتونو له منځه وړل په نښه کړي وو، او کوښښ يې کولو چې دا عناصر په هرې ممکنې وسيلې د خپلې مخې لرې کړي. د انگريزانو يو داسې دښمن او د شاه امان الله خان يو ټينگ پلوي او ملاتړ په «لوې خان» ملقب د کونړ ميرزمان خان ؤ. زه پدې خاطراتو کې د سردار هاشم خان د شخصيت او کونړي ميرزمان خان سره د هغه د ضديت په هکله نورو ټکو سره مخامخ شوې يم، چې دلته يې لږ تم کيدل غواړم:

د کونړ د سيد سرور خان د خاطراتو پر بنسټ، کله چې په (۱۹۱۹-۱۹۲۱) کلونو

کې سردار محمد هاشم خان د ننګرهار د والي په توګه دنده سرته رسوله، د هغه حرکات او فعاليتونه د انګريزانو د ګټو پر محور څرخيدل. کونړې سيدسرور خان تائيدوي چې د استقلال تر ګټلو وروسته، د ننګرهار والي سردار هاشم خان د کونړ د ميرزمان خان ټينګ دښمن و، او د کوچنيو ملاکانو، ګاونډيانو او دهقانانو د شکايت په پلمه يې ميرزمان خان ته ليکونه استولي او هغه يې جلال آباد ته غوښتلې ؤ. خو ميرزمان خان يا د اعليحضرت امان الله خان سره د دوستۍ او نږدې پيژندګلوۍ په وجه او يا د انګريزانو سره د والي د پټو اړيکو له امله د والي دغو مکتوبونو او پيغامونو ته اهميت او ارزښت نه ورکولو، او دوالي سلام ته به هم نه تللو.

له دې امله ميرزمان خان ته د سردار هاشم خان زړه ډک و، او غوښتل يې له هرې داسې دسيسې کار واخلي، د کومې له امله چې د شاه امان الله خان له نظره ميرزمان خان نامطلوبه او خطرناکه وښودل شي. نو ځکه د کونړونو پر حاکم حکم کوي چې دغه ملي مشر ته دسيسې جوړې کړي چې ګواکې هغه د اماني نظام پر خلاف د طغيان او بغاوت نيت لري...»[۱۸۲].

## د اعليحضرت غازي امان الله خان سره د بدبينۍ او اختلاف پيداکول

د کونړ څخه د غازي ميرزمان خان د ويستلو او واحد شينواري د نصب کولو د دسيسې تر ناکاميدو وروسته، او کله چې د قومي دښمنيو، ځمکو او مادي وړانديزونو، او غازي ميرزمان خان د وژلو هڅو نتيجه ورنکړه، نو له يوې بلې وسلې کار واخيستل شو، او هغه د اعليحضرت غازي امان الله خان او غازي ميرزمان خان تر منځ د بدګمانۍ او خپګان د پيدا کولو دسيسه وه. دا ځل دا دسيسه په دربار کې دننه پلې شوه. دسيسه جوړونکو پاچا ته د جعلي ليکونو په ښودلو وويل چې ګواکې ميرزمان خان يې د وژلو نيت لري. ددې دسيسې د برياليتوب له امله ميرزمان خان ډير سخت خپه شو. او تقريباً د يونيم کال دپاره

۱۸۲. کانديد اى اکادميسين اعظم سيستانى، برخى شخصيت هاى ملى – تاريخى افغانستان در دو قرن اخير، ۳۵۲. مخ (سويډن – ۲۰۰۸).

د کابل په بنی حصار کې په خپل کور کې پاتې شو، او دربار ته تگ او دولت شورا کې د گډون څخه يې ډډه وکړه.

په کور کې دغه ناسته او د ځينو کسانو په وينا، کابل کې تر نظارت لاندې او سيدلو تر هغه وخته دوام وکړ، کله چې اعليحضرت غازی امان الله خان د اروپا د اوږده سفره تر راگرځيدو وروسته، يوه ورځ د بني حصار د قلعچې په جهيل کې تر ښکار وروسته د ميرزمان خان کلا ته لاړ، او د هغه د پخلا کولو په ترځ کې يې وويل چې دښمنانو زما دوستان او د وطن خدمتگاران را څخه جلا کړل. ما اوس خپل ریښتيني دوستان او دښمنان پيژندلي دي.

پدې اړوند د افغانستان د ستراتيژيکو اطلاعاتو تر نامه لاندې د انگريزي استخباراتو د پټو اسنادو په يوه ريپوټ کې راغلي چې «د کونړ ميرزمان خان اوس دم په جلال آباد کې دئ. تمه کيږي چې ژر به کابل ته راستون شي، ځکه چې کونړ ته د تگ اجازه نلري»[۱۸۳].

183 . Afghanistan Strategic Intelligence: British Records (Diary of the Military Attache, British Legation, Kabul for the week ending 7th of January, 1928.

مه کړه گومان چې په کرار ناست يم
ناست يم د پيښې په انتظار ناست يم
چې وخت يې راشي د وطن په لار کې
د سر ښندلو ته تيار ناست يم

# اتم څپرکی

## د اماني رژيم د ټينګښت دپاره وروستنۍ هلې ځلې

### د شينوارو شورش

د شينوارو د شورش مقدمات لا پخوا برابر شوي و. دغه شورش لکه د جنوبي د شورش په شان د اصلاحاتو سره هيڅ تړاو نه درلود (دزياتو معلوماتو دپاره د «بازنگری دوره امانی و توطئه های انگلیس» کتاب ولولی.

په ظاهره د ۱۹۲۸ کال د نومبر په مياشت کې د سليمانخيلو کوچيانو يو کاروان، هندوستان ته د خپل ژمني کوچ د لارې په اوږدو کې، د شينوارو د سنگوخيلو يوې ډلې سره مخامخ کيږي. کوچيان پرې د غلو گمان کوي او ځو تنه ترې وژني. سنگوخيل هم قاتلين نيسي او سيمه ايز حکومت ته يې سپاري . خو کوچيان په څه ډول حاکم د ځان سره ملگرې کوي او خپله آزادي لاس ته راوړي. د اروانباد غبار په وينا ، سنگوخيل خپل فرياد د جلال آباد حکومت اعلی ته رسوي، خو بيا يې هم څوک آواز نه اوري. د حکومت سره د سنگوخيلو ضديت له همدې ځايه پيل کيږي، په خاصه توگه کله چې شکمن کسان د شينوارو په منځ کې د دولت د کفر او بيعدالتۍ سخت تبليغات کوي ، او پټ لاسونه په منظم او پرلپسې ډول د بيلتون لاره هواروي.[۱۸۴]

۱۸۴ . غبار، مير غلام محمد (۱۳۶۲)، ۸۱۸ مخ.

شینوارو شورش وکړ او د «اچین» او «کهي» د نظامي پوستو په نیولو یې د وسلو او کارتوسو سترې زیرمې لاس ته راوړې، او د «ډکې» په نیولو سره یې د تورخم -جلال آباد (پېښور - کابل) لاره بنده او جلال آباد ته مخه کړه.

د حکومت د کمزورتیا او تصمیم نه نیولو له امله، او په آسانه د غنیمت د لاسته راوړلو د زمینې د برابریدو له کبله، نور شینواري هم د شورشیانو سره ملګري شول، او د مشرقي د ولایت مرکز، جلال آباد، سقوط وکړ، او د سراج العمارت قصر ته هم اور واچول شو. امان الله خان چې ډیر ناوخته د حالاتو وخامت ته متوجه شوې و، شورشیانو سره مقابلې ته عسکري قوا واستوله. **خودپراخو تبلیغاتو، د شینوارو د بریالیتوب د خبرونو د خپریدو، د عبدالواحد شینواری (مسترویدآسترالیائی) په شان انګریزي جاسوسانو د فعالیت، صحنې کې د خوله ورو روحانیونو د څرګندیدو، نورو قبایلو ته د پیغامونو د استولو، او ګڼو جرګو د جوړولو نه په ګټې اخیستلو سره ملایان او روحانیون بریالي شول چې د اصلاحاتو څخه د اماني رژیم په مقابل کې د یوې وسیلې په توګه کار واخلي، او یوه کوچنۍ ناڅیزه پېښه، یعنې یوه کوچنۍ قبیلوي ستونزه، په یوه ستر شورش بدل او هغه ته مذهبي رنګ ورکړي.**

که چیرې د اوربند هغو شرایطو ته، چې د دسمبر د میاشتې په ۲۹مه نیټه د شورشیانو لخوا، خبرو ته د غازي امان الله خان استول شوي استازي غلام صدیق خان چرخي ته، سپارل شوي دي، په زیر وګورو، په آسانۍ سره د هغه په سیاسي ماهیت او د تر یوې اندازې د پردې شاته د استعمار د لاس په لیدلو پوهیدلای شو.

د شورشیانو غوښتنې په لاندې ډول وې:

1- د ملکې ثریا طلاق
2- د طرزي د کورنۍ جلاوطنۍ
3- پرته له انګلستانه د نورو خارجي نمایندګیو د هیئت لغو کول
4- د ټولو نوو قوانینو لغوکول
5- د مالیاتو کمول

6- د دولت په چارو کې د [مذهبي] عالمانو ګډون [۱۸۵]

د شینوارو د شورش د بشپړې پېښې، او ورپسې په کابل باندې د حبیب الله کلکاني د حملو مکمل بهیر د «افغانستان در مسیر تاریخ» په کتاب او نورو آثارو کې لوستلې شئ.

## د شینوارو د شورش د اور په غلي کولو کې د غازي میرزمان خان هڅې

اعلیحضرت امان الله خان د ۱۳۰۷ کال د قوس (لیندۍ) په لومړۍ نیټه (د ۱۹۲۸ م کال د نومبر په ۲۲مه) د حربیې وزیرعبدالعزیز خان، د غازي میرزمان خان کور ته واستولو، او له هغه یې وغوښتل چې یوځل ارګ ته ورشي او د شینوارو د شورش د غلي کولو په هڅو کې د ګډون دپاره ننګرهار ته لاړ شي.

پیژندل شوي لیکوال او څیړونکي استاد حبیب الله رفیع، د استقلال د څلورمې جبهې د کتاب په مقدمه کې د امان افغان د جریدې د شورش د ورځود فوق العاده (۱۳۰۷ کال د قوس ۴مې) ګڼې په حواله لیکي چې « د قوس په څلورمه نیټه له یوې خوا میرزمان خان جلال آباد ته روان شو او له بلې خوا د کونړ د خلکو دوه زره کسیز لښکر د هغه د زوې په وسیله جلال آباد ته راوړل شو». [۱۸۶]

میرمن ریه تالي ستیوارت د خپل مشهور کتاب Fire in Afghanistan (اور په افغانستان کې) ۴۲۲ مخ کې لیکي چې «امان الله خان، د کونړ قومي مشر میرزمان خان، چې تل ورته وفادار و، پدې هیله چې د دوې اغیزه به هم د هغوې د ټوپکو په شان وي، جلال آباد ته واستولو».

میملې ته د غازي میرزمان خان تر رسیدو دمخه د جنرال عبدالوکیل خان نورستاني اومحمود خان یاور عسکري قواوو د شورشیانو له لاسه ماتې

---

۱۸۵ . په لندن کې دباندنیو چارو وزیر ته د کابل څخه د انګریزانو د سفیر د ۱۹۲۸ کال د دسمبر د ۱۹مې نیټې تلګرام.

۱۸۶ . ۱۲. عبدالخالق اخلاص (۲۰۰۵). د استقلال څلورمه جبهه، دوهم چاپ ، ۱۰۴ مخ.

خوړلې وه. جلال آباد ته د میرزمان خان په رسیدلو اوضاع ډیره کړکیچنه او د میملې د قواوو ماتې د شورشیانو روحیات قوي کړې وو. میرزمان خان وروسته لدې چې خپلې قومي قواوې تنظیم او د ښار دفاعي ترتیبات ونیول، په داسې حال کې چې د ۳۲ ساعتو دپاره پرلپسې اوربنت دوام درلود، د شورشیانو د شاتمبولو دپاره د «هډې دروازې» نه شاوخوا درې میله دباندې جګړه وکړه.[۱۸۷]

د قوس د میاشتې په ۱۳مه نیټه (۱۹۲۸ د سمبر ۴مه) هم د باندنیو چارو د وزیر، غلام صدیق خان چرخي تر مشرۍ لاندې د مومندو، خوګیاڼیو او اپریدي مشرانو یوه جرګه جوړه او دغې جرګې د دولت نه خپل ملاتړ اعلان کړ. د مومندو ملکانو هم میرزمان خان ته د خپلو قواوو د حرکت خبر ورکړ. تر هغې وروسته د غازي محصل خان او بادام خان تر مشرۍ لاندې د مومندو اولسي لښکر د هډې د دروازې ساتنه په غاړه واخیستله.[۱۸۸]

## والی علی احمد خان د شورش د غلي کولو د ناکامۍ ستر علت


والی علی احمد خان د ۱۹۲۸ م کال د قوس د میاشتې په ۱۲مه نیټه د ننګرهار د نظامي او ملکي تنظیمیه رئیس په توګه مقرر او جلال آباد ته روان شو. د بریتانوي هند د آرشیف د محرمانه اسنادو یورپوټ ددې خبر په څنګ کې زیاتوي چې د سختو واورو وریدل او د ترانسپورت نشتوالي د کابل د پخواني والي، علي احمد خان، چې اوس د مشرقي د نظامي او ملکي آمر په توګه ټاکل شوئ و، په حرکت کې ځنډ پیښ کړ.

د شینوارو د شورش په اړوند د بریتانوي هند د آرشیف د دوو لاندنیو اسنادو څخه څرګندیږي چې جلال آباد ته د والي علي احمد خان تر رسیدو دمخه، د غازي میرزمان خان قواوو ښه پرمختګ او بریالیتوب درلود. د شمال لویدیز سرحدي ایالت د عمومي کمشنر د تلګرام په لومړي سند کې لولو چې «...او

---

۱۸۷. ریه تالی ستیوارت (۲۰۰۰). «Fire in Afghanistan» (اور په افغانستان کې)، ۴۲۲ مخ
۱۸۸. د جریدهٔ امان افغان د ۱۳۰۷ کال د قوس د میاشتې د ۱۵مې نیټې فوق العاده ګڼه.

میرزمان خان کونړي بریالي شوچې مومندان د پاچا لوري ته جلب کړي». [۱۸۹]




TELEGRAM R., FROM CHIEF COMMISSIONER, NORTH-WEST FRONTIER PROVINCE, PESHAWAR, NO. 565-P., DATED (AND RECEIVED) THE 6TH DECEMBER 1928.

(Repeated Kabul.)

*Priority.* Shinwari disturbance. Fighting was still progressing at Jalalabad on 4th and 5th. During the past two nights aeroplanes are said to have bombed Shinwari villages causing 15 casualties in Kot Darra. Foreign Minister according to one report is now in Kama. Some reports indicate that Chaknawar Mullah and Mir Zaman Khan Kunar are succeeding in bringing in the Mohmands on the King's side. There has been no motor traffic on road, and Dakka asked that to-day's caravan should be stopped at Landi Kotal.

په دوهم تلګرام کې لولو چې «د [دسمبر] په پنځمه نیټه، هغه شینواري چې د جلال آباد د ښار د دیوالونو د ورانولو کوښښ یې کولو، د کونړ د میرزمان خان او هغې د ایله جاري لښکر تر حملې لاندې راغلل» [۱۹۰].



TELEGRAM R., FROM NORTH-WEST FRONTIER, PESHAWAR, DATED THE 6TH (RECEIVED 7TH) DECEMBER 1928.

(Repeated Kabul.)

*Priority.* Shinwari disturbance. On 5th Shinwaris trying to undermine wall of Jalalabad town were attacked by Mir Zaman Khan Kunar and his Alijaris. They counter-attacked and captured his son whom they shot. The rebels have diverted water of town, but have informed inhabitants that their efforts are directed only against servants and property of Afghan Government. Khugianis of Gandamak are holding Kabul road to prevent assistance reaching Jalalabad, and big bridge there has been destroyed. Ghulam Sadiq held *jirga* Goshta on 5th. Present position of Mohmands is that Khoda Khel

په پورتني سند کې متقابله حمله او د غازي میرزمان خان د زوي نیول کیدل او وژل هم لیکل شوي، چې حقیقت نلري. دا یوائې د شورشیانو د روحیې د قوي

۱۸۹. د انګریزانو استخباراتي محرمانه اسناد، د شمال لویدیز سرحدي ایالت د عمومي کمشنر د ۱۹۲۸ کال د دسمبر د میاشتې د ۶مې نیټې تلګرام

۱۹۰. د انګریزانو استخباراتي محرمانه اسناد، د شمال لویدیز سرحدي ایالت د عمومي کمشنر د ۱۹۲۸ کال د دسمبر د میاشتې د ۷مې نیټې تلګرام

کولو د پاره یوه آوازه وه.

امریکایي څیړونکي لودویک آدمک د The A to Z of Afghan Wars, Revolutions and Insurgencies یا «د افغانستان جنګونه، انقلابونه او اغتشاشات له الفه تر یا پورې» د کتاب په ۵۴ مخ کې د اولسي یا ایله جاری لښکرو په هکله لیکي چې دا د افغان اردو رضاکاره ذخیروي کسان دي، چه د خلکو له منځه استخدام کیږي. ټول افغانان د سرتیرۍ پټ استعداد لري، چې د بیړنۍ اړتیا په وخت کې له هغو څخه په ټاکل شوي شمیر د هیواد په ګوټ ګوټ کې د ملکانو او مشرانو لخوا راټولیږي.

شاغاسی علی احمد خان یو جاه طلبه شخص و، او له ډیره وخته یې سلطنت ته د رسیدو خوبونه لیدل. د هغه لخوا، چې د مشرقي لورې ته پوره واک سره استول شوې و، دخندونو پیداکول یو هغه مهم عامل و، چې د شینوارو د شورش د اور په وژلو کې د اماني رژیم د هڅو د ناکامۍ سبب ګڼل کیږي. لوستونکي کولای شي د والي علي احمد خان د کارشکنیو تفصیل، د غازي میرزمان خان سره د هغه مخالفت او په لوې لاس د هغه د جنګي نقشې برملا کول، چې پایله یې د ننګرهار د عسکري فرقې محاصره کول، د سراج العمارت د قصر او باغ کوکب د ودانۍ سیځل، او د جلال آباد څخه د غازي میرزمان خان وتل و، د ارواښاد عبدالخالق اخلاص په کتاب کې چې سریزه، لمنې او ضمایم پرې استاد حبیب الله رفیع لیکلي او د اعلیحضرت غازي امان الله خان د وفات د پنځوسمې کلیزې په مناسبت، دا ځل د استقلال امانیه په نوم خپور شې دئ، ولولي.

سید مسعود پوهنیار د «ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان» په کتاب کې د خپل پلار ارواښاد میرقاسم خان له قوله د والي علي احمد خان د کارشکنیو په هکله لیکي چې «څرنګه چې د شینوارو بلوا شدت وموند، اعلیحضرت امان الله خان هغه د خبرو او ستونزې ته د حل د لارو چارو د موندلو د پاره شینوارو ته واستولو. میرصاحب څو ځل هلته لاړ، کله چې په وروستي ځل راستون شو، اعلیحضرت ته یې وویل چې د شینوارو د مشرانو

محمد افضل خان او محمد علم خان سره د اوږدو خبرو له امله تر یوې اندازې صلحې ته نږدې ډوې دئ ... میر صاحب امان الله خان ته وویل هغه چې هر ځل شینوارو ته ځي او قومي مشرانو سره یوه جوړ جاړي ته نږدې کیږي، والي علي احمد خان (د مشرقي د تنظیمیې رئیس) په کې خلل اچوي. نو ښه به دا وي چې هغه له هغه ځایه راوغواړی او په کوم بل کار یې و ټاکئ. میر صاحب زیاته کړه، پدې وخت کې مې پام شو چې د اعلیحضرت د څیرې رنګ وتښتید، شونډې یې وچې او حواس یې پریشانه شول»[۱۹۱].

## کونړ ته د غازي میرزمان خان تګ

که څه هم د افغانستان د نوي امیر په توګه د علي احمد خان د لونګۍ د تړلو مراسم، د غازي امان الله خان تر استعفا او قندهار ته تګ نه وروسته تر سره شول، خو د افغانستان امارت ته د رسیدلو او دولتي مامورینو او ننګرهار د اردو د منصبدارانو د بیعت اخیستلو هلې ځلې یې لا دمخه پیل شوې وی. هغه پدې هکله د غازي میرزمان خان سره هم خبرې کړي او د هغه د ملاتړ غوښتنه کړې وه. خو غازي میرزمان خان ورته وویل چې غواړې پدې هکله لومړې د مومندو د مشرانو او کونړ اولسي لښکر سره جرګه او سلا مشوره وکړي.

غازي میرزمان خان چې مخکې هم د ۱۳۰۷ کال د جدي په دوهمه نیټه د ننګرهار د وضعیت او کړکیچونو د پیدا کولو له امله اعلیحضرت امان الله خان ته شکایت کړې و، د مومندو د عیسی خیلو او کوډاخیلو مشرانو جرګې ته د والي علي احمد خان د خیانت خبر ورکړ، او وویل چې زه به خپله هیڅکله هم د علي احمد خان پادشاهي و نه منم، خو ستاسې خپله خوښه. جرګې هم د هغې د تصمیم ملاتړ وکړ. هغه له ماښام دمخه د جلال آباد د ښار کلي ګاني کوتوال (امنیه قوماندان) ته وسپارلې، د کونړ اولسي لښکر یې رخصت کړ چې خپلو کورونو ته لاړ شي. هغه تصمیم ونیو د مومندو د لښکر سره کونړ ته لاړ شي او

---

۱۹۱. پوهنیار، سید مسعود، ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد ( ۱۳۳ مخ ).

هلته د غازي امان الله خان د ملاتړ پلان جوړ کړي.

والی علی احمد خان له ښاره د میرزمان خان د قواوو د وتلو د خبر په اخیستلو سره فرقې ته امر وکړ چې د توپونو گولۍ پرې ووروي. پدې وخت کې لښکر د بهسودو سیمې ته رسیدلې و. خپله غازي میرزمان خان د مومندو د قوم مشرانو سره د خوش گنبد له لارې د جالې په وسیله له سینده تیر شو او د خاص کونړ له لارې سرکاڼو ته لاړ. (۱۹۲)

## د جلال آباد تر سقوط وروسته د غازی میرزمان خان پلان

د جلال آباد د سقوط او علي احمد خان د پادشاهۍ تر اعلان وروسته ، غازی میرزمان خان غوښتل چې د اعلیحضرت غازي امان الله خان د ملاتړ دپاره یو نوې لښکر برابر او د درهٔ نور او لغمان له لارې ځان کابل ته ورسوي. هغه پدې هکله د مومندو د مشرانو سره سلا مشوره وکړه، او د هغوې نه یې وغوښتل چې لازمې تیاریانې ونیسي، او خپله یې اسمار ته د تگ تکل وکړ. په اسمار کې په وسلو او مهماتو سمبال یو غونډ موجود و ، او د هغه زوې عصمت الله خان هم هلته ماموریت درلود.

غازي میرزمان خان شیگل او اسمار ته د تگ په هکله د مومندو د مشرانو د هغې مشورې سره موافقه ونکړه چې دریې سوه تنه وسلوال ورسره هم لاړ شي. هغه وویل چې شاید د دومره وسلوالو ملگرتیا شکونه او غلط فهمي رامنځته کړي.

غازی میرزمان خان د سرکاڼو د میا صاحب سره، چې د انگریزانو مخالف او د غازي امان الله خان یو پلوي پیژندل شوې روحاني او مجاهد شخصیت و ، تر مشورې وروسته یوازې په «سورکنډي» مشهور میرافضل نومې یو خدمتگار (شاطر) سره له سرکاڼو څخه اسمار ته روان شو ، خو کله چې د «مرورې» کلي ته ورسید نو د ملک عبدالعزیز خان ماموند په مشرۍ د شلو تنو په شاوخوا کې

---

۱۹۲ . عبدالخالق اخلاص (۱۳۸۹). استقلال امانیه، د ۱۰۹ تر ۱۱۰ مخونه.

ملکان او سپین ګیري هم ورسره ملګري او د اسمار په لور روان شول.

هغوی له مرورې د جالې په وسیله د کونړ د سیند څخه تیر، او د اسمار په لاره مخکې لدې چې د «شیګل» درې ته ورسیږي، د «شینکوړک» په سیمه کې د سیمې د قومې مشرانو او مخورو سره، چې اکثریت یې د دوی دوستان او پلویان و، د خپل پلان د شریکولو په موخه د سید شمس الدین خان مجروح په کور کې تم شول. سید شمس الدین خان مجروح د سید حضرت شاه خان زوی و، چې د تیرګړو په حضرت او پاچا صاحب مشهور روحاني و.

غازی میرزمان خان مخکې لدې چې د اسمار په لور حرکت وکړي، قندهار ته د غازي امان الله د سفر څخه خبر شوی و، او له همدې امله یې په اسمار کې د خپل زوی عصمت الله خان څخه غوښتلي و چې د چمن له لارې قندهار ته لاړ شي، او غازي امان الله خان د دوی له پلانه خبر کړي، او له هغوی وغواړي چې له بیړې کار وانخلي او د افغانستان د خاورې څخه د وتلو فکر ونکړي.

په جهان د ننګیالي دي دا دوه کاره
یا به وخوري ککرۍ یا به کامران شي
خوشحال خان خټک

# نهم څپرکی

## د غازي میرزمان خان شهادت د یوې سترې دسیسې یوه برخه

د اماني رژیم په وړاندې دسیسو او په افغانستان کې د بلواګانو په رامنځته کولو کې د انګریزانو لاس لرل نور د لمر په شان څرګند او له چانه پټ ندئ. پدې هکله زیاتو معلوماتو او شورشونو سره د اصلاحاتو د تړاو په هکله، چې په پراخه توګه د انګریزي منابعو او اماني غورځنګ د کورنیو مخالفینو لخوا پرې تبلیغات شوي، او خپله یوه بله دسیسه وه، د «بازنګری دورهٔ امانی و توطئه های انګلیس» کتاب ته مراجعه وکړئ. خو دا دسیسې او شورشونه یوائې په غازي امان الله خان او جنوبي او مشرقي سیمو پورې محدودې نه وې ، بلکې د انګریزي استعمار د مخالفو عناصرو او د اعلیحضرت غازي امان الله خان د مهمو پلوي شخصیتونو په وړاندې هم وې ، او غازي میرزمان خان د دغه لست په لومړي کتار کې ځای درلود.

TELEGRAM R, FROM CHIEF COMMISSIONER, NORTH-WEST FRONTIER PROVINCE, PESHAWAR, NO. 38-C., DATED THE 12TH (RECEIVED 13TH) DECEMBER 1928.

(Repeated Kabul.)

*Priority* Shinwari disturbance. In spite of the truce the Shinwaris are said to be preparing scaling ladders for Jalalabad, and to be stirring up factions hostile to Mir Zaman in Kunar to come in on their side. No through traffic passed between Dakka and Jalalabad on 11th December. The

د لندن په موزیم کې د بریتانوي هند د آرشیف څخه په پاسني سند کې څرګندیږي چې د شینوارو د شورش په وخت کې، پداسې حال کې چې خپله غازي میرزمان خان د کونړ د دوه زره (۲۰۰۰) کسیز اولسي لښکر سره په جلال آباد کې بوخت و، داسې کوښښونه روان و چې د شورش لمنه یوائې ننګرهار ته محدوده پاتې نشي، بلکې د غازي میرزمان خان مخالفې ډلې د شینوارو د شورش ملاتړ ته تحریک او د دغه شورش لمنه کونړ ته هم وغځول شي.

لکه چې همداسې هم وشول، او تقریباً د جلال آباد د سقوط سره په یوه وخت د کونړ مرکز هم سقوط وکړ، او پداسې حال کې چې د غازي میرزمان خان دوه زامن په جلال آباد کې بوخت و، د هغوې ځینې کلاګانې هم وسوځول شوې، او کورنۍ یې سرکاڼو ته کډه شوې.

انګریزانو له نږدې د جلال آباد کړکیچنو او ګډ وډو حالاتو او غازي میرزمان خان د ټولو حرکاتو څارنه کوله. د مشرقي ولایت او جلال آباد د حالاتو په هکله په کرمه ایجنسۍ کې د انګریزانو د سیاسي استازي په لاسلیک، د انګلستان د آرشیف په یوه بل سند کې راغلي چې «په لومړي سر کې د خارجه چارو وزیر غلام صدیق خان [څرخی]، او د شورا رئیس شیر احمد خان، او د اعلیحضرت یاور محمود خان، او کونړې میرزمان خان واستول شول تر څو ستونزه هواره او لانجه ختمه کړي. شورشیانو په میملې کې د محمود جان سره بد چلند وکړ، او هغه دا دم په «جګدلک» کې دئ. شیر احمد خان او غلام صدیق خان هم کابل ته ستانه شوي دي. میرزمان خان هم بریالې نشو او کونړ ته ستون شوې دئ.»

## د غازي میرزمان خان تر شهادت دمخه د سیمې حالات

د غازي میرزمان خان د شهادت د پیښې د جریان په هکله، هغه څه مو چې د کورنۍ د مشرانو څخه د ماموندو د مشرانو او په خاصه توګه ملک عبدالعزیز خان ماموند په حواله، چې د غازي میرزمان خان سره د سفر ملګرې و، اوریدلي دي، تر یوه حده د اروابناد سید شمس الدین خان مجروح د روایت سره، چې هغه هم د پیښې عیني شاهد و، یوشان دي.

اروانښاد مجروح لومړي د هغه وخت د حالاتو په هکله ليکي: «په ياد لرم چې يوه ورځ مازيگر د خپل کور څخه د تفريح او گرځيدو دپاره راووتلې وم، نود خپل کلي څو تنه هغه کسان مي د کلي په لورې راروان وليدل، کوم چې په خپله خوښه د جلال آباد په لښکر کې تللي وو. هغوې ته مې سترې مشي وويل او د پيښې پوښتنه مې وکړه، چې څرنگه راستانه شوي او نور لښکر څه شو؟

**هغوې وويل چې د ننگرهار مرکز جلال آباد سقوط کړئ او د شينوارو په لاس سيځل شوې دئ. مونږ برياللي نشو چې د هغه ستر طاقت مخه ونيسو، نو ځکه بيرته راستانه شو. ويل کيږي چې کابل هم سقوط کړې او پادشاه له پلازمينې وتلې دئ. دا د انقلاب لومړنې تريخ خبر و، چې زما غوږ ته راورسيد. دغو ماتې خوړونکو هرې لورې ته دا آوازه خپره کړه، او خپلو دغو آوازو سره يې د کونړ اداري مرکز هم د خلکو د احتمالي بريدونو سره مخامخ کړ»**(۱۹۳).

ښاغلي مجروح تر هغې وروسته د خپلې سيمې شينوارو ته د وسلو د ويشلو په هکله ليکي چې «په بله ورځ، زه د کونړ لوې حاکم چغه سراى ته وغوښتلم او د خلکو د احتمالي حملې او دفاع موضوع يې راسره مطرح کړه. پر اسمار، چې د کونړ ولايت يو ستر نظامي مرکز و، يرغل پيل شوې و. داخلي او د آزاد سرحد د پورې غاړې ماموند د عسکري زيرمو او مگزين اوبازار د تالان په هيله راټول شوي وو، او د اسمار ښار يې کلابند کړې ؤ. ايله جاريانو د عسکرو سره مرسته او دفاع کوله. لوې **حاکم له ما وغوښتل چې اسمار ته لاړ شم، له هغه ځايه يوه اندازه ټوپک اوکارتوس واخلم او د خپلې سيمې پر خلکو يې وويشم، او هغوې ته د اسمار د دفاع، او که اړتيا پيښه شي، د چغه سراې د دفاع دنده وسپارم. ما دغه دنده قبوله کړه او سمدلاسه د خپلې سيمې د يو شمير شينوارو سره اسمار ته لاړم. شمير مې سم په ياد ندئ، خو څو انگريزي ناوه ټوپکې او يوه اندازه کارتوس يې زمونږ خلکو ته راکړل.** ما هغوې په اسمار کې پريښودل او خپله د چغه سراې د حالاتو د مراقبت دپاره کور ته راغلم. **بيا مې وروسته واوريدل چې ډيرې لښکريان هم د ټوپکو او کارتوسو تر اخيستلو وروسته خپلو کورونو ته ستانه شوي او د اسمار په دفاع**

---

۱۹۳. مجروح، سيد شمس الدين (۱۳۹۱) سرگذشت من، ۴۴-۴۵ مخونه.

**کې برخه نده اخيستلې .** او ځينې لا د جګړې د سيمې لرې ننداري ته ناست وو ، چې که اسمار سقوط وکړي، له تالانه بې برخې نه شي.»[194]

## د مجروح سره د غازي ميرزمان خان ليدل او د هغه کور ته ورتګ

د غازي ميرزمان خان سره د کتلو او دده کورته د راتګ په هکله اروابناد مجروح په خپلو خاطراتو کې ليکلي چې:

«**کله چې زه کور ته ورسيدم، خبر شوم چې د باډيل او ديوه ګل صافيانو لښکر ويستلې او د پيچ د درې خلک هم د ولايت د مرکز [لويې حکومتي/چغه سرای] په لورې خوځيدلي دي. په سبا يې يو قاصد راورسيد چې د ولايت مرکز سقوط کړې او لوې حاکم د ديوه ګل صافيانو بندي او له ځان سره بولې دئ، او ښځه او اولادونه يې زمونږ د تره، سيد معصوم شاه پاچا کور ته پناه وړې ده . پرلپسې زمونږ د تره يو قاصد راورسيد چې سرکښو شورشيانو يې کور تالا کړ** ... زه سمدلاسه د کاکا د احوال د اخيستلو او مرستې دپاره د چغه سراې په لورې روان شوم او په لاره کې مې خپل آس په چټکۍ ځغلولو تر څو ژر ورسيږم. کله چې چغه سراې ته نږدې د مرورې د کلي جالې ته ورسيدم... **ما په دغه ګودر کې د خلکو يوه ډله وليده چې د سيند لمر ختيځې لورې ته ولاړه او د پورې وتلو انتظار باسي . زه يې وپيژندم، او يوه تن په لوړ آواز له ما وغوښتل چې ودريږم او د هغوې د رسيدلو انتظار وکړم.** زه هماغه شان په آس ولاړ ودريدم تر څو د هغوې جاله دې خواته راشي او هغوې د جالې نه ښکته شي. د هغوې په منځ کې مې يو چارشانه او غښتلې سړې وليد چې تور يالان يې اغوستلې او د هغوې په مخ کې روان ؤ. (يالان بې لستونې چپن وه چې د لوړو طبقو خلکو اغوستله او د تور يا خاورين رنګه نفيسو پشمي ټوکرانو څخه جوړيدله).

ما د تورو جامو دغه سړې او د هغه ملګرې چې د مرورې سپين ږيري او مشران وو، له ورايه وپيژندل. **کله چې رانږدې شول، خان صاحب ميرزمان خان مې وليد. زه له خپل** آسه **راکوز شوم او د هغې سره مې سترې مشی او برګندي وکړه، او د نورو**

---

۱۹۴. هماغه ځای

**سره مې هم د احوال پوښتنه وکړه. هغوې وويل چې زما دپاره زما کور ته تلل . ما وويل چې مبارک دې وي، تشريف راوړئ، زمونږ په کور کې به ستاسې هرکلې وشي او ښه شپه به تيره کړئ، زه به سبا ځان دررسوم. ميرزمان خان ماته وويل چې مونږ يواځې د شپې تيرولو دپاره ستاسې کور ته نه ځو، خپله تاسې سره هم کار او مشوره لرو. ما بيا هم ټينګار وکړ او هغوې ته مې د چغه سراى د پيښې اوخپل تره د کور د تالاکيدو او ضروري تګ دليل ووايه. هغه په ځواب کې وويل چې زه پر ټولې پيښې خبر يم . اوس کار له کاره تيرشوې ، او د مخنيوي امکان يې نشته. يواځې د پوښتنې او وروسته مرستو دپاره مونږ ټول ستاسې سره لاسونه يو کوو، اوس څرنګه چې اسمار محاصره دئ او اوس هم عسکري قوا او زما زوې عصمت الله خان مقاومت کوي، راشئ هغوې وژغورو او مګزين او د دولت خزانه د تلف کيدو څخه وساتو. ما له ناچاره ومنل او کورته د ستنيدو تصميم مې ونيولو. ما خان صاحب او نورو سپين ږيرو ته وويل چې اجازه راکړئ له تاسې مخکې لاړ شم او ستاسې د هرکلي ترتيبات ونيسم.** زه آس لرم او تاسې پياده ياست، زه به له ستاسې ژر ورسيږم. هغوې ومنله او له هغه ځايه تر کوره، چې تقريباً څلور پنځه کيلومتره لار ده، د آس په سورلۍ په چټکۍ روان شوم او هغوې د لمر تر پريوتلو دمخه روارسيدل»[195].

## د غازي ميرزمان خان د شهادت پيښه

اروا ښاد سيد شمس الدين خان مجروح په خپلو خاطراتو کې ليکي چې «**د ډوډۍ تر خوړلو وروسته مو ميلمانه، چې شمير يې تر اويا کسانو زيات و، د دود سره سم د کلي د اوسيدونکو په حجر او ميلمستونونو تقسيم کړل او زه په سراچه يا ميلمستون کې د خان صاحب او محدودو څلورو_پنځو کسانو سره پاتې شوم او په خبرو او مشورې بوخت شو»**[196]. ښاغلي مجروح زياتوي: «خان صاحب وويل اوس چې د دولت نظام له منځه تللې، د سيمې د ساتلو او امنيت دپاره بايد اولسي او سيمه ايز تدابير و نيول شي. اسمار ډير قوي او ښه مرکز دئ. مګزين او د خزانې صندوق هم ډک دئ. مونږ او تاسې به له دغو وسايلو د سيمې د امنيت دساتنې او خير ښيګڼې دپاره کار واخلو. او د يوه اداري مرکز بنسټ به

---

۱۹۵. هماغه ځاى، ۴۷ – ۴۸ مخونه

۱۹۶. مجروح، سيد شمس الدين(۱۳۹۱) سرګذشت من ، ۴۹ او ۵۰ مخونه.

کيږدو ، چې ستاسې د کورنۍ په اتفاق او د مومندو او مروري د درې او سيند د درې په ګډون او ملاتړ به په پښو ودريږي. چغه سرای له لاسه وتلې دئ... د شينوارو او ماموندو په مرسته به وکړای شود کونړ په نورو سيمو کې د خپل نفوذ څخه په کار اخيستلو يو اداري مرکز منځ ته راوړو. **امان الله خان قندهار ته تللې او امکان لري ډير ژر راوګرځي او دغه بلوا ختمه شي.** ما هم د هغه دا نقشه او پلان د ځير او مصلحت په ګټه وليده او موافقه مې وکړه او له هغه څخه مې اجازه وغوښته چې د استراحت دپاره لاړ شم او هغه هم استراحت وکړي. **هغه ماته وويل چې د کلي ځينې اوباش کسان پر ما د حملې تصميم لري او اوريدلي مې دي چې په نورو کلو کې يې هم خپلو ملګرو ته استاځي او خبر رسوونکي استولي دي، لدې حرکته بايد غافله نه اوسو. ما ورته د يوه بې تجربې ځوان په خوشباورۍ سره اطمينان ورکړ چې هيڅ څوک به د داسې کار جرئت ونکړي، او زمونږ د کور مصئونيت ته به زيان ونه رسوي.**

**د ميلمستون څخه د راوتلو په وخت کې زمونږ د کلي يوه سپين ږيری، چې زمونږ د کور د چارو نظارت يې هم کولو، راته وويل چې داسې يو قبيحه حرکت له امکانه لرې ندئ، او زما خوشبيني بې ځايه ده. ښه به وي چې د شيګل درې ته يو استاځې واستوم او د خان صاحب د ځينو دوستانو او خيرانديشو کسانو څخه وغواړم چې ژر تر ژره وسله والو ځوانانو سره مرسې ته راشي . ځکه چې که سباته خان صاحب د اسمار په لورې حرکت کوي ، بدرقه او لښکر ورسره وي. ما د هغه مشوره ومنله او په هماغه شپه مې د استازو په استولو اقدام وکړ او خپله د خپل خوب ځاې ته لاړم . يوه شيبه وروسته مې د ټوپک د ډز آواز واوريد او له کټه مې ودنګل چې د ميلمستون لورې ته لاړ شم. ګورم چې د کلا لويه دروازه د بهرلخوا تړلې او ځنځير شوې ده . د بام سرته وختلم ، د شور او نورو ډزو آوازونه مې واوريدل. ګورم چې دبام له سره د وتلو لار نشته، راښکته شوم، د حويلۍ په منځ کې ناآرامه په انتظار ودريدم چې د لويې دروازي د خلاصيدو آواز شو، هغه لورې ته مې منډه کړه، د خپلو چارو هغه ناظر مې وليد چې دروازه يې پرانيسته او او ويې ويل چې له بده مرغه خانصاحب ووژل شو، او څو تنو شريرو اوباشانو دا کار په تلوار سره سرته ورسولو. ډير خپه او متأثره شو،...**

**د هغه په سبا اسمار هم سقوط وکړ، د اسمار عسکري قوماندان د چترال په لور وتښتيد او د مرحوم ميرزمان خان زوې، عصمت الله خان، د دانګام له لارې د دير ايالت ته چې**

**د بريتانوي هند سيمه وه، پناه وروړه.»**

د غازي ميرزمان خان شهادت سره د هغه راتلونکي پلانونه هم له منځه لاړ، او غازي امان الله خان هم د استعمار په وړاندې خپل يو نه ستړې کيدونکې وطنپاله ملګرې او ملاتړ له لاسه ورکړ.

**د انګلستان د پوځ يوه جنرال، جورج مکمون په هماغه (۱۹۲۹) کال خپل کتاب «افغانستان له داريوشه تر امان الله» کې پدې هکله وليکل چې د ميرزمان خان ترور، چې د افغان مومندو يو وتلې لارښود ؤ، او د کابل او جلال آباد شمال ته په پرتې سيمې يې حاکميت درلود، او د پادشاه مهم ملاتړ ؤ، د پادشاه هيلې د ړنتينې ماتې سره مخامخ کړې»** [۱۹۷].

د شمال لويديز سرحدي ايالت عمومي کمشنر د بريتانوي هند وايسراى ته د جنورې د ۱۱مې نيټې په تلګرام کې د ګڼو منابعو په حواله د کونړ د غازي ميرزمان خان د وژل کيدو اطمينان ورکړ او وليکل چې هغه کله چې د خپلو شلو تنو ملګرو سره د بر کونړ د شيګل د سيمې څخه تيريده، ووژل شو[۱۹۸].

د غازي ميرزمان خان دسفر د ملګرو په وينا، وروسته له هغې چې ښاغلي مجروح کور ته ننوځي، هغه د درې، څلورو بې وسلې سپين ږيرو سره يوائې پاتې کيږي او د ماسختن د لمانځه د اداکولو دپاره جومات ته ننوځي ، او د لمانځه د ادا کولو په وخت کې د شا لخوا د ټوپک په ډز ويشتل کيږي، او د شهادت جام څښي.

ښاغلي مجروح ليکي چې « جنازه په جومات کې په کټ کې کينبودل شوه او د مدرسې طالبان په تلاوت وګمارل شول. سبا ته جنازه د مرورې دخلکو او زمونږ د څو تنو خپلوانو لخوا يوړل شوه، او ددغې فاجعې درد او غم تر ډيرې مودې پاتې شو. د انقلاب په اوږدو کې زمونږ د سيمې او مرورې دخلکو تر

---

۱۹۷. George, Macmunn (1929), Afghanistan From Darius To Amanullah page 332.

۱۹۸. د انګريزانو استخباراتي محرمانه اسناد، د شمال لويديز سرحدي ايالت د عمومي کمشنر د ۱۹۲۹ کال د جنورې د مياشتې د۱۱ مې نيټې تلګرام.

منځ دښمني او د دوو قبیلو مخالفت دوام درلود، پر یوبل د تیري په انتظار وو، څه اخ و ډب هم پیښ شو، او زمونږ د کلیوالي ټولنې سره زمونږ دوستانه اړیکي هم چنداني ښه نه وو.»[۱۹۹]

## د غازي میرزمان خان د جنازې وړل

د زماني د کورنۍ دیادداشتونو په اساس، سبا سهار د شهید غازی میرزمان خان جنازه د هغې د ماموندو ملگرو او شینکوړک د خلکو لخوا د جالې په وسیله د «شولتن» کلي ته انتقال او د ماموندو لخوا د «مروري» له لارې «سرکانړ» ته یوړل شوه. څرنگه چې پدې وخت کې د غازي میرزمان خان ورور او زامن په سرکانړ کې اوسیدل، نو جنازه د سرکانړ د میا صاحب په مشوره، سپارښتنې او ټینگار په امانت ډول، د شهادت له امله پرته له کفنه، په خپلو جامو کې په هماغه ځای کې خاورو ته وسپارل شوه.

د ماموندو قوم هم د پښتونولۍ د نورمونو او اصولو خلاف دغازي میرزمان خان د شهادت دغه ناځوانمردانه اقدام په ډیر شدت سره و غندلو، او د غازي میرزمان خان سره ملگرو ملکانو او سپین ږیرو هم پر بې وسلې میلمنو، او هغه هم د لمانځه د اداکولو په وخت او د خداې په کور او جومات کې، که څه هم د یوه بل کس په جومات او میلمستون کې تر سره شوې و، خپل توهین او سپکاوې گڼلې او د بدل په اخیستلولاس پورې کړ.

د ماموندو او شینوارو د دغو دوو قومونو تر منځ جگړو، د نادرشاه د سلطنت تر لومړیو وختونو دوام وموند. نادرشاه څه موده وروسته د ملک عبدالعزیز خان ماموند، ماموندو د مشرانو او سپین ږیرو، او دغازي میرزمان خان د کورنۍ په نوم فرمانونو په ترڅ کې له هغوې وغوښتل چې ددغې لانجې پریکړه حکومت ته وسپاري او ژمنه وکړه چې حکومت به د غازي میرزمان خان قاتلینو ته سزا ورکړي. څه وخت وروسته د غازي میرزمان خان د شهادت څخه

۱۹۹. مجروح، سید شمس الدین (۱۳۹۱) سرگذشت من، ۵۱ مخ.

راپیدا شوې دا دښمني د یوې اولسي (قومي) جرګې له لارې پای ته ورسیده او د غازي میرزمان خان جنازه هم د نوآباد کلي ته انتقال او خاورو ته وسپارل شوه.

## د غازي میرزمان خان قاتلین څوک وو؟

د ښاغلي مجروح له خاطراتو داسې ښکاري چې ګواکې د غازي میرزمان خان په شهادت کې د څو تنو اوباشانو لاس و، او ګوندې دا عمل یې د هغو اعدام شوو کسانو د وینې د بدل دپاره سر ته رسولې، کوم چې په ۱۹۳۲ م کال کې د امنیت د خرابولو په جرم محاکمه او اعدام شوي وو.

خو د زماني د کورنۍ د یادداشتونو په اساس، دوی د هیڅ چا سره شخصي دښمني نه درلوده او د شینوارو سره اختلافات هم په دوستۍ او خپلوۍ بدل شوي وو، او د شیګل سیمه د اماني نهضت د ملاتړ په یوې ټینګې درې بدله شوې وه. د سیمې ټول خلک پدې پوهیږي او خبر دي چې سربیره پر خپلوانو، لکه چې مجروح صاحب هم لیکلي، غازي میرزمان خان د شیګل په دره کې ډیر دوستان او ملاتړي هم درلودل. د هغه دوه زامنو (حبیب الله خان زماني او محمد ارسلان خان زماني)، دوو وریرونو (مسافر خان او عبدالقادر خان زماني) او د خوشحال خان او سکندرخان زماني په نومونو دوو لمسو، د شینوارو د مخورو او پیژندل شوو کورنیو د پیغلو سره ودونه کړي وو. پر دې سربیره د شینوارو د درانده قوم ډیر ځوانان په جلال آباد کې د غازي میرزمان خان تر مشرۍ لاندې د شینوارو د شورش په وړاندې وجنګیدل او د دغه سیمې یو ډیر مشهور ملک «صاحب زمین خان» هم د جلال آباد په جګړه کې خپل خوږ ځان قرباني کړ.

د زماني د کورنۍ د یادداشتونو او بیلابیلو دلایلو له مخې څرګندیږي چې د غازي میرزمان خان ترور د افغانستان د بهرنیو دښمنانو په تحریک د هغو کسانو کار و، چې د اعلیحضرت غازي امان الله خان سره یې مخالفت درلود، او نه یې غوښتل چې د غازي میرزمان د لښکر د بیا تنظیمولو او واکمنۍ ته د

غازي امان الله خان د بیرته رسیدو پلان عملي شي. له بله پلوه د پوهې خاوندان او د شیګل او کونړ د درې خلک پوهیږي چې له دغې پیښې څخه چا ګټه او چته کړه، امتیازات واخیستل او د ریاست او وزارت او ... جګو دولتي مقامونو ته ورسیدل.

## قندهار ته د غازي میرزمان خان د زوی عصمت الله خان ورتګ

عصمت الله خان د خپل پلار د هدایت سره سم، د «دیر» له لارې «ملکنډ» ته لاړ او د ملکنډ د کمشنر مرستیال ته یې خبر ورکړ چې غواړي د چمن له لارې قندهار ته لاړ شي. د ملکنډ مرستیال کمشنر هغه په یوه پلمه څو ورځې هلته تم او تر نظارت لاندې ونیولو. هغه ورته پدې وخت کې د شیګل په شینکوړک کې د پلار د وژل کیدو خبر هم ورکړ. عصمت الله خان څو ورځې وروسته اجازه ومونده چې د «کوټې» له لارې د چمن د سرحد څخه تیر او د غازي امان الله خان د لیدلو د پاره قندهار ته لاړ شي.

دا خبره چې د ښاغلي مجروح د ادعا په خلاف، عصمت الله خان د بریتانوي هند سیمې ته پناه نده وړې، بلکې د خپل پلار، غازي میرزمان خان، د لارښوونې سره سم قندهار ته د اعلیحضرت غازي امان الله خان لیدلو ته تللې و، د بریتانوی هند د آرشیف له اسنادو ثابته کیږي. دانګریزانو د شرقي چارو د سکرتر شیخ محبوب علي په رپوټ کې لیکل شوي دي چې «**قندهار ته د جنوبي او مشرقي ولایاتو او آزاد سرحد د سیمو د استازو رسیدل پیل شوي دي.** په دوې کې امین الله خان، عبدالجبار خان (جبارخیل)، محمد حسن خان د سردارخان مومند زوی، ملک غازی خان افریدی، **دمیرزمان خان زوی عصمت الله خان**، دری خان منګل، قلندر خان او د ځاځیو استازي شامل دي. **دوې ټول د خپلو قومونو د وفادارۍ د اطمینان د ورکولو دپاره ورغلي او د هدایت غوښتونکي دي. امان الله خان خپل خصوصي منشی ته لارښوونه کړې چې لازم فرمانونه برابر کړي**».

پدې رپوټ کې زیاته شویده چې د میرزمان خان زوی ته د ملک ماسل خان

مومند، نورو وتلو اشخاصو او صافيو په نوم فرمانونه ورکړ شوي ... د ميرزمان خان زوي د امان الله خان سره په قندهار کې پاتې شو او فرمانونه يې د خپل خدمتګار په لاس مشرقي ته واستول.[۲۰۰]

عصمت الله خان زماني د افغانستان څخه د غازي امان الله خان تر وتلو، د هغه سره ملګرتيا وکړه، او د انګريزي د سيسو د کاميابۍ او اماني رژيم د سقوط نه وروسته بيرته کونړ ته ستون شو، او بيا وروسته د غازي ميرزمان خان د نورې اولادې په شان، د محمد هاشم خان د صدارت په وخت کې پرته له کوم اتهام او محاکمې زندان ته واستول شو.

## د شاه امان الله خان غازي د استعفا علت او قندهار ته تګ

د غازي امان الله خان د استعفا د علت په هکله تر ټولو معتبر اسناد، د هغوې خپل هغه مکتوبونه دي چې له قندهاره يې د مختلفو سيمو مشرانو ته استولي دي. د بېلګې په توګه دلته د جنوبي ولايت او سيدونکو ته د هغوې مکتوب يادوو. پدې مکتوب کې ليکل شوي دي:

«څرنګه چې پوهيږئ، د مشرقي په ولايت کې يو لړ ناآرامۍ پيل شوې، او د غو ناآراميو لا دوام درلود چې نا څاپه يوې بلې ډلې پر کابل بريد وکړ.

بايد وويل شي چې دا ډول دسيسې او اختلافات يوازې د افغانستان د پرمختګ د دښمنانو پر تدبير او پلانونو ولاړ دي. هغوې د ناخبرو خلکو په خوله کې پوښتنې ايښې، او پر ما يې بې اساسه نيوکې کړي دي. ما ورته د يوه پلار په شان مشوره ورکړه چې له دغه کاره لاس واخلي، خو څرنګه چې د فتنې او بې خبرۍ اور شيبه په شيبه زياتيدو، ما ونه غوښتل چې زما په نوم په افغانستان کې جنګ او جګړه دوام ومومي، د هيواد مسلمانان ووژل شي،

۲۰۰. د لندن د آرشيف محرمانه اسناد، په کابل کې د انګريزانو د سفارت د شرقي چارو د سکرتر شيخ محبوب علي هغه رپوټ چې د امان الله د سقوط تر نامه لاندې ليکل شوې او ميجر رابرټ نوئل سکات د ۱۹۳۰ کال د مارچ په مياشت کې په انګريزۍ اړولی دئ ( L/P&S/20/B 289 ).

ملت د نيستۍ خواته لاړ شي او يا هم د خارجي دښمن په وړاندې د وطن د دفاع د پاره برابرې شوې قواوې په کورنۍ جګړې کې وکارول شي. حتی پدې دليل چې خپلې ځانګړې مشرۍ ته ډير اهميت نه ورکوم (ځکه ما دا درونده پيټې يو ائې د وطن د نيکمرغۍ او ملت د پرمختګ دپاره په غاړه اخيستلې و)، نو پريکړه مې وکړه چې د خپل مشر ورور معين السلطنه څخه هيله وکړم د صلحې او عمومي امنيت په خاطر د پادشاهۍ تاج او تخت قبول کړي. که څه هم معين السلطنه په لومړي سر کې قبوله نکړه، خو کله چې ما ټينګار وکړ، زما په خاطر يې قبوله کړه. د ښار خلکو يې اطاعت وکړ او ما هم پدې هيله چې د کابل نه زما تګ به کورنۍ جګړې او د هغې څخه پيدا شوو فتنو ته د پاې ټکې کيږدي، تصميم ونيو چې قندهار ته لاړ شم، او همدا سې مې وکړل»

غازی امان الله خان زياتوي «مونږ په بې صبرۍ سره د کابل د حالاتو څخه د خبريدلو انتظار ويست. خو څرنګه چې د کابل د حالاتو د انکشاف څخه څرګنده شوه، دا ورانکاري يو ائې زما د شخص په وړاندې د نيوکو مجموعې ته محدوده نه وه، بلکې د هغو دښمنانو د دسيسو پر بنسټ ولاړه وه، چې د خلکو د يووالي د له منځه وړلو سخته هيله يې درلوده. نتيجه دا شوه چې دا شورش غلې نه شو. او شورش کوونکو چې جنګي قواوو ته هم لاس رسې درلود، معين السلطنه قبول نکړ؛ نو معين السلطنه هم قندهار ته راغی او يو ځل بيا د قندهار د خلکو سره خبرې وشوې.

معين السلطنه د ټولو خلکو په وړاندې وويل چې غواړي د افغانستان د تاج و تخت څخه ګوښه شي.هغه وويل چې «ما له اساسه د سلطنت هيله نه درلوده، او اوس يې نلرم او استعفی کوم». هغه و چې د قندهار ټول خلک په ګډه ماته راغلل او غوښتنه يې وکړه چې زه بايد تسليم نه شم، او تر څو چې د هغوې يو تن هم ژوندې وي، د افغانستان د مسلمانانو شاهي سلطنت له لاسه ورنکړم... د قطغن، مزار، ميمنې، هرات، فراه او هزاره جاتو خلک هم د قندهار د خلکو په شان نظر لري. نو ځکه ما د خپل ګران ملت د هيلو په خاطر او همدا راز ددې دپاره چه خپل هيواد د خارجيانو د لاس د آلې د جوړيدو څخه وژغورم، يو ځل

بيا د افغانستان سلطنت قبول کړ.

د موضوع څخه د دغه فرمان په ذريعه د جنوبي ولايت او سيدونکي خپل گران اولادونه خبروم. مطمئنه يم چې ستاسې غيرت او اوچت افغاني احساسات به هيڅکله ونه مني چې يو بې شخصيته کس، چې د ملت تر منځ کوم ځای او مخ نلري، د افغانستان سلطنت غصب کړي او زمونږ گران هيواد او غيرتي ملت د خپلو شخصي هيلو د لاس آله وگرځوي. امکان لري چې تاسې ديو بل سره په يو څه کورنيو دښمنيو او اختلافاتو اخته اوسی، خو بايد پوه شئ چې اوس په هيواد کې يوه ستره ملي ستونزه را څرگنده شوې ده ، او تاسې بايد د دولت او هيواد د کار د ښه والي د پاره سره يو موټې شئ.

په پای کې د خدای (ج) درگاه ته دعا کوم او د هغه څخه مرسته غواړم چې زمونږ دښمنان بريالي نشي. او ستاسې څخه غواړم چې په خپلو سيمو کې نظم او امنيت ټينگ او مراعات کړئ.»[۲۰۱]

## د غازي امان الله خان په تخت بيا کښيناستنه

د غازي امان الله خان په يوه بل فرمان کې په تخت د بيا کښيناستنې علت ذکر شوې دئ: «تاسې پوره خبر ياست چې د افغانستان مرکز او پايتخت د کابل ښار، د سقاو د ځوې لخوا ، چې په يوه غله مشهور او د چندان اصل و نصب خاوند نه دئ، تر يرغل او اشغال لاندې راغلی دئ. د يوه داسې شخص کړه، وړه به بې له شکه د افغانستان د خرابۍ او بدبختۍ سبب شي . هغه د ملي خزانو پنځوس (۵۰ ) کلنې زيرمې له ځانه سره وړي، او يو داسې کس دئ چې د خلکو د وژلو ، لوټولو او پټمنو کورنيو په عزت د تيرې پروا نلري. هغه عامې لارې يې تړلي چې کابل ته پرې خوراکي توکي او د سون لرگي راتلل، او په نتيجه کې هره ورځ په سلهاوو کسان د لوږې مري. دا کس، د افغانستان د ورانولو او مسلمانانو د وژلو پرته کوم بل هدف نلري، او داسې ښکاري چې د

۲۰۱. د جنوبي ولايت او سيدونکو ته د غازي امان الله خان د ۱۳۰۷ کال د دلوې د ۲مې (۱۹۲۹ کال د جنورې د ۲۲مې) فرمان Register of Royal Correspondence: Aman-Allah.

انګرېزانو لخوا هڅول کيږي، او د هغوي د لارښووني او هدايت لاندې کار کوي. څرګنده ده چې په داسې حالت کې اسلام د کفر په مقابل کې دريږي. نو که د خدای رضا وه، زه به د حوت په نهمه نيټه، عسکري لښکر سره يوځای او د قندهار د غلجيو او درانيو په ملګرتوب د کابل په لورې حرکت وکړم»[۲۰۲].

## د والي علي احمد خان د پادشاهۍ اعلان

د مخه وويل شول چې والي علي احمد خان لا د پخوا څخه سلطنت ته د رسيدو خوبونه ليدل. هغه د شورش مشرانو سره په کتنه کې هغوي ته وويل چې «پدې شرط چې د هغه پادشاهي ومني او دولتي خزانه ترې وانخلي، د جلال آباد د ښار دروازې به د هغوي پر مخ خلاصې کړي او دولتي وسله او مهمات به د دغو دريو قومونو تر منځ وويشي». د پيښور د عمومي کمشنر په رپوټ کې زياته شويده چې «شورشي مشرانو موافقه وکړه، او هغه د محمد علم خان او نورو شورشي مشرانو سره يوځای د موټر په وسيله جلال آباد ته راستون شو».[۲۰۳]

د والي علي احمد خان د امارت د لونګۍ د تړلو مراسم د ۱۹۲۹م کال د جنوري په شلمه نيټه د نقيب صاحب په لاس تر سره شو. په جلال آباد کې خپريدونکې د «غيرت اسلام» جريدې د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۲۸مه، خپلې لومړۍ ګڼې کې د دين او ملت د خادم علي احمد خان ته د مشرقي د سيمې د روحانيونو او مخورو د وفادارۍ د لوړې (قسم) خبرتيا خپره کړې او وليکل چې « ... دغه شخص د اسلام او مسلمانانو د پرمختګ دپاره د هيواد دننه او بهر ارزښتناکه خدمتونه کړي، او د روښانه افکارو په درلودو سره تل د خلکو او هيواد په اصلاح بوخت دئ. په همدې دلايلو داسې ګڼل کيږي چې هغه به يو ستر پادشاه وي.

---

۲۰۲. د جنوبي ولايت د تنيو قوم ته د غازي امان الله خان د ۱۳۰۷ کال د حوت ۴مې (۱۹۲۹ کال فبروري د ۲۴مې) ۱۳۰ لمبر فرمان Register of Royal Correspondence: Aman-Allah.

۲۰۳. د انګريزانو استخباراتي محرمانه اسناد، د شمال لويديز سرحدي ايالت د عمومي کمشنر د ۱۹۲۹ کال د جنوري د مياشتې د ۱۱ پنځمې نيټې ۱۵ لمبر تلګرام P&S/10/1203.

کله چې هغه اعلیحضرت د کابل څخه جگدلک ته ورسید، د خوگیانیو، سرخرود او جگدلک ټول علما، مشایخ، او مشاهیر په بیړه د هغوې حضور ته ورغلي او خپل بیعت وړاندې کړ. هغه د جگدلک څخه چهار باغ صفا ته د حضرت نقیب صاحب کور ته لاړ، او خپل بیعت یې تازه کړ. علی احمد خان د جمعې په ورځ، جلال آباد ته تر رسیدو وروسته، د هډې د آخندزاده صاحب کور ته لاړ. په هماغه ځای او د هډې د اخندزاده صاحب په حجره کې د هډې د استاد، طوطي آخندزاده، قیلغو د میا صاحب او شینوارو، چپرهار او خوگیانیو د نورو علماوو په گډون د علماوو یوه پلاوي ورسره بیعت وکړ.

په بله جمعه کې د ښار علما، مشاهیر او خلک د جلال آباد په شاهي جومات کې راټول شوي او د جمعې د لمانځه خطبه دافغانستان د پادشاه، د دین او ملت د خادم امیر علي احمد خان په نامه ولوستل شوه. د جمعې د لمانځه وروسته علماوو او مشاهیرو یوځل بیا بیعت تازه کړې، او ددغه بیعت نامې شرایط، په داسې حال کې چې له هر لورې د مبارک باد په لوړو او تودو غږونو بدرقه کیده، ولوستل شول او پدې ډول هغه اعلیحضرت ته د دین او ملت د خادم لقب ورکړ شو.

اعلیحضرت پدې وخت کې یوه وینا وکړه چې د ملي او اسلامي احساساتو ډکه وه. هغوې په خپله وینا کې د اسلام د شریعت پر بنسټ لاندني اصلاحات د خپل دولت د اساس تر عنوان لاندې داسې بیان کړل:

۱. دامان الله د مشرۍ په وخت کې ټولې جوړې شوې نظامنامې لغو گڼل کیږي. تر دې وروسته به د دولت ټولې چارې د قرآني اصولو او شریعت سره په بشپړ مطابقت تطبیق شي.
۲. د عسکري خدمت (نفوس) قانون به رنگ شي. سړي به د میاشتې په شلو افغاني روپیو، د دوې په خپله خوښه، اولسي سیستم سره سم د هیواد د دفاع د پاره عسکرۍ ته لاړ شي.
۳. د هیواد وگړي به د امان الله د دورې او تر هغې دمخه مالیاتو له باقیاتو او نورو چارو څخه خلاص وي. د دولت مامورین به د امان الله د سلطنت

د دورې اخیستلې پورونه په قسطونو ورکړي»[۲۰٤].

علی احمد خان د لونګۍ د تړلو د مراسمو څخه وروسته د کابل د نیولو دپاره یو لښکر برابرولو، چې ډیرې کسان یې د غازي امان الله خان مخالفین وو. خو انګریزانو د علي احمد خان د همکاریو د سوابقو او خدمتونو سره سره، نه یوازې هغه د افغانستان د پادشاه په نامه نه قبلولو، بلکې د هغې سره یې ډیر ناځوانمردانه او بد چلند هم وکړ.[۲۰۵]

## د علي احمد خان د بخت د ستوري پریوتل

د علی احمد خان د بخت د ستوري زوال هغه وخت پیل شو، کله چې د پیښور کمشنر په خپل رپوټ کې ولیکل چې د افغانستان د پاچا په توګه د علي احمد خان چانس مخ په کمیدو دئ. په ګندمک کې د محمد علم خان تر مشرۍ لاندې د فبروري د دوهمې نیټې په جرګه کې د خوګیانیو وزیرو فیصله وکړه چې د هغې سره مخالفت وکړي. په بتخاک کې هم د قومونو جرګې فیصله وکړه د هغه څخه د ملاتړ تر اعلان دمخه د جنوبي د لوري فیصلې ته انتظار وباسي.[۲۰٦]

نقیب صاحب ورته هم سپارښتنه وکړه چې د امیر د ټاکلو تر وخته د حکومت د

۲۰٤. د جلال آباد د غیرت اسلام جریده، لومړۍ ګڼه ،د ۱۹۲۹ کال د جنوري ۲۸مه نیټه، مسؤل عبدالحلیم؛ او د (واکنش های مذهبی) په حواله د بریتانوي هند د آرشیف اسناد NAI, F&PD, File 9-F, 1929.

۲۰۵. انګریزانو ته د علي احمد خان د خدمتونو یوه بیلګه د هغه سند پټول او انګریزانو ته سپارل و، په کوم کې چې انګریزانو امیر حبیب الله خان ته د انګریزانو په مقابل کې د خلکو د قهر د مخنیوي او عثماني ترکیې په ګټه جګړې کې برخه نه اخیستلو په بدل کې، د لومړۍ نړیوالې جګړې تر ختمیدو وروسته د خپلواکۍ د ورکولو وعده کړې وه. سردار محمد رحیم خان (شیون کابلی) د «برګهایی از تاریخ معاصر وطن ما» په کتاب کې لیکي چې «د افغانستان په درباري محفلونو کې ویل کیدل چې د انګریزانو دا لیکل شوې لوظنامه ملکي شاغاسی علی احمد خان پټه کړه او د (۴۰) زره کلدارو روپیو په بدل کې یې انګریزانو ته وسپارله (۴۲ مخ).

۲۰٦. د انګریزانو د استخباراتي محرمانه اسنادو آرشیف، د شمال لویدیز سرحدي ایالت د عمومي کمشنر د ۱۹۲۹ کال د فبروري د میاشتې د اومې نیټې ۱۱۷ م لمبر تلګرام P&S/10/1203

چارو څارنه وکړي، خو ځان رښتيني امير و نه ګڼي.

کله چې والی علی احمد خان د خوست د خلکو څخه هم منفي ځواب واخيست نو د فبروري د مياشتې په دريمه نيټه يې په کابل کې د انګريزانو سفير، همفريز، ته د پېښور له لارې د طيارې په ذريعه يو ليک واستولو. **علی احمد خان په دغه ليک کې وليکل چې «امان الله خان لا دمخه ثابته کړې چې بې ارزښته دئ او د شاهي تاج قابليت نلري، او حبيب الله يوازې يو غل دئ.» علی احمد خان ځان د انګريزانو پخوانې ملګرې وښود او ويې ويل چې بريتانيا، د قدرت ګدۍ ته دخپل يوه ملګري د رسولو، ښه موقع ترلاسه کړې ده.** هغه د بريتانيا د حکومت څخه يو مليون سټرلنګ پونډه، ډريورانو سره يوځاې سل لارۍ موټرې، دوه تنه مستريان، دوه زره خيمې، د دوه زره کسانو دپاره يونيفورم او بالاپوشونه، شل زره ټوپکې، شل مليونه کارتوس، ديرش غرني توپونه، او يو زر ګولۍ، يو زر آسونه د زينونو او مکملو وسايلو سره، د بيسيم تليفون دولس دستګاوي او مخابره کوونکي، يو شمير نظامي الوتکې او يوه لويه مسافر وړونکې الوتکه د انګليسي پيلوټ سره او د الوتکو د پاره د اتيا زره ګيلنو تيلو غوښتنه وکړه.

علی احمدخان عسکري قواوو او اولسي لښکر سره د کابل په لور وخوځيد او په جګدلک کې يې خپل مرکز جوړ کړ. په دغه ځاې کې دوه پيښې رامنځ ته شوې چې د هغو له امله د علي احمد خان د ۲۲ ورځو سلطنت پای ته ورسيد:

لومړۍ پيښه د جګدلک په سيندکې، د هغه د لښکرکوټ تر څنګه، ديوه انګريزي پيلوټ او ميخانيک سره يوځاې د يوې انګريزي الوتکې ښکته کيدل و. پيلوټ او ميخانيک ته کوم زيان رسيدلې نه و، او د ساتونکو لخوا علی احمد خان يوړل شول. چپمن Chapman او ديويس Davis د پنځه ـ شپږو ورځو تيرولو وروسته د ساتونکو او يوه کس [واحد شينواري] لخوا چې نقيب صاحب [او انګريزانو] استولې و، د موټر په ذريعه د انګريزانو قونسل ته چې هغه وخت يې د جلال آباد په چهارباغ کې نقيب صاحب ته پناه وروړې وه، واستول شول. د دغې طيارې د ښکته کيدو علت که تخنيکي

عوارض و، او يا علي احمد خان ته په کابل د حملې د نه کولو د خبرداری د پيغام رسول، د علي احمد خان د پاره بد شګون و، ځکه خلکو هغه د انګريزانو د ګوډاګي په نوم و پيژندلو.

بله پيښه، د علي احمد خان د پلوي مخورو ملکانو تر منځ پخوانی دښمني وه، د کومې له امله چې دواړه ملک محمد شاه خان خوګيانی (د ملک قيس خوګيانی ورور) او ملک محمدجان خوګيانی ووژل شول. له بلې خوا د خوګيانيو او شينوارو د قومونو کسانو د هغه د خپلې خيمې او يونيفورم په ګډون، لښکر کوټ تالا کړ. او هغه هم پداسې حال کې چې هيڅ څوک يې پناه ورکولو ته تيار نه وو، په خپلو پښو د لغمان او کونړ له فرعي لارو ځان د مومندو سيمې ته ورسولو او له هغه ځايه پيښور ته ورسيد.

د انګلستان د آرشيف له اسنادو څرګنديږي چې انګريزانو تر هغه وخته په کابل کې پر حبيب الله کلکاني د بريد کولو سره مخالفت کولو، تر څو چې غازي امان الله خان له وطنه وتلې نه و، ځکه چې دې کار سره د غازي امان الله خان قواووې غښتلې کيدلې.[۲۰۷]

انګريزانو په کابل کې د خپل نظر لاندې بل واکمن تر راوستلو پورې د حبيب الله کلکانی څخه د يوې انتقالي دورې د پاره استفاده کوله. په پيښور کې د انګريزانو عمومي کميشنر او په کابل کې د انګريزانو سفير، دواړو عقيده درلوده چې پر کابل به د هغې واکمنې ډير دوام ونکړي، او هغه د ټول افغانستان واکمني تر لاسه کولې نشي.[۲۰۸]

انګريزانو پدې موده کې د ټاکل شوي حد او چوکاټ څخه د حبيب الله کلکاني د وتلو د مخنيوي د پاره، د هغه شاوخواته يو شمير تجربه لرونکي او په کار پوه

۲۰۷. د انګريزانو د انګلستان د استخباراتي محرمانه اسنادو آرشيف، د شمال لويديز سرحدي ايالت د عمومي کمشنر د ۱۹۲۹ کال د مارچ د شلمې نيټې ۱۱۴۴ لمبر تلګرام، L/P&S/10/1301.

۲۰۸. هماغه ځای، د شمال لويديز سرحدي ايالت د عمومي کمشنر د ۱۹۲۹ کال د جنوري د ۲۳مې نيټې ۷۹ لمبر تلګرام.

کسان وګمارل چې په هغوی کې تر ټولو د زيات اعتماد او اهميت وړ، د دربار وزير شيرجان ؤ. د هغه نورو ورونو عطأالحق خان د باندنيو چارو د وزارت، محمد صديق خان د مرکزي قول اردو د قوماندانۍ، او محمد کريم خان د ضبط احوالاتو د رياست دندې په غاړه درلودلې.

د دوې په څنګ کې ځينې نور کسان لکه د قول اردو پخوانې قوماندان محمود سامی، د عمومې پلټنې رئيس سردار شيراحمد خان زکريا او د اماني دورې د پوهنې وزير سردار فيض محمد خان زکريا هم دخاصو مشاورينو په توګه حبيب الله کلکاني تر محاصرې لاندې نيولې و. سردار فيض محمد خان زکريا چې شپږمياشتې دمخه د پغمان په عمومي بڼ کې د استقلال د جشن د پرانيستلو په مراسمو کې غازي امان الله خان ته د «امان الله کبير» لقب ورکړې و، اوس د «حبيب الاسلام» د جريدې، يعنی د حبيب الله کلکاني د تبليغاتي ارګان مديريت په غاړه اخيستې، او د محمد نادر خان ورور، سردار شاه محمود خان، هم د حبيب الله کلکاني د خصوصي منشي په توګه ټاکل شوې و.

## په پيښور کې د شاغاسي علی احمد خان سره د انګريزانو چلند

علی احمد خان د مارچ په لومړۍ نيټه په پيښور کې د انګريزانو د سفير همفريز سره وکتل. هغه وويل چې په بيړنۍ توګه پيسو ته اړتيا لري او تصور هم نشي کولای چې د [انګلستان] حکومت دې دومره لنډاکې وي چې هغه سره د اړتيا په وخت کې مالي مرسته ونکړي. هغه وويل چې د ژوند په اوږدو کې د بريتانيا د حکومت ملګرې و، او دا فرصت به بيا رانشي. که هغه پر تخت کښيني، نو لومړنې کار به يې د لويې بريتانيې سره د يوه تعرضي او دفاعي تړون لاسليک کول، او د ټولو بلشويکي ليوالتياوو مخنيوې وي.

د انګريزانو سفير علی احمد خان ته د عوامو د مجلس اعلاميه او په اصطلاح د انګريزانو د ناپيلتوب د پاليسۍ يادونه وکړه او وويل چې په اوسنيو شرايطو کې د تاج او تخت دهر کانديد سره مرسته به ددغې پاليسۍ څخه تيرې وي، نو ځکه بايد د مالي مرستې او قدرت ته رسيدو ټول خيالات له سره

وباسي. علی احمد خان د ترخې نا امیدۍ په څرګندولو سره وویل چې پیسې خو پټې راکولای شی. کله چې سفیر بیا هم د رد ځواب ورکړ، نو علی احمد خان وویل چې که انګریزان ورسره مرسته ونکړي، هغه به مجبوره شي چې قندهار ته لاړ شي او د امان الله خان ملاتړ وکړي. علی احمد خان هیله وکړه چې ځو ورځې په پېښور کې پاتې شي. سفیر ورته اخطار ورکړ چې د قبایلو په منځ کې له سیاسي تبلیغاتو ځان وژغوري او وسیدل یې هم لنډ وي.[۲۰۹]

۲۰۹. د بریتانوي هند د آرشیف اسناد، د پېښور څخه د انګلستان خارجه وزارت ته د کابل د سفیر د ۱۹۲۹ م کال د مارچ د میاشتې د دوهنې نیټې ۲۲۷مه شمیره تلګرام.

# لسم څپرکی

## د غازي ميرزمان خان کړه وړه

په تيرو برخو کې د غازي ميرزمان خان د شخصيت سره د هغوې د تاريخي کړو وړو له نظره، په خاصه توگه د اماني دور د مهمې لسيزې په پيښنو کې د هغوې د تاريخي وتلي رول له امله، تر يوه حده آشنا شو. اوس به د هغوې د ځانگړو ځرگندو خصوصياتو په هکله يو څه لنډ معلومات وړاندې شي.

غازي ميرزمان خان په ونه متوسط، چهارشانه، غنم رنگې او د روښانه نافذو شنو سترگو خاوند و. په دوستۍ او صداقت، غيرت او شجاعت، خلوص او صميميت، ميلمه پالنې او سخاوت، ځوانمردۍ اولطافت اونفاست مشهور ؤ. غصه او قهر نه ورتلو. مؤدبه ، متقي او خوش صحبته شخصيت ؤ.

اروانښاد ميراجان سيال (مومند )د هغوې د سخاوت او ميلمه پالنې د يادونې په ترڅ کې په خپلې يوې خاطرې کې ليکي چې «اعليحضرت غازي امان الله خان زمونږ د مومندو جرگه ...کابل ته وغوښتله . زه پخپله هم د خپل محترم غازي او شهيد تره محمد عمرخان کاکا سره دغه جرگې ته تللې وم. د پغمان په سفر کې ما په غلطۍ سره د ماشوق ماما د زخم څه دارو چې په گيلاس کې اوښتي، د اوبو سره وڅکل او سخت ناروغه شوم. په کابل کې يوه وړوکې شفاخانه وه چې هندي ډاکټرانو به پکې کار کاوه. د ميرزمان خان په گاډۍ کې د هغه خورئي اکبر خان يوړم او ښه وو هغه ډاکټرانو دارو راکړه او زه ښه شوم، او شپې له د ميرزمان خان ځاې ته چې په قلاچه کې وو ، راغلو. زه بې هوشه وم خو د شپې ناوخته په هوش شوم نو ميرزمان خان زما په خواکې په مسئله ناست و او د قرآن شريف تلاوت يې کاوه. زما سترگې يې چه غړيدلی وليدی

نو خوشحاله شو او وی ویلی څنګه ئې؟ »[۲۱۰].

غازی میرزمان خان پښتون و ، او د پښتونولۍ په اصولو ولاړ. خو تفوق طلبه نه و. پَشتونولی (پښتونواله ) هغه پخواني قوانین دي چې لیکل شوي نه دي. غیرت او میړانه، ننګ، ناموس، میلمه پالنه، پناه ورکول، بخښل، بدل اخیستل او وطن پالنه د پښتونولۍ اساسات جوړوي. پښتونولی نه یوازې د پښتنو د ژوند طرز دئ، بلکې د حقوقی او کلتوری معیارونو او ارزښتونو نظم ، اخلاقي معیارونه، ټولنیز اصول او د دغو معیارونو، رسم او رواجونو او عنعناتو د ارتباط او ساتلو سیستم هم دئ.

د پښتونوالې اصول پشتنو ته حکم کوي چې کوم چار چلند «آبرومندانه» او «شرافتمندانه» دئ او کوم چلند داسې نه دئ. دا احکام څه نا څه د پښتنو د ژوند پر ټولو اړخونو اغیزه لري.

د پښتونولۍ په نظام کې تر ټولو اصلي او اساسي مفهوم د ننګ مفهوم دئ. ننګ په پښتو ژبه د شرف او آبرو په معنی کارول کیږي. کوم کسان چې د خپلې ډلې «شرف او آبرو» ساتي، هغوې د باننګه او ننګیالیو په نومونو ستایل کیږي. او کوم کسان چې د پښتونولۍ د سختو قوانینو څخه په سرغړونې، د خپلې ډلې پر شرافت داغ پورې کوي نو هغوې بې ننګه ګڼل کیږي ، او کوم چې د یوه پښتون د پاره تر ټولو بد پیغور او توهین ګڼل کیږي.

د غازي میرزمان خان د ځانګړو خصوصیاتو او سجایاوو یو څو بیلګې په لاندې ډول ذکر کوو :

## د پلار د بیرته راوستلو داستان د انګریزانو سره د فطري دښمنۍ نښه

د بریتانوي هند په قلمرو کې د مردان د سیمې څخه د پلار د بیرته راوستلو پیښه د انګریزي استعمار په مقابل کې د غازي میرزمان د فطري د ښمنۍ کچه څرګندوي. هغه به په اغلب ګمان ۱۴ یا ۱۵ کلن ؤ چې پلار یې د امیر عبد الرحمن

۲۱۰. سیال، میراجان. د مومندو غزاګانی ۴۴ تر ۴۷ مخونه.

خان د واکمنۍ په دوران کې له زندانه تيښته وکړه او دتپل شوې ډيورنډ کرښې بلې خواته د پښتونخواه د مردان په ضلع کې ميشت شو.

جريان داسې و چې سپه سالار غلام حيدر خان چرخي وروسته له هغې چې په ۱۸۸۲ م کال کې د سرقوماندان په توګه وټاکل شو، د امير عبدالرحمن خان په حکم پر کافرستان(اوسني نورستان) د حملې دپاره لښکري برابرې کړې، تر څو دهغو سيمو خلک د اسلام په مقدس دين مشرف کړي. غلام حيدر خان چرخي د پيچ د درې د ځينو سيمو د خلکود مسلمانولو دپاره جرنيل باول خان وټاکه، او د ميرزمان خان پلار، حاجي ګلروز خان يې ورسره د لارې د ښوولو دپاره واستولو. د بيرته راستنيدلو په وخت باول خان، سپه سالار ته شکايت وکړ چې ګلروز خان د «کټار»، «ګمبير»، «وايګل» اوپيچ درې اولسي خلکو سره همدردي ښودلې او مرسته کړيده. غلام حيدر خان په همدې خبره دګلروز خان د بندي کولو امر وکړ او باول خان هغه په "وټپور" کې بندي کړ، خو درې ورځې وروسته د هغه زوم، د هډوال اکرم صافي، په نيمه شپه هغه له زندانه راوويست، او هغه هم مجبور شو چې د خپلې ميرمنې سره يو ځای سيمه پريږدي، او د ډيورنډ له کرښې په اوښتلو سره د مردان په ضلعې کې استوګن شي. ګلروز خان درې ښځې يوه د بلې د مړينې وروسته کړې وې، او ميرزمان خان يې د دوهمې ښځې څخه چې د وټه پور د کټار کلا د ملک کامران خان خور وه، پيدا شوې و.

ميرزمان خان چې پدې موده کې په کونړ کې و، لدې امله چې پلار يې د انګريزانو تر سلطې لاندې سيمه کې اوسيدو، سخت خپه او ناراضه ؤ. هغه څه وخت وروسته، دسيد محمد خان سره چې (د فتح خان پلار و) او د سپه سالار غلام حيدر خان سره يې نژدې اړيکي درلودل، د سپه سالار ليدلو ته لاړ، او د هغه لخوا تشويق شو چې خپل پلار بيرته کونړ ته راستون کړي. چرخي ورته دا هم وويل چې اوس د سالار د ويالې او سربند د جوړيدو کار مخ په ختميدو دئ، نو ښه به داوي چې دې هم ځانته يوه برخه شاړه ځمکه جوړه او کر کيلې ته برابره کاندي (دا ځمکه تر آباديدو وروسته د نوآباد په نوم ياده شوه).

ميرزمان خان د سپه سالار سره تر ليدو وروسته د پلار راوستلو ته د مردان

سيمې ته لاړ او له هغه يې وغوښتل چې بيرته وطن ته راستون شي. ويل کيږي چې ځوان ميرزمان خان په هماغه لومړۍ شپه چې د سفر په وجه سخت ستړی، ستومانه او وږی هم و، د ډوډۍ د دسترخوان په سر د رنګارنګو خوړو په ليدو پوښتنه کوي چې دا خواړه مو له کومه ځايه برابر کړي دي ؟ هغه ته ويل کيږي چې دا د حکومت د مياشتنۍ مستمري تنخواه په پيسو برابر شوي دي. غازي ميرزمان خان ددې خبرې په اوريدو سخت ناراحته او خپه کيږي. او نه يوازې داچې هغه ډوډۍ نه خوري، بلکې په هماغه شپه د پلار د کور څخه هم وځي او بيرته د وطن په لورې روانيږي.

د ميرزمان خان پلار هم تر دې پيښې وروسته خپل هيواد ته راستون او په خپل عادي ژوند بوخت کيږي. د پلار په بيرته راوستلو سپه سالار د غازی ميرزمان خان څخه د مننې او خوشحالۍ په ترڅ کې د نوآباد په ځمکو سربيره، هغه ته د «سه کوټۍ» د ځمکو اجاره هم ورکوي.

## د هيواد دپاره د ځاني او مالي قربانۍ ورکول

د غازي ميرزمان خان د شخصيت په مهمو مشخصاتو کې يو هم د هيواد د خپلواکۍ او استقلال په لاره کې ځاني او مالي قربانۍ او فداکارۍ ته چمتووالی و. دغه سرلوړي، خپلواکه او ميړني سرتيري خپل سر او مال د وطن نه قربان کړې، او د ګڼو منابعو په استناد يې يوازې د هيواد د خپلواکۍ په جګړه کې د يوې مياشتې دپاره د هغه محاذ د ټول اولسي لښکرآزوقه او خوراکه د خپلې شخصي شتمنۍ څخه ورکړې ده. [۲۱۱]

د يادونې وړ ده چې پرته د بريکوټ، نارۍ، بارګام، نيشګام، جلاله او نورو شاوخوا کلو د سيمه ايز لښکره، په لومړي سر کې د اولسي لښکريانو شمير څلورسوه تنه وو، چې وروسته د غازي ماسل خان د زوی محمد امين خان کوډاخيل تر مشرۍ لاندې د مومندو لس زره (۱۰۰۰۰) نور لښکر هم ورسره

۲۱۱. داستقلال دڅلورمې جبهې، دخپلواکۍ خواږه يادونه، زمونږ سرحدونه زمونږ وياړونه، زمونږ غازيان او د لرغونې او اوسنې کونړ کتابونه.

یوځای شو. څرنګه چې د استقلال د څلورمې جبهې محاذ د کونړونو د مرکز څخه په لرې واټن کې پروت او په هغه وخت کې د موټرو سړک هم شتون نه درلود، نو دغه لوی لښکر ته د خوراکي موادو اخیستل، رسول، انبار کول، ساتنه، پخول او توزیع کول هم څه آسان کار نه و. د «خپلواکۍ د خواږه یادونو» او «زمونږ سرحدونه زمونږ ویاړونو» د کتابونو په استناد، دې کار ته یو شپاړس کسیز هیئت ټاکل شوی او دا کار یې په ښه شان سر ته رسولی وو.

## د مظلومانو له حقوقو دفاع

د غازي میرزمان خان د شخصیت په ځانګړتیاوو کې یو هم د هغو کسانو څخه ملاتړ ؤ، چې ځورولنیز، اسلامي او انساني حقوق یې تر تیرې لاندې راتلل. د یوې بیوزلې ښځې د ناموس څخه د دفاع د دغه لاندې پیښه څرګندوي چې غازي میرزمان خان د پښتونولۍ د ارزښتونو او انساني عزت او کرامت ته د درناوي په لاره کې تر کومه حده قربانۍ ته چمتو ؤ.

دغه پیښه چې د یوې اوږدې مودې په شخړې بدله او وروسته یې د قومي جګړې او نښتې بڼه غوره کړه او زیات ځاني او مالي تاوانونه یې پیښ کړل، داسې وه چې:

محمد غفور، د «وټه پور» د «سیمتام» د کلي یوه دهقان د «شوړیک» د سیمې یوه صافي ځوان ته خپله لور ورکوي. دغه انجلۍ له واده وروسته د پلار کور ته راځي او د میړه په کور کې د ستونزو او خپګان له امله بیرته تګ ته تیاره نه وي. د میړه د کور ځوانان هم د محمد غفور د کور پر حریم برید کوي او په بدل کې د کورنۍ یوه بله واده شوې ښځه په زور له ځان سره وړي.

کله چې د جرګې او خبرو له لارې د لانجې د حل کولو ټولې هڅې نتیجې ته نه رسیږي، نو بیا غازي میرزمان خان د دغه دهقان د مظلومې ښځې ملاتړ کوي او د وسله والې شخړې په نتیجه کې دا لانجه د صافیو سره په یوې اوږدې قومي دښمنۍ بدلیږي چې وروسته بیا د یوې سترې جرګې له لارې حل و فصل او پای ته رسیږي.

## د پښتونولۍ د اصولو او جرگې له لارې د شخړو او جگړو ختمول

لکه چې په شپږم څپرکي کې ولیدل شول، د جنوبي د شورش په دوران کې، که څه هم شورشیانو ماتې خوړلې او د هغوې مشران نیول شوي ؤ، خو جگړه لا پای ته و نه رسیده، او د جگړې نه پیدا شوو ځاني او مالي تلفاتو، مخالفتونو او قومي دښمنیو لا دوام درلود. او د دولت نه د ویرې او د انتقام او بدل د اخیستلو د سوچونو له امله حالات لا کړکیچن وو. د دغې ستونزې د حل د پاره تر ټولو غوره لار غیر نظامي او قومې جرگه گڼل کیده.

په نتیجه کې جگړې او د جنوبي شورش ته هم د پښتنو د یوې قومي جرگې د فیصلې په اساس هغه وخت د پای ټکې کیښودل شو، کله چې د ځدرانو د قوم یو سلو پنځوس (۱۵۰) ملکان او قومي مشران، په داسې حال کې چې د غازي میرزمان خان دوه زامن گل محمد خان او عصمت الله خان دضمانت په توگه په ځدرانو کې پاتې شول، دغازی میرزمان خان سره کابل ته تللي او د پادشاه غازی امان الله خان سره وکتل.

غازی میرزمان خان په همدې ډول د قومي جرگو څخه په استفادې سره په کونړ او سیمه کې گڼ شمیر لانجې، ستونزې او دښمني گانې حل و فصل کړي دي، چې یوه ښه بیلگه یې د ځنگلونو او غرونو د تقسیماتو په سر د قومي لانجو د حل فیصله وه چې لا تر اوسه هم پر خپل ځای ولاړه ده.

## لوڼو ته د برخې او حق ورکول

لکه چې د اماني غورځنگ د پوهنې او پرمختیایي پروگرامونو په برخه کې وویل شول، غازي میرزمان خان په مشرقي کې د داسې پروگرامونو ټینگ ملاتړ کولو، چې په هغوې کې د نسوانو د ښوونځیو جوړول هم شامل وو. پر دې سربیره، دوې د هغو لږ شمیر وتلو او پیژندل شوو کسانو په ډله کې ؤ، چې د خپلو زامنو په څنگ کې یې خپلو لوڼو ته هم مساوي برخې ورکولې. هغه خپل دا نظر په عمل کې هم ثابت کړې او په خپل ژوند یې خپلو واده شوو دوو - دریو لوڼو ته زراعتي ځمکې او باغونه ورکړي وو.

## د خلکو د ټولولو او لارښوونې وړتیا

غازي میرزمان خان د درنو مسؤلیتونو د قبلولو، د دندو د درک او پوهې د صلاحیت، د جنګي ستراتیژیو د طرحې او ډیزاین د لیاقت، او د خپلو او پردیو قواوو د ځواک د محاسبې د قابلیت د ډېرو مهمو خصوصیاتو په څنګ کې د خلکو د راغونډولو، لارښوونې او رهبرۍ ډېره ښه وړتیا هم درلوده، چې مونږ یې بېلګې د دې کتاب په بېلابېلو برخو کې ولیدلې.

ویلای شو چې د تنظیمولو د استعداد او رهبرۍ د قدرت په څنګ کې د غازي میرزمان خان د بریالیتوب یو مهم راز او مثبته لاسته راوړنه، د کونړ د اولسونو او قومونو راټولول وو. هغه د پښتو د دغه متل په مصداق «چې خان یې په یاران یې» د اولسې قواوو په اهمیت پوه او هغې ته خاصه پاملرنه کوله.

غازي میرزمان خان به د استقلال د جګړې د شهیدانو او معلولینو وارثینو او کورنیو ته خاصه توجه کوله او د خپل سنګر د ملګرو لاسته راوړنې به یې په بخششونو، او یادګاري ډالیو تقدیرولې. میرزا حیاالدین ته د یوه سپین آس بخښل، او سلهاوو نورو کسانو ته د پوښ لرونکو یادګاري تورو ورکول، د اعزازي لونګیو تړل، او د جامو د جوړو ورکول یو څو داسې مثالونه دي چې تفصیل یې د «خپلواکۍ خواږه یادونه» کتاب کې ذکر شوي دي.

پردې سربېره، غازي میرزمان خان په ګڼو وختونو کې د وطن د خدمتګارانو د تشویق د رسمي او دولتې لمانځنو زمینه هم برابره کړېده، چې پدې لړ کې د استقلال د محاذ د شهیدانو ورثې ته د پنځه - پنځه جریبه ځمکې ورکول او د مالیې څخه د هغې معافیت، او د خپلواکۍ د جګړې ګډون کونکو او نورو ته د خدمت د نښانونو، د جهاد د بیرغونو، نښان داره تورو او اعزازي بخششونو ورکول یادولې شو.

د کونړ خلک او په خاصه توګه د ګډون کونکو کورنۍ لا تر اوسه هم په ویاړ سره په «نورګل» کې د یوې داسې جوړې شوې غونډې د خاطرو یادونه کوي، په کومې کې چې د کونړ په زرهاوو اوسیدونکو د غازي امان الله خان سره لیدل

کتل کړي وو.[۲۱۲]

غازي امان الله خان مشرقي ته د ۱۳۰۱ لمريز کال په ژمي (۱۹۲۳م کال) کې د دوهم سفر په ترڅ کې د حوت د مياشتې له اومې تر ديارلسمې نيټې پورې دافغانستان د اساسي نظامنامې د لويې جرګې په جوړولو، ملکي او نظامي چارو په تنظيم او د هغې سيمې د ځايونو او بندرونو په کتلو بوخت ؤ. کونړ ته د اعليحضرت غازي امان الله خان دا سفر د حوت د مياشتې په ۱۴مه نېټه پيل شوې و. غازي پادشاه تر «ښيوې» پورې د موټر په سپرلۍ او له هغه ځايه تر نورګله په آس سفر کړې او په نورګل کې د دوو شپو تر تيرولو وروسته جلال آباد ته ستون شوې و.[۲۱۳]

## پادشاه څخه د عارض د يوې عجيبې غوښتنې د حل لاره

کونړ ته د غازي امان الله خان د سفر په وخت کې، د حالاتو د کتلو او خلکو د ستونزو د اوريدلو په ترڅ کې د «جمعه خان» په نوم د «قرو» د کلي يوه اوسيدونکي پادشاه ته شکايت وکړ چې «اى د اسلام پادشا زما عرض واوره! د جوارو په فصل مې «شکونړ» آموخته شوې او د کال ټوله خواري راته له منځه وړي.

ويل کيږي د جمعه خان دغه شکايت او درخواست ټول حاضرين حيران کړل او د پادشاه غازي امان الله خان غبرګون ته يې انتظار ويست. پادشاه پدې وخت کې غازي ميرزمان خان ته مخ واړوو او هغه ته يې وفرمايل چې «ددغه دهقان شکايت ته د حل لاره پيدا کړي». غازي ميرزمان خان د ستنيدو په وخت کې هغه بزګر ته يو «دنباله پور» ټوپک ورکړ او له هغه يې وغوښتل چې په خپل پټي کې پټ او د شکونړ په ښښه کولو ځان د هغه له شره خلاص کاندي. هغه هم

۲۱۲. د حاجي عبدالودود او سيد عبدالغفار اشتياق نامه او فراقنامه، د حبيب الله رفيع سريزي او لمنو سره، ۴ مخ.

۲۱۳. عزيزالدين وکيلي پوپلزائی، سلطنت امان الله شاه و استقلال مجدد افغانستان، بخش اول، ۴۹۴ مخ.

دا کار تر سره کړ او د شکونې له شره یې ځان خلاص کړ. په زړه پورې داده چې پادشاه ته د هغه دهقان ستونزه په یاد وه، او بل ځل د غازي میرزمان خان سره د کتلو په وخت یې له هغه د کار د نتیجې پوښتنه کړې وه.

## د ځوانانو د زده کړې سره خاصه مینه

غازی میرزمان خان د ځوانانو زده کړې او تعلیم سره خاصه مینه درلوده. څرنګه چې په اماني دورې کې لا په کونړ کې ښوونځي جوړ شوي نه وو، نو هغه د خپلو وریرونو، خوریونو، او خپلوانو په ګډون د خپلې کورنۍ ځوانان، او حتی د خدمتګارانو زامن کابل ته غوښتلي، او د ټولو د پاره یې د تعلیم او تربیې، او خوراک، څښاک او استوګنې د ځاي یو شان اسانتیاوې برابرې کړې وې. هغه د ادب او فرهنګ سره هم زیاته مینه درلوده او تل به یې د ادیبانو او شاعرانو پالنه کوله.

## د غلو سره د چلند یو روایت

روایت دئ چې یو کال سخته قحطي وه او په خاصه توګه د غریزو سیمو او سیدونکي د سختو ستونزو سره مخامخ وو. یوه شپه غازی میرزمان خان له سفره ناوخته راګرځي او ګوري چې یو څو تنه دهغه د «تیشې» د کلا د پنډو دیوالونو په کیندلو او سوري کولو بوخت دي. هغه وینې چې غله د غلې د انبار په ځاې د دیوال د بلې برخې په کیندلو اخته دي. هغوې ته د خوراکي توکو د ګودام سم ځاې ورپه نښه کوي او د کنډر په وهلو کې ورسره مرسته هم کوي. غله د کار په پاې کې هغوې ته د برخې د ورکولو وړاندیز کوي، خو هغه ورته وایي چې دا ستاسې لومړې ځل دئ، نو زه در څخه برخه نه اخلم.

بله ورځ نو موړې کسان د موضوع په اصلیت خبرېږي، د هغې شپې وړې جوار او غنم بیرته راوړي او د خپلو کړو څخه پښیمانتیا ښکاره څرګندوي. غازي میرزمان خان نه یوازې داچې هغوې بخښي، بلکې د هغوې د کلي د اړتیا وړ نوره غله دانه هم ورکوي، او د هغوې نه ژمنه اخلي چې په راتلونکي کې به د اړتیا په صورت کې د غلا پر ځاې ده ته مراجعه او مرسته غواړي.

# یوولسم څپرکی

## د خانداني حکومت په واکمنۍ کې د غازي میرزمان خان د کورنۍ برخلیک

### دیارلس کاله زندان او اته کاله جلا وطني


په تیرو برخو کې وویل شول چې غازی میرزمان خان د اماني رژیم د بقا د پاره هلوځلو په ترڅ کې د شهادت جام وڅښلو. کله چې سپه سالار محمد نادر خان د واک پر ګدۍ کښیناست، د اماني رژیم د همکارانو سره د عقدې او مخالفت د درلودو له امله یې، په لومړي سر کې د غازي میرزمان خان د کورنۍ په هکله د مکر او حیلې نه کار واخیست. د غازي میرزمان خان ورور او دوه زامن، په ترتیب سره جنرال خان محمد خان، غنډمشر عصمت الله خان زماني او غنډ مشر ګل محمد خان زماني یې کابل ته راوبلل، او په ظاهره وزارت حربیه کې د وظیفو په نوم، خو په اصل کې هره ورځ د حاضرۍ په ورکولو سره تر څارنې لاندې ونیول. دغه وضعیت تر **۱۳۲۴** لمریز کاله دوام و موند. خو په هغه کال د کونړ د صافیو پاڅون [۲۱۴] د خانداني حکومت د پاره یوه ښه بهانه شوه تر څو د خپلو دغو پخوانیو مخالفینو سره حساب تصفیه کړي. د دغه کال د سرطان د میاشتې په **۲۹**مه نیټه یې لومړې د غازي میرزمان خان زامن او وریرونه چې لا په کونړ کې اوسیدل، د سیمې د امنیت د خرابۍ او استقلال په جشن کې د ګډون لپاره له خپل اصلي ټاټوبي وویستل، او په ورته وخت کې یې په کابل

۲۱٤. د صافیو د پاڅون بشپړ جریان د همدې قلم په یوې څیړنیزې مقالې کې لوستلې شئ، چې د افغان جرمن آنلاین د ویب پاڼې په آرشیف کې هم موجوده ده.

کې د غازي میرزمان خان ورور، دوه مشران زامن او پاتې کورنۍ له خپلو استوګنځیو نیولې او د دهمزنګ زندان ته واستول.

د غازي میرزمان خان د کورنۍ د غړو شمیر چې د نورو سیاسي بندیانو په شان پرته له کوم جرم او محاکمې د یوه نامعلومه برخلیک په انتظار زندان ته واچول شول، تر سلو زیات وو. د دغه کورنۍ ټولو نارینو او تنکیو ځوانانو دیارلس کلونه او ښځو او ماشومانو یو کال په زندان کې تیرکړ، ټوله منقوله او غیر منقوله شتمني یې ضبط او مصادره شوه او حتی یوه برخه یې د خانداني رژیم سرسپارلو خدمتګارانو ته په مکافاتو کې ورکړ شوه.

د انګریزي استخباراتو په دغه راتلونکي رپوټ کې د غازي میرزمان خان د کورنۍ د نیولو په هکله لولو چې «افغان چارواکو ډیرې د مشرقي ولایت د ناآرامیو په وجه، پدې وروستیو وختو کې یو شمیر هغه کسان نیولي دي، چې لا دمخه په کابل او شاوخوا سیمو کې تر څارنې لاندې وو. پدې اشخاصو کې تر ټولو وتلي، خان محمد خان او شیرمحمد خان ، په ترتیب سره د کونړ د اروابناد خان ورور او زوی دي ، چې د امان الله خان د سترو پلویانو څخه شمیرل کیږي.


SECRET.
OFFICE OF THE DEPUTY DIRECTOR, INTELLIGENCE,
GOVERNMENT OF INDIA, PESHAWAR.
WEEKLY SUMMARY NO. 33, DATED PESHAWAR, THE 11TH AUGUST, 1942.
NOTE.—(i) Nothing should be republished from this Summary without reference to D. I. B. or D. D. I.
(ii) Recipients of this Summary are requested to destroy it after perusal. If any wish to keep Summaries on record they will kindly inform the D. D. I., Peshawar.
PART I.
REVIEW.
INDEXED
FILE COPY

The Afghan authorities, prompted chiefly by the disturbances in the Eastern Province, have recently taken into custody a number of persons who were already under official surveillance in and around Kabul. The most prominent of these are Khan Muhammad and Sher Muhammad, respectively brother and son of the late Khan of Kunar, who was the leading Safi supporter of Amanullah, and Ali Ahmad Khan, a member of Muhammad Gul Khan's party, which has always been suspected of republican leanings. Another question which has been under further consideration is that of changes in Afghan diplomatic representation abroad, particularly in Washington and Ankara. There is no news yet, however, of any definite decision having been reached.

په همدغه رپوټ کې راغلي چې «د کونړ د صافیو د خان، مرحوم میرزمان خان دغه ورور او زوی، د خپلو کورنیو سره د بیني حصار له سیمې، چیرې چې تر نظارت لاندې وو، نیول شوي او کابل ته نقل شوي دي. پر هغوی تردې دمخه د امان الله خان په ګټه د فعالیت شک او ګمان کیده او په زوره د مشرقي پرېښودلو ته مجبوره شوي وو. پر هغوی اوس د کونړ د درې د مخالفو صافیو سره د ارتباط تور لګول شوی دئ.

The authorities have recently taken into custody Khan Muhammad (W. W. 400) and Sher Muhammad, brother and son of the late Mir Zaman, Safi, Khan of Kunar. They have been moved to Kabul, along with their families, from their land in Beni Hissar, where they had been living under surveillance since they were compelled to leave the Eastern Province on suspicion of pro-Amanullah activity. They are now accused of being in communication with the Safi insurgents in the Kunar Valley.

دغه کورنۍ د ۱۳ کاله زندانه وروسته هم د سردار محمد داؤد خان د صدارت تر پایه، او نوي اساسي قانون تر نافذېدو پورې، اته کاله په هرات کې د

جلاوطنۍ ژوند تیر کړ.

زندانی خاطرات د ارواښاد محمد هاشم زماني اثر، د غازي میرزمان خان د کورنۍ د دغو حالاتو انځور کښلي او هم د دهمزنګ په زندان کې د نورو بې ګناهو قربانیانو د برخلیک په هکله مهم معلومات لري. د "درنګی بر زمینه های استبداد شناسی نادرشاه"، "افغانستان درمسیر تاریخ"، "جنبش مشروطیت وقربانیان استبداد"، "سرنشینان کشتی مرګ یا زندانیان قلعهٔ ارګ"، د زندان د حالت په هکله د ارواښاد آصف آهنګ مقالي او د "برګی چند از نهفته های تاریخ در افغانستان" کتابونه هم د خانداني رژیم د زندانونو او زندانیانو په هکله نقلونه لري.

د دهمزنګ زندان، د پایتخت د مرکزي زندان په توګه د سردار محمد هاشم خان د صدارت په وخت کې جوړ شو. د څېړونکې او لیکوال ښاغلي نصیر مهرین، په ویناد دغه زندان جوړولو ته د هاشم خان د پاملرنې علت دا ؤ، چې هغه د زیاتو کسانو د نیولو اړتیا احساسوله. د ارګ، سرای موتی او کوټوالي په زندانونو او نورو توقیف خانو کې تر دې زیاتو بندیانو ته ځای نه و. که څه هم د محمدنادرشاه او د هغه د ورونو په حکومت کې، د عبدالرحمن خان د دورې په شان، په چټکۍ سره د یو شمیر کسانو د اعدام امر ورکول کیدو؛ خو څرنګه چې د هغوې د نظر لاندې اشخاص او یا هغه کسان چې دوې فکر کاوه د حکومت مخالفین دي، د شمیر له پلوه ډیر زیات وو، نو ځکه یې یوه ستر زندان ته اړتیا درلوده. پر دې برسیره، په راتلونکې کې د پلان سره سم د مخالفینو د پراخه ټکوني په موخه د دهمزنګ د زندان د جوړیدو اړتیا رامنځته کړې وه. د هغو کسانو په نوم لړ (فهرست) کې زیاتوالي، چې باید د ظلم و ستم او حکومت کولو د اړتیا قرباني شي، سبب شو چې پخواني زندانونه کفایت ونکړي او او د دهمزنګ د زندان کار پیل شي»[۲۱۵].

۲۱۵. مهرین، نصیر، د دهمزنګ زندان (د دهمزنګ د زندان په هکله د کابل ناتهـ په ویب پاڼه کې د لسو مقالوټولګه)

ګڼ شمیر پوهان، د غازي امان الله خان د پلویانو او پیروانو سره د مصاحبانو د خانداني رژیم د دښمنۍ ستر علت، د نورو عواملو په څنګ کې، د انګریزانو سره ددغه خاندان اړیکي ګڼي . د ښاغلي سیستاني په وینا «هرڅه به چې انګریزانو غوښتل، نادر خان او هاشم خان به د امان الله خان د پلویانو په هکله سرته رسول. نادرخان د امان الله خان په نوم واک واخیستلو، خو د سقاو پر زوې د بریالیتوب څخه وروسته یې خپله غصب کړ. د هغه دغه عمل د شاه امان الله خان د ملګرو غبرګون وپارولو. نادرخان د خپل حکومت په څلورو کلونو، او تر هغه وروسته سردار هاشم خان د خپل صدارت په اولسو کلونو کې، تر څو چې یې وسه رسیده، مشروطه غوښتونکي او د امان الله خان پلویان یو پر بل پسې وتکول ، زندانونو ته یې واچول، او په راز راز شکنجو او کړاوونو سره یې له منځه یوړل. د کونړي میرزمان خان پر کورنۍ ظلم او بې عدالتي، د شاه امان الله خان د ملګرتوب او انګریزانو سره د دښمنې له کبله تعبیر کیږي».[۲۱۶]

ښاغلي سیستاني زیاتوي « سره لدې چې هغه [غازی میرزمان خان] د شاه امان الله تر سقوط وروسته د انګریزي اجنټانو لخوا په کونړ کې شهید کړای شو، او د هغه د کورنۍ هیڅ کس هم د هاشم خان حکومت ته نه ګوابښیدلو، خو د هاشم خان په زړه کې لا د هغه په وړاندې کینه پاتې او حل شوې نه وه ... په پاې کې د هغه د لویې کورنۍ ټول غړي، نارینه او ښځې، کوچنیان او لویان، چې شمیر یې تر سلو کسانو زیات ؤ، پرته له کوم جرم او ګناه، او پرته د کومې محکمې د حکم، (یواځې د پاچا امان الله خان د پلویتوب او په حقیقت کې د انګریزانو سره د ضدیت په جرم) د دهمزنګ زندان ته واچول شول، او سیارلس کلونه یې په زندان کې چې شرایط یې د جهنم نه هم بدتره وو ، تیر کړل. په دغه موده کې ددغه کورنۍ ۲۸ کسان د ناروغیو ، درو درملو د نشتوالي او د زندان د بدو شرایطو له امله ژوند له لاسه ورکړ، او پاتې کسان یې هم د دیارلس کاله

۲۱۶. کاندیدای اکادمیسین اعظم سیستانی، برخی شخصیت های ملی – تاریخی افغانستان در دو قرن اخیر، ۳۵۲ مخ. (سویډن – ۲۰۰۸).

زندان د کړاوونو او شکنجو نه وروسته د هرات ولایت ته جلا وطنه شول او د نورو اتو کلونو د پاره د خپلو خپلوانو نه لرې په هرات کې پاتې شول. یوائې د ظاهر خان دیموکراسۍ په لسیزه کې د دغه کورنۍ پاتو کسانو اجازه ورکړه چې خپل ټاټوبي کونړ ته راستانه شي او خپل ژوند له سره پیل کړي».[۲۱۷]

## کوم کسان به د حکومت لخوا ځورېدل؟

د ښاغلي نصیر مهرین په وینا «د هاشم خان د حکومت په قهر او غضب اخته ډیری بندیان هغه کسان وو، چې د حکومت د معلوماتو له مخې یې سر پر تنې ارزیدلو. نو له همدې امله یې که یو شمیر سمدلاسه مړه کړل، نو هغه نور یې چې په زندان کې اچول، په حقیقت کې هره شپه او ورځ وژل. په بله ژبه، د هرې شپې او ورځې په شکنجو او عذاب یې په کرار کرار وژل. کړاوونه او بې وسي ډیر هیبتناکه او تر مړینې هم سخت وو.

د اوږدو کلونو په تیریدو سره په دغو زندانونو کې یوشمیر کسانو په مظلومیت خپل ژوند له لاسه ورکړ. ځینې په شاوخوا کندو کې وغورځول شول. څنډو غاړو ته یې د دار پایې او ستنې ودرول شوې. ځینو خپل اعصاب له لاسه ورکړل. ځینې د ژوند تر پایه پوه نشو چې ولې بندیان وو. ځینې له زندانه راووتل، خو په زندان کې د لیدلي سیاست او کړاوونو په هکله یې څه ونه ویل، وویریدل، او د زندان له خلاصونه تر مرګه پورې سفر یې په پټه خوله تیر کړ. ځینو کسانو په پټه د خپلو سترګو لیدلي مطالب او خاطرې ولیکلې. ځینو افرادو او اشخاصو هلته د خپل ژوند بهترین کلونه تیر کړل او زده کړې وکړې. څرنګه چې حکومت په زندان کې د تحصیل او پوهې خاوندان بندیان کړي وو، هغوې په خپلې هرې سطحې او څانګې کې ځوانانو ته د ژبې او ادب، خارجي ژبو او ریاضیاتو ... درسونه ورکول. وایي چې د علم او فضیلت درنو خاوندانو به ځوانانو ته ویل چې مونږ ته یې د هیواد د خدمت اجازه

---

۲۱۷. هماغه ځای، **۳۵۸** مخ.

رانکړه ، وينئ چې دلته په بند کې يو.

کوم کسان چې حکومت ټکول، له لاندنيو ډلو څخه يوې سره اړيکي درلودل:

- هغه کسان چې محمد نادرخان به د امان الله خان د پادشاهۍ په وخت کې رقيبان او مخالفين ګڼل، او په زړه کې د هغوې په هکله کينه لرله.
- د امان الله خان پلويان، لکه د څرخي ، محمد ولی خان او ... کورنۍ.
- هغه کسان چې د محمد نادرخان د همکارۍ وړانديزونه منلي نه وو.
- هغه کسان چې د بريتانيې د سياستونو سره په مخالفت پيژندل شوي وو.
- هغه کسان چې د سياسي او فرهنګي ظرفيتونو په درلودو مطرح وو.
- ځيني سيمه ايز او اولسي متنفذين.
- مشروطه غوښتونکي او تحول طلبه سياسي افراد.
- د بندي شوو کورنيو ډير غړي به يې هم بنديانول. د هغوې کورني، اولسي او ټولنيز اړيکي به يې څارل ، او د څارنې لاندې شخص په څنګ کې به يې د هغه ځينې يا ټول نژدې کسان هم زندان کې اچول.
- د سلطنتي کورنۍ د خپلمنځي اختلافاتو ځينې قرباني کسان .[۲۱۸]

## له زده کړي او ښوونځي څخه د سياسي بنديانو د ماشومانو محروميت

لکه د نورو سياسي بنديانو په شان، د زماني د کورنۍ اولادونه او غړي هم له ښوونځيو او دولتي ادارو څخه وويستل شول . هغوې حتی د زندانه د خلاصيدو وروسته او د جلاوطنۍ په موده کې هم په دولتي ادارو کې د کار اجازه نه درلوده ، او مجبوره وو چې د کار دپاره غير دولتي شرکتونو او مؤسساتو ته مراجعه وکړي.

د ښاغلي مهرين په وينا «حکومت نه غوښتل چې په دغو کسانو پورې تړلي اشخاص د سواد او کار خاوندان شي. د اعدام شوو او سلطنتي کورنۍ د کړيدلو او ځوريدلو بنديانو د کورنيو تقريباً ټول غړي د يوه داسې برخليک

۲۱۸. نصيرمهرين ، زندان دهمزنګ

سره مخامخ وو چې يا خو مړه شي او که ژوندي پاتې کيږي، نو د درس او زده کړې او تعليم څخه لرې پاتې شي. له همدې امله يې د هغوې اولادونه او حتى خپلوان له کارونو او ښوونځيو وويستل. د يوه داسې سياست طرحه د دولت څخه د ويرې د سيورې د ساحې پراخول وو، او د ځورول شوو کورنيو په هکله د نادر خان د غوسې د ژوروالي څخه سرچينه اخيستله. هغه د ځپل شوو کورنيو د ستړو د ويستلو په فکر کې وو، تر څو په راتلونکې کې ترې د ټولنې د پاره نوي نيالګي شنه نه شي».

پدې برخه کې غواړم چې د هيواد د تکړه ليکوال، شاعر او څيړونکي ښاغلي محترم عبدالعلی نور احراری، د ليکنې يوه کوچنۍ برخه را نقل کړم. هغه ليکي «بی مناسبته به نه وي چې د زماني پر کورنۍ د شوو ظلمونو په برخه کې زه هم يوه کيسه وړاندې کړم. اروا ښاد غلام سخی خان زمانی د هرات د سلطان د ليسې په ښوونځي کې زما همصنفی او نژدې ملګرې ؤ. کله چې په ۱۳۴۰ کال کې له دوولسم ټولګي څخه خلاص شو او د پوهنتون د کانکور ازموينه مو ورکړه، نو اروا ښاد غلام سخي خان زماني ته په پوهنتون کې ځکه د ګډون اجازه ورنکړای شوه، چې هغه د زماني د کورنۍ غړې او هرات ته جلا وطنه شوې ؤ. هغه د صدارت مقام ته يوه عريضه وليکله او زه هم خپل شهيد ورور محمد افضل «شهير» ته چې هغه وخت د ماليې د وزارت اداري رئيس ؤ، واسطه شوم تر څو ښاغلي حسن شرق ته چې هغه مهال د داؤد خان د قلم مخصوص مدير ؤ، تليفون وکړي او په پوهنتون کې د هغه د ګډون امر صادر کړي. ښاغلي شرق هم د مرستې وعده کړې وه. څه وخت تير شو، خو عريضې ته ځواب ورنکړ شو. يو ځل بيا مې د خپل ورور څخه وغوښتل چې ښاغلي شرق ته تليفون وکړي. دا ځل ښاغلي شرق د تليفون له لارې زما ورور ته وويل چې «دا عريضه ځواب نلري».

مرحوم غلام سخی زمانی بيرته د هرات تګ ته مجبوره شو او يو کال يې ضايع شو. بل کال (۱۳۴۲) داؤد خان له صدارته ګوښه کړې شو او حسن شرق هم په خپل کار پسې لاړ، خو اروا ښاد غلام سخی زمانی په پوهنتون کې شامل شو.

هغه چې د اخلاقو، تواضع او نرمۍ یو سمبول ؤ، د زده کړو د فراغت نه څو کاله وروسته ناڅاپي سکته وکړه او لدې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې، روح دي ښاده وي».

ښاغلي احراري زیاتوي چې «د محترم میرزمان خان د کورنۍ د بندي کولو، کړولو او ځورولو پیښه، د وروستۍ پیړۍ یوه ډیره ډاروونکې او دردناکه پیښه ده چې مونږ پرې خبر شوي یو - شاید داسې پیښې ډیرې تیرې شوې وي، چې په تاریخ کې ثبت شوي ندي، او مونږ پرې خبر شوي نه یو».[۲۱۹]



(اروا ښاد غلام سخي زماني د خپل زوی سره)

۲۱۹. عبدالعلی نور احراری، د افغان - جرمن آنلاین ویب پاڼه (د میر زمان خان کورني په هکله)
.

# دولسم څپرکی

## غازي میرزمان خان د مؤلفینو او لیکوالانو له نظره


پدې برخه کې په لنډ ډول د څو هغو کتابونو، آثارو او څېړونو یادونه کوو، چې د غازي میرزمان خان او د هغوې د کارنامو په هکله د زیاتو معلوماتو د پاره ترې ګټه اخیستل کیدای شي:

### ځانګړي کتابونه

لاندني کتابونه د غازي میرزمان د ژوند په هکله رڼا اچوي او زیات معلومات وړاندې کوي:

**داستقلال څلورمه جبهه**

دا کتاب ارواښاد عبدالخالق اخلاص لیکلی دئ. هغه خپله د خپلواکۍ د بیا ګټلو د چترال په محاذ کې ګډون کړی او د څلورمې جبهې پیښې یې په خپلو سترګو لیدلې دي .پر دې کتاب سریزه، لمنې او نښلونې محترم استاد حبیب الله رفیع ورزیاتې کړې دي . دا کتاب لومړی ځل په ۱۳۶۵ لمریز/۱۹۸۶ م کال کې په پیښور کې چاپ شو. دوهم چاپ یې په ۱۳۸۴لمریز/۲۰۰۵ میلادی کال کې بیا هم په پیښور کې د دانش د خپرندویې مؤسسې لخوا تر سره شو. دا کتاب یو ځل بیا په ۱۳۸۹/ ۲۰۱۰ م کال کې د



اعليحضرت غازي امان الله خان د مړينې د پنځوسم تلين په مناسبت د «استقلال امانيه» په نوم د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت د بيهقي د نشراتو د رياست لخوا په کابل کې چاپ او خپور شوې دئ.


**استقلال امانيه**

استقلال امانيه په **۱۳۰۴** لمريز هجرى (**۱۹۲۵** ميلادى) کال کې په راولپنډۍ کې په پښتو ژبه نشر شوې دئ. دا په اصل کې د دوو رسالو يوه ټولګه ده:

**شمشير افغان (عبدالخالق اخلاص):** د دغې رسالې لومړي مخونه د غازي امان الله خان منظومې ستاينې ته ځانګړي شوي دي. له **۱۴** تر **۷۹** مخونو، د مغولي پاچايانو، احمدشاه بابا او تيمورشاه تر لنډ ذکر وروسته، د افغانستان د



خپلواکۍ د بیا ګټلو، او غازي امان الله خان د وطنپالنې، غزاګانو او مبارزو او تر هغه وروسته د خپلواکۍ د بیا ګټلو د (۱۹۱۹م) کال د څلورمې جبهې (چترال د جګړې) د شهیدانو او کونړ د غازي میرزمان خان پر سر ښندنو غږېږي.




**ګلشن رنګین (سید عبدالغفارپاچا):** له ۸۰ تر ۱۱۰ مخونو دا رساله، د ارنوۍ د غزا د چاربیتې په ګډون د بیلا بیلو کسانو په تیره بیا د غازی میرزمان خان د لوړو اخلاقو په ستاینه او د خپلواکۍ په جګړه کی د هغه د سرښندونکو مبارزو په اړه په نظم لیکل شویده.


داستقلال امانیه یوه اصلي نسخه په لندن کې د انګلستان د کتابتون په آرشیف کې موجوده ده.

**جنګ استرداد استقلال افغانستان – جبهۀ فراموش شدۀ چترال و کنر (حقایق نهفته و حرف های ناگفتۀ جبهۀ چهارم)**

ددې کتاب څېړونکې او مؤلف ډاکټر عبدالرحمن زماني دئ. په **۲۲۲** مخونو کې دا کتاب کال **۱۳۸۲** (**۲۰۰۷**) میلادی) کې د مسکا د انتشاراتو د ادارې لخوا پیښور کې د دانش خپرندویه ټولنې په تخنیکي څانګه کې چاپ شوې دئ.

د استاد محمد آصف صمیم، ډاکټر سید عبدالله کاظم او استاد فضل غنی مجددی پر تقریظونو سر بیره دغه کتاب کې راټول شوي مطالب په لاندې ډول دي:

1. د افغانستان د خپلواکۍ د بیا ګټلو جګړه (تر جګړې دمخه د افغانستان کورني شرایط، د افغان - انګریز د دریمې جګړې علتونه، انګریزانو ولې




دد غه جګړې د ارزښت د کمښت د ښودلو هڅې وکړې؟ د افغان - انګریز د دریمې جګړې اهمیت او د انګریزانو اعترافات، د افغان - انګریز په دریمې جګړې کې د ښکیلو ځواکونو انډول، د خپلواکۍ د جګړې محازونه او د اولسي ځواکونو د جبهو اهمیت).

2. د استقلال څلورمه جبهه (د کونړ تاریخي او جغرافیوي موقعیت، د چترال تاریخي او جغرافیوي موقعیت، په چترال کې د انګریزانو مداخله، د پولو د کرښو ټاکنه او د کونړ او چترال ترمنځ د پولې لانجه، د افغانستان څخه د خاورې تدریجي جلا کول، د ارنوي په برخه کې د پولې لیکه په نښه شوې نه وه، د انګریزانو او افغانانو د جګړې په هکله د چترال د مهتر د کورنۍ دریز، او د دواړو خواوو د ځواکونو انډول)


3. د څلورمې جبهې د پیښو بهیر (د غازي میرزمان خان لخوا د ارنوۍ نیول، د افغانانو بیا پرمختګ، له اسمار څخه د جنرال عبدالوکیل خان نورستاني حرکت، د کونړ او چترال د جبهې د شهیدانو لست، د هغو مجاهدینو نومونه چې د چترال په محاذ کې جنګیدلي او د غازي امان الله خان له لوري ورته بخششونه ورکړ شوي دي).

4. د مشرقي د سیمې د وتلو مجاهدینو او روحانیونو د پیژندنې، په جګړې پورې اړوند مهمو تاریخي عکسونو، انګریزانو سره د افغانانو په دریمې جګړې کې د استعمال شوو وسلو د ډولونو، په جګړې کې د سترو انګریزي ځواکونو د نومونو، او د استقلال د څلورمې جګړې په هکله د سیمه ایزو شاعرانو د اشعار ننبلونې.

**په آزاد سرحد کې خپلواکۍ غوښتونکې مبارزې او دمومندو په مشهورو غزاګانو کې دغازي میرزمان خان ونډه**

په ۲۲۴ مخونو کې د ډاکټر عبدالرحمن زماني دغه څېړنيز کتاب په ۱۳۸۸ لمريز هجري (۲۰۱۰میلادی) کال کې په کابل کې چاپ شوې دئ. ددې کتاب مطالب په لاندې ډول دي:

1. آزاد سرحد د استعماری ضد فعالیتونو ټینګ مورچل (د آزاد سرحد لنډه تاریخچه، په تدریجي توګه دافغانستان د خاورې د مهمو برخو جلاکیدل، په سیمه کې دانګریزانو مداخله، د" ترلي سرحد" یا "Closed Boarder" پالیسي، دانګریزانو دوړاندې تګ سیاست، د شمال غربي سرحد د ځانګړې ایالت جوړیدل، د مومندو قوم او خیلونه، دمومندو مشهورځایونه او شخصیتونه)




2. د مومندو آزادۍ غوښتونکې جګړې (دمومندو تاریخي جګړې او غزاګانې، انګریزانو سره د مومندو دغزاګانو لنډیز، مومند او دډیورنډ کرښه، دانګریزانو په مقابل کې د جهاد اعلان او دروحانیونو رول، دپښتنو قبایلو په سیمه کې د اسلام په نامه جګړې، د مغولو په مقابل کې د پیرروښان نهضت، د سکهانو په مقابل کې د سید احمد بریلوي مذهبي خوځښت، دانګریزانو په مقابل کې د شیخ الهند تحریک، په آزادو قبایلي سیمو او مومندو کې د هندوستان دوسلوالو مسلمانانو حرکت او مرکزونه، د سمڅې د مجاهدینو مرکز، دچمرکنډ د مجاهدینو مرکز، دالمجاهد اخبار خپرول،

دغازيانو دمشرانو ارتباطات او چار چلند، په آزاد سرحد او خصوصاً مومندو کې دانګريزانو په مقابل کې د پاڅونونو علتونه، د سيمې د اداري دپاره دانګريزانو هلې ځلې، په افغانستان او دهند په نيمه وچه کې دانګريزانو د سيسې او جاسوسان، دا ستخباراتي اداري انکشاف، داستخباراتي ادارو مختلفې څانګې او فعاليتونه، دهند په نيمه وچه او افغانستان کې دانګريزانو جاسوسي فعاليتونه، ستره لوبه ( The Great Game )، په کابل کې دانګريزانو ميشته وکيلان يا مسلمان ايجنټان، دمختلفو وسايلو او چلونو نه استفاده، دآزاد سرحد د قبايلو غزاګانې او امير حبيب الله خان، د سردار نصرالله خان رول او برخه).

3. دمومندو په مشهورو غزاګانو کې د کونړ د غازي ميرزمان خان ونډه (دکونړ دغازي ميرزمان خان لنډه پيژندنه، د مومندو په مشهورې سرې غزا کې د غازي مير زمان خان ګډون، د ۱۹۰۸ م (۱۲۸۷لمريز هجري) کال د سرې غزا دجريان تفصيل، د ۱۹۰۸ کال په سرې غزا کې ګډون کوونکې انګريزي قواوې، د ۱۹۱۵ م (۱۲۹۴لمريز) کال د شبقدر په مشهورې غزا کې د غازي ميرزمان خان ګډون، د ۱۹۱۵ م (۱۲۹۴لمريز) کال د شبقدر د مشهورې غزا تفصيل، دانګريزانو د فشار له امله د امير حبيب الله خان په بند کې، د شيرپور په زندان کې، دغازي ميرزمان خان په سر د شهزاده امان الله خان جريمه).

4. نښلونې (لومړۍ نښلونه: دمومندو غزاګانې د اولسي شاعرانو په اشعارو کې؛ دوهمه نښلونه: په مومندو کې دانګريزانو سره په جګړو کې برخه اخيستونکي مشهور غازيان او روحانيون؛ دريمه نښلونه: دوسلو سره د پښتني قبايلو مينه او د هغوی دوسلو ډولونه؛ څلورمه نښلونه: څو مهم تاريخي عکسونه؛ پنځمه نښلونه: دډيورنډ د کرښې د لوزنامې پښتو ژباړه؛ شپږمه نښلونه: دانګريزي استعمار سره د پښتنو قبايلو په مبارزو پورې تړلي دوه ريښتوني نکلونه).




**د خپلواکۍ خواږه یادونه**

د ښاغلي محمد نواز حقیقت "ساثین" دغه ځیرنیز کتاب په ۱۳۹۰ لمریز هجري کال کې په ۱۷۰ مخونو کې «د ملي آرمانونو د فرهنگي ټولنې» لخوا د دانش خپرندویې ټولنې د تخنیکی څانگې لخوا چاپ شوې دئ.

لکه چې له نوم نه یې څرگندیږي، مؤلف پدې کتاب کې د خپلواکۍ د جگړې د ځلورمې جبهې خاطرات په یوې مجموعې کې راټول کړي او نشر ته سپارلي دي.

په دې کتاب کې د کونړ د غازي میرزمان خان لنډه پیژندنه، د قرآن شریف ختم، د استقلال کیسې، دولسو تنو ته توري اوسلو کسانو ته جامې ورکول، د چترال دپاچا (مهتر) لیک، د باغیچې او ارندو پلونو سیځل، د کواټې قرارگاه سیځل، تر اسماره پورې د غازي میرزمان خان بدرگه، امنیتي گارد، سپورټي جشن، برگمټال او کامدیش ته د دیرشو(۳۰) مشرانو لیږل، په جبهه کې د اخلاص صاحب ناروغي، میرزا حیا الدین ته د سپین آس ورکول، د سنگالي غر، توکل واټ، نښه ویشتل، شاهي ماهۍ ته تگ، د چترال د پاچا خوب لیدل، پر لامبرټ او ارنوۍ حمله، خوراکي مواد، بي بي گلزار ابۍ، ملک میرزا سید علیخان، د غازي امان الله خان فرمان، سلام کوټ، دوکلام، په اولسي سندرو او لنډیو کې د ملي اتلانو ستایل، د شهیدانو جنازې، خورې ورې لنډۍ او سروکي، اولسي تاریخي لوبې، او د استقلال د ځلورمې جبهې تاریخي چاربیتې په شان مطالب شامل دي.

**سیف الامان**

سیف الامان د توري او قلم د خاوند اخلاص صاحب یو منظوم بل تاریخي اثر

دئ چې په ۱۳۰۴ لمریز کال کې بشپړ شوې دئ. دا کتاب د جنوبي د ملا عبدالله (ګوډ ملا) اود ملا عبدالرشید تر مشرۍ لاندې د اماني حکومت پر ضد بغاوت او د انګریزانو د دسیسو په شنډولو کې د غازي میر زمان خان تر مشرۍ لاندې د کونړ د خلکو د تورو، قربانیو او سرښیندلو د ونډې او کارنامو


الحمد لله که امر فی القرآن العظیم اطیعوا الله واطیعوا الرسول واولی الامر منکم
که درین زمان فرحت نشان رساله جدیده یعنی جنگنامه امیر
با بغاوت کنندگان سمت جنوبی المسمی به
کتاب
سیف الامان
مدح حضرت مخدوم مولانی میا صاحب علیه الرحمة سرکانی
از تصنیف پر تخفیف عاجز و ضعیف خادم العلماء باشرف
گمنام بی تعریف فقیر عبدالخالق عبدالله رب الرازق
ترقیم و تحریر گردید
والله المستعان

تفصیل د شعر په ژبه بیانوي.

سیف الامان په ۱۱۲ مخونو مشتمل دی چې په روانه ساده او خوږه ژبه لیکل شوی، تر اوسه چاپ شوی ندئ او قلمي نسخې یې ډېرې نایابه دي. دا کتاب په ۴۷ او ۴۸ پاڼو کې د غازي میرزمانخان تر مشرۍ لاندې د کونړ د دوه زره کسیز لښکر داسې یادونه کوي:

چې مخلص دده دوستان وپه هر ځای کې
په اسمار، شیګل په چغسرای کې

په کټار او په ګنبیر او په ګنجګل کې
په نرهنګ په سرکانړو په هر محل کې
د پشد او د کوټکې د نو آباد
خپل دوستان یې کړل راټول با اعتماد
د غونډو او د باډیل ښکلي ځوانان هم
شازلمي د دیوه ګل دلیر زمریان هم
ښه بسته مظبوط لښکر یې اراسته کړ
د ګلزار تازه ګلونه یې دسته کړه
چې لښکر شه امادہ په ښه قانون
د خان زړه شه اسوده په ښه مضمون
هم یې ورور خان محمد خان تکړه تیار
هم ځامن دده محکم شو په اختیار
مشر زوی دده دلبند شیر محمد خان
دوه یې نور عصمت الله ګل محمد خان
هم دوه خواهر زادګان په هسې شان
لعلو جان محمد امین هم شو روان
نور چې څوک انګشت نما وه په کونړ کې
ټول روان شو له اخلاصه په لښکر کې
په منزل منزل روان په جم و جوش شو
د باغیانو تباهۍ ته په خروش شو
هم روانې د اسونو قطارې شوې
چې سورې پرې د مسینو نغارې شوې
د سرنا د بیم باجو ورپکې شور وه
د شپیلو د ترنګونو ډنګ ټکور وه
هم وهلی پکې غبرګې نغارې شوی
هم وئیلي به خوږې خوږې مصرې شوي
په داهسې ارایش باندې روان وو

چې حیران یې تماشې ته ناظران وه
چې حیران یې تماشې ته ناظران وه

## نور بیلابیل کتابونه

### زموږ غازیان (د نومیالیو مبارزینو د ژوند حالات)

ارواښاد محمد ولي ځلمي ددې کتاب له ۱۹۸ تر ۲۰۲ مخونو کې د غازي میرزمان خان د احوال په هکله لیکي چې «ددغې کورنیو ځینو غړو د امیر عبدالرحمن او امیر حبیب الله او امیر اعلیحضرت امان الله د پاچاهیو د لانجو او کشالو په حل او فصل کولو کې فعاله برخه درلوده، ځکه چې یې زیات قومي نفوذ درلود نو د امیر عبدالرحمن خان د فشار څخه د ځان گوښه کولو په نیت د میرزمان خان پلار، گلروز خان د صوبه سرحد د مردان بېنشۍ ته هجرت وکړ».

ښاغلي ځلمي زیاتوي چې «په ۱۹۰۸ م کې چې د سرحد افغانانو د انگریزانو په خلاف جهاد اعلان کړې و، میرزمان خان د خپلې سیمې د یو لوې مجاهد په حیث «سره غزا» سرته ورسوله، په افغنستان او صوبه سرحد کې یې نوم پریوت. میرزمان خان د اعلیحضرت امان الله خان باوري ملگرې او د افغانستان د استقلال په معرکه کې د کونړ او چترال د جبهې یو بریالې مجاهد او سر قوماندان و. ددغه ملي خدمت او قومي افتخار گټلو له کبله اعلیحضرت امان الله خان ده ته د لوې خان لقب ورکړ، مډلکې، اعزازي رتبې او نښانونه یې وروبخښل. د اعلیحضرت امان الله خان په دور کې میرزمان خان د پکتیا د منگلو د اړودوړ په آرامولو او د ننگرهار د شنوارو د غایلې په له منځه وړلو کې د ملکي فرقه مشر او قومي خان په څېر ډېر خدمتونه وکړه. دغه مجاهد او دلاور قوماندان د کونړ په «شینکوړک» کې په داسې حال کې چې د امان الله خان د پاچاهي د ټینگیدلو له پاره یې تاریخي هلې ځلې کولې، د ماخستن د لمانځه د اداکولو وروسته په مسجد کې په شهادت ورسید».

## د کونړ تاترې

ددې کتاب مؤلف ښاغلي محمداجان «یار» په یو پنځوس مخونو کې د خپل کتاب یو مهم څپرکې د استقلال ځلورمې جبهې ته ځانګړې کړې دئ. ښاغلي یار «په کونړ کې د خپلواکۍ د جګړې یو ورک ډګر یا د استقلال ځلورمه جبهه» تر سرخط لاندې لیکي چې «د کونړ مجاهدینو او غازیانو د اسمار او نارۍ له لارې پر انګریزانو سختې حملې کړې دي، د یوسلو اته ویشتو شهیدانو په ورکولو سره یې د ارنوۍ لمبربټ او ګډ درې مهمې سیمې ترلاسه کړې او د چترال په سیمه کې یې پرمختګ کړې و، اګر چې د صالح محمد خان په مشرۍ د خیبر د لوې محاذ ناکامي منځ ته راغله، ولې د کونړ ددغه جبهې پرمختګ د خیبر د محاذ د ناکامۍ تلافي وکړه».

## لرغوني او اوسنی کونړ

دلرغوني او اوسنی کونړ د کتاب مؤلف پوهاند رازقي نړیوال دا کتاب په ۱۳۸۴ کال کې د کابل د اردو په مطبعه کې چاپ کړې دئ. ددې اثر یوولسم څپرکې د «کونړ د شاه امان الله په عصر کې د استقلال د جګړې ځلورمه جبهه (دارنوۍ جګړه) » تر عنوان لاندې د چترال، بریکوټ او ارنوۍ جګړې ته ځانګړې شوې دئ.

محترم رازقي ددې کتاب په یوې برخه کې لیکي چې «زمونږ د هیواد په تاریخي اسنادو کې د چترال جبهه (ځلورمه جبهه) بیخي کمه یاده شوې ده. حال دا چې د مشرقي په محاذ کې یوه ډیره مهمه جبهه چې خاص ستراتیژیکي اهمیت یې درلود، د چترال بریالۍ جبهه ده، چې په عمومي ډول د افغانستان په تاریخ کې د حکومتونو د نه علاقې او ځینو حساسیتونو له مخې نه ده ثبت شې.

د تاریخي واقعیت په بنیاد ویل کیدای شي کومه پوځي وظیفه چې د مشرقي جبهې ته د سپه سالار صالح محمد خان په قیادت او د هغه پوځي یاور او ارکانحرب جګړن محمد ګل خان مومند ته ورسپارل شوې وه، نه یوازې په دې محاذ کې مطلوب اهداف تر لاسه نه شو، بلکې د سپه سالار د بې موقع اعلان

جنګ او عسکري ټاکلو سوقياتو د پيل نه دمخه او د ملي او تاريخي خيانت له کبله چې د ګوتې د زخمي کيدو په نامه يې يا ناچلو روپو په رشوت، دا جبهه خوشې کړه او زيات بدنامي يې د مشرقي محاذ ته ورواړوله، خو بيا هم د ملي مبارزينو او د نوو راليږل شوو پوځي قواوو په برکت د ښمن بيرته ډکې ته په شا وتمبول شو.

خو بايد وويل شي د چترال په جبهه کې مجاهدينو او مبارزينو په تش لاس زيات بريا ليتوب ګټلې ؤ... د دې جبهې کاميابۍ د مشرقي د جبهې د لوې محاذ ناکامي تلافي او جبران کړه. انګريزان او د دوي لاس پوځي پاچا د چترال مهتر يې پر ځاې کښيناوه او د متارکې تر وخته پورې يې د چترال په سيمو کې تر ممريت چې د چترال سرحد ته ۴ کروه نږدې پروت دئ، خپلو فتوحاتو ته ادامه ورکړه.

بايد وويل شي چې د چترال په جبهه کې چې هرڅومره انګريزي جاسوسانو فعاليت وکړ بيا يې هم کومه نتيجه ورنکړه ... د يادونې وړ ده کله چې د غازيانو لښکر يوه مياشت په بريکوټ کې هستوګن ؤ، د خوړو لګښت يې د خان ميرزمان خان غازي لخوا ورکول کيده».

**برخی شخصيت های ملی تاريخی افغانستان در دو قرن اخير**

د اکادميسين نوماند ښاغلي اعظم سيستانی د « برخی شخصيت های ملی – تاريخی افغانستان در دو قرن اخير» يا «په وروستيو دوو پيړيو کې د افغانستان ځيني ملي تاريخي شخصيتونه» په کتاب کې اوولسمه مقاله (۳۵۲ تر ۳۷۳ ) مخونه د خپلواکۍ د جګړې ځلورمې جبهې او په هغې کې د کونړې ميرزمان خان رول ته ځانګړې کړيده.

ښاغلې سيستانی د کتاب په سريزه کې ليکي چې «له نيکه مرغه مونږ د خپل هيواد په تاريخ کې ګڼ شمير ستر تاريخی، ټولنيز، فرهنګی، سياسی او مذهبی شخصيتونه درلودلي ، چې هر يو يې په يوه خاص زماني پړاو کې خپل رول په ډيره ښه توګه لوبولې او تللي دي.د هغوې د کارنامو يادول نه يوائې

دا چې معلوماتي او ګټور دي، بلکې د وياړ وړ هم دي. په همدې دليل د هيواد د تاريخ د ځلانده ځيرو بيا پيژندنه او د ملي رهبرانو، او زړه ورو وطنپاله شخصيتونو دسرګذشت مطالعه د وطنپالنې د حس د رابيدارولو، ملي حاکميت د ساتنې، او د پرديو غرض خاوندانود لاس وهنې د مخنيوي دپاره، چې په اوسنيو حالاتو کې چې امنيت، د هيواد صلحه او ځمکنی تماميت او ملي حاکميت د ډيرې توجه او زړه سوې وړ دئ، يو ډير ګټور او فايده من کار دئ».

ښاغلې سيستانی زياتوي چې «ځوانان او د هيواد سرلوړې نسل بايد د خپل هيواد تاريخ يوځل بيا او په غور سره ولولي تر څو ښه پوه شي چې زمونږ ګران هيواد خپلې مينه ناکې غيرې کې کوم داسې سترکسان روزلي، چې د هيواد تاريخ يې پر نوم او کارنامو باندې فخر کوي.

پريږدې چې زمونږ اوسني او راتلونکي نسلونه د خپل هيواد تاريخي شخصيتونه او ربښتينې اتلان ښه وپيژني، په خپل ژوند کې د هغوې د وطنپالنې، صداقت، استقامت، ميړانې او اخلاص نه الهام واخلي، او د خپلو زړه ورو او هوښيارو نيکونو سترې او له افتخاره ډکې کارنامې د خپل ژوند سرمشق وګرځوي او د خپل شخصيت په ودې سره د لوړو مدارجو لورې ته ګام واخلي».

ښاغلې سيستاني د غازي ميرزمان خان په هکله ليکې چې «ميرزمان خان کونړې د خپلواکۍ د بيرته ګټلو د جګړې نه وروسته د اماني دولتي شورا غړې شو. دغې شورا پاچاته د سلامشورې او نوو قوانينو د تسويد يا تعديل دنده درلوده، او په ۱۹۲۸ کال کې په ملي شورا بدله شوه.

دا غازي شخصيت د عمر تر پايه د اعليحضرت شاه امان الله غازي د يوه ټينګ او صادقه پلوي په توګه پاتې شو. هغه د غه ترقي غوښتونکي پاچا په لس کلنه دوره کې د هيواد د ثبات او ټولنيزو تحولاتو د تحقق په لاره کې ډير ارزښتناکه خدمتونه تر سره کړل. خپلو زړه ورو قومونو سره د خپلواکۍ په جګړه کې ګډون، د پکتيا د ۱۹۲۴ کال د ګوډ ملا د بغاوت په غلي کولو کې برخه، د

اماني دولت نه د ملاتړ د پاره د مشرقي د خلکو د یو والي د ۱۹۱۹ کال دد سمبر د جلال آباد د هډې د سترې اولسي غونډې جوړول، په کوم کې چې د ډیورنډ د کرښې د دواړو خواوو څه ناڅه پنځه زره مخورو او د قومونو مشرانو ګډون کړې او د افغانستان د خاورې د تمامیت او خپلواکۍ څخه د دفاع د پاره یې خپل تیارې او حمایت ښودلې او انګریزانو ته ګواښ کړې و چې د افغانستان په چارو کې مداخله ونکړي او که نه نو یو ځل بیا به د زړورو افغان قومونو د قهر سره مخامخ شي، خپله د کونړ د دغه ستر مشر د نفوذ او اغیز څرګندونه کوي».

**زمونږ سرحدونه زمونږ ویاړونه**

د محترم محمد نواز حقیقت سانین د غه کتاب هم ژور تاریخي معلومات لري. د دې اثر له ۴۹۳ تر ۵۴۲ مخونه د استقلال څلورمې جبهې ته ځانګړي شوي دي. ښاغلي حقیقت سانین په دې اثر کې د استقلال د څلورمې جبهې د سیمه ایزو پیښو پر تفصیل او کره محلي معلوماتو سربیره، د غازي میرزمان خان په ستاینه سیمه ایز اشعار راټول کړي او له اسماره تر ناړۍ د سرحدي سیمې د قومونو د ارزښتناکې ونډې په هکله معلومات ورکړي دي.

ښاغلي سانین د خپل کتاب په یوه برخه کې لیکي چې « دکونړ د چترال د خپلواکۍ جبهه ډیره یوه ارزښتناکه، بریالۍ او تاریخي جبهه وه، په دې جبهه کې په زرګونو مجاهدینو برخه لرله، د اسمار، غازي آباد او ناړۍ [اوسنیو] ولسوالیو قومونو، ولسونو، پښتنو، ګواریانو، ګجرانو په داوطلبانه ډول ګډون پکې درلود، او د نورو سیمو څخه راغلیو مجاهدینو ورونو سره څنګ په څنګ یې د جهاد په مورچلونو کې له ناړۍ نه تر چترال، لمبربټ، دروش، میرکنډی، کواتی، ګډ، ایون، پورې برخه اخیستې وه ... غازي میرزمان خان د چترال په جبهه کې د یو ځلانده ستر مشر او لارښود په څیر ځلیدلې دئ او د شهامت او میړانې کیسې یې خوله پر خوله تر موږ را رسیدلې دي».

## بیلابیلې خپرونې

### امان افغان

د افغان ځوانانو د رژیم نشراتي ارګان، د امان افغان مشهورې جریدې چې د ۱۹۱۹ م کال د اپریل د ۱۲ مې نیټې څخه تر ۱۹۲۹ کال خپریده، په بیلابیلو ګڼو لکه ۲۲مې ګڼې، د پنځم کال په لومړۍ او شپږمو ګڼو، د پنځم کال په ۱۳ او ۱۴ مو ګڼو، او پنځم کال په ۹مې او ۱۰مو ګڼو کې د غازي میرزمان خان په هکله اوږده مطالب خپاره کړي دي.

### د حقیقت جریده

د اماني رژیم د دفاع د وزارت د حقیقت جریدې هم د په خپلو بیلابیلو ګڼو کې، د جنوبي د بلوا په غلي کولو کې د غازي میرزمان خان د مهم رول په هکله ډیر مطالب لیکلي دي. د دغې جریدې یو کلکسیون د افغانستان په ملي آرشیف کې موجود دئ، چې څیړونکي او لیکوالان ترې استفاده کوي.

### دخیبر جریده

د خیبر جریده، دنوي اساسي قانون تر جوړیدو وروسته، د دیموکراسۍ په لسیزه کې، د نشراتو دنسبي آزادیو په رامنځ ته کیدو سره، لومړنۍ ملي جریده وه، چې په خانداني رژیم کې یې د لومړې ځل دپاره د غازي میرزمان خان د شخصیت او کارنامو په هکله یو څه ولیکل. دخیبر د آزادې ملي جریدې د امتیاز خاوند او مسؤل مدیر، تکړه ژورنالیست او د هیواد سابقه داره مطبوعاتي شخصیت، اروابناد محب الرحمن هوسا ؤ. تر دې دمخه د سردار شاه محمود خان د صدارت په دوره کې هم ځینو ملي جریدو لکه د اروابناد الفت صاحب د ولس ملي جریدې د غازي میرزمان خان نوم یادکړې دئ، خو هدف یې پرته له محاکمې د غازي میرزمان خان ي دکورنۍ د بندي کیدو یادونه وه، نه د غازی میرزمان خان د کارنامو او شخصیت ارزونه.

د خیبر جریدې، د «مرحوم لوی خان غازی میرزمان خان» تر عنوان لاندې ولیکل چې «دغه زړه ور او مدبره سړي، او د استقلال په جهاد کې د کونړ د

ولايت د مجاهدو ملتپالو ستر قومي لارښود ، د خپلې لارښوونې لاندې د بيلابيلو قومونو د يارانو ، اعوانو او د زړه ورو مشرانو په قوت ، د ارنوۍ، دوکلام او لمبربټ د اسمار او بريکوټ د محاذونو ، لاس په لاس جګړو کې ، د دښمن سمبال ځواکونه داسې ټکولي ، ځپلي ، او له منځه وړي چې د افغانانو او انګريزانو د ملتونو په تاريخ کې به د تل پاتې وياړ او بيدارۍ نه هيريدونکې سبق وي ».

**د افغانانو جريده**

د افغانانو جريدې د ۱۳۷۹ کال د وږي د مياشتې په ۲۴مه ګڼه کې «د افغانستان د خپلواکۍ شهسوار» تر عنوان لاندې د غښتلي شاعر او ليکوال په قلم يو مضمون نشر کړې او د هغه په يوې برخه کې ليکي چې « په دنيا کښې هر ملت د خپلې خپلواکۍ د لارې مشعل داران او قهرمانان په درنښت سره يادوی او فخر پرې کوی. افغان اولس چې د چنګيز او انګريز نه نيولی د روسانو پورې د ازادۍ لپاره په خپلو سرونو لوبې کړی دی په دې پړاوونو کښې داسې جنګيالی ، ننګيالی او توريالی شته چې د پښتنی افغانی تاريخ ستر ګې پرې پورته دی .

زۀ نن خپلو ګرانو لوستونکو ته د هغه شهسوار يادا وری او پيژندګلو کوم چا چې د خپلې تورې او ميړانې په برکت ، چا چې د خپل شجاعت او لياقت په اثر ، چا چې د ازادۍ د جنګ په کارنامه ، چا چې د داخلی فتنو د خاموشولو په خدمت د اعليحضرت غازی امان الله خان نه د لوی خان لقب او د جنرالۍ ستر اعزاز ترلاسه کړی دی. دا لوی نوم او دا اعزاز په خپل وخت کښې بې رقيبه ؤ ځکه خو ئې د دغه نوميالی غازی د عزت شمله له هر چا نه هسکه کړې وه. دا نامور پښتون د خپلې زمانې زمری د کونړ ولايت لوی خان ميرزمان خان دی چې په خپل وخت کښې ئې بخت او وخت دواړه په مخ کښې جلب نيولی روان وو په پاچاهۍ کښې ئې د خانۍ نغارې ډنګيدې .

د امان الله خان سره ئې په ګډه د نوی نهضت لوی لوی خوبونه ليدل ، د تاريخ د خولې خبره ده وائی د افغانستان د ازادۍ د جنګ ځلورمه جبهه د کونړ ولايت

د بریکوټ محاذ ؤ چې سالاري ئې غازي میرزمان خان کوله. په دې جنګ کښې انګریزان داسې ماتې سره مخ شول چې چا ئې اټکل نۀ کولو. وئیلې شي چې د بریکوټ د جهاد د برۍ له برکته د کونړ تورزن اولس داسې لوی نوم وګټلو چې امیر امان الله خان پرې د مهربانۍ او خوښۍ له مخې د فرمانونو باران وکړو او کلي په کلي ئې غازیان او شهیدان په نښانونو او بخششونو ونمانځل.

حقیقت دا دی چې د افغانستان د لویو چارو په یادولو کښې داسې تاریخي لویان او شخصیتونه شته چې زمونږ ماضي پرې روښانه ده او مستقبل پرې ناز کولی شي په دې اساس لوی خان د ازادۍ د لارې په نومیالو کښې سر فهرست دی چې هیرول ئې ګناه ده. کۀ مونږ چیرې د شلمې صدۍ د اوائلو افغان اتلان یادوؤ او نمانځو ئې نو لوی خان د دغه صف رکن دی باید چې هیڅ کله له یاده ونۀ ځي. د توري میړانې د سخانه علاوه خان ادب پروره هم ؤ چې لویه نخښه ئې ملي شاعر سید عبدالغفار او مشهور ادیب عبدالخالق اخلاص دي چې په خپلو اشعارو کښې ئې بیا بیا د لوی خان د ادب نوازۍ ذکر کړی دی. متل دی خلک وائي د باز د جالې نه باز پاځي، او د تېپوس د جالې نه تېپوس، د افغانستان په روان درویشت کلن جهاد کښې چې د لوی خان کورنۍ کوم کردار ادا کړی دی سترګې ترې نۀ شي پټېدی.

په پښتنو افغانانو داسې ورځې راغلې دي چې ځوک ئې سر وهي ځوک ئې مال لوټوي او ځوک ئې تاریخ غلا کوي، ولې کله چې مې دې خبرې ته فکر شي نو په مرۍ کښې مې لاړې تیرې شي چې په افغاني جامعه کښې اوسي شکر داسې لیکوالان شته چې هر څۀ به د تاریخ درمنده ته راټول کړي د هر چا څهره په وښائي د هر سړي کردار به وتلي، او ملت ته به ئې په ډاګه کړي.

زه د خپلو اکۍ د دغه لوی مجاهد لوی خان چې د بچه سقاؤ شورش په وخت د ملي غلیمانو د سیسې قرباني شوی دئ په ډیر درنښت سره یادونه کوم او داسې ئې ستایمه:

خاني ستا په نوم کړي فخر ته یې فخر د خانانو
تاریخ ستا یادونه ستایي ته یې فخر د ځوانانو

**آئينۀ افغانستان (دافغانستان هنداره)**

ډاکتر سيد خليل الله هاشميان، د امريکې په کليفورنيا کې د آئينۀ افغانستان د مجلې چلوونکې، د غازي ميرزمان خان د شخصيت په هکله ليکي «په هغه مقاله کې چې د آئينه افغانستان د مجلې په ۱۱۵مه ګڼه کې خپره شوې، زما د پلار [مرحوم سيد سرورخان] د رواياتو يوه برخه شته، کوم وخت چې هغه د کونړ حاکم کلان و. ارواښاد جنرال مير زمان خان، اعليحضرت غازي امان الله خان ته له نږدې کسانو څخه و. د غازي اعليحضرت لخوا ورته د ملکي او نظامي خدمتونو په بدل کې هم د لوې خان لقب ورکړ شوې و، او هم د جنرالۍ رتبه، او دا مطلب د هغه وخت په رسمي جريدو کې خپور شوې ؤ. پلار مې ويل چې د جلال آباد دحاکم اعلی سردار محمد هاشم خان [دسپه سالار محمد نادرخان بيا وروسته نادرشاه ورور] نيت لوی خان مير زمان خان ته ښه نه ؤ، او پر ما يې فشار راوړ او ټينګار کولو تر څو ماته د لوې خان په هکله رسيدلې عريضې او شکايتونه محکمې ته واستوم او لوې خان محکمې ته وغواړم. خو محکمې ته د لوې خان غوښتل څه آسان کار نه و. ځکه چې رارسيدلې عريضې چنداني سمې نه وې، کوم چا چې عريضه ورکړې وه، خپله حاضر نه ؤ او کله به چې څو هفتې وروسته حاضريدو، ويل به يې چې موضوع د جرګې له لارې فيصله شوې او د خپلې عريضې څخه به يې رسمي ابرا ورکوله.

پلار مې ويل چې **کوم استخبارات به چې حاکم اعلی ته رسيدل، او د هغې له لورې به ماته راتلل، د هغو استخباراتو سره توپير درلود کوم به چې له هغې سيمې ماته رارسيد. حاکم اعلی محمدهاشم خان به ليکل چې ميرزمان خان دولتي ځمکې غصب کړي، د خلکو د اوبو حق خوري او د امنيت د خرابولو دپاره کار کوي . خو ددغو شيانو دپاره د کونړونو په دفتر کې کوم ثبوت شتون نه درلود...** پلار مې ويل چې زه په يوه سخت موقف کې وم، د کونړ خلکو زمونږ کورنۍ ته درناوې درلود، او زما په وړاندې يې هيڅ راز سر غړونه او کارشکني نه کوله. ځکه مې د حاکم اعلی د ټينګار سره سره خلک ځورولې نه شو. نو کابل ته لاړم او غازي اعليحضرت ته مې خپله استعفی وړاندې کړه. پلار مې ويل چې محمد هاشم خان د غازي اعليحضرت چنداني خوښ نه ؤ، بلکې پر هغه شکمن ؤ او پدې هکله يې ماته

وظيفه راکړه چې تفصيل او پايله يې په هماغه مقاله کې [۱۱۵ مه ګڼه ] خپره شوې ده».

## اولسي اشعار، سندرې او سروکي

خوشحال خان خټک وايي:

ننګيالي دي چې ياديږي
په سندرو هم په وير

د افغانستان د خپلواکۍ د جګړې څلورمه جبهه او د هغې د مشر، غازي ميرزمان خان رشادت او سرښيندنې هم لکه د نورو مهمو تاريخي پيښو په شان د سيمه ايزو شاعرانو په اشعارو او شفاهي اولسي ادبياتو کې پراخه انعکاس موندلی دئ، او لا تر اوسه له يوه نسله بل نسل ته په ميراث پاتې دي. د استاد حبيب الله رفيع په وينا «په پښتنو کې چې څوک ننګ او مېړانه وکړي د نرو او ښځو په خولو کې پرېوځي، ستايي يې، نمانځي يې، اولسي شاعران يې په ستاينه کې چاربيتې او بدلې جوړوي او ښځې يې په لنډيو، سروکو او نارو کې ستايي، د استقلال په څلورمه جبهه کې د غازي ميرزمان خان مېړانې ده ته هم همدا تل پاتې مقام ورکړ، د ولس د نرو او ښځو په خولو کې په ښو ياد شو او د ژوند تر پايه د ولس همدردي ورسره وه، د ده مېړانه يې ستايله او د ده پر ناځوانه وژنه يې اوښکې تويې کړي او ژړلي دي، په دې برخه کې ډېرې خورې ورې لنډۍ او سروکي د غازي ميرزمان خان په ستايه کې ويل شوي، چې تر اوسه په ولس کې خوله پر خوله ګرځي او د راډيوګانو په سندرو او د ګرامافون په ټيکليو کې يې هم ځای موندلی دی».۲۲۰

دلته د خپلواکۍ د خوا ږو يادونو په حواله يو څو هغه لنډۍ او سندرې رانقلوو چې غازی ميرزمان خان پکې ستايل شوې دئ:

۲۲۰. د استقلال څلورمه جبهه، **۲۵۳** مخ.

میرزمان خان شمله په سر کړه
مجاهدین په ارنوي کوي بریدونه
میرزمان خان شمله په سر کړه
په انګرېزانو به اوس کېږي یرغلونه

✲ ✲ ✲

په ارنوي باندې جګړه ده
میرزمان خان سره راغلي د بر پوځونه
په ارنوي باندې جګړه ده
په انګرېزانو شپه او ورځ کېږي بریدونه

✲ ✲ ✲

په ارنوي جګړه شروع شوه
میرزمان خان دي راټول کړي ولسونه
په ارنوي جګړه شروع شوه
انګرېزان تښتي د چترال په لوري ځینه
په ارنوي جګړه شروع شوه
میرزمان خان په غرو کې ودرول توغونه

✲ ✲ ✲

میرزمان خان ټوپکې راوړې
غزا لپاره د چترال په طرف ځینه
میرزمان خان ټوپکې راوړې
د سنګالي غره ته ځوانان پورته کوینه
میرزمان خان ټوپکې راوړې
اوس به لاډک شي په زلمیانو مورچلونه

✲ ✲ ✲

میرزمان خان چترال ته تللی
له انګرېزانو نه به نیسي مورچلونه
میرزمان خان چترال ته تللی
ورسره شته دی برېتور اتل مېړونه

میرزمان خان چترال ته تللی
انګرېزان نشي جګولی خپل سرونه
✻ ✻ ✻
میرزمان خان نارې کې ګرځي
په هره خوا یې ودرولي بیرغونه
میرزمان خان نارې کې ګرځي
په استقبال یې راټول شوي دي قومونه
میرزمان خان نارې کې ګرځي
سمبالوي غزا لپاره ولسونه
✻ ✻ ✻
میرزمان خان چترال نه راغی
تاریخ یې نه شي هېرولی یرغلونه
میرزمان خان چترال نه راغی
په لاره وشیندئ تازه تازه ګلونه
میرزمان خان چترال نه راغی
د انګریزانو یې ایرې کړل ارمانونه
✻ ✻ ✻
میرزمان خان ته یې آس زین که
غزا لپاره یې سمبال شو ولسونه
میرزمان خان ته یې آس زین که
د بریکوټ یا دو کلام په لور به ځینه
✻ ✻ ✻
میرزمان خانه بهادر شوی
ګټلي تا دي خپل وطن لره ویاړونه
میرزمان خانه بهادر شوی
شیندو به موږه ستا په لاره کې ګلونه
میرزمان خانه بهادر شوی
په انګرېزانو دې بل کړي دي اورونه
✻ ✻ ✻

**د ارنوي د غزا چاربیته**

د باجوړ د سیمې یو اولسي شاعر چې نوم یې «تور طالب» دئ، د ځلورمې جبهې په هکله یوه چاربیته لري. دا چاربیته په «تور بریښ» نومې اثر کې خپره شوې چې ښاغلي رضا همداني هم په خپل «رزمیه داستانین» نومې اردو اثر کې له اردو ژباړې سره خپره کړیده:

**کــسر**

غـزا د ارنـوۍ وه
د شـنو تـوپـو ږلـۍ وه
ځوانان پرې رژیدل لکه ګلونه د نمېر
ټول وو لـه سـره تـېر

**لــومړی بــند**

غـزا وه پـه کـفارو
غورځنګ ښه کېږدئ هوښیارو
د ټول ولس سالار و د کونړ میر زمان خان
جبین یې و روښان
جبین یې د نرګس وه
بدن یې د طاوس وه
وریسې تمام اولس و هر غازي لکه پتنګ و
اسلام د کفر جنګ و
اوه کسه باداران شوو
جنت له ځي روان شوو
جنت له ځي روان شوو حورې تلې ترینه چاپېر
ټول وو له سره تېر

**دوهم بــند**

جنت کې یې د برې شوې
د ګلو منجرې شوې

له قاره يې سترګې سرې شوې حيدر وويل ولاړئ چيرته
ساپور ورځئ پرې بېرته
وباسئ پسې توري
پيالې ګرځوي حورې
ځان مړ کړه که تربور يې چې لاړ نه شې له ميدانه
ښکاره دې کړه مېړانه
ښکاره زلمي د جنګ شو
ستانه بېرته په ننګ شو
په سرو وينو کې رنګ شو ارناوۍ د دوی سولۍ وه
د شنو توپو ږلۍ وه
حيدر چاړه په لاس
ورستون شو په اخلاص
وهل بې کوز او پاس په کفر ګډ و لکه شېر
ټول وو له سره تېر

**دريم بند**

دې شېر يې وکړه توره
مور مه شه په دې بوره
بدن يې ډک له نوره آفرين شه په قتلان
مردار يې کړل سګان
مرچل کې شهسوارو
جنت ته اميدوارو
ملګري يې سردارو له ګولو ډکه ځولۍ وه
د شنو توپو ږلۍ وه
خزان راغی په ګلو
شور ګډ شو په بلبلو
جنت د هغو خپلو چې تمام يې کړه پرې سېر
ټول وو له سره تېر

## څلورم بند

جنت شه ترې قربان
ورځي میر اعظم خان
ورځي میر اعظم خان لایق د حورو دی ګل مست
د خدای په مینه مست
د خدای په مینه سېر شو
په مځکه باندې زبر شو
جمروز د خلکو هېر شو په کفارو یې حمله کړه
ترې غوځه یې کله کړه
ترې غوڅې یې مرۍ کړې
کفارو به زارۍ کړې
بختیار پسې خوارۍ کړې د بیرغ مخکې لولۍ وه
د شنو توپو ډلۍ وه

## پنځم بند

پوزونو کې ایسار شو
چا ویل پاتې شهسوار شو
نظر پرې د سرکار شو ویل لایق د بادرۍ دی
خو زوی د زمرۍ دی
اوچت یې کړ، ډولۍ کې
وروړئ یې په تادۍ کې
تېزابو په ګولۍ کې چې پټۍ ورکړې درازه
شي طبع یې پرې سازه
چاپېر ترې حکیمان وو
خدمت ته په ښه شان وو
ولاړ په هر زمان وو ترې پرته لاندې نالۍ وه
د شنو توپو ډلۍ وه

د تور طالب بيان
ښکاره په درست جهان
بهادر ميرزمان خان لره به ورکړي عزت ډېر
ټول وو له سره تېر

## د سهار ورځپاڼه

### دخپلواکی نامتو مشر غازی میر زمان خان

ښاغلی الحاج عبدالله غمخور

سـر لښـــــکر د غـازيـانو لويـه خانـه
دوطـن د خـپـلـواکـۍ د زړه سـلطـانـه

دغـيـرت د پـټـکـي ولـه قـدرمـنـه
دتـاريـخ د تـنـدي خـالـه درخشـانـه
دکـونـړدلـوړو غـرونـو مـنـزريـه
شـهسـوار د سـرفروشـو د کـاروانـه

دامـيـرامـان الله پـه زړګـي لـيـکـه
دغـازي بـاچـا افسـره قـهـرمـانـه

دخـوارډ وطـن پـه حـال دې خـبـرومـه
ژړوم دې دبسـمـلـو لـه غـوغـانـه

قـيـامـتونـه مـحشـرونـه دي راغـلـي
دالـحـاد د سـازشـونو لـه طـوفـانـه

کودتـا پـه کودتـاوو بـانـدې وشـوي
د وطـن خـونـه تـالا شـولـه ويـرانـه

په زرګونو په لکونو باني مړه شول
شاه زلمي د افغانانو له جفا نه

دخودکشو خود غرضو له شامته
غلبه د یرغلونو ده روانه

دهجرت د ناکردیو به څه وایم
رنا ورځ را باندې شپه وه له خفګانه

خلک وایي دګور شپه ژر سبا کیږي
دا منزل دورو دراز دی نکته دانه

سر کړه پورته له تربته چاته ګورې
ځان خبر کړه د ملت له واویلا نه

موتې کیده ببیا په توره چې شي بوره
دوختونو مور په چیغو شوه جانانه

هغه ملک چې تا ګټلې و په توره
اوس وړیا له لاسه درومي له ارمانه

له خلفو نا خلفو پوره نه شوه
د سلفو لار شوه پاتې له هر چانه

په ډالرو په پونډو نو پلورل کیږي
زړه مې شین دئ د وطن له زوړو ځوانه

څوک د روس او د ایران لاسو ته ګوري
څوک ډوډۍ او غوښې غواړي له بابا نه

څوک په ویښه بادشاهي خوبونه ویني
قربانیږي له کافر او مسلمانه

د وطن په ځای د ځان غمونه ژاړي
دبل چا په غم کې نه دي بې له ځانه

د قدرت له هوسونو خبر مه شې
خبر نه شې له رهبر او له ملا نه

نه پوهیږم د تقدیر سترګې ړندې دي
که تدبیر دې اوبو وړې له افغانه

ته فاتح د معرکې د استقلال یې
د جرس د آزادۍ یې جاودانه

د افغان بچي بې کوره شو بې واره
بې وطنه بې کفنه بې درمانه

خطره ده د وطن جنازه وځي
ما خبر کړې ای غازی میرزمان خانه

## غازي میرزمان خان د مخالفینو له نظره

د انګریزي توطیو د کامیابۍ او اماني رژیم تر نسکوریدو وروسته، چې د

انګريزانو د کورنيو ګوډاګيانو په مرسته تر سره شوې، د اماني غورځنګ او رژيم پلويان او د انګريزانو مخالفين نه يوازې د فزيکي پلوه په مرګ، زندان، ربړونو کړاوونو او جلا وطنۍ محکوم شول، بلکې د هغوی د شخصيت د ترور او معنوي نابودۍ هڅې هم وشوې. طبيعي ده چې پدې لړ کې غازي ميرزمان خان هم د لست په لومړي سر کې ځای درلود او د بدنامولو دپاره يې زياتې دسيسې او توطيې په کار واچول شوې.

په دې ځای کې غواړم د غازي ميرزمان خان په هکله د هغه د مخالفينو هغه نظريات هم وليکم، کوم چې زما لاس ته رارسيدلې دي. تر څو لوستونکې پرې خپله قضاوت وکړي چې د دغه تورونو ليکونکي څوک وو، د ليکلو انګيزه يې څه وه، او ليکنې يې څومره حقيقت ته نږدې دي.

**د عزيز هندی له نظره (د غازي امان الله خان د زوال کتاب کې)**

د عزيز هندي د «انقلاب افغانستان سنه ۱۹۲۸-۱۹۲۹» کتاب په ۱۹۳۱ کال کې په بريتانوي هند کې په اردو ژبه او دوه زره ټوکه کې چاپ شوې او پښتو ژباړه يې د «غازي امان الله خان د زوال» په نامه د علومو د اکادمۍ د پښتو څېړنو د مرکز د تاليف او ترجمې د څانګې په سپارښتنه د محقق علمي رتبې ته د ترفيع په مقصد د ښاغلي فرهاد ظريفي لخوا برابره او په ۱۳۸۱ لمريز/۲۰۰۲ ع کال کې په پيښور کې چاپ شوې دئ.

عزيز هندي په دغه کتاب کې د غازی ميرزمان خان په هکله ليکي چې ګواکې هغه (۱) ډير ظالم انسان و او پخپلو بزګرانو او رعيت يې ډير ظلمونه کول او په خپلو ګاونډي خانانو باندې يې هم ډول ډول تيري کول او ددوی ځمکې يې پر خپلو ځمکو ګډولې ؛ (۲) کله چې د منګلو د بغاوت په غلي کولو کې برخه واخيسته ، د حکومت ګډوډي او کمزوري ورته ښرګنده شوه او خيال يې نور شو ، د واکمنۍ مينه ورسره پيدا شوه، مستقلې نظامي نغارې يې غږولې او د خپلو قومي لښکرو رسم ګذشت به يې جوړاوه او ښايې له دې نه مطلب دا چې فيوډالي سيستم بيا راژوندې کړي ؛ (۳) د کونړ خلکو دده په مقابل کې قيام وکړ ، جنګ يې ورسره پيل کړ.

که پورتنیو تورونو ته غور سره وکتل شي، زیاته برخه یې هماغه تورونه دي چې سردار محمد هاشم خان د اماني دورې په لومړیو وختونو کې، کله چې د جلال آباد حاکم اعلی و، غوښتل د هغې څخه په استفادې سره د غازي میرزمان خان په مقابل کې د سیسې جوړې او خپلو شومو اهدافو ته ځان ورسوي.

د اکادمیسین نوماند ښاغلي اعظم سیستاني د «دشمنی سردارهاشم خان با شاه امان الله و میرزمانخان کنری بنابر خاطرات سید سرورخان کنری» تر عنوان لاندې خپل مضمون کې پدې هکله لیکي چې «د ډاکټر سید خلیل الله هاشمیان د پلار روانښاد سید سرور خان کونړي د مستندو خاطراتو نشریدل، چې د اماني حکومت په لومړنیو دوو - دریو کلونو کې د لوې ننګرهار د سیاسي وضعیت په هکله دي، د هیواد د خپلواکۍ د تاریخ له پاره زړه پورو څپرکیو ځینې یو څپرکې دئ، او زما دپاره یې د مهمو تاریخي ټکو په لرلو سره ډېر اهمیت درلود. ددغو خاطراتو په لوستلو مې په ذهن کې دڅو لاندنیو ټکو انځور جوړ شو:

١. انګریزانو د شـــاه امـان الله د جلوس او د هغـه د ملګرو او پلویـانو د خپلواکۍ غوښـــتنې لـه همـاغـه لومړیو ورځو راهیســـې د هغـه د رژیم نسکورولو ته ملا تړلې وه.

2. په اماني رژیم کې دننه داسې مهم او اغیزمن عناصـر رامنځ ته شـوي وو چې په عملي توګه یې نظام سـبوتاژ او تخریبولو. لکه د ننګرهار والي سردار محمد هاشم خان د سپه سالار نادر خان ورور، سره لدې چې خپله امان الله خان پیژندلې و، خو په کابینه کې د حربیې د وزیر په توګه د سپه سالار نادرخان په شتون سره یې له منځه وړل څه آسان کار نه و.

3. په مشــرقي کې د ســردار هاشــم خان د موجودیت له امله د انګریزانو ګوډاګیـانو د ورانکـارۍ فعـالیتونـه پیـل کړي وو، امـاني دولـت پرې پوهیده او ددغو فعالیتونو شنډولو ته یې ملا تړلې وه.

4. د انګریزانو د مخالف یوه ملي شــخصــیت، یعنې میرزمان خان کونړي ســره، چې د خپلواکۍ د جګړې د څلورمې جبهې مشــري یې پـه غـاړه

درلوده، او په ټولو جګړو کې یې د ښـــمن د ماتې ســره مخامخ کړې و، او اوس د اماني دولت د یوه لوړ پوړې اســتاځي له خوا ور ته د ســیســې جوړیدې، د سردار محمد هاشم خان ښکاره دښمني.

د ۱۹۲۰ او ۱۹۲۱ کلونو په منځ کې د کونړونو، خوګیانیو او شینوارو د حاکم، سید سرور خان کونړي خاطرات دا واقعیت څرګندوي چې انګریزانو د خپلواکۍ د جګړې وروسته سمدلاسه د اماني رژیم نسکورولو ته ملا تړلې وه، او د هغې د پاره یې د شاه امان الله د پلوي شخصیتونو له منځه وړل په نښه کړي وو او زیار یې ویست چې دا عناصر په هره وسیله چې وي، له منځه یوسي. او د انګریزانو مخالف، دپاچا امان الله خان داسې یوجدي پلوي شخصیت میرزمان خان کونړې و. ما دمخه د"جبهه چهارم جنګ استقلال ونقش میرزمانخان کنری در آن" تر عنوان لاندې یوې بلې مقالې کې د غازي میرزمان خان د ویاړلي ژوند د یوې برخې په هکله لیکنه کړیده، چې د افغان-جرمن آنلاین په ویب پاڼې کې خپره شویده. خو زه پدې خاطراتو کې د سردار هاشم خان د شخصیت او میرزمان خان سره د دښمنۍ په هکله په نورو ټکو پوه شوې یم چې دلته پرې لږ زیات تم کیږم.

د سید سرور خان کونړي د خاطراتو په اساس، کله چې سردار محمد هاشم خان د ننګرهار د والي په توګه (۱۹۱۹- ۱۹۲۱) وظیفه اجرا کوله، حرکات او فعالیتونه یې د انګریزانو د ګټو پر محور څرخیدل. ډاکتر هاشمیان وایي چې د ننګرهار والي، سردار هاشم خان، د خپلواکۍ د جګړې نه وروسته، د میرزمان خان سخت دښمن و... او غوښتل یې هرې هغې دسیسې ته لاس واچوي، په کومه چې هغه پاچا امان الله خان ته اخلالګر او خطرناک وښودل شي.

له همدې امله د کونړونو حاکم ته امر کوي چې د غه ملي مشر ته د سیسې جوړې کړي، او پاچا امان الله خان ته رپوټ ورکړي چې لوې خان د اماني نظام په وړاندې د بغاوت او شورش نیت لري. خو څرنګه چې سید سرور خان خپله د کونړ ؤ او غازي میرزمان خان یې له نږدې پیژندو، او د یوه ملې شخصیت په

توګه يې د هغه درناوې کولو، د والي تشويق او ترغيب پرې اغيزه نه درلوده»[۲۲۱].

لکه چې د همدې کتاب په اوم څپرکي کې وليدل شول، انګريزانو او کورنيو ګوډاګيانو يې د کونړ څخه د غازي ميرزمان خان د ويستلو دپاره راز-راز دسيسې جوړې کړې. پدې ترڅ کې د قومې مشرانو سره د اختلافونو او سيمه کې د ناآرامۍ د پيدا کولو هڅې، په هيواد ددغه مين شخصيت او هغې د زامنو د وژلو هڅې، د وفادارۍ په بدل کې په پيښور او شاوخوا سيمو کې هغوې ته د ځمکو او نورو بډو د ورکولو وړانديز، په کونړ کې د هغه په ځاې د کونړ د خان په توګه د واحد شينواري يا مستر ويد آسټراليايي د ټاکلو هڅې، د غازي امان الله خان سره د سؤ تفاهم او شخصيت د ترور او بدنامولو هڅې يادولې شو.

شايد ګڼ شمير هيوادوال خبر وي چې سردار هاشم خان د خپل صدارت او خانداني دولت په وخت کې هم د غازي ميرزمان خان او د هغه د کورنۍ د بدنامولو دپاره ډير کسان تشويق کړل ترڅو د عريضو او جعلي اسنادو له لارې هغوې سره دعوا وکړي، خو دټولو هڅو سره سره، په ټوله سيمه او هيواد کې يو کس هم پيدا نشو چې د غازي ميرزمان خان پر بندي ، ناچارې او بې وسې کورنۍ دعوا ته حاضر شي. آيا دا خپله د عزيز هندي د بې بنسټه ادعاګانو او تورونو د ردولو ښه ثبوت نه دئ؟

په کونړ کې د ناآراميو د پيداکولو په هکله دمخه په اوم څپرکي کې پوره معلومات وړاندې شو چې د تکرارولو اړتيا يې نشته. يوه بله پيښه هم چې د صافيو د شريفه قوم سره په يوې پراخې شخړې بدله کړاى شوه، او عزيز هندې ورته د غازي ميرزمان خان په وړاندې د پاڅون رنګ ورکوي، هماغه د سيمتام د کلي د يوې نکاح شوې ښځې د ناموس څخه ددفاع موضوع وه، چې د ټولو اسلامي اصولو او پښتونولۍ د اساساتو په خلاف په زوره بيول شوې وه.

---

۲۲۱. د افغان-جرمن آنلاين ويب پاڼه. ۲۰۰۹/۲/۹

**عزیز هندي څوک او د چا په چوپړ کې و؟**

په عزیز هندي مشهور، غلام محمد عزیز، د هغو چالاکو او فعالو کسانو څخه و چې لومړې یې د هجرت په تحریک او بیا په افغانستان او آزاد سرحد کې د هندي مهاجرینو په کړیو کې فعالیت درلود. کوم کسان چې د افغان -انگریز په لومړۍ جگړه کې د انگریزانو د ستر مکار او چالاکه جاسوس، موهن لال کشمیري د نوم سره آشناوي، د هغه او عزیز هندي ترمنځ هیرانوونکې ورته والې او شباهت لیدلې شي. هغوې دواړه د هندوستان د کشمیر وو، دواړه د هندوانو په کورنیو کې زیږیدلي،او وروسته د اسلام په مقدس دین مشرفه شوي دي. دواړو د افغان-انگریز تر منځ دوو مختلفو جگړو په موده کې په افغانستان کې د باندنیو هیوادونو په گټه فعالیت کړې، دواړو د ژوند وروستي کلونه په سخته او تکلیف کې تیر کړي، دواړو خپل خاطرات، نظریات، او تجربیات د کتابونو په بڼه لیکلي او د خوشخدمتۍ او انعام یا بخښنې په غرض انگریزانو ته وړاندې کړي دي.[222]

عزیز هندی د "مدهو کشمیری "زوې په "امرتسر "کې زیږیدلې، او تر منځني ښوونځې یې زده کړه کړې. د امرتسر د ښار په هره هغه مظاهره او غونډه کې یې انقلابي اشعار لوستل چې د «رولت بل» د قانون په وړاندې به جوړیدلی ، او د انگریزانو لخوا بندي او په عمرې قید محکوم شو.[223]

دا چې عزیز هندي څرنگه لومړې په اعدام او بیا په عمري قید محکوم شو، په زړه پورې او په لوې لاس د هغه د مشهورولو او بریتانوي هند د خپلواکۍ غوښتونکو مبارزینو په کړیو کې د هغې د ورننویستلو دسیسه څرگندوي. هغه یوازې څو میاشتې په زندان کې تیروي، په ۱۹۱۹ کال کې بخښنل کیږي، له زندانه آزاد او په زندان کې د انگریزانو مخالفو مشرانو سره د

۲۲۲. د موهن لال کشمیری کتاب د Life of the Amir Dost Mohammed Khan of Kabul "زندگی امیر دوست محمد خان کابل" په نامه په دوو ټوکو کې په لندن کې چاپ شوې او ډاکټر سید خلیل الله هاشمیان، د مجلۀ آئینۀ افغانستان لخوا په امریکا کې ژباړلي او خپور کړې دئ.
۲۲۳. دبریتانوي هند د آرشیف محرمانه اسناد /L/P&S/20/12

پيژند گلوی له امله د خلافت د غورځنګ د مهمو فعالينو کړيو ته ننوځي.

عزيز هندی د ۱۹۲۰ م کال د می په مياشت کې په پيښور کې د مهاجرينو د انسجام د کميټې مشري په غاړه اخلي، کابل ته هجرت کوي او هلته د هندي مهاجرينو د کميټې غړې کيږي. د جولاې په مياشت کې د لس زره روپيو د اختلاس له امله د مهاجرينو له کميټې ويستل کيږي. د نومبر په مياشت کې د عثماني دولت د بحري قواوو د قوماندان، جمال پاشا، سره چې کابل ته راغلې و، پيژند گلوي پيدا کوي، او د هغه د لاس لاندې د افغانستان د اردو په قطعه نمونه کې د ټولې مشر په توګه ټاکل کيږي، ديوه جرم د رسوا کيدو له امله د زندان د تګ له ويرې کابل پريږدي او او په چمرکنډ کې د انګريزي استعمار په وړاندې د هندي مجاهدينو مرکز ته تښتي، څه موده وروسته بيرته کابل ته ځي او هلته بندي کيږي.

عزيز هندی څلور نيمې مياشتې وروسته له زندانه خوشې کيږي او په کابل کې د هندي انقلابيونو د يوې ډلې غړيتوب لاسته راوړي. د څه وخت دپاره په جلال آباد کې د ښوونځيو د مفتش په توګه مقرر کيږي، خو د خپلې ډلې سره د اختلاف د پيدا کيدو، او يا هم د اصلي څهرې د رسوا کيدو له امله په افغانستان کې ورته ژوند کول سختيږي او د ۱۹۲۵ کال د اپريل په مياشت کې په کابل کې د انګريزانو سفارت ته ورځي، او بريتانوي هند کې خپل کور امرتسر ته د ستنيدو اجازه غواړي. خو څرنګه چې د انګريزانو د استخباراتو د معلوماتو له مخې عزيز هندي په کابل کې د شوروي د سفارت سره اړيکي لري، نو هندوستان ته د ستنيدو اجازه نه ورکول کيږي.[۲۲٤]

عزيز هندی د روسيې د فعاليتونو په ترڅ کې د افغانستان سرحدي سيمې ته ګڼ سفرونه درلودل. په کابل کې د روسيې د سفير، راسکلنيکف، د رپوټونو

۲۲٤. د بريتانوي هند د آرشيف محرمانه اسناد /L/P&S/20/12

له مخې، غلام محمد عزيز (عزيز هندی) د محمد علی[۲۲۵] په سپارښتنه په باجوړ کې د سيد آشان [؟] د مرکز مشري په غاړه درلوده.[۲۲۶]

د روسيې د آرشيف د اسنادو له مخې تيخانف ليکي چې عزيز هندي په خپلې يوې شبنامې کې د انګريزانو سره د صلحې د تړون له امله د افغانانو توهين کړې او هغوې يې «سرکوزي» بللي. هغه پدې هکله د شوروي روسيې د باندنيو چارو د کميسار «چيچيرين» د سخت قهر يادونه کوي او زياتوي چې چيچيرين مجبوره شو خپله مداخله وکړي تر څو د داسې خودسريو له امله د افغانستان سره د روابطو د خرابيدو مخنيوې وکړي. هغه زياتوي چې راسکلنيکف هم عقيده درلوده چې که عزيز «دغه ډول اوتو-بوتو او چټيانو ته ادامه ورکړي، کوم چې په هند کې زمونږ د پاليسۍ په خلاف دي، نو د دغه مرکز سره اړيکي بايد قطع شي».

عزيز هندی د ۱۹۲۹ م کال د جنوری په مياشت کې د انګريزي چارواکو څخه هندوستان ته د ستنيدلو اجازه لاسته راوړه، خو هند ته د ستنيدو د مخه د يوې لنډې مودې د پاره يو ځل بيا په کابل کې بندي شو.

د بريتانوي هند د آرشيف د اسنادو له مخې، عزيز هندی په کابل کې د روسيې د سفارت تنخواه خوره جاسوس هم ؤ. کله چې روسانو ونشو کړای د اماني دولت څخه يوه داسې هوکړه ترلاسه کړي چې د افغانستان د خاورې څخه د يوه دهليز په توګه د وسلو او ګوډاګيانو د ليږلو د پاره استفاده وکړي، نو بيا يې هڅه وکړه چې دا کار په پټه او قاچاقي توګه د بدخشان، کونړ او چترال له لارې تر سره کړي. امکان لري چې کونړ ته نږدې، چمرکنډ ته، چيرې چې د هندي

۲۲۵. محمد علی يو بل هندي مهاجر ؤ په په کابل کې د روسيې جاسوس ؤ. هغه د روسيې د سفارت سره نږدې اړيکې درلودې، او په کابل کې يې د يوه پټ مرکز د جوړولو د پاره کار کولو. (سرچينه: تيخانف، سياست قدرت های بزرګ در افغانستان و قبايل پشتون ۷۸ مخ).

۲۲۶. د تيخانف په حواله: د روسيې د ټولنيز او سياسي آرشيف د ۱۹۲۱ کال د دسمبر له لومړۍ تر ۱۹۲۲ کال د می تر لومړۍ نيټې اسناد (فوند ۵۴۴، دوسيهٔ مخصوص ۳، صندوق ۱۰۵، صفحهٔ ۱۴۴).

خپلواکۍ غوښتونکو يوه پوځي اډه موجوده وه، د عزيز هندي ګڼ مسافرتونه هم له همدې امله وي.

د غازي ميرزمان خان د زامنو په وينا، هغه هندي مهاجر چې غازي ميرزمان خان ته راغلې او دزياتو پيسو په بدل کې يې د روسانو سره د همکارۍ او کونړ کې د هغوې د فعاليتونو د مخنيوي نه کولو وړانديز کړې ؤ، شايه همدا عزيز هندي وي. ځکه کله چې روسانو ونشو کړاې غازي ميرزمان خان د ځان سره ملګرې او د کونړ د حساس موقعيت څخه ګټه پورته کړي، نو بيا عزيز هندي هم د غازي ميرزمان خان په وړاندې خپلې د سيسې او تبليغات پيل کړل.

عزيز هندی د ۱۹۳۰ کال د اپريل په مياشت کې بريتانوي هند ته ستون شو. د هند د ويشلو نه وروسته يې په پاکستان کې استوګنه غوره کړه، او د وژل کيدو نيټه يې د ۱۹۷۱ کال د فبروري د مياشتې لسمه نيټه ښودل شوې ده.[۲۲۷]

**د پوهاند محمدحسن کاکړ له نظره**

ښاغلې پوهاند حسن کاکړ «د ښاغلو زماني او سيستاني د ليکنو په هکله» خپلې ليکنې کې د غازی ميرزمان خان، خپلواکۍ د جګړې څلورمې جبهې، مشروطه غوښتونکو او اماني نهضت په هکله ځينې تبليغات کړي، چې په راتلونکو پاڼو کې به ورته اشاره وشي.

ښاغلي کاکړ تر هغې وروسته په ډير عصبانيت پر ما، حملې پيل او د غازي ميرزمان خان د شخصيت د ترور هڅه وکړه، کله چې ما د هغوې پر يوه کتاب «دپاچا امان الله واکمنۍ ته يوه نوې کتنه» کره کتنه وکړه او «پر اماني دورې دپوهاند کاکړ کتاب ته يوه کتنه» رساله وليکله.

پوهاند صاحب کاکړ په خپل کتاب کې نه يوازې د اماني دورې د پيښو او اماني دولت د نسکوريدو په هکله د انګريزانو تش په نامه او بې بنسټه تبليغات، او په هغه کې د غازي امان الله خان په وړاندې د اروانباد محمد ولي

227 . Sharma, Jagdish Saran (1972). The National Biographical Dictionary of Inda, p27

خان دروازي اوارواښاد غلام صديق خان چرخي په شان لوړ پوړو شخصيتونو د خيانت او بې وفايي تورونه تکرار کړي وو، بلکې د غو تورونو ته يې د اعتبار د زياتولو د پاره په غلطه يوه داسې ليکنه په ګوته کړې چې ګواکې د پاچا امان الله خان د منشي، د غزني د «علی احمد خان مومند» په قلم ليکل شوې، او ډير ټينګار کوي چې «هغه په ټوله اماني دورې کې د دربار منشي پاتې شوې، نو ځکه د اماني دورې په هکله کره معلومات لري ، داسې سم معلومات چې لاتر اوسه په بل هيڅ ځای کې خپاره شوي نه دي» . په داسې حال کې چې:

- لومړې، دا ليکنه د منشي علي احمد خان نه ده.
- دوهم، ميرزا علی احمد خان نه خو د غازي امان الله خان د دربار منشـــي ؤ، او نه يې هم د خپل موقف په اســـاس کره او دقيق معلومات درلودلې شو.
- دريم، د کاکړ صاحب د ادعا په خلاف دا معلومات يوازې د هغه په کتاب پورې منحصره ندي.
- ثلورم، دا کتاب په حقيقت کې د انګريزانو د اســـتخباراتو يوه ليکنه ده او د بريتانوي هند په دفتر پورې اړه لري.
- پنځم، د هغه اصـــلی ليکونکې شـــيخ محبوب علی خان، په کابل کې د انګريزانو په سفارت کې د ختيځو چارو سکرتر دئ.

ما په خپلې رسالې، «پر اماني دورې د پوهاند کاکړ کتاب ته يوې کتنې» ، کې د مؤثقو اسنادو پر بنسټ د « نوې کتنه او که د انګريزانو له فتنو ډکو تبليغاتو په پلويتوب تکراري خبرې ؟» تر عنوان لاندې ليکلي و چې « هغه څه چې د جناب ډاکټر صاحب کاکړ «د پاچا امان الله واکمنۍ ته يوه نوې کتنه» کتاب کې نوي ندي، هماغه د انګريزانو له فتنو ډک تبليغات دي . کاکړ صاحب د تاريخي حقايقو پر ځاې، د نوې کتنې تر نامه لاندې، پرته له باوري اسنادو او مدارکو ، د يوه انګريزی ايجنټ د يوې ليکنې «The Fall of Amanullah يا د امان الله نسکوريدنه» په استناد ، پر حقايقو او واقعيتونو د جعل او

تحريف پرده غوړوي، او داماني رژيم د لومړي درجه دښمن د تبليغاتو په مرسته خپلې پيژندل شوې ليدلورې بيا تکراروي».

د اماني رژيم پر وړاندي د انگريزي دسيسو او توطئو څخه مطلق انکار، د اماني نهضت د ناکاميدو پړه په خپله د غازی امان الله خان او افغانانو په غاړه اچول، دمحمد ولی خان دروازی، غلام صديق خان څرخی او دانگريزانو نورو مخالفو شخصيتونو بدنامول او پر هغوې د غازي امان الله خان سره د خيانت تور لگول، د حقايقو او واقعيتونو د پټ ساتلو هڅې او په تاريخ کې د سترې جعل کارۍ په لسهاوو کوچنۍ بيلگې، هغه شيان وو چې، د کاکړ صاحب پر کتاب ، زما په رسالې کې ورته گوته نيول شوې وه.

ديادونې وړ ده چې د کاکړ صاحب پر کتاب زما د کره کتنې نه مخکې د هغه سره زما مناسبات ډير ښه او دوستانه وو. ما د۲۰۱۲ م کال دجنوري دمياشتې په اوه ويشتمه نيټه دکليفورنيا په شمال کې دافغاني کلتوري ټولنې په نوښت هغې غونډې کې چې د پوهاند صاحب حسن کاکړ په وياړ جوړه شوې وه، ويلي وو چې «**زمونږ په گران هيوادافغانستان کې لکه د ارواښاد احمد علی خان کهزاد، مير غلام محمد غبار او پوهاند عبدالحی حبيبی په شان ستر مؤرخين تير شويدي . خو کاکړ صاحب يوائينې کس دئ چې په تاريخ کې عالی علمي زده کړې لري، او پی ايچ ډي (دکتورا) يې پکې آخيستې ده، دوې د تاريخ د استادئ دنده هم پر مخ بوولې او د هغو لږو کسانو په ډله کې هم دئ چې هم يې دافغانستان د خارجه چارو د وزارت د آرشيف او هم دافغانستان دملی آرشيف د لټولو چانس درلودلې، د انگلستان د بريتانوي هند آرشيف خو به لا نه يادوم. او تر ټولو مهمه لا دا چې اوس خو د مستبدو او مطلق العنانه رژيمونو د تهديد او سانسور ويره هم نشته، نو ځکه هيله لرم چې په نژدې راتلونکې کې د دوې په قلم د افغانستان دمعاصر تاريخ په ډيرو تيارو برخو رڼا واچول شي»** .

زمونږد هيواد په تاريخ کې لاسوهنه او تقلب، هغه هم دمعاصر او اماني دورې په تاريخ کې، کومه نوې پديده نه ده. پدې کې د مطلقه او خانداني رژيمونو زور او فشار، د پيسو، مقام او څوکۍ لاسته راوړل، او دشخصي ـسياسي ـقومي اومذهبي گټو دساتلو په شان عواملو رول درلود. ددې په

ځنګ کې د معلوماتو نشتوالې، د لومړې لاس مطمئنو او کره اسنادو او شواهدو ته د لاسرسي ستونزي، او کله هم د مؤرخينو غفلت او نه پاملرنه يادولې شو.

څيړونکي او تاريخ ليکونکي د يوې فرضيې يا خاص مطلب په هکله شواهد، دلايل، اسناد او تاريخي لاسوندونه راټولوي، او د هغوې په مرسته زيار باسي تر څو د هغو پيښو په بيلابيلو ګوډونو او برخو رڼا واچوي. د يوه مؤرخ دپاره د هغو اسنادو او شواهدو د علمې ارزونې په طريقو پوهيدل ډير ارزښت لري، له کومو چې په خپلو تاريخي ليکنو کې کار اخلي.

ښاغلې کاکړ چې په تاريخ ليکنه کې د اصلي منابعو او سرچينو په اهميت پوهيدو، بايد د اعتبار وړ اسنادو د پيژندلو په درروند مسئوليت او مکلفيت هم خبر واى. ما د هغوې د کتاب په کره کتنه کې ليکلي وو چې « **واقعيتونه د تل دپاره پټ او پوښلي ساتل کيداى نه شي. د جناب پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ څخه د کابل پوهنتون د يوه سابقه داره استاد او هيواد د معاصر تاريخ د مؤرخ په توګه نه يوائې دا تمه کيږي چې تاريخي واقعيتونه لکه څنګه چې پيښ شوې دي، پرته له حب او بغض او روابطو، په پوره امانت دارى سره تاريخ کې ضبط او ثبت کړي. دوې اوس بايد پر خپل دغه ذکر شوي کتاب بيا له سره نوې کتنه وکړي، او يا هم لږ تر لږه د خپلې ليکنې د دفاع په برخه کې کره اسناد او مدارک وړاندې کړي**»

خو پوهاند صاحب ددې پرځاې چې خپلې تيروتنې ومني او پر خپل کتاب نوې کتنه وکړي، او يا هم د هغې په هکله مؤثق شواهد او اسناد وړاندې کړي، نه يوائې د اصلي موضوعاتو څخه تيښته وکړه، بلکې پر دې قلم او ښاغلي سيستاني په شان نورو هغو څيړونکو هم شخصي حملې پيل کړې، کومو چې د هغه په کتاب انتقاد کړې وو.

هغه «د ښاغلو زماني او سيستاني د ليکنو په هکله» خپلې ليکنې کې چې ټوله د سپکو سپورو ډکه ده، د خپلو دوو سرچينو په حواله چې لومړې يې د عزيز هندي کتاب «زوال غازى امان الله خان» ، او دوهم يې دمرحوم سيد شمس الدين خان مجروح د خاطراتو کتاب دئ، ادعا کوي چې ګواکې (۱) غازى

میرزمان خان کونړي د استقلال په هیڅ کومې جګړې کې برخه اخیستلې نه وه،؛ (۲) د امیر حبیب الله خان په واکمنۍ کې د یوې جنایي پیښې په اړوند بندي و؛ (۳) کوم اولسي اعتبار یې نه درلود، او یوازې د غازی امان الله خان د مور، علیا حضرت، په سپارښتنه، چې هغه ته یې زوی ویلي وو او بې شمیره تحفې به یې ترې ترلاسه کولې، د یوه معمولي حالت نه پرمختګ وکړ او په خپل سر پرېښودل شو؛ (۴) د پاچا او د هغې د مور په ډاډ یې زور زیاتې او ګاونډیو خانانو تیرې کولو، او د کونړ حالات یې خرابه کړي وو؛ او (۵) ګواکې د خلکو د کینې او انتقام په نتیجه کې په شهادت ورسید.

ښاغلي کاکړ چې تر پرونه یې ویل «د اماني رژیم په وړاندې انګریزانو هیڅ ډول دسیسه نوه کړې، او تر اوسه یې هیڅ داسې کوم سند لیدلې نه دئ چې د پاچا امان الله د واکمنۍ په نسکورولو کې د انګریزانو لاس وښایي، او حتی ادعا یې کوله چې «انګریزان د امان الله خان پلویان وو، ځکه چې هغه پرمختګ غوښتلو او مدني ټولنه یې جوړوله»[۲۲۸]، دا ځل د «بازنګری دورهٔ امانی و توطئه های انګلیس» په کتاب کې د سلهاوو اسنادو په لوستلو، نه یوازې داچې پر خپلو پخوانیو خبرو ټینګار کویي، بلکې یو بل مهم کشف هم کړې دئ، او ادعا کوي چې «خپله پاچاامان الله هم انګریزان دده د واکمنۍ د نسکورولو په دسیسه کې د لاس درلودو د تهمت نه پاک ګڼلي دي».

ښاغلې حسن کاکړ د استقلال د څلورمې جبهې په هکله لیکي چې د استقلال په جګړه کې، نه کومه څلورمه جبهه وه او نه هم غازي میرزمان خان د هغې مشر ؤ. ګواکې دا د تاریخ د مسخه کولو پرته بل څه نه دي. د هغه استدلال دادئ چې غبار په خپل تاریخ کې یوازې د دریو جبهواو د هغوې د قوماندانانو نومونه یاد کړي دي. خو ښاغلي کاکړ نه پوهیږي چې تاریخ خپله هغه مسخ کړې او دحقایقو د بدلولو هڅه هم هغه پخپله کړې ده. ددې خبرې د ثبوت دپاره بل

۲۲۸. د ښاغلو استاد حبیب الله رفیع او پوهاند حسن کاکړ سره د امریکا غږ آشنا راډیو د ۲۰۰۷ کال د اګست د میاشتې د اتلسمې (۱۳۸۶ کال د زمري ۲۹مې) نیټې هغه مرکه چې د افغانستان د خپلواکۍ د بیا ګټلو د اته اتیاومې کلیزې په مناسبت خپره شوې وه.

چيرې نه، بلکې د هغه خپلې وينا ته مراجعه کوو، کومه چې يې د امريکې د کليفورنيا د ايالت د افغاني کلتوري ټولنې غړو، دوستانو او هغې غونډې ګډون کوونکو ته ښه په ياد ده. هغه د افغاني کلتوري ټولنې لخوا زما او محترم انجنير عبدالوکيل متين د کتابونو د خپريدو په مناسبت غونډه کې، چې ويډيو کليپ يې هم په يوټيوب کې موجود دئ، داسې ويلې و:

«...نو په هر حال سره دغه کونړ ډير لويان يې هم هست کړيدي. اوس دلته دغه مورد د بحث چې دئ دغه دوه کتابونه دي ، ددوو ملګروچې يو ډاکټر عبدالرحمن زماني دئ، چې دئ هم د کلتوري ټولنې يو ډير فعال او ډيرخواخوږې غړی دئ او بل يې د انجنير صاحب عبدالوکيل متين دئ...

**دزماني صاحب کتاب اساساً د تاريخ دئ مګر ادبي جنبه هم لري. پدې معنی چې د هغه وختو چې پدغه پيښې کې ځينې محلی کسانو اشعار ويلي دي، هغه [يې] هم راوړي دي . لدې جهته هم دا ادبي خصوصيت لري هم تاريخي. غټه خبره يې دغه ده چې زماني صيب پدغه ليکنه کې، پدغه کتاب کې د ډيرو معتبرو، ثقه او لومړنيو ماخذونو څخه يې کار اخيستې دئ . تاريخ چې ترڅو په ښو ثقه معلوماتو باندې بنا نه وي، هغه حقيقت ته رسيدل بيا مشکل وي . تاسي داسې وګڼئ چې يو ښکګر چې غواړي يو تعمير جوړ کړي، هغه اصلي مواد چې ورسره نه وي، هغه تعمير چې جوړ کړي، شوړيږي . په بل عبارت سره، د تاريخ ليکلو دپاره لومړنۍ شئ ضروري هغه ثقه مواد دي. او ډاکټر صاحب دلته ډير کوشش کړئ دئ چې دغه د انګريزي منابعو څخه، د نه خپرو شوو منابعو څخه ، او د هغه وخت د ليکنو څخه د پښتو دري څخه راټول کړي او ددغه جبهې په متعلق چې په افغانستان کې په تاريخي کتابونو کې پدې باره کې څه شئ ليکل شوي ندي،پدې باره کې يو ډير ثقه او ښه قوي معلومات نه يواځې هغه د جبهې د جنګونو په متعلق کې بلکې د نورو مربوطو موضوعاتو په باره کې هم ډير ثقه جدي معلومات اجتماعي، اقتصادي هم پکې پيدا کيږي . لدې کبه ددې کتاب لوستل سړي ته ډيره ګټه رسوي او دا ددې اساسي خبره خو فقط همدغه ده چې دغه [څلورمه] جبهه چې نو واقعا په رسمي ليکنو کې نه وه ...».**

مادښاغلي کاکړ څخه د استقلال د جګړې د څلورمې جبهې او په هغې کې د غازي ميرزمان خان د ونډې په هکله د هغه د دوه متضادو دريځونو د علت پوښتنه کړې وه، چې آيا دهغه لومړې دريځ سم نه و، او که دوهم؟ يا به يې

لومړې ربښتیا ویلي نه وي، او یا اوس ربښتیا نه وایي. که دوې اوس داسې معلومات تر لاسه کړي وي کوم چې د هغوې پخواني معلومات نفي کوي، نو بیا ولې داسې مهم تاریخي معلومات نشر ته نه سپاري ؟

کاکړ صاحب د «زوال غازی امان الله خان» د کتاب د لیکونکي عزیز هندي په هکله هم لیکي چې «عزیز هندي په اصل کې یو **پشتون** لیکوال ؤ چې په هند کې اوسیدلو. **هغه د خپلې ټولې کورنۍ سره د شاه امان الله د واکمنۍ تر پایه په کابل کې استوګن، په قطعه نمونه کې کپتان او د پاچا سخت پلوي، یو واقع بینه انسان او د افغانستان له اوضاع څخه یې بشپړ معلومات درلودل**».

دلته یو ځل بیا لیدل کیږي چې کاکړ صاحب د عزیز هندي په هکله څو مره ناسم معلومات ورکوي. هغه د عزیز هندي خبرو ته د اعتبار ورکولو په موخه یو ځل بیا واقعیتونو ته بل رنګ ورکوي، او په غلطه ادعا کوي چې ګواکې عزیز هندي د غازي امان الله خان په شان په خټه پښتون او د هغه پلوي ؤ، او ګواکې د واقع بینۍ له امله یې ټول روایات ربښتیا دي.

د کاکړ صاحب د وروستۍ لیکنې څخه په ډاګه څرګندیږي چې د هغه د آثارو د سرچینو او منابعو په انتخاب کې تیروتنه د پاملرنې او توجه د کمښت له امله، کومه تصادفي او غیر ارادي خبره نه ده، بلکې هغه داځل هم په ارادي ډول او پوره مهارت سره کوښښ کړې چې د غازي امان الله خان، مشروطه غوښتونکو او غازي میرزمان خان په شان د اماني نهضت او رژیم د پلویانو او انګریزانو ددښمنانو په وړاندې د «امان الله نسکوریدنه» په شان د «زوال امان الله خان» په شان یوه بل کتاب نه مرسته وغواړي. هغه داځل هم د خپلې سرچینې د لیکوال، عزیز هندي، د اصلي هویت، سیاسي دریځ او موخو د پټولو، او داماني دورې په پیښو کې د ځاې او ونډې په هکله د یوې بلې جعلکارۍ او ساخته کارۍ څخه کار اخلي.

ما د کاکړ صاحب د کتاب د کره کتنې په رساله کې ویلي و چې واقعیتونه د تل دپاره پټ او پوښلي ساتل کیدای نه شي. د جناب پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ څخه د کابل پوهنتون د یوه سابقه داره استاد او هیواد د معاصر تاریخ د

مؤرخ په توګه نه یوائې دا تمه کېږي چې تاریخي واقعیتونه لکه څنګه چې پېښ شوي دي، پرته له حب او بغض او روابطو، په پوره امانت دارۍ سره تاریخ کې ضبط او ثبت کړي. دوې اوس باید پر خپل دغه ذکر شوي کتاب بیا له سره نوې کتنه وکړي، او یا هم لږ تر لږه د خپلې لیکنې د دفاع په برخه کې کره اسناد او مدارک وړاندې کړي، او که نه نو خپله به په تاریخ کې د یوه داسې تحریف کاره مؤرخ په توګه ثبت شي چې رښتیا او دروغ یې سره ورګډ کړي، تاریخي پېښو ته یې جعلي روایتونه جوړ کړي، او په تاریخ کې یې د دروغو د ثبتولو د پاره جعلي اسناد او سرچینې جوړې کړې دي.





دغازی میرزمان خان مزار



غازي امان الله خان، ملکه ثریا او د کونړ غازي میرزمان خان
په پغمان کې د ۱۹۲۵ م کال د خپلواکۍ د جشن د مراسمو د ننداري په وخت کې



د کابل په احمد شاه بابا مینه کې د غازي میرزمان خان د څلورلارې د
پرانیستلو د مراسمو یو انځور





د هیواد د خپلواکۍ د ګټلو د ۹۸ مې کلیزې په مناسبت د کونړونو والي او امنیه قوماندان د غازي میرزمان خان پر مزار د ګلونو ګېډۍ ږدي.




د استقلال د جګړې د چترال په جبهې کې د غازی میرزمان خان کونړي د جهاد هغه بیرغ چې په ۱۹۱۸ میلادي کال کې په زندان کې یوه سړي په خنجکي (کروشنیل) له وړیښمو نه اوبدلی و. دا بیرغ چې قرآني آیتونه او د میر زمان خان نوم په کې اوبدل شوي د انګریزي استعمار سره د غازي میرزمان خان فطري دښمني ښکاره کوي. دا بیرغ اوس هم د غازي میرزمان خان د زوې اروابناد محمد هاشم زماني په کور کې خوندي دئ، او په مناسب وخت کې به د هغه د وصیت سره سم د افغانستان ملي موزیم ته وسپارل شي.

# د سرچینو او زیاتو معلوماتو فهرست

## د انګریزي ژبې کتابونه


- Adamec, L. W. (1967). Afghanistan, 1900-1923; A Diplomatic History. Berkeley, University of California Press.
- Adamec, L.W. (1974). Afghanistan's foreign affairs to the mid-twentieth century: relations with the USSR, Germany, and Britain. Tucson: University of Arizona Press
- Adamec, L.W. (1975). Historical and political who's who of Afghanistan. Graz, Akademische Druck- u. Verlagsanstalt.
- Adamec, L.W. (1987). A Biographical Dictionary of Contemporary Afghanistan. Graz, Akademische Druck- u. Verlagsanstalt.
- Adamec, L.W. (1996). Dictionary of Afghan Wars, Revolutions, and Insurgencies. Historical dictionaries of war, revolution, and civil unrest; no. 1, Lanham, Md., and Scarecrow Press, London.
- Arghandawi, Abdul Ali (1989). British Imperialism and Afghanistan’s Struggle for Independence 1914-21. Munshiram Manoharlal Publishers, New Delhi.
- Awan, Ayub B. (1982). Across the River and Over the Hills. Pan Graphic Ltd., Islamabad, Pakistan.
- Baha, Lal (1978). N.W.F.P. Administration under British Rule 1901-1919. National Commission on Historic Research, Islamabad, Pakistan.
- Fletcher, A. (1965). Afghanistan: highway of conquest. Ithaca, N.Y., Cornell University Press.
- Fraser-Tytler, William K. (1967). Afghanistan: a Study of

Political Developments in Central and Southern Asia. Third Edition. London, New York [etc.], Oxford University Press.

- Ghani, Abdul (1980). A Review of the Political Situation in Central Asia. Lahore, Aziz Publisher
- Government of India. (1926). The third Afghan war, 1919: official account. Calcutta: Central Publications Branch.
- Gregorian, Vartan. (1969). The emergence of modern Afghanistan; politics of reform and modernization, 1880-1946. Stanford, California, Stanford University Press.
- Haroon, Sana (2007). Frontier of Faith: Islam in the Indo-Afghan Borderland. Columbia University Press, New York.
- Hyde, Montgomery H (1978). Solitary in the Ranks: Lawrence of Arabia as airman and private soldier. Atheneum , New York.
- Jewett, A. C. (2004). An American Engineer in Afghanistan. Iraj Bokks, Kabul Afghanistan.
- Kazmi, S. A. Akhtar (1984). Anglo-Afghan Tussle. National Book Foundation, Islamabad.
- Khalfin, N. A. (1981). British plots against Afghanistan: pages from history. Moscow, Novosti Press Agency Pub. House.
- Kohlmann Evan (1999(. An Afghan Ghazi: The Modernization and Reforms of Amir Amanullah Khan. )
- Mac Munn, G. F. (1977). Afghanistan, from Darius to Amanullah. Quetta, Pakistan, Gosha-e-Adab.
- Marwat, Fazal-ul—Rahim & Kakakhel, Sayed Wiqar Ali Shah (1993). Afghanistan and the Frontier. Emjy Books International, Peshawar, Pakistan.
- Mason, William Henry Paget (19800. Tribes of the North-West Frontier. Gian Publications, Delhi, India
- McChesney, Robert D. (1999). ROBERT Kabul under Siege: Fayz Muhammad's Account of the 1929 Uprising. Marcus Weiner, Princeton, N.J.
- Molesworth, G. N. (1963). Afghanistan 1919, an account

of operations in the Third Afghan War. London, Asia Pub. House.

- Nawid, S. K. (1999). Religious response to social change in Afghanistan, 1919-29: King Aman-Allah and the Afghan Ulama. Costa Mesa, Calif., U.S.A., Mazda Publishers.
- Olesen, Asta (1995). Islam and Politics in Afghanistan. Curzon Press, London.
- Popplewell, Richard (1995). Intelligence and Imperial Defense: British Intelligence and the Defense of the Indian Empire 1904-1924. Frank Cass, London.
- Poullada, L. B. (1973). Reform and rebellion in Afghanistan, 1919-1929; King Amanullah's failure to modernize a tribal society. Ithaca [N.Y.], Cornell University Press
- Qaiyum, Abdul (1945). Gold and Guns on the Pathan Frontier. Hind Kitabs, Bombay, India.
- Qureshi, Naeem (1999). Pan-Islamism in British Indian Politics: A Study of the Khilafat Movement 1918-1924. Brill Academic Pub.
- Robson, Brian (2004). Crisis on the Frontier: the third Afghan war and the campaign in Waziristan, 1919-1920. Great Brithin, Spellmount.
- Sareen, Anuradha (1981). India and Afghanistan: British Imperialism Vs. Afghan Nationalism 1907-1921. Seema Publications, Delhi, India.
- Shah, Ikbal. Ali. (2004). Modern Afghanistan. Lahore, Sang-e-Meel Publications.
- Spain, James W. (1963). The Pathan borderland. The Hague.
- Stewart, Rhea Talley (2000). Fire in Afghanistan, 1914-1929; faith, hope, and the British Empire. Garden City, N.Y., Doubleday.
- Thomas, Gordon (2009). Secret wars: one hundred years of British intelligence inside MI5 and MI6. Dunne Books, New York.
- Twigge, Stephen and Hampshire Edward (2008). British

Intelligence Secrets, Spies and Sources. The National Archive, UK.
- Newcastle Foreign Affairs Association (1860). Falsification of Diplomatic Documents: The Afghan Papers. Effingham Wilson, Royal Exchange, London.

**د پښتو، دری او اردو ژبې کتابونه**

- اخلاص، عبدالخالق (۲۰۰۵م). د استقلال څلورمه جبهه (د حبیب الله رفیع سریزه، سمون، لمنې او نښلونې) دویم چاپ. دانش کتاب خپرنځی. پېښور.
- اخلاص، عبدالخالق (۱۳۰۴/۱۹۲۵). استقلال امانیه . لکشمي آرت پریس، راولپنډي.
- انیس، محی الدین (۱۳۷۸).بحران و نجات. چاپ دوم، مرکز نشراتی میوند ، سبا کتابخانه، پشاور.
- آدمک، لودویک، دبلیو (۱۳۴۹). تاریخ روابط سیاسی افغانستان از زمان امیر عبدالرحمن تا استقلال. ترجمهٔ پوهاند علی محمد زهما. کابل،مؤسسهٔ نشراتی افغان کتاب، پوهنی مطبعه.
- آدمک، لودویک، دبلیو (۱۳۷۰). روابط خارجی افغانستان در نیمهٔ اول قرن بیست. ترجمهٔ پوهاند محمد فاضل صاحبزاده. پشاور، کتاب فروشی فضل.
- المجددی، محمد صادق (۲۰۱۱). خاطرات سیاسی حضرت محمد صادق المجددی بخش اول. فریمونت ، کالیفورنیا.
- ارغنداوی، عبدالعلی (۱۹۹۷). ژوندی خاطرې: په تیرو نهو لسیزو کې د افغانستان تاریخ ۱۹۰۰-۱۹۹۲. پیښور. د بي بي سي د پښتو څانګه..
- بویکو، ولادیمیر /ترجمهٔ آریانفر، عزیز (۲۰۱۰). دولت و اپوزیسیون در افغانستان.
- پامیر، پیکار (۲۰۱۲). ظهور و سقوط اعلیحضرت امان الله خان. چاپ

دوم، بنگاه انتشارات میوند، کابل.

- پامیر، پیکار (۲۰۰۰). افغانستان از شاه شجاع الملک تا ببرک "کارمل". تورنتو، کانادا.
- پوپلزایی، عزیزالدین وکیلی (۱۳۶۸) نگاهی به تاریخ استرداد استقلال. کابل، افغانستان.
- پوهنیار، سید مسعود (۱۹۹۲).ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان، مرکز نشراتی میوند، کتابخانهٔ سبا، پشاور.
- تیخانف، داکتر یوری - ترجمهٔ عزیز آریانفر (۲۰۱۰). نبرد افغانی استالین (سیاست قدرت های بزرگ در افغانستان و قبایل پشتون).
- ځلمی، محمد ولی (۱۹۹۰). زمونږ غازیان: د نومیالیو ملي مبارزینو د ژوندانه حالات. دافغانستان د علومو اکادمی، کابل.
- حبیبی، عبدالحی (۱۳۷۲). جنبش مشروطیت در افغانستان. چاپ جدید، با نظارت و تصحیح کمیسیون فرهنگی حزب وحدت، قم، ایران.
- حبیبی، عبدالحی به اسم مستعار مهاجر افغان (۲۰۰۱م)، نادر و خاندان او. چاپ دوم، پشاور.
- خاطرات ظفر حسن آیبک (۲۰۰۳). افغانستان از سلطنت امیر حبیب الله خان تا صدارت سردار محمد هاشم خان. ترجمهٔ فضل الرحمن فاضل. چاپ دوم، بنگاه انتشارات میوند - کتابخانهٔ سبا. کابل
- رشتیا، سید قاسم (با اسم مستعار سیدال یوسفزی) (۱۳۷۸). نادر چگونه به پادشاهی رسید؟ مرکز نشراتی میوند، سبا کتابخانه.
- رشتیا، سید قاسم (1997). خاطرات سیاسی سید قاسم رشتیا. مطبعه امریکن سپیدی، ویرجینیا، ایالات متحدهٔ امریکا.
- زمانی، محمد هاشم (۲۰۰۰)، زندانی خاطرات، چاپ دوم، مرکز نشراتی آرش، پشاور.
- زمانی، عبدالرحمن (۲۰۰۷). جنگ استرداد استقلال افغانستان: جبهٔ فراموش شدهٔ چترال و کنر. مؤسسهٔ نشراتی مسکا.

- زمانی، عبدالرحمن (۲۰۱۰). په آزاد سرحد کې خپلواکۍ غوښتونکې مبارزې او دمومندو په مشهورو غزاګانو کې د غازي میرزمان خان ونډه.
- زمانی، عبدالرحمن (۲۰۱۳). بازنگری دورهٔ امانی و توطئه های انگلیس . مؤسسه نشراتی مسکا ، کابل افغانستان.
- زمانی، عبدالرحمن (۲۰۱۳). مطالب چندی پیرامون حوادث ذکر شده در سرگذشت مرحوم سید شمس الدین مجروح. مؤسسه نشراتی مسکا.
- زمانی، عبدالرحمن (۲۰۱۵). مروری بر کتاب دوره امانی پوهاند کاکړ. مؤسسه نشراتی مسکا ، کابل افغانستان.
- ستیوارت، ریه تالی/ترجمهٔ کوهسار کابلی، یار محمد (۱۳۸۰). جرقه های آتش در افغانستان. مرکز انتشارات میوند – سبا کتابخانه، پشاور.
- سیستانی، اعظم. بعضی شخصیت های ملی – تاریخی افغانستان در دو قرن اخیر. www.afghan-german.com،
- شهرانی، عنایت الله (۲۰۰۷/۱۳۸۵). شاه محمد ولی خان دروازی وکیل سلطنت اعلیحضرت امیر امان الله خان غازی . کانون فرهنگی قیزیل چوپان.
- صدیق چرخی، خالد (۱۳۹۰ش/۲۰۱۲م) . برگی چند از نهفته های تاریخ در افغانستان ، جلد اول و دوم.
- عزیزالدین وکیلی پوپلزائی، سلطنت امان الله شاه و استقلال مجدد افغانستان، بخش اول و دوم.
- غبار، میر غلام محمد (۱۳۶۲). افغانستان در مسیر تاریخ (جلد اول) . چاپ سوم ، مرکز نشر انقلاب، ایران.
- غبار، میر غلام محمد (۱۹۹۹). افغانستان در مسیر تاریخ (جلد دوم) . چاپ دوم ، پیشاور، مرکز نشراتی میوند.
- فیض زاده، محمد علم (۱۸۸۹) . جرگه های بزرگ ملی افغانستان (لویه جرگه) و جرگه های نام نهاد تحت تسلط کمونست ها و روس ها .
- کاتب، فیض محمد (۱۳۹۰) شمسی. سراج التواریخ، تتمهٔ جلد سوم و جلد چهارم. انتشارات امیری کابل.

- کاتب، فیض محمد (۱۳۹۰) شمسی. سراج التواریخ، جلد چهارم، بخش سوم . انتشارات امیری کابل.
- مجددی، فضل غنی (۱۹۹۷). افغانستان در عهد اعلیحضرت امان الله خان. کالیفورنیا ، ایالات متحدۀ امریکا.
- مهرین، نصیر (۱۳۸۸) . درنگی بر زمینه های استبداد شناسی نادر شاه با مکثی بر چگونه گی قربانی شدن عبدالرحمان لودین. بنگاه انتشارات میوند ، کابل.
- نوید ، سنزل /ترجمه مجددي، نعیم (۱۳۸۸).واکنش های مذهبي و تحولات اجتماعی در افغانستان ۱۹۱۹-۱۹۲۹ شاه امان الله وعلمای افغان. انتشارات احراری، هرات، افغانستان.
- وزیری، جرنیل یار محمد خان (۱۳۷۹). د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ په خاطراتو کې. لاهور، ملت پریس.
- هاشمی، سید سعدالدین (۲۰۰۴). نخستین کتاب در بارۀ جنبش مشروطیت خواهی در افغانستان (در ربع اول قرن بیستم) ، جلد دوم.


**د بریتانوي هند د آرشیف د انګریزانو د استخباراتو هغه رپوټونه چې اوس له محرمیته وتلي د افغانستان او سرحدونو په هکله د استخباراتي اسنادو دوسیې :**

**(British Intelligence Files on Afghanistan and its Frontiers, c. 1888-1946)**

ددغو دوسیو اسناد مایکروفلم په په ۱۹۳ دوسیو او ۳۷۲۰۰ پاڼو کې تنظیم شوي دي.

**دوسیه های استخبارات انگلیس در رابطه با سرحدات شمال غربی [هند بریتانوی]**

**(British Intelligence on the North West Frontier, 1901-1949)**

این اسناد در ۳۴۳ مایکروفلم تحت عناوین مختلف تنظیم شده اند:

1. Memoranda of information on North-West Frontier affairs, 1901-1911.
2. Intelligence diaries, 1911-1930.

3. Annual reports and arrangements for intelligence gathering, 1922-1942.
4. Weekly intelligence diaries and summaries, 1931-1947.
5. Waziristan disturbances, 1937-1949.

**دوسیه های استخبارات سیاسي هند:**

**(Indian Political Intelligence (IPI) Files)**

این اسناد در ۲۲۴ مایکروفلم ، ۷۲۷ دوسیه در ۵۷۸۱۱ صفحه ترتیب شده اند که سال های ۱۹۰۳ تا ۱۹۵۰ را در بر میگیرد )

**د افغانستان دولتي نشرات**

- رویداد لویه جرگهٔ دارالسلطنه، ۱۳۰۳، مطبعهٔ سنگی وزارت حربیه، کابل.
- دافغانستان ددولت د نظامنامو ټولګه (اماني دوره).
- به ملت عزیزم، د اروپا د ځومیاشتني سفر په پای کې د غازی امان الله خان وینا.
- مرامنامهٔ فرقهٔ استقلال و تجدد ، ۳۰ سنبلهٔ ۱۳۰۷، چاپ مطبعهٔ شرکت توفیق کابل.

**پښتو او دري مقالې او څیړونې**

- د انیس د ملي جریدې کلکسیون
- د امان افغان د جریدې د کلکسیون د ۱۳۰۳ کال ګڼې.
- د حقیقت د جریدې د کلکسیون د ۱۳۰۳ لمریز کال ګڼې.
- سیستانی، اعظم. جبهۀ چهارم جنگ استقلال و نقش میرزمان خان کنری در آن. www.afghan-german.com،
- هفته نامه کلید ، سال اول، شماره ۲۳هفته اول سنبله ۱۳۸۱ خورشیدی. به مناسبت ۸۳مین سالگرد استرداد استقلال افغانستان، صفحه ۱۴.
- د آئینهٔ افغانستان د مجلې کلکسیون www.afghan-german.com

# د نومونو فهرست


## ا

اعليحضرت امان الله خان ............١٥٣
امان الله خان غازی ١٧، ١٣٣، ١٤٠، ١٧٢، ١٨٢، ١٩٩، ٢٤٤
امير حبيب الله خان ٣٧، ٣٩، ٤٠، ٥٦، ٥٧، ٦٣، ٦٥، ٦٧، ٧١، ٧٥، ٧٦، ٧٧، ٧٨، ٧٩، ٨٣، ١١٢، ١١٦، ١٥٤، ١٨٧، ٢٢٠، ٢٤٧، ٢٥٩
امير عبدالرحمن خان .٤٣، ٧٧، ١١٨، ١٩٣
ايلفينستون ..................................٣٢

## ب

برنس ..........................................٣٢

## پ

پاچا صاحب اسلامپور ..............٤٠، ٦٨
پوهاند حسن کاکر ................٢٤٣، ٢٤٧

## ج

جنرال خان محمد خان کونړي..........٢٢
جنرال عبدالوکيل خان.....٩٠، ١٠٦، ١٠٨، ١٠٩، ١١٠، ١٣٤، ١٣٦، ١٦٥، ٢١٤

## ح

حاجی صاحب ترنگزی ..................٧١
حافظ سيف الله خان ...........٤٠، ٦٩، ٧٨
حبيب الله خان زمانی .............١٨، ١٨٠
حبيب الله رفيع ....١٦٥، ١٩٩، ٢١١، ٢٤٧، ٢٥٨

## خ

خان محمد خان. ١٨، ٢٢، ٢٣، ١٠٠، ١٠٢، ٢٠٢، ٢٠٣
خيرمحمد خان زمانی ......................١٨

## ر

رازقی نړيوال ...............................٢٢١
روز کيپل ...................................١١٩

## س

سپه سالار محمد نادر خان.....١٥٥، ١٦٠
سپه سالار محمد نادرخان.....١٢٨، ١٥٥، ٢٢٨

سردار عنایت الله خان ..........۶۸, ۷۸, ۸۵
سردار محمد عثمان خان ..............۱۳٤
سردار نصرالله خان . ۳۷, ۶۸, ۷۶, ۷۸, ۸۲, ۸۳, ۸٤
سید شمس الدین خان مجروح .٦٤, ۱۵۸, ۱۷٦, ۲٤٦
سید عبدالغفار ............۱۲۷, ۱۹۹, ۲۱۳
سیستانی ۱٦۱, ۲۰٦, ۲۲۲, ۲۲۳, ۲۳۷, ۲٤۳

## ش

شجاع الدوله خان ..................۸۰, ۸۱
شمس المشایخ .......۸٦, ۱۳۳, ۱۳٤, ۱۳۵
شهزاده امان الله خان..........۷٦, ۷۷, ۲۱٦
شیر محمد خان ..........................۲۰۳
شیر محمد خان ............................۱۸

## ص

صالح محمد خان................ ۱۲۱, ۱۲۸

## ع

عبدالحی حبیبی ............................۳۷
عبدالخالق اخلاص ۱۲۷, ۱٤۲, ۱٦۵, ۱۷۰, ۲۱۱, ۲۱۲
عبدالرحمن زمانی .......................۲٦۷
عبدالعزیز خان.....۱۲۸, ۱۳٤, ۱٤٦, ۱٤۷, ۱٦۵
عبدالواحد شینواری .......۱۵٦, ۱۵۷, ۱٦٤
عبدالوکیل خان نورستانی ...... ۱۰٦, ۱۰۸, ۱۳٦, ۱٦۵
عزیز هندی ..۲۳٦, ۲۳۹, ۲٤۰, ۲٤۱, ۲٤۲, ۲٤۳
عصمت الله خان .. ۱۲٤, ۱٤۲, ۱۷۰, ۱۸۱, ۱۸۲, ۱۹۷, ۲۰۲
عصمت الله خان............................۱۸
علی احمد خان......۷۸, ۱٦٦, ۱۷۰, ۱۸۷, ۱۸۸, ۱۹۰
علی احمدخان .....۱٦۸, ۱۸۵, ۱۸۷, ۱۸۸
عمراخان ................................ ٦٦, ٦۷

## غ

غازی امان الله خان ۸۳, ۱۱۲, ۱۲۱, ۱۲۲, ۱٤۲, ۱۵٦, ۱٦۰, ۱۷۸, ۱۸۱, ۱۸۲, ۱۸۹, ۱۹۷, ۲۳٦, ۲۳۹, ۲٤۰, ۲٦۲
غبار....۷۸, ۸۱, ۸۲, ۸۷, ۱۳۳, ۱۳۵, ۱۳٦, ۱۳۷, ۱٦۳, ۲٤۷, ۲٦۰
غلام سخی زمانی ........................۲۰۹
غلام صدیق خان چرخی................۱٦٦

## ف

فضل غنی مجددی .............. ۱۳٤, ۲۱۳
فیض محمد کاتب هزاره .۳٦, ۳۷, ٤۰, ۸۰

## ک

کرنيل خورشيد خان ........................ ۹۲
کرنيل محمد عثمان خان .................. ۶۹

## گ

گل محمد خان زمانی ..................... ۱۸

## م

محصل خان، کوډاخيل .................. ۶۷
محمد ارسلان زمانی .............. ۱۸, ۱۸۰
محمد اکرم خان ........................ ۱۶, ۱۸
محمد امين خان کوډا خيل ............ ۱۰۰
محمد عمر خان ............................ ۱۶
محمد نواز حقيقت "سانين ............ ۲۱۷
محمد هاشم زمانی ................. ۱۸, ۲۰۵
محمد ولی خان ............ ۱۳٤, ۱۵۰, ۲۰۸
محمدعمر خان ............................... ۱۸
مستوفی الممالک .................... ۸۲, ۸۷
ملا نجم الدين آخندزاده ................ ٤۲
ملای بابره ................................... ۵۷
ملای بابړه ................................... ۶۷
مهتر عبدالرحمن خان .................. ۱۰۹
ميان صاحب سرکانی ..................... ٤۰
ميجر ريلی ............... ۹۰, ۹٤, ۱۰۱, ۱۰۸
ميراجان سيال .............................. ۱۹۲
ميرصاحب جان پاچا ...................... ۶۸

## ن

ناصرالملک ............... ۹۲, ۹۷, ۹۸, ۱۰٤
نصرالله خان .....۷۷, ۷۹, ۸۱, ۸۲, ۸۳, ۸٤, ۸۵, ۱۱۲, ۲۱۶
نورالمشايخ .................۱۳۳, ۱۳٤, ۱۳۵

## ه

هاشميان ............................. ۲۲۷, ۲٤۰
همفريز ............................. ۱۸۸, ۱۹۰

## و

**واحد شينواری** .................. ۱۵۶, ۲۳۹

## ي

يار محمد خان زمانی ..................... ۱۸



**د ډاکتر عبدالرحمن زماني لنډه پېژندنه**

عبدالرحمن "زماني" د ۱۳۳۳ لمريز کال د حمل د مياشتې په دولسمه نېټه د کونړ د غازي ميرزمان خان د ځوې الحاج محمد ارسلان "زماني" په کورکې زېږېدلې دئ. لومړنۍ زده کړې يې په هرات کې، چېرته چې يې ټولې کورنۍ د ۱۳ کاله سياسي بند نه وروسته په داخلي تبعيد کې ژوند تېراوه، ترلاسه کړي، متوسطه او ثانوي تعليمات يې په ۱۹۶۴ کال کې د نوي اساسي قانون د جوړېدو او سياسي بنديانو د خوشې کيدو نه وروسته په کابل او کونړ کې سرته رسولي، بيا يې د کابل پوهنتون د طب پوهنځې لوستلې او بيا د ۱۹۷۹ م کال په پای کې، په افغانستان باندی د روسانو د يرغل نه څو اونۍ مخکې، د هيواد پرېښودو ته اړ او پاکستان ته مهاجر شويدی.

ډاکتر عبدالرحمن "زماني" د کوچنيانو، مهاجرينو او تودو سيمو د روغتيا او روغتيايي چارو د اداری په برخه کې عالي تحصيلات د اروپا په اطريش، انگلستان او هالنډ کې سرته رسولي او د امريکې د متحده ايالاتو څخه يې د عامې روغتيا د ماسټرۍ سند ترلاسه کړيدئ.

ډاکتر عبدالرحمن "زماني" له ۱۹۸۰ څخه تر ۱۹۹۱ کاله پورې ۱۱ (يوولس) کاله په پاکستان کې افغاني کډوالو لپاره لومړی د UNHCR سره د ډاکتر او

بیا وروسته ARC یا دافغاني مهاجرو دپاره د اطریش د مرستو د مؤسسې سره د ډاکتر، روغتیایي پروګرامونو د سوپروایزر، Medical Coordinator او په پای کې د ډایرکټر په توګه خدمت کړی او یو کال هم د اطریش د پرمختګ او تعاون د اداری سره د اسیا او افریقې د انکشافي او روغتیایي چارو دمشاور په توګه پاتې شوې، ۲ میاشتې یې په جیبوتی او سومالیا کې ، او دری کاله یې په بنګله دیش کې د بین المللی مؤسساتو د روغتیایي پروګرامونو د لارښونې او کواردینیشن چارې پر مخ بیولی دي.

ډاکتر زماني (۱۱) کاله دکلیفورنیا دایالتي پوهنتون د San Diego د عامی روغتیا د عالی پوهنځي او د کلیفورنیا د پوهنتون د سانفراسیسکو د پوهنځي سره کار کړې او د کالیفورنیا د ورکتونونو د روغتیایي چارو د پروګرامونو د ډایرکټر په توګه دند ه تر سره کړې ده.

ډاکتر زماني اوس دامریکې د کلیفورنیا په ایالت کې د ټولنیزو خدمتونو اداري سره د پروګرام د متخصص په توګه کار کوي. ده د مختلفو مسلکي ټولنو په غړیتوب سربیره په مختلفو ملي او بین المللي کنفرانسونو کې ګډون کړی او تر اوسه یې په پښتو، دري او انګریزي ژبو تر دوه ویشتو (۲۲) زیات لوی واړه کتابونه لیکلي او یا ژباړلي دي.